ننګرهار طب پوهنځی

# د سترګو ناروغۍ



Ketabton.com

پوهنمل دوکتور محمد خالد یار




۱۳۹۰

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننګرهار طب پوهنځی

# د سترګو ناروغۍ

پوهنمل دوکتور محمد خالد یار

۱۳۹۰

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د سترګو ناروغی |
| لیکوال | پوهنمل دوکتورمحمد خالد یار |
| خپرندوی | ننګرهار طب پوهنځی |
| ویب پاڼه | www.nu.edu.af |
| چاپ ځای | سهرمطبعه، کابل، افغانستان |
| چاپ شمېر | ۱۰۰۰ |
| د چاپ نېټه | ۱۳۹۰ |
| دکتاب ډاونلوډ | www.ecampus-afghanistan.org |

دا کتاب د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې **(www.Kinderhilfe-Afghanistan.de)** لخوا تمویل شوی دی.

اداری او تخنیکی چارې یې د افغانیک موسسی لخوا ترسره شوې دي.

د کتاب د محتوا او لیکنې مسؤلیت د کتاب په لیکوال او اړونده پوهنځي پورې اړه لري. مرسته کوونکي او تطبیق کوونکي ټولنې په دې اړه مسولیت نه لري.



**د تدریسي کتابونو د چاپولو لپاره له موږ سره اړیکه ونیسی:**

**ډاکتر یــحــیی وردک، د لوړو زدکړو وزارت، کابل**

**دفتر: ۰۷۵۶۰۱۴۶۴۰**

**موبایل: ۰۷۰۶۳۲۰۸۴۴**

ایمیل: wardak@afghanic.org


**د چاپ ټول حقوق له مؤلف سره خوندي دي.**

ای اس بي ان: ISBN: 978 993 620 1347

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لوړو زده کړو وزارت پیغام

کتاب د علم او تکنالوژۍ په تر لاسه کولو کې د تاریخ په اوږدو کې یو ډېر مهم رول درلودلی دی او د تحصیلي نصاب اساسي جز او د زده کړو د کیفیت په لوړولو کې خورا مهم رول لري. نو ځکه باید په علمي معیارونو برابر او تازه مواد د ټولنې د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره د محصلینو لپاره برابر او چاپ شي.

زه د هغو محترمو استاذانو ستاینه او ورڅخه مننه کوم چې کلونه، کلونه یې زحمت ویستلی دی، او کتابونه یې تألیف او ژباړلي دي او نورو ښاغلو استاذانو ته بلنه ورکوم چې دوی هم پخپلو رشتو کې درسي کتابونه برابر کړي، تر څوچاپ او د ګټې اخیستنې لپاره بېرته د محصلینو په واک کې ورکړل شي.

د لوړو زده کړو وزارت دا خپله دنده بولي چې د خپلو ګرانو محصلینو د ښه روزلو لپاره نوي او تازه درسي مواد برابر کړي.

په پای کې د ټولو هغه ادارو او کسانو څخه، په تېره بیا د Dr. Eroes او ډاکټر یحیی وردګ څخه مننه کوم، چې د طبي کتابونو د چاپ زمینه یې برابره کړې ده.

هیله لرم چې دغه ګټور کار ته ادامه ورکړل شي او هم د نورو برخو تدریسي کتابونه د چاپ په ګاڼه سمبال شي.

په درنښت

قانونپوه سرور دانش

د لوړو زده کړو د وزارت سرپرست، کابل ۱۳۹۰

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د درسي کتابونو چاپ او د طب پوهنځيو سره مرسته

قدرمنو استادانو او ګرانو محصلينو!

د افغانستان په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو کموالی او نشتوالی يوه لويه ستونزه ګڼل کيږي. د دې ستونزې د هوارولو لپاره موږ په تېرو دوو کلونو کې د طب پوهنځيو د درسي کتابونو د چاپ لړۍ پيل او تر اوسه مو ۶۰ طبي درسي کتابونه چاپ او د افغانستان ټولو طب پوهنځيو ته ورکړل.

د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د ۲۰۱۰-۲۰۱۴ کلونو په ملي ستراتيژيک پلان کې راغلي چې :

*"د لوړو زده کړو او د ښوونې د ښه کيفيت او محصلينو ته د نويو، کره او علمي معلوماتو د برابرولو لپاره اړينه ده چې په دري او پښتو ژبو د درسي کتابونو د ليکلو فرصت برابر شي، د تعليمي نصاب د ريفورم لپاره له انګليسي ژبې څخه دري او پښتو ژبو ته د کتابونو او مجلو ژباړل اړين دي، له دې امکاناتو څخه پرته د پوهنتونونو محصلين او ښوونکي نشي کولای عصري، نويو، تازه او کره معلوماتو ته لاس رسی پيدا کړي".*

د افغانستان د طب پوهنځيو محصلين او استادان له ډېرو ستونزو سره مخ دي. دوی په زاړه مېتود تدريس کوي، محصلين او استادان نوي، تازه او عصري معلومات په واک کې نلري، دوی له کتابونو او هغه چېپټرونو څخه ګټه اخلي، چې زاړه او په بازار کې په ټيټ کيفيت کاپي کيږي. بايد هغه شمېر کتابونه چې د استادانو له خوا ليکل شوي دي راټول او چاپ شي.

په ۲۰۱۱ کال کې د کابل طبي پوهنتون څخه (۹ عنوانه)،د ننګرهار (۱۳عنوانه)، کندهار (۷ عنوانه) او هرات (۴عنوانه) طبي درسي کتابونه (ټول ۳۳ عنوانه) راټول او چاپ کړل، چې يوه بېلګه يې ستاسې په لاس کې همدا کتاب دی.

د افغانستان د پوهنتونونو او د لوړو زده کړو وزارت د غوښتنو له مخې، غواړو، چې دغه پروګرام د هېواد نورو پوهنځيو ته هم وغځوو.

لکه څنګه چې زموږ هېواد تکړه او مسلکي ډاکټرانو ته اړتيا لري، نو بايد د هېواد د طب پوهنځيو ته لازياته پاملرنه وشي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرنګه چې د کتابونو چاپول زموږ د پروګرام یوه برخه ده، غواړم دلته زموږ د نورو هڅو په اړوند څو ټکي راوړم:

### ۱. درسي طبي کتابونه

دا کتاب چې ستاسو په لاس کې دی د درسي کتابونو د چاپ د لړۍ یوه برخه ده. موږ غواړو چې دې کار ته دوام ورکړو او د چپټر او نوټ ورکولو دوران ختم شي.

### ۲. د نوي مېتود او پرمختللو وسایلو په کارولو سره تدریس

د ننګرهار او بلخ پوهنتونونو طب پوهنځي یوازې د یو پروجیکټور درلودونکې وو، چې په ټول تدریس کې به ترې ګټه اخیستل کېده او ډېرو استادانو به په تیوریکي شکل درس ورکاوه. په ۲۰۱۰ کې مو د DAAD په مرسته وکولای شول د ننګرهار، خوست، مزار، کندهار او هرات طب پوهنځیو ټولو تدریسي ټولګیو کې پروجیکټورونه نصب کړو.

### ۳. د هېډل برګ پوهنتون په نړیوال طب کې ماستري

په نظر کې ده چې د هېواد د طب پوهنځیو د عامې روغتیا د څانګو استادان د جرمني هیدل برګ پوهنتون ته د ماسترۍ لپاره ولېږل شي.

### ۴. د اړتیاوو ارزونه

په کار ده چې د پوهنځیو روان وضیعت (اوسنۍ ستونزې او راتلونکي چېلنجونه) وارزول شي، او بیا ددې پر بنسټ په منظمه توګه اداري، اکاډمیک کارونه او پرمختیایي پروژې پلې شي.

### ۵. کتابتونونه

په انګلیسي ژبه په ټولو مهمو مسلکي مضمونونو کې نوي نړیوال معیاري کتابونه د پوهنځیو کتابتونونو ته وسپارل شي.

### ۶. لابراتوارونه

په هر طب پوهنځي کې باید په بېلا بېلو برخو کې لابراتوارونه موجود وي.

### ۷. کدري روغتونونه (د پوهنتون روغتونونه)

د هېواد هره طب پوهنځی باید کادري روغتون ولري او یا هم په نورو روغتونونو کې د طب محصلینو لپاره د عملي زده کړو زمینه برابره شي.

### ۸. ستراتیژیک پلان

دا به ډېره ګټوره وي، چې د طب هر پوهنځی د اړونده پوهنتون د ستراتیژیک پلان په رڼا کې خپل ستراتیژیک پلان ولري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له ټولو محترمو استادانو څخه هیله کوم، چې په خپلو مسلکي برخو کې نوي کتابونه ولیکي، وژباړي او یا هم خپل پخواني لیکل شوي کتابونه، لکچر نوټونه او چپټرونه اډېټ او د چاپولو لپاره تیار کړي او بیا یې زموږ په واک کې راکړي، چې په ښه کیفیت چاپ او بیا یې په وړیا توګه طب پوهنځیو او د محصلینو په واک کې ورکړو.**

**همدارنګه د پورته یادو شوو نورو ټکو په اړوند خپل وړاندیزونه موږ ته په لاندې آدرس وسپارئ، څو په ګډه مؤثر ګامونه واخلو.**

**له ګرانو محصلینو هیله کوم، چې په یادو چارو کې له خپلو استادانو او موږ سره مرستندوی شي.**

په آلمان کې د افغاني ماشومانو سره د مرستې ټولنې (Kinderhilfe-Afghanistan e.V.) او د ټولنې مشر ښاغلي Dr Eroes نه د زړه له کومې مننه کوم، چې تر اوسه یې د دغه کتاب پر شمول د ۱۳ کتابونو د چاپ لګښت په ورین تندي پر غاړه واخیسته او له دې سربېره یې د لانورو مرستو وعده هم کړې ده. همداراز د افغانیک (Afghanic) موسسې څخه هم مننه کوم، چې د کتابونو د چاپ تخنیکي او اداري کارونه یې تر سره کړي .

په افغانستان کې د کتابونو د چاپ په برخه کې د لوړو زده کړو وزارت سرپرست قانونپوه سرور دانش، علمي معین پوهنوال محمد عثمان بابري، مالي او اداري معین پوهاند صابر خویشکي، د پوهنتونو او پوهنځیو له رییسانو او درنو استادانو څخه یوه نړۍ مننه کوم، چې موږ یې تشویق کړي یو او د کتابونو د چاپ په برخه کې یې له موږ سره همکاري کړې .

**ډاکتر یحیی وردګ**، د لوړو زده کړو وزارت

کابل، ۲۰۱۱ م ،دسامبر

د دفتر تلیفون : ۰۷۵۶۰۱۴۶۴۰

موبایل تلیفون :۰۷۰۶۳۲۰۸۴۴

ایمیل: wardak@afghanic.org

× × ×

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګڼه : لیکنه | مخ
--- | ---


| | |
|---|---|
| ۱. د سترګې د کرې امبریالوژي | ۱ |
| ۲. د سترګو د ناروغانو د تاریخچې اخیستلو کړنلاره | ۱۰۲ |
| ۳. د عدسیې معاینه | ۱۱۱ |
| ۴. د سترګې نارمل وضعیت په حجاج جوف کښې | ۱۲۰ |
| ۵. د جفن اناتومي او ناروغي | ۱۳۰ |
| ۶. خبیث تومورونه | ۱۴۸ |
| ۷. د منضمې ناروغي | ۱۵۵ |
| ۸. د منضمې تقیي التهاب | ۱۵۹ |
| ۹. د منضمې مزمن التهاب | ۱۶۲ |
| ۱۰. دمنضمې ګونوریایي | ۱۶۵ |
| ۱۱. Ophthalmia nennatrum | ۱۶۸ |
| ۱۲. د منضمې وایروسي التهاب | ۱۷۱ |
| ۱۳. Trachoma | ۱۷۵ |
| ۱۴.د منضمې استحالوي بدلونونه | ۱۸۵ |
| ۱۵.صلبیه | ۱۹۲ |
| ۱۶. Anterior chamber | ۲۲۴ |
| ۱۷. Aqucous Humour | ۲۲۵ |
| ۱۸. د سترګې بدلونونه په سیستمیکو ناروغیو کې | ۲۳۳ |
| ۱۹. د عدسیې اناتومي او ناروغي | ۲۴۱ |


Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | |
|---|---|
| ۲۰. Cataract | ۲۴۲ |
| ۲۱. Diseases of Lacrimal drainage system | ۲۶۰ |
| ۲۲. Chronic dacryoadinitis | ۲۶۳ |
| ۲۳. Acute canaliculitis | ۲۶۵ |
| ۲۴. Chronic dacryocystitis | ۲۶۶ |
| ۲۵. Glaucoma | ۲۶۷ |
| ۲۶. ولادي ګلوکوما | ۲۷۵ |
| ۲۷. ابتدايي بنده زاويي ګلوکوما | ۲۹۵ |
| ۲۸. Chronic angle closer glaucoma | ۳۰۰ |
| ۲۹. The Uveal tract | ۳۲۵ |
| ۳۰. Uveitis | ۳۳۱ |
| ۳۱. دبصري عصب اناتومي او ناروغي | ۳۳۶ |
| ۳۲. Optic neuritis | ۳۳۸ |
| ۳۳. Chronic retrobulber neuritis | ۳۴۰ |
| ۳۴. دشبکيې ناروغي | ۳۴۲ |
| ۳۵. Retinitis | ۳۴۴ |
| ۳۶. د شبکيې د شريان بندش | ۳۴۶ |
| ۳۷. Hypertensive retinopathy | ۳۵۰ |
| ۳۸. Diabetic retinopathy | ۳۵۳ |
| ۳۹. Prephral retinal degeneration | ۳۶۲ |
| ۴۰. Retinoblastoma | ۳۷۱ |
| ۴۱. Debulking of the orbadid | ۳۷۴ |


Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سترګی د کری امبریالوژي

مرکزی عصبی سیستم د neural tube څخه انکشاف کوي د neural tube په قدام او دواړه خواوو کښې یو ضخامت ته راځي چې د optic palate په نوم یادیږي د سطحي په لوروده کوي او optic vesicle څخه وده کوي او د ectoderm او mesoderm د optic palate تماس پیدا کیږي

Optic palate مخکني او ښکتني برخه سره یوځاي کیږي او optic cup جوړه وي دایوځاي شوي برخه دیوڅه مودي لپاره دجنیني Fissure په توګه خلاص پاتي کیږي

Hyaloids artery د نوموړي Fissure دلاري داخلیږي اودانکشافي جوړښتنو لپاره نه تغذیه برابره وي چې دغه شریان ورسته اتروفي کوي د optic cup داخلي طبقه د retina نهه طبقي جوړه وي اوخارجي طبقي یي pig epithelium باندي انکشاف کوي.

Neural Ectoderm یوه جیلي مانندە مادە افرازوي چې vitreous په نوم یادیږي او vitreous cavity ډکوي body ciliary's او lirs د optic cup د قدامي برخي او mesoderm په واسطه جوړیږي.

Eyelids د ectoderm او mesoderm دواړه سطحو څخه وده کوي

Zonules د surface ectoderm او mesoderm څخه وده کوي.

**Eye at Birth**

۱ په نوي زیږیدلي ماشوم کښې **orbit** نظر کاهلانو ته متبادي وي ( **۴۵-۵۰** )

۲ د سترګي د کري اوږودوالي د کاهلانو د سترګي د کري ۷۰٪ تشکیلوي او اته کلني کښې په مکمل ډول انکشاف کوي

۳ نوي زیږیدلي ماشومان **۲،۵** ډیپوتر په اندازه **hypermetrop** وي

۴ قرنیه تقریباً د کاهلانو د قرنیي اتیا فیصده تشکیلوي چې په دري کلني کښې وده کوي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**anterior chamber ۵** سطحی او زایه یې نري وی ۰

## د سترګې د کر د سترګي جوف (کاسه) :

د سترګو جوفونه د مخ په دواړو پورتنیو نیمایي برخو کې د قدامي Cranial fossa څخه لاندي او د منځني Cranial fossa په قدام کې موقعیت لري په کوم کې چې د سترګي ګاټي ، Optic Nerve ، Extra-ocular عضلات ، صفاقونه ، او ددي

جوړښتونو اړونده رګونه او عصبي ریشي وجود لري.

## د سترګي هډوکني جوف (کاسه) :

د سترګي د هډوکني جوف په چوکاټ کې اوه هډوکې برخه اخلي (انځور ۷۰:۸) چې عبارت دي له:

Zygomatic ، Maxilla ، frontal ، ethmoid ، lacrimal ، sphenoid او palatine څخه. چې په ټولنیزه توګه د غه جوف ته د هرم انځور ورکوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




Drake: Gray's Anatomy for Students, 2nd Edition.
Copyright © 2009 by Churchill Livingstone, an imprint of Elsevier, Inc. All rights reserved.

( انځور ۷۰:۸ د سترګي د کاسي هډوکې )

ددي هرم د قاعدي پراخه سوري قدام خوا ته په مخ کې موقعيت لري او د زروي برخه يي خلفي انسي استقامت ته غزيدلي ده. انسي ، وحشي ، علوي او سفلي ديوالونه دهرم انځور بشپړوي. د سترګي هډوکني کاسي د هرمي انځور زروه د optic foramen څخه عبارت ده په داسي حال کې چې قاعده ( orbital rim ) يي متناظر دي له:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په علوي کې يې د frontal هډوکې موقعيت لري.
- په انسي کې د maxilla هډوکې frontal process موقعيت لري.
- په سفلي کې د Zygomatic هډوکې او د maxilla د هډوکې process Zygomatic موقعيت لري.
- په وحشي کې د Zygomatic هډوکې ، د Zygomatic د هډوکې frontal process او د frontal د هډوکې د Zygomatic process واقع دي.

**چت (سقف) :**

د سترګې د هډوکني کاسې چت (علوي جدار) د frontal د هډوکې د orbital برخې په واسطه او د sphenoid د هډوکې د يوې کوچنې برخې په واسطه جوړيږي. (انځور ۷۰:۸) د هډوکې د انري لوحه د سترګې د کاسې محتويات له دماغ څخه. په قدامي cranial fossa کې جدا کوي.

د علوي جدار بيلونکې نښې په لاندې ډول دي:

- قدامي انسي کې يې د trochlear fovea او د frontal sinus د يوې برخې ممکنه ننوتنه وجود لري تر څو يوه څرخه ورسره يو ځاى (ضميمه) شي د کوم څخه چې superior oblique muscle تيريږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- قدامي وحشي کې يي يوژوروالی د lacrimal fossa په نوم وجود لري په کوم کې چې د lacrimal gland د سترګي د کاسي برخه( orbital part ) موقعيت لري. په خلف کې د sphenoid د هډوکي کوچني وزر سقف يا چت مکملوي.

## انسي ديوال:

د سترګو جوړه شوي هډوکني کاسو انسي ديوالونه يو د بل سره موازي دي او هر يو يي د ځلورو هډوکو څخه جوړ شوي دي چې عبارت دي له: maxilla ، lacrimal ، ethmoid او sphenoid هډوکو څخه. (انځور ۷۰:۸ ) هغه هډوکي چې د انسي ديوال په جوړولو کې ډيره برخه اخلي د ethmoid هډوکي orbital part دي.د ethmoid هډوکي دا برخه د ethmoidal حجراتو ټولګي لري کوم چې په يوه وچ شوي قحف کې په روښانه ډول ليدل کيږي.همدارنګه قدامي او خلفي ethmoidal سوري د انسي ديوال او چت په اتصالي ناحيه کې اکثرا د Frontoethmoidal suture سره يو ځاي د ليدلو وړ دي. ددي سوريو له لاري قدامي او خلفي ethmoidal اعصاب او رګونه د سترګي د کاسي څخه خارجيږي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

. (انځور ۷۰:۸ ) د ethmoidal هډوکي په قدام کې د lacrimal کوچني هډوکي موقعیت لري او د maxilla د هډوکي frontal process د انسي دیوال قدامي برخه بشپړوي. دا دواړه هډوکي د lacrimal groove په جوړښت کې برخه اخلي. په دي groove کې lacrimal sac موقعیت لري او د posterior lacrimal crest په واسطه چې د lacrimal د هډوکي برخه ده او anterior lacrimal crest په واسطه چې د maxilla د هډوکي برخه ده احاطه شوي دي.

د ethmoidal هډوکي په خلف کې انسي دیوال د sphenoid د هډوکي د یوي کوچني برخي په واسطه بشپړ شوي دي کوم چې د optic کانال د انسي دیوال ډیره برخه تشکیلوي.

## ځمکه :

د سترګي د هډوکني کاسي ځمکه ( سفلي دیوال ) کوم چې د maxillary sinus چت هم بلل کیږي د maxilla د هډوکي د orbital surface په واسطه ، د palatine او Zygomatic هډوکو د کوچنیو برخو په واسطه جوړ شوي دي.

( انځور ۷۰:۸ )

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د Inferior orbital fissure خلف څخه شروع کېږي او د سترګي د هډوکني کاسي د ځمکې په وحشي سرحد کې امتداد لري د دي fissure د قدامي نهايت څخه ها خواته د Zygomatic هډوکې د سترګي د هډوکني کاسي ځمکه بشپړوي په خلف کې د orbital process د هډوکې palatine د سترګي د هډوکني کاسي ځمکه يوه وړه برخه د maxilla ، ethmoidal او sphenoid هډوکو اتصالي ساحي ته نژدې جوړوي.

## وحشي ديوال:

د سترګي د هډوکني کاسي وحشي ديوال د دوو هډوکو څخه جوړ شوي دي چې په قدام کې د Zygomatic هډوکې او په خلف کې د sphenoid هډوکې لوي وزر موقعيت لري (انځور ۷:۸).

## زېږمي ( **eyelids** ):

پورتني او ښکتني زېږمي هغه قدامي جوړښتونه دي چې کله وتړل شي نو د سترګي د کري د سطحي ساتنه کوي. کله چې زېږمي خلاصي وي نو د دوي تر منځ مسافي ته palpebral fissure وايي. د زېږمو پوښونه د قدام څخه خلف خوا ته عبارت دي له: پوستکې، د پوستکې لاندي نسج، ارادي عضله، orbital septum، tarsus

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

، conjunctiva **څخه**. (انځور ۷۱:۸).




Drake: Gray's Anatomy for Students, 2nd Edition.
Copyright © 2009 by Churchill Livingstone, an imprint of Elsevier, Inc. All rights reserved.

( انځور ۷۱:۸زيرمي )

پورتني او ښکتني زيرمي په بنيادي ډول يو شان جوړښت لري په دي توپير سره چې په پورتني زيرمه کې دوه عضلات اضافه شوي دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوستکي او د پوستکي لاندي نسج:

د زیږمو پوستکي په ځانګړي توګه بنستیز جوړښت نه لري او یوائي د منظم نسج یوه نري پرده ده چي پوستکي د لاندي ارادي عضلي څخه جدا کوي.

(انځور ۷۱:۸)

کله چي تپ پیدا شي د منظم نسج په نري پرده کي د هغي سست جوړښت له کبله په کي مایع (وینه) راټولیږي.

## Orbicularis oculi:

هغه عضلي الیاف چي د زیږمو په قدامي خلفي استقامت کي ډیر نژدي موقعیت لري د Orbicularis oculi عضلي palpebral برخي پوري اړه لري.

(انځور ۷۱:۸).

دا عضله د غټي Orbicularis oculi عضلي برخه ده کومه چي په ابتدایي توګه د دوه برخو څخه تشکیل شوي ده یوه برخه یي orbital part نومیږي چي د سترګي هډوکني کاسه احاطه کوي او بله برخه یي palpebral part نومیږي چي په زیږمو کي موقعیت لري.(انځور ۷۲:۸).

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




( انځور ۷۲:۸ Orbicularis oculi عضله )

Orbicularis oculi عضله د facial nerve په واسطه تعصیب شوي ده او دنده یي داده چې زیږمې بندوي. palpebral برخه یي نري جوړښت لري په انسي کې د medial palpebral ligament په واسطه دریدلي ده کومه چې د anterior lacrimal crest سره وصل شوي ده او په وحشي کې د lat. Palpebral ligament په برخه کې د هغه عضلي الیافو سره یو ځای کیږي چې په سفلي زیږمه کې موقعیت لري.

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

Orbicularis oculi عضلي د ريمه برخه د هغو اليافو څخه تشکېل شوي ده چې په انسي کنار کې ژور موقعيت لري او د post. Lacrimal crest سره وصل شوي ده. دا الياف د Orbicularis oculi عضلي Lacrimal part جوړوي کوم چې ممکن د اوښکو په بهيدلو کې برخه ولري .

## د سترګي د کاسي ديوال ( Orbital septum ) :

د Orbicularis oculi عضلي د palpebral part څخه لاندي د periosteum يوه غزيدلې برخه په پورتني او ښکتني زيږمه کې وجود لري چې د سترګي د کاسي د څنډو څخه پيل کېږي. (انځور ۷۱:۸) Orbital septum ورته ويل کېږي. دا septum په پورتني زيږمه کې ښکته امتداد لري او په ښکتني زيږمه کې پورته امتداد لري.د سترګي د کاسي په داخل او خارج کې د periosteum په دوام موقعيت لري. (انځور ۷۳:۸).

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




(انځور ۸:۷۳ Orbital septum)

د Orbital septum levator palpebral super عضلي دوتر سره په پورتني زیږمه کې وصل کېږي او د Tarsus سره په سفلي زیږمه کې وصل کېږي.

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

## :Tarsus &levator palpebral superior

Tarsus هغه جوړښتونه دي چې د هري زیږمي په غښتلتوب کې ډیره برخه اخلي .

(انځور ۸:۷۱). په پورتني زیږمه کې یو غټ علوي Tarsus او په ښکتني زیږمه کې یو کوچني سلفي Tarsus وجود لري.

(انځور ۸:۷۴).




(انځور ۸:۷۴ Tarsal plates )

دا د متراکم منظم نسج صفحي په انسي کې د medial palpebral ligament په

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

واسطه د maxilla هډوکي د anterior lacrimal crest سره وصل شوي دي او په وحشي کې د lateral palpebral lig. په واسطه د Zygomatic هډوکي د orbital tubercle سره وصل شوي دي. سره له دي چې د جوړښت او دندي له مخي په پورتني او ښکتني زيږمو کي tarsal صفحي سره مشابه دي مګر بيا هم يو ځانګړي توپير لري. levator palpebral sup عضله په پورتني زيږمه کې د Tarsus سره يو ځاي وي او دنده يي داده چې زيږمه پورته کوي (انځور ۸:۷۴).

منشاء يي د سترګي کاسي د چت د خلفي برخي څخه صورت نيسي چې د optic foramen څخه پورته موقعيت لري او د علوي tarsus په قدامي سطحه باندي ارتکاز کوي ددي امکان لري چې يو څو الياف يي د پورتني زيږمي پوستکې پوري وصل شوي وي او د oculomotor عصب په واسطه تعصيب شوي دي.

د ملسا عضلي اليافو يوه مجموعه د levator palpebral sup عضلي سره يو ځاي وجود لري. چې د levator عضلي د ښکتني مخ څخه تيريږي او د علوي tarsus تر پورتني کنار پوري رسيږي.

(انځور ۸:۷۱) sympathetic postganglionic د superior cervical ganglion اليافو په واسطه تعصيبږي او دغي عضلي ته superior tarsal muscle وايي که levator palpebral sup عضله او يا superior tarsal

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

muscle خپله دنده له لاسه ورکړي نو د پورتني زیږمي د رالویدلو ( ptosis )

سبب ګرځي.

## منضمه (Conjunctiva):

د زیږمي جوړښت د یوي نري پردي په واسطه بشپړ شوي دي چې Conjunctiva

نومیږي او د هري زیږمي خلفي مخ پوښوي (انځور ۷۱:۸) دا غشا د هري زیږمي

خلفي مخ په بشپړ ډول پوښوي مخکې له دي چې د سترګي د ګاټي په بیروني

سطحي ( sclera ) انعکاس وکړي د sclera او قرنیي په اتصالي ساحه کې د

سترګي د ګاټي پوري نښلي. کله چې دا غشا په خپل ځاي کې وي او زیږمي تړل

شوي وي نو sac Conjunctiva جوړیږي او د دي sac پورتني او ښکتني

پراخوالي د علوي او سفلي Conjunctiva fornices په نومو یادیږي. (انځور

۷۱:۸).

### غدوات :

په tarsal صفحو کې ځاي پر ځاي شوي غدوات د tarsal glands په نومونو

یادیږي او د هري زیږمي په ازاد کنار کې تخلیه کیږي دا غدوات بدل شوي

sebaceous غدوات دي چې یوه غوړینه ماده افرازوي کومه چې د اوښکو غلظت

(سریښناکوالي) زیاتوي او د اوښکو د تبخیریدلو سویه د سترګو د ګاټو له

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

سطحو څخه کموي. د يو tarsal غدي بند بنت او التهاب د chalazion په نوم يادېږي او د زېرمو په داخلي سطحه کې ليدل کېږي په زېرمو کې يوائې د tarsal glands وجود نه لري بلکه د بڼود فوليکلونو سره يو ځاي sebaceous glands او sweat glands هم موجود دي.

ددي غدواتو له جملي څخه د هر يو بندبنت او التهاب د stye په نوم يادېږي او د زېرمو په کنار کې ليدل کېږي.

## د ويني رګونه:

د زېرمو شرياني وينه د ګڼ شمير رګونو څخه چې په دي ساحه کې موقعيت لري راځي

او په لاندي ډول دي:

- د ophthalmic artery څانګي چې عبارت دي له supra trochlear ، supra –orbital ، lacrimal او dorsal nasal شريانونو څخه.
- د facial شريان څانګه چې angular artery نوميږي.
- د superficial temporal شريان څانګه چې transverse facial artery نوميږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

• خپلـه د superficial temporal شـريان نـوري ځـانګي ( انځـور ۸:۷۵ ) وريدي تخليه يې داخلي او خارجي انځورونه لري چې د خارجي انځـور وريدونه يې د پورته ګڼ شمير شريانونو سير تعقيبوي او دداخلي انځـور وريدونه يې د سترګي د کاسي دننه خوا ته سير لري او د ophthalmic veins سره يو ځاي کېږي.



Drake: Gray's Anatomy for Students, 2nd Edition.
Copyright © 2009 by Churchill Livingstone, an imprint of Elsevier, Inc. All rights reserved.

( انځور ۸:۷۵د زيږمو رګونه )

په ابتدايي توګه لمفاوي تخليه يې په parotid nodes کې صورت نيسي او د سترګي د انسي کونج تخليه يې د هغو لمفاوي او عيو له لاري چې د angular او

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
facial شریانونو سره یو ځای سیر لري په submantibular عقداتو کې صورت نیسي.

## د زیږمو تعصیب ( innervation ):

د زیږمو تعصیب د حسي او حرکي اعصابو په واسطه صورت نیسي. حسي اعصاب یې د trigeminal عصب څانګې دي او palpebral څانګې یې د لاندې اعصابو څخه منشاء اخلي.

- د ophthalmic عصب څخه supra –orbital ، supra trochlear ، infra trochlear او lacrimal څانګې.
- د maxillary عصب څخه infra – orbital څانګې ( انځور ۸:۷۶ ) .




( انځور ۸:۷۶ د زیږمو تعصیب )

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

حرکې تعصیب یې دلاندي اعصابو په ذریعه صورت نیسي.

- Facial nerve چې د Orbicularis oculi عضلي palpebral برخه تعصیبوي.
- Oculomator nerve چې د levator palpebral superior عضله تعصیبوي
- سمپاتیک الیاف چې د superior tarsal عضله تعصیبوي که د Orbicularis oculi عضلي تعصیب چې د Facial nerve په واسطه دي له منځه لاړ شي نو په دي صورت کې زیږمي په کلک ډول سره نه بندیږي اولاندني زیږمه لاندي غورځیږي چې دا حالت د اوښکو د تویدو سبب ګرځي.

که د levator palpebral sup عضلي تعصیب چې د Oculomator nerve په واسطه دي له منځه لاړ شي نو په دي صورت کې پورتني زیږمه په ارادي ډول سره نه خلاصیږي او د یو بشپړ ptosis سبب ګرځي. که د superior tarsal عضلي تعصیب چې د سمپاتک الیافو په واسطه دي له منځه لاړ شي نو په دي صورت کې یو ثابت قسمي ptosis منځ ته راځي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کلینیک کې:

## Horner`s syndrome :

کله چې د غاړې په Sympathetic trunk کې افت رامنځ ته شي او د سمپاتیک اعصابو دندې له منځه لاړ شي نو Horner`s سنډروم پیدا کېږي. د لاندې درې خصوصي اوصافو له مخې تشریح کېږي.

- papillary ) عضلې د فلج له امله د کسې تقبض( dilator pupillae constriction (
- د superior tarsal mascle عضلې د levator palpelora superior د فلج له امله قسمي ptosis ( د پورتني زېرمې لویدل )
- د sweat glands د تعصیب له نشتوالي له امله د مخ او غاړې په عین طرف کې د خولو نشتوالي.

امکان لري ثانوي(دویمی) بدلونونه ولري چې عبارت دی له :

- د پوستکې لاندې ویني رګونو د نارمل سمپاتیک کنترول د نشتوالي له امله په عین طرف کې د رګونو پراخوالي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د orbitalis عضلې د فلج له امله enophthalmos (د سترګې ننوتل) ـــــ سره له دې چې دا د Horner`s syndrome یو غیر معمول وصف دی.

د orbitalis عضله د inferior orbital فشور څخه تیریږي او مرسته کوي چې د سترګې د کاسې محتویات په قدامي وضعیت کې وساتي.

د Horner`s syndrome تر ټولو عام سبب هغه تومور دی چې cervicothoracic ganglion تخریبوي او په ځانګړې توګه apical lung tumor ورته ویل کیږي.

## د جراحي په واسطه راپیدا شوي Horner`s syndrome :

د جراحي په واسطه راپیدا شوي Horner`s syndrome ممکن چې د هغو ناروغانو لپاره اړین وي کوم چې د خولو دزیاتوالی ( hyperhidrosis ) څخه رنځ وړي ، اکثره دا کمزوري کونکې حالت ممکن چې ډیر شدید وي حتی چې ناروغان یې د خجالت د ویرې له کبله په کورونو کې اوسیږي تداوي یې په نسبتي ډول ساده ده او څه نا څه

مهارت غواړي. ناروغ ته بیهوشي ورکول کیږي او یو دوه شاخه endotracheal ټیوب

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په چپ او ښي بنيادي bronchus کې اینبودل کېږي په مناسب طرف کې په بین الضلعي مسافه کې یو کوچني شق اجرا کېږي ( غوځېږي ) او د جراحي له نظره pneumothorax پيدا کېږي نا روغ د مقابل طرف سږي په واسطه تهيه کېږي.

د endoscope د استعمال په ذریعه د داخل طرف څخه د صدري جوف زروه ليدل کېږي او Cervicothoracic ganglion سمدلاسه مشخص کېږي.

پاکونکې تخنيکونه يې د جراحي غوڅولو او thermocoagulation څخه عبارت دي وروسته له دې چې ganglion تخريب شوي. Endoscope لري کېږي .سږي ته دوباره هوا ورکول کېږي او کوچني سوري بيرته ګنډل کېږي.

## داوښکو جهاز( **Lacrimal apparatus** ):

د سترګي د ګاټي له سطحي څخه د مايعاتو په رايستلو ، توليدلو او حرکت ورکولو کې Lacrimal apparatus رول لري چې د لاندي برخو څخه جوړ شوي دي: Lacrimal gland او د هغې قناتونه ، Lacrimal canaliculi ، sac Lacrimal او nasolacrimal duct.

Lacrimal gland قدامي موقعيت لري چې د سترګي د کاسي په علوي وحشي ساحه کې ځای په ځای شوي دي. ( انځور ۸:۷۷ ) .

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




(انځور ۸:۷۷په قدامي منظره کې Lacrimal gland )

د levator palpebral superioris عضلي په واسطه په دوه برخو ویشل شوي (انځور ۸:۷۸).




(انځور ۸:۷۸ Lacrimal gland او Levator palpebral superioris )

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- لویه برخه یي چې orbital part نومیږي په یو فرورفتګي ( ننه وتنه ) کې چې د frontal bone د lacrimal fossa څخه عبارت دي واقع شوي دي
- کوچني برخه یي palpebral part نومیږي د levator palpebral superior څخه بسکته د زیږمي په علوي وحشي برخه کې موقعیت لري .ډیر قناتونه د غدي افرازات د conjunctiva د علوي fornix په وحشي برخه کې تخلیه کوي په دوامداره توګه سره مایع د Lacrimal gland څخه افرازیږي او کله چې زیږمي سترګک وهي نو د سترګي د ګاټي په سطحه باندي دوحشي څخه انسي خوا ته حرکت کوي.

مایع په انسي برخه کې په Lacrimal lake کې راټولیږي او د Lacrimal canaliculi په ذریعه د lake څخه خارجیږي. د هري زیږمي سره یو canaliculus یو ځاي وي. (انځور ۷۷:۸) .

Lacrimal punctum هغه سوري دي د کوم څخه چې مایع هر canaliculusته ننوځي. Lacrimal canaliculi په انسي کې سیر لري او په اخر کې د قدامي او خلفي lacrimal crests ترمنځ د .Medial palpebral lig په خلف کې او د Orbicularis oculi عضلي د lacrimal part په قدام کې د lacrimal sac سره یو ځاي کیږي.انځورونه ۷۹:۸او ۸۰:۸ )

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




( انځور ۸:۷۹د lacrimal sac جوړښت )




( انځور ۸:۸۰د lacrimal sac موقعیت )

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د سترګک وهلو پر مهال Orbicularis oculi عضله تقلص کوي د

عضلي کوچني lacrimal برخه ممکن چې lacrimal sac پراخه کړي او د

canaliculi له لاري

د conjunctival sac څخه اوښکې په کې توي کړي.

## Innervation یا تعصیب:

د lacrimal gland تعصیب دري مختلفي برخي لري. (انځور ۸۱:۸).



Drake: Gray's Anatomy for Students, 2nd Edition.
Copyright © 2009 by Churchill Livingstone, an imprint of Elsevier, Inc. All rights reserved.

(انځور ۸۱:۸ د lacrimal gland تعصیب)

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Sensory innervationیا حسي تعصیب:

د ophthalmic عصب د lacrimal څانګې له لارې حسي نیورونونه د lacrimal gland څخه CNS ته رجعت کوي.

## Secretomotor (parasympathetic) innervation:

Secretomotor الیاف چې د PNS د autonomic څانګې د parasympathetic برخې څخه منشاء اخلي د lacrimal gland د مایعاتو افراز تنبه کوي دا parasympathetic preganglionic neurons د facial nerve په برخه کې CNS پرېږدي ، په greater petrosal عصب کې چې د facial nerve یوه څانګه ده داخلیږي او ددې عصب سره ادامه پیدا کوي ترڅو چې د pterygoid کانال عصب ورڅخه جوړ شي. (انځور ۸:۸۱).

د pterygoid کانال عصب په اخر کې د pterygopalatine ganglion سره یو ځای کیږي په کوم کې چې preganglionic parasympathetic نیورونونه د

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

parasympathetic postganglionic نیورونونو سره تفمم کوي. neurons

postganglionic د maxillary عصب سره یو ځاي کېږي او وروسره ادامه پیدا کوي تر څو چې Zygomatic عصب ورڅخه څانګه جدا کړي او بیا د Zygomatic عصب سره ادامه پیدا کوي تر څو چې zygomaticotemporal nerve ورڅخه څانګه جدا کړي دا عصب postganglionic parasympathetic الیاف په یوه وړه څانګه ویشي کوم چې د lacrimal عصب سره یو ځاي کېږي او lacrimal nerve عصب د lacrimal غده تعصیبوي.

## سمپاتیک تعصیب:

د lacrimal غدي سمپاتیک تعصیب د parasympathetic تعصیب سره مشابه دي. sympathetic postganglionic الیاف چې د علوي رقبي ganglion څخه منشاء

اخلي د هغه plexus په امتداد سیر لري کوم چې د internal carotid artery څخه ګرد چاپیره موقعیت لري (انځور ۸۱:۸) دا الیاف د deep petrosal nerve په شان دا plexus پریږدي او د pterygoid کانال په عصب کې د parasympathetic الیافو سره یو ځاي کېږي. د pterygopalatine ganglion

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د parasympathetic الیاف ورو سته سمپاتیک ځخه تیریږي او د دي نقطي ځخه

الیافو په شان لار تر lacrimal gland پوري تعقیبوي.

## رګونه (Vessels):

د lacrimal gland اروا د ophthalmic artery د څانګو په واسطه او وریدي

تخلیه یي د ophthalmic وریدونو په واسطه صورت نیسي.

## Fissures او foramina:

د مختلفو سوریو له لاري ګڼ شمیر جوړښتونه د سترګي کاسي ته ننوځي او ورځخه راوځي (انځور ۸:۸۲).

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




Drake: Gray's Anatomy for Students, 2nd Edition.
Copyright © 2009 by Churchill Livingstone, an imprint of Elsevier, Inc. All rights reserved.

( انځور ۸۲:۸ د سترګي د هډوکني کاسي سوري )

## :Optic canal

که د سترګي هډوکني کاسه د قدامي وحشي موقعیت له رویه وکتل شي نود اهرامي انځوره سترګي کاسي په زروه کې به یو ګرد سوري ولیدل شي چې د اپتیک کانال په نوم یادیږي کوم چې منځني cranial fossa ته لاره پیدا کوي او په انسي کې د sphenoid هډوکې د جسم سره ، او په وحشي کې د sphenoid

(c) ketabton.com: The Digital Library

هډوکي د وړوکي وزر lesser wing سره تړل شوي دي ، په اپتيک کانال کې د اپتيک عصب او د ophthalmic شريان سير لري. ( انځور ۸:۸۲ ) .

**:Superior orbital fissure**

د اپتيک کانال په وحشي کې يوه مثلثي ډوله مسافه د سترګي د هډوکني کاسي د چت او وحشي ديوال تر منځ شتون لري چې د پورتني orbital fissure په نوم ياديږي. ځينو ساختمانونو ته اجازه ورکوي تر څو له دي لاري څخه د سترګي د کاسي او منځني cranial fossa تر منځ وغزيږي . ( انځور ۸:۸۳).




( انځور ۸:۸۳ optic canal او superior orbital fissure )

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

او لاندي ساختمانونه ورڅخه تيريږي.

۱. پورتني (علوي) او سفلي (ښکتني) oculomotor عصب

۲. Trochlear nerve

۳. Abducent nerve

۴. د Ophthalmic nerve د lacrimal ، frontal او nasociliary څانګي

۵. sup. Ophthalmic ورید . (انځور ۸:۸۳).

## :Inferior orbital fissure

د سترګي د کاسي وحشي جدار د سترګي د کاسي د ځمکې څخه د یو اوږد درز په واسطه جدا کیږي چې د سترګي د کاسي د ښکتني فشور په نوم یادیږي. (انځور ۸:۸۲) او د sphenoid د هډوکې لوي وزر ، maxilla ، palatine او Zygomatic هډوکي یې اطراف تشکیلوي.

دغه لوي طولاني درز د لاندي جوړښتونو تر منځ اړیکې ساتي:

۱. په خلف کې د سترګي د کاسي او pterygopalatin fossa تر منځ

۲. په منځني برخه کې د سترګي د کاسي او infra temporal fossa تر منځ

۳. په خلفي وحشي برخه کې د سترګي د کاسي او temporal fossa تر منځ

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښکتني inferior orbital fissure څخه maxillary nerve او د هغه Zygomatic برخه، infra orbital رګونه او هغه ورید چې د pterygoid plexus of veins سره وصلیږي تیریږي.

## Infra orbital foramen :

Infra orbital groove د خلف څخه شروع کیږي د inf.orbital fissure د ۲/۳ برخي څخه تیریږي او قدام خواته د سترګي د کاسي په ځمکه کې ادامه پیداکوي (انځور ۸۲:۸) دغه groove د inferior orbital کانال سره وصلیږي چې بالاخره د مخ سطحي ته راوځي او د inferior orbital foramen جوړوي لاندي جوړښتونه ورڅخه تیریږي:

۱. Infraorbital عصب

۲. د maxillary عصب یوه برخه

۳. او همدارنګه یو تعداد رګونه هم ورڅخه مخ ته بیرون راوځي.

## نورسوري (فوحي) ( Other Openings ):

د سترګي د کاسي د انسي هډوکني دیوال سره نښتي ډیر کوچني سوري وجود لري. (انځور ۸۲:۸) قدامي او خلفي ethmoidal سوري د علوي او انسي

(c) ketabton.com: The Digital Library
جدارونود اتصالي ساحي ترمنځ وجود لري. چې د قدامي او خلفي ethmoidal اعصابو او رګونو لپاره د سترګي د کاسي څخه د ethmoidal هډوکې ته د راوتلو لاري برابروي.

د انسي ديوال د سفلي برخي په قدامي قسمت کې يو کانال وجود لري چې فوحي بشپړوي. د lacrimal sac لپاره ننه وتنه (فرو رفتګي) هم په روښانه ډول ليدل کېږي چې د lacrimal هډوکې او د maxilla د هډوکې د frontal process په واسطه جوړه شوي ده. دا فرورفتګي د nasolacrimal canal سره يو ځاي ادامه لري او د inf.nasal meatus پوري رسيږي د nasolacrimal canal محتوي Nasolacrimal duct تشکېلوي کوم چې د lacrimal apparatus يوه برخه جوړوي.

## Fascial specializations وجهي (د مخ) ځانګړتياوي :

## Periorbita

د سترګي د هډوکني کاسي د هډوکو periosteum د periorbita څخه عبارت دي. (انځور ۸:۴۸).

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




Drake: Gray's Anatomy for Students, 2nd Edition.
Copyright © 2009 by Churchill Livingstone, an imprint of Elsevier, Inc. All rights reserved.

(انځور ۸۴:۸ A. periorbita وحشي منظره .B Common tendinous ring )

د سترګي د کاسي په څنډو کې د قحف د بيروني سطحي د periosteum سره ادامه لري او پورتني او ښکتني زيږمو ته پراختيا پيدا کوي چې orbital septa ورته ويل کېږي. د مختلفو سوريو له لاري کله چې د سترګي کاسه د قحفي خاليګاه و سره يو ځاي کېږي همداسي periorbita د ډورامټر د periosteal layer سره ادامه لري.د سترګي د کاسي په خلفي برخه کې د optic canal ګرد چاپيره د علوي orbital fissure مرکزي برخي سره د periorbita ضخامت

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

زياتيږي. دا د څلورو Rectus عضلاتو د منشاء نقطه تشکېلوي او common tendinous ring ورته ويل کېږي.

## د سترګي د ګاټي صفاقي پوښ:

چې د bulbar sheath په نوم هم يادېږي يوه صفحه د fascia ده چې د سترګي د ګاټي

زياته برخه پوښوي ( انځور ۸:۸۵ او ۸:۸٦ ).




Drake: Gray's Anatomy for Students, 2nd Edition.
Copyright © 2009 by Churchill Livingstone, an imprint of Elsevier, Inc. All rights reserved.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

( انځور ۸:۸۵ د سترګي د ګاټي Fascial sheath )




( انځور ۸:۸۶ A. check ligaments قدامي منظره .B علوي منظره )

- خلفاً د سکليرا ( د سترګي د ګاټي سپينه برخه ) سره په کلکه توګه وصل ده په کوم ځاي کې چې اپتيک عصب د سترګي ګاټي ته داخليږي.
- قداماً د سکليرا سره د قرنيې ( د سترګي د ګاټي روښانه برخه ) د څنډي سره نژدي په کلکه توګه وصل ده.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- بر علاوه له دي کله چې عضلات د سترګي ګاټي پوري رسيږي investing fascia چې د هري عضلي څخه تاوه شوي ده د سترګي د ګاټي د Fascial sheath سره يو ځاي کيږي تر هغه چې عضله د ارتکازي نقطي پوري ادامه پيدا کوي.يوه ځلانګړي سفلي برخه د Fascial sheath د suspensory lig په نوم شته چې د سترګي د ګاټي په غبستلتوب کې مرسته کوي. ( انځور ۸:۸۵او ۸:۸۶ ).

او دغه ligament چې د پټې په شان جوړښت لري د سترګي د ګاټي د Fascial sheath او ددوه سفلي ocular عضلاتو او د انسي او وحشي ocular عضلاتو څخه جوړه شوي ده.

## د انسي او وحشي Rectus عضلاتو check ligaments:

د سترګي په کاسه کې د پوښونو نوري ځانګړتياوي دادي چې check ligament په کې وجود لري(انځور ۸:۸۶) . دوي د investing fascia د پراختيا څخه عبارت دي چې انسي او وحشي Rectus عضلات پوښوي کوم چې د سترګي د هډوکني کاسي د انسي او وحشي ديوالونو سره نښتي دي.

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

- انسي check ligament: چې د انسي ریکتس عضلي د پوښ د پراخه کېدو څخه رامنځ ته کېږي فوراً د lacrimal د هډوکې د خلفي lacrimal crest د خلفي برخي سره یو ځای کېږي.
- وحشي check ligament: د وحشي ریکتس عضلي د پوښ د پراخه کېدلو څخه رامنځ ته کېږي او د Zygomatic هډوکې د orbital tubercle سره یو ځای کېږي. د دندي له نظره د دي ligament د موقعیت څخه دا معلومېږي چې د انسي او وحشي Rectus عضلاتو د محدودولو سبب ګرځي او په دي بنسټ سره د ځانګړو صفاقونو نوم ورکول شوي دي.

## عضلات Muscles:

د سترګي په کاسه کې دوه ډوله عضلات وجود لري:

extraocular muscles: (د سترګي د ګاټي خارج المنشاء (extrinsic) عضلات) د سترګي د ګاټي په حرکت کې رول لري یا دا چې پورتني زیرمي او چتوي.

د سترګي د ګاټي داخل المنشا (intrinsic) عضلات: د عدسیي انځور او د کسي اندازه کنترولوي.

په extrinsic عضلاتو کې لاندي عضلات شامل دي:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- Levator palpebra superior
- Superior Rectus
- Inferior Rectus
- Medial Rectus
- Lateral Rectus
- Sup. oblique
- Inf.oblique

په intrinsic muscles عضلاتو کې لاندې عضلات شامل دي:

- Ciliary muscles
- Sphincter pupillae
- Dilator pupillae

## Extrinsic عضلات:

په اوه extrinsic عضلاتو کې یوه عضله د زیږمو د پورته کېدو مسولیت لري په داسي حال کې چې نوري شپږ عضلې د سترګي د ګاتې د حرکت ورکولو وظیفه لري.( جدول ۸،۸ ).

په دري ابعادو کې د سترګي د ګاتي حرکتونه دا دي:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

( انځور ۸:۸۷ ).



Drake: Gray's Anatomy for Students, 2nd Edition.
Copyright © 2009 by Churchill Livingstone, an imprint of Elsevier, Inc. All rights reserved.

( انځور ۸:۸۷ د سترګې د ګاټې حرکتونه )

- پورته کول ـــــ کسي ته علوي خوا ته حرکت ورکول.
- ښکته کول ـــــ کسي ته سفلي خوا ته حرکت ورکول.
- تبعد ـــــ کسي ته وحشي خوا ته حرکت ورکول.
- تقرب ـــــ کسي ته انسي خوا ته حرکت ورکول.
- داخلي تدور ( intorsion ) ـــــ د کسي د پورتني برخي تدور انسي خوا ته ( یا د پزي طرف ته ).

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- خارجي تدور ( extorsion ) ـــــ د کسي د پورتني برخي تدور وحشي خوا ته ( يا د temple ) په طرف.

د سترګي د هري کاسي محور په کمه اندازه په وحشي استقامت کې د خلف څخه مخکې خوا ته موقعيت لري په داسي حال کې چې د سترګي هر ګاټې په قدامي استقامت کې موقعيت لري. ( انځور ۸:۸۸ ).



Drake: Gray's Anatomy for Students, 2nd Edition.
Copyright © 2009 by Churchill Livingstone, an imprint of Elsevier, Inc. All rights reserved.

( انځور ۸:۸۸ د سترګي د ګاټې او د سترګي د کاسي محورنه )

په دي اساس د بعضو عضلاتو کشول د سترګي د ګاټې په حرکت باندي ګڼ شمير اغيزي لري مګر په نورو کې يوائې يوه اغيزه لري.

جدول ۸.۸

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

| دنده | تعصیب | ارتکاز | منشاء | عضله |
|---|---|---|---|---|
| د پـــورتني زيږمــــــي پورته کول د ســـترګي د ګـاتي پورتـه کول تقرب او انسي تدور | د ســــترګي د ګـاتي بيرونـي خلفي ربع | د tarsal plate قدامي سطحه ، يو څو الياف يـي پـه پوسـتکې او sup.conjunctival fornix ارتکاز کوي. | د optic canal په قدام کې lesser wing of sphenoid | Levator palpebra sup. |
| د ســترګي د ګـاتي ښـکته کــول تقــرب ورکــــول او وحشي تدور | Oculomotor N. علوي څانګه | په پورتني برخه کې د ســــترګي د ګـــاتي قدامي نيمايي برخه | د common tendinous ring علوي برخه | Superior Rectus |
| د ســترګي د ګاتي تقرب | Oculomotor N. سفلي څانګه | په ښکتني برخه کې د ســــترګي د ګـــاتي قدامي نيمايي برخه | د common tendinous ring سفلي برخه | Inferior Rectus |
| د ســترګي د ګاتي تبعد | Oculomotor N. سفلي څانګه | پـه انسي برخـه کې د ســــترګي د ګـــاتي قدامي نيمايي برخه | د common tendinous ring انسي برخه | Medial Rectus |

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د سترګي د ګاتې ښکته کول تبعد ، انسي تدور | Abducent N. Trochlear N. | په وحشي برخه کې د سترګي د ګاتې قدامي نيمايي برخه | د common tendinous ring وحشي برخه | Lateral Rectus |
| د سترګي د ګاتې پورته کول تبعد ، وحشي تدور | Oculomotor N. سفلي څانګه | د سترګي د ګاتې بيروني خلفي ربع | د sphenoid هډوکي جسم د optic canal علوي او انسي برخه | Superior oblique |
| د پورتني زيږمې پورته کول د سترګي د ګاتې پورته کول تقرب او انسي تدور | د سترګي د ګاتې بيروني خلفي ربع | د tarsal plate قدامي سطح ، يو څو الياف يې په پوستکي او sup.conjunctival fornix ارتکاز کوي. | د سترګي کاسې انسي څمکه د څنډې خلف ته ، د nasolacrimal groove په وحشي کې د maxilla څخه | Inferior oblique |

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Levator palpebra superiois:**

دغه عضله د پورتني eyelid ( زيږمي ) د پورته کېدو سبب کېږي ( جدول ٨.٨ ) د سترګي

په کاسه کې تر ټولو لوړه عضله ده ( علوي قرار لري ) چې د lesser wing of sphenoid

هډوکې د سفلي سطحي څخه د optic canal په قدام کې د سترګي د کاسي د چت څخه منشاء اخلي ( انځور B ٨.٨٩ ).

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




Drake: Gray's Anatomy for Students, 2nd Edition.
Copyright © 2009 by Churchill Livingstone, an imprint of Elsevier, Inc. All rights reserved.

( انځور ۸:۸۹ د سترګي د ګاتي عضلات .A علوي منظره .B وحشي منظره

.C د سترګي Coronal magnetic resonance image )

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ارتکاز لومړي نقطه يي د Superior tarsus قدامي سطحه ده مګر يو ثو اليـاف يي د

پـورتني زيړمـي پوسـتکې پـوري او د علـوي conjunctival fornix پـوري وصـل شوي دي

تعصيب يي د Oculomotor عصب د علوي څانګي په واسطه صورت نيسي .که د

Levator palpebra sup. عضـله تقلص وکړي نو پـورتني زيړمـه اوچتيږي . د .

Levator palpebra sup يـو اځني ځانګړتيـا داده چې د ملسـا عضـلي اليـافو يـوه

مجموعه د هغـي د سفلي سطحي څخه د علـوي tarsus تـر پـورتني څنډي پـوري

امتـداد لـري ( انځـور ۸:۷۱ ) داد ملسـا عضـلي اليـافو ګـروپ ( superior tarsal

muscle ) د زيړمي په پورته ساتلو کې مرسته کـوي . د علـوي رقبـي ganglion د

postganglionic sympathetic اليافو په واسطه تعصيبيږي .

که د Oculomotor تعصيب له منځه لاړ شي نو د علوي زيړمي د بشـپړ رالويـدلو

( complete ptosis ) سبب ګرځي او کـه د sup. tarsal عضـلي sympathetic

تعصيب له منځه لاړ شي نو قسمي ptosis منځ ته راځي .

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د **Rectus** عضلات :

څلور عدده Rectus عضلات کله چې د سترګي د کاسي په خلفي برخه کې منشاء واخلي نو د سترګي د ګاټي په قدامي نيمايي برخي کې ارتکاز کوي او انسي ، وحشي ، سفلي او علوي وضعيتونه اشغالوي. ( انځور ۸:۸۹ او ۸.۸ جدول ) د common tendinous ring څخه د سترګي د کاسي په زروه کې د يو ګروپ په انځور منشاء اخلي او کله چې مخکې د سترګي د ګاټي ارتکازي محل خواته ځي نو د عضلاتو يو مخروط جوړوي.

## علوي او سفلي **Rectus** عضلات:

علوي او سفلي Rectus عضلات مغلق ( پيچېدلي ) کارونه تر سره کوي ځکه چې د سترګي د کاسي زروه يعني هغه ځاي چې دا عضلات ورڅخه منشاء اخلي د سترګي د ګاټي د مرکزي محور په انسي کې موقعيت لري او دا په هغه صورت کې چې مستقيما مخکې خوا ته وکتل شي.

- علوي Rectus عضله د optic canal څخه پورته د common tendinous ring د علوي برخي څخه منشاء اخلي.
- سفلي Rectus عضله د optic canal څخه لاندي د common tendinous ring د سفلي برخي څخه منشاء اخلي. ( انځور ۸:۹۰ ).

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




Drake: Gray's Anatomy for Students, 2nd Edition.
Copyright © 2009 by Churchill Livingstone, an imprint of Elsevier, Inc. All rights reserved.

(انځور ۸:۹۰ په coronal منظره کې د سترګي د ګاټي عضلاتو منشاء )

کله چي دا عضلات د سترګي په کاسه کې مخکې خواته ځي تر څو د سترګي د ګاټي په قدامي نيمايي ارتکاز وکړي په يو وحشي استقامت کې هم واقع شوي دي. (انځور ۸:۸۹ ).

نو د دي معلوماتو له مخي:

- د علوي Rectus عضلي تقلص د سترګي ګاټي پورته کوي ، تقرب ورکوي او داخل خواته تدور ورکوي.. (انځور A۸:۹۱ ).


Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




Drake: Gray's Anatomy for Students, 2nd Edition.
Copyright © 2009 by Churchill Livingstone, an imprint of Elsevier, Inc. All rights reserved.

(انځور ۸:۹۱ د سترګي د ګاتي د عضلاتو دندي .A د انفرادی عضلاتو دنده (

اناټومیک دنده )

B د سترګي حرکت په هغه صورت کی چې ځانګړي عضله ازمایښت کوي

(کلینیکی ازمایښت )

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د سفلي Rectus عضلي تقلص د سترګي ګاتي ښکته کوي ، تقرب ورکوي او خارج خواته تدور ورکوي. ( انځور ۹۱:A۸ ) .

د Oculomotor عصب علوي څانګه superior Rectus عضله تعصيبوي او د Oculomotor عصب سفلي څانګه inferior Rectus عضله تعصيبوي. په دي منظور چې سفلي او علوي Rectus عضلات وازمايو او دندي يي سره جدا کړو نو د ناروغ څخه غوښتل کېږي چې په وحشي کې او بيا پورته خوا ته يا ښکته خوا ته د ډاکټر ګوته تعقيب کړي. ( انځور ۹۱:B۸ ) . لومړني حرکت د سترګي د ګاتي محور د علوي او سفلي Rectus عضلاتو د اوږد محور سره مطابقت ورکوي که ګوتي ته پورته خوا ته حرکت ورکړل شي نو علوي Rectus عضله پري ازمايښت کېږي او که ښکته خوا ته حرکت ورکړل شي نو سفلي Rectus عضله پري ازمايښت کېږي. ( انځور ۹۱:B۸ ) .

## انسي او وحشي **Rectus** عضلات:

د انسي او وحشي Rectus عضلاتو پيژندل او دندي يي د علوي او سفلي Rectus عضلاتو په پرتله ډيري اسانه دي. انسي Rectus عضله د common tendinous ring د انسي برخي څخه چې د optic canal په انسي او ښکته قسمت کې موقعيت لري منشاء اخلي په داسي حال کې چې وحشي Rectus عضله د

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وحشي برخي څخه کله چې common tendinous ring common tendinous ring په علوي orbital fissure باندي پل جوړوي منشاء اخلي. (انځور ۸:۹۰ ).

انسي او وحشي Rectus عضلات مخکې خواته تيريږي او د سترګي د ګاټي د قدامي نيمايي برخي سره نښلي (انځور ۸:۸۹ )

د هري انسي Rectus عضلي تقلص د سترګي د ګاټي د تقرب سبب ګرځي په داسي حال کې چې د هري وحشي Rectus عضلي تقلص د سترګي د ګاټي د تبعد سبب ګرځي. (انځور A۸:۹۱ ). د Oculomotor عصب سفلي څانګه انسي Rectus عضله تعصيبوي او Abducent عصب وحشي Rectus عضله تعصيبوي. په دي منظور چې د انسي او وحشي Rectus عضلاتو دندي سره جدا کړو او ازمايښت يي کړو نو د ناروغ څخه غوښتل کېږي چې د ډاکټر ګوته په نوبتي ډول سره د انسي ، وحشي موقعيتونو له مخي په افقي سطحه کې تعقيب کړي. (انځور B۸:۹۱ ).

## مايل عضلات:

مايل عضلات د سترګي د کاسي په علوي او سفلي برخو کې موقعيت لري د common tendinous ring څخه منشاء نه اخلي کله چې د سترګي د ګاټي سره په

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تماس راځي نو زاویوي انځور لري او د Rectus عضلاتو په خلاف د سترګي د ګاټي د خلفي نیمايي برخي سره وصلیږي. ( جدول ۸.۸ )

## علوي مایله عضله superior oblique muscle :

علوي مایله عضله د sphenoid د هډوکي له جسم څخه چې د optic کانال په علوي او انسي کې موقعیت لري او د .levator palpebra sup عضلي د منشاء په انسي کې موقعیت لري منشاء اخلي . ( انځورونه ۸:۸۹ او ۸:۹۰ ). د سترګي کاسي د چت د انسي

څنډي په امتداد مخکې خواته سیر لري تر څو چې یو fibrocartilaginous څرخي ( the Trochlear ) ته ورسیږي کوم چې د frontal د هډوکي د trochlear fovea سره وصل دي د علوي مایلي عضلي وتر د trochlea څخه تیریږي او بیا وحشي خواته د ورخوري تر څو په یو خلفي وحشي استقامت کې د سترګي په ګاټي تیر شي. د علوي Rectus عضلي څخه ژور موقعیت لري او د سترګي د ګاټي په بیروني خلفي ربع باندي ارتکاز کوي.

د superior oblique عضلي تقلص د کسي استقامت ښکته او بیرون خواته اړوي. ( انځور A۸:۹۱ ). د Trochlear عصب superior oblique عضله د علوي سطحي په امتداد تعصیبوي. په دي منظور چې د superior oblique

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

عضلي دنده جدا کړل شي او ازماينښت کړل شي نو د ناروغ څخه غوښتل کيږي چې د ډاکټر ګوته په انسي استقامت کې تعقيب کړي تر څو د عضلي د وتر محور د سترګي د ګاتې دمحور سره مطابقت پيدا کړي او بيا ښکته وګوري چې ددي له مخي عضله ازماينښت کيږي

( انځور ۹۱:B۸ ) .

## سفلي مايله عضله ( inferior oblique muscle ) :

سفلي oblique يواځي خارج المنشاء عضله ده چې د سترګي د کاسي د خلفي برخي څخه منشاء نه اخلي د سترګي د کاسي د ځمکې له انسي طرف څخه چې د سترګي د کاسي د څنډي سره متصل په خلف کې موقعيت لري منشاء اخلي او د maxilla د هډوکي په orbital surface باندي چې د naso lacrimal groove په وحشي کې

موقعيت لري ارتکاز کوي. ( انځور ۸:۸۹ ) .

سفلي مايله عضله په يو خلفي وحشي استقامت کې د inf.Rectus عضلي او د سترګي د کاسي د ځمکې تر منځ د سترګي د کاسي د ځمکې څخه تيريږي او

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته له دي د lat. Rectus عضلي لاندي د سترګي د ګاټي په بيروني خلفي ربع باندي ارتکاز کوي. د inf. Oblique عضلي تقلص د سترګي کسي پورته او بيرون خوا ته متوجه کوي. ( انځور A۸:۹۱ ) . د Oculomotor عصب سفلي ځانګه د inf. Oblique عضله تعصيبوي په دي منظور چې د inf. Oblique عضلي دنده جدا کړل شي او ازمايښت کړل شي نو د ناروغ څخه غوښتل کېږي چې د ډاکټر ګوته په انسي استقامت کې تعقيب کړي تر څو د سترګي د ګاټي محور د عضلي د محور سره مطابقت پيدا کړي او بيا پورته وګوري چې د دي له مخي عضله ازمايښت کېږي. ( انځور B۸:۹۱ ) .

## خارج المنشاء عضلات او د سترګي د ګاټي حرکتونه:

د سترګي د کاسي د اوو خارج المنشاء عضلو څخه شپږ يي په مستقيمه توګه د سترګي د ګاټي په حرکتونو کې برخه لري. هره Rectus عضله لکه انسي ، وحشي ، سفلي او علوي ، او سفلي ، علوي oblique عضلات ځانګړي دنده يا يو شمير دندي لري ( جدول ۸.۸ ) ليکن دا عضلات په جدا ډول سره عمل نه تر سره کوي بلکه د عضلاتو د يو ټولګي په انځور د سترګي د ګاټي په منظم حرکت کې برخه اخلي تر څو د اړتيا سره سم کسي ته وضيعت ورکړي. د نموني په توګه که څه هم د

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وحشي Rectus عضلي دنده داده چې د سترګي ګاټي ته وحشي خواته حرکت ورکړي خو دا عمل يې د علوي او سفلي oblique عضلاتو د مرستي په واسطه انجاميداي شي.

## په کلينيک کې:

## د سترګي معاينه:

د سترګي معاينه په دي معني ده چې د ديد توانايي ، خارج المنشاء عضلات او د هغوي دندي ، دناروغيو مرحلي هغه چې ممکن ځانله سترګه متاثره کوي يا دا چې د سيستميک ناروغي يوه برخه وي ارزيابي شي.

د سترګي معاينه په دي مشتمل ده چې په مختلفو حالتونو کې د ديد قابليت ، astigmatism ، د ديد ساحي او د رنګ پيژندني ( يعني د رنګ ړوندوالي رد شي ) لپاره ازماينښتونه تر سره شي. همدارنګه داکتر retina ، optic nerve او دهغوي پوښونه ، عدسيه او قرينه ارزيابي کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خـارج المنشـاء عضـلات د trochlear nerve ، Abducent nerve او د oculomotor nerve په واسطه تعصیب شوي دي او دا عضلات یو د بل سره په همکاري دنده تر سره کوي تر څو مزدوج او مناسب د سترګي حرکتونه پیدا کړي.

- وحشي Rectus عضله _____ Abducent nerve
- علوي oblique عضله _____ trochlear nerve
- نور پاتي عضلات _____ oculomotor nerve

سترګه ممکن چې په سیستمیک ناروغیو کې متاثره شي. د شکري ناروغي په ځانګړي توګه سترګه اغیزمنوي او ممکن چې د cataract ، macular ناروغۍ ( macula د retina زیړي نقطي ته ویل کیږي ) ، او د retina د خونریزي سبب شي چې دا ټول حالتونه دید کمزوري کوي کله کله د extra ocular عضلاتو یو طرفه فلج منځ ته راځي چې اسباب یې عبارت دي له دماغ د ساقي زخم ( brainstem injury ) ، په مستقیم ډول د عصب زخم کوم چې ممکن د تومورد فشار یا تروما سره یو ځای وي. د یوي عضلي فلج په اسانه معلومیږي په داسي توګه چې ناروغ هڅه وکړي تر څو سترګي ته د نوموړي عضلي د نارمل دندي په استقامت کې حرکت ورکړي په ځانګړي توګه ناروغ د دوه ګوني دید ( diplopia ) څخه شکایت کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو عضلو د تعصیب نشتوالي چې د سترګي ګرد چاپیره موقعیت لري:

۳ـ سیست او تومورونه، ډرموید سیست، اوستیوما، لمفوما، لمفوسارکوما، ګلیوما، دبصري عصب مننجیوما، ریتینو بلاستوما او په حجاج جوف کې میتاستاتیک رسوبات.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
۴ـ سیتمیک ناروغي ، لیو کېمیا او اندوکراین ناروغي لکه Graves disease او Thyrotropic exophtalmos پر ابتدایي مرحله کې.
۵ــ د سترګي د خارجي عضلاتو فلج لکه په مکمل افلتوپلیجیا کې.
دوه طرفه پروپټوسز
۱ــ د سر انکشافي اناملي لکه د قبي په شان سریا Oxycephaly.
۲ـ اندوکراین اګزو فلتموس دواړه تایروټروپیک او تایرو ټرفیک
۳ـ التهابي افات لکه Caver nous thrombosis
۴ـ تو مورونه لکه لمفو سارکوما ، لمفوما ، سوډوتومور او داسي نور.
۵ــ لیپوډیا ستروفي. زانتو موتوسز ، ډیابتیکاګزوفتلمیکډیستوسز
وقفوي پوبتوسز
دا همیشه داربیت دوریکوزوین د کبله منځ ته راځي خصوصاً په لاندي کتو سره.
نبضاني پروپټوسز ، شریاني وریدي انیوریزم یي سبب دي چې د Internal carotidartrery او کاورنس ساینس ترمبوز تر مینځ د ارتباط له کبله منځ ته راځي.
کلینیکي ارزیابي
د بااحتیاطه تاریخچې ، فزیکي معاینې ، رادیولژیکاو لابراتواري معایناتو په واسطه کېږي.
۱ــ تارخچه:
الف: ناروغي څه قسم واقع کېږي په اني ، تدریجي یا مزمن
ب: د درد موجودیت او موده یي د اهمیت وړ ده.
ج: د Orbital truma disfunction ساینس ناروغي او خبیثه افاتو پخواني تاریخچه.
۲ـ کلینیکي معاینه
Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف: د کاذب پروپتوسز امکان ردیدل ډیر مهم دي دا دهغه حالت څخه عبارت دي چې سترګه حقیقتاً دباندي راوتلي نه وي لاکن دباندي راوتلي ښکاري مهم اسباب یي په لاندي ډول دي:

Buphthalmos I
High axial myopia ii
Retraction of the upper eyelid iii
Shallow orbit as in craniofacial dysostosis iv

B دپروپټو اندازه کونه:

I په کلینیکي مشاهده کې

II اګزوفلتمومتر

C دسترګي حرکات محدود وي

D دید کم شوي وي (VA)

E د حدقي عکس اعمل متثر شوي وي

F د فنډس معاینه

G Transillumination and auscultation

## ۳ـ راډیولوژیک معاینات

A Plane X ray
B CT scan
C Ultrasonography
D Magnetic resonance imaging

## ۴ـ لابراتواري معاینات

A روتین دوینې معاینات ، هیمو ګلوبین ، WBC ، Differential ، RSR ، Blood sugar ، Cholesterol او دادرار معاینات مفید تمامیږي.

B خصوصي تستونه لکه T۳ ، T۴ ، TSH ، Orbital venography ممکن اجراشي.

تداوي یا درملنه:

۱ـ تشخیصي عملیات او بایوپسي باید واخیستل شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ـ جراحي شق په هغو حالاتو کې چې سليم تومور او يا درمويید سيست موجود وي دري طريقي وجود لري چې ستر ګه بيرته خپل حالات ته راوګرځي وکړي.

Ant orbitotomy A
Lateral orbitotomy B
Trans frontal(intracranial) C

۳ـــ Exenteration: د اربيټ د جوف ټول محتويات لکه د ستر ګي ګاټي او پريوست ايستنه په خبيثو واقعاتو کې لکه ريتينوبلاستوما کې اجرا کېږي

۴ـ Radination: په راجعه واقعاتو او ميتاستاتيک واقعاتو کې توصيه کېږي.

:Endoerine exophthalmos

د تايروييد په ناروغي کې exophthalmos يوه فعاله پروسه ده.

اسباب:

درست سبب يي نه دي معلوم دا ممکن په هايپرتايرويدېزم، هايپوتايرويدېزم او Elithyroid کې موجود وي دړا ممکن دلاندني حالاتو سره يو ځاي وي:

۱ـ د اندوکراين سيستم د عمومي تشوشاتو سره

۲ـ د تايروکسين د کم مقدار په ځواب کې د رقبي غدي د قدامي قطب څخه د تايروتروپيک زيات افراز.

۳ـــ د long acting thyroid او exophthalmos Producing substance stimulators د افراز زيات والي.

پتوجنيسيس:

د تايرو ګلو بولين په مقابل کې په موخر ډول معافيتي عکس العمل منځ ته راځي چې دا داذيما، انفلتريشن د شحمو او موکوپولي سکرايدو په رسوب او د اربيټ د انساجو فايبروسز په لور رهنمايي کېږي.

ډولونه:

۱ـــ په هايترتايروييدېزم کې خفيف اګزوفتلموس موجود وي.

۲ـ د هايپوتايروييدېزم کې ډير شديد اګزوفتلموس موجود وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعراض:

دسترگي ګاټي دباندي خواته راوتلي وي ناروغ نه شي کولاي چې سترګه وتړي.

علايم:

۱ـ د تايرو تزکسيکوسز منظره ، ټکي کارديا ، عضلي رعشه او دوزن بايلل چې د Basal metabolic rate د زياتيدو څخه منځ ته راځي موجود وي.

۲ـ په سترګه کې علايم:

A دوه طرفه اګزوفتلموس چې د Exposure Keratitis سره يو ځاي وي موجود وي.

B Dalrymples sign د پورتني جفن د تکمش د کبله Peculiar stare موجود وي

C Von Graefes sign دسترګي ګاټي په ښکته خوا حرکت کې علوي جفن لاندي خواته حرکت نه کوي.

D Stellwags sign په دي حالت کې نامکمل بلينکنګ موجود وي.

E Mobiusis sign په دي حالت کې دکنورجنس حرکاتو ضغفيي موجود وي.

F Jellineks sign د اجفانو صباعي کېدنه زياتيږي

G Joffroys sign په پورته کتو کې په تندي کې ګنځي کمي وي.

تداوي:

۱ـ سيستميک ايودايداو ضد تايرا ايد دوا په خفيف شکل کې ورکول کيږي.

۲ـ سيستيک سترويدونه د اذيما او ارتشاح د کمولو لپاره ورکول کيږي.

۳ـ د Exposure Keratitis څخه د مخنيوي د پاره لوبرا کانتها او وحشي تارسورافي اجرا کيږي.

۴ـ د اربيټ د جوف د فشار کمونه هغه وخت استطباب لري چې پروپټوسز په ټکي سره وده وکړي او بصري عصب اخته کړي.

:ENOPHTHALMOS

دا يو نادر حالت دي چې په دي کې سترګه دننه خوا ته بي ځايه شوي وي.

اسباب:

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ــ د جوړښت انا ملي داربيټ دچت په Phthisis bulbi, Blow-out fracture مايکروفتلموس اونورو ولادي نقايصو کې ليدل کيږي.

۲ــ د اربيټ دجوف دمحتوياتو اتروفي دا په وريکوزين ، زيات عمر او دشعاعي تداوي وروسته.

۳ــ ټرکشن دسترګي دخارجي عضلاتو تندتوب ، چې وروسته دالتهاب څخه منځ ته راځي لکه سوډوتومور سندروم او وروسته دسترګي دعضلاتو د ډير لنډ ني څخه وروسته.

د orbital cellulites تفريقي تشخيص

| Orbital Callulitis | Pan Opththalitis | Cavernus sinus thrombosis |
|---|---|---|
| ۱-Unilatera<br>۲- vision not affected in the carly stagc<br>۳- cornea anterior chamber lens and vitcrus are clear<br>۴- no odema over the musoid process | ۱-Unilateral<br>۲-Complete loss of vision<br>۳- All the medial are hazy due to pus formation<br>۴- No odema ovar the mastoid process | ۱-first unilateral but soon bilateral<br>۲- no affected of vision inearly stagc<br>۳- media are clear<br>۴-odema over the mastoid Process seen |

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Orbital periostitis

دا ناروغي کمه معمول ده او اسباب يي په لاندي ډول دي

۱ـ زخم

۲ـ د التهاب خپريدل

۳ـ توبرکلوز په ماشومانو کې

۴ـ سيفليس په غټانو کې

دا ناروغي کېداي شي داربيټ څنډي او عميقي برخي متاثره کړي که چېري داوربيټ څنډي يي متاثره کړي وي اعراض او علايم يي په لاندي ډول دي:

- پړسوب ، درد ، حساسيت
- که ابسي تشکل کړي وي د پوستکې په سطحه کې د bursts موجوديت
- په توبرکلوزيک حالاتو کې د فيستول تشکل

که چېري داوربيټ عميقي برخي متاثره شوي وي اعراض او علايم به يي په لاندي ډول وي:

د عميق برخي درد

- Proptosis
- Oculomotor paralysis

تداوي يا درملنه

- Antibiotic
- کله چې ابسي تشکل کړي وي تخليه شي
- سببي تداوي

:Tenonitis

د Tenons کپسول دالتهاب څخه عبارت دي

اسباب

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- نقرص او روماتيزم
- Sever iridocyclitis
- Pan opthalmitis

اعراض او علايم:

- د سترګي د کري د حرکت په وخت شديد درد
- د اجفانو پړسيدل او د منظمي اختقان
- د سترګي د کري د حرکاتو محدود کېدل

تداوي يا درملنه:

- Autibiotics
- ګرم تطبيقات په سترګه باندي
- Atropine sulphate ۱٪
- انلجيزيک د خولي دلاري
- د Pus تخليه کېدل

# Anatomy and diseases of the eyelids

# د جفن اناتومي او ناروغي

جفن يو متحرک نسجي حجاب څخه عبارت دي چې د سترګي د کري په قدام کې واقع او د سترګي د کري محافيظوي وظيفه لري.

جفن د ځلور نسجي طبقو څخه جوړ شوي چې عبارت دي له:

- Cutanous Layer
- Muscle layer
- Fidrous layer
- Mucosa layer

Cutanous layer يا جلدي طبقه:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جفن دا برخه د جفن جلد احتوا کوي کوم چې ډير نفيس او لاستيک دي د جفن جلد ډير نازکو ريشتو په واسطه ستر شوي دي.
د مخامخ کتلو په وخت کې د علوي جفن په جلد کې يو افقي قات مشاهده کېږي کوم چې د پورته کتلو په وخت کې ډير بارز وي د جفن د جلد لاندي سست areolar tissue واقع دي کوم چې شحم احتوا کوي د دي areolar نسج د موجوديت په اساس د جفن جلد د جفن د عضلاتو سره ډير ضعيف التصاق لري بنا پردي سبب د جفن د جلد لاندي ډير زيات اذيمايي مايع او وينه توليداي شي.

۲ـ عضلاتي طبقه يا muscle layer:

د جلد او تحت الجلد نسج لاندي د جفن عضلات واقع دي چې مشتمل دي په Orbicularis Oculi Muscle د غه عضلات د جفن په عرض کې يو oval sheet جوړ کړي دي او تر تندي temporal او رخسار پوري انتشار کوي.

الف ـ Lcvator Palpcbral muscle دا عضلي برخه مشتمل ده په هغو عضلي اليافو چې medial Palpebral ligament پورتني عميقي سطحي څخه او د هغو مجاورو هډوکو څخه منشا اخلي د tarsal palate په مخکې برخه کې سير کوي او يو بل سره Lateral comissor کې يو ځاي کېږي او Lateral raphe Palpebral تشکيل کوي.

۳ـ Fibrous Layer:

د orbicularis oculi عضلاتو لاندي د جفن Fidrous layer موقيعت لري او مشتمل دي.

الف ـ Setum Orbital:

دا د منضم نسج يوه غشا ده چې په هر جفن کې د tarsal palate د Proximal border څخه د Periosteum تر ضخيم خط پوري چې د orbit په کنار کې واقع دي وسعت لري.
Septum orbital د هغه اوعيو او اعصابو په وسيله چې د orbit څخه جفن ته داخليږي سوري شوي دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج ـ Tarsal Palate:

دوه عدده دي چې کثیف منظم نسج څخه تشکیل او په هر جفن کې یو عدد دي د علوي جفن tarsal palate نسبت سفلي جفن څخه لوی دي د هر tarsal palate نهایات په medial او Lateral conthus کې یو دبل سره نښلي او margin orbital پوري د Medial او Lateral Palpebral Ligament په نوم امتداد لري.

د tarsal Palate جسم کې په عمودي توګه موازي قطار د mebonium glands لیدل کیږي.

۴ ـ Mucous Layer:

چې د Palpebral Conjunetiva څخه تشکیل شوي او د Fibrous Layer لاندي واقع دي.

د جفن غداوات Glands of the Eyelids:

په اجفانو کې دري ډوله غدوات وجود لري

- Mebonium glands: عمودي قطار په ډول په tarsal palate کې ځاي په ځاي شوي دي او د tarsal gland په نوم هم یادیږي او د ۳۰-۴۰ عدده پوري په علوي جفن کې او ۲۰-۳۰ عدده پوري په سفلي جفن کې وجود لري چې غوړ مواد افرازوي او ددي قناتونه دجفن په کنار کې خلاصیږي.
- Zeis glands: دا غدوات sebaceous غدوات دي چې د جفن په کنار کې موقیعت لري او ددي غدواتو قناتونه د ښو فولیکول ته خلاصیږي۰
- Moll Glands دا غدوات Modified sweat Glands دي د شکل له نظره Tubular دي ددي غدواتو قناتونه هم دښو فولیکل ته خلاصیږي.

دجفن کنارونه:

دجفن دابرخه یو ضخیم سرحد دي چې قدامي ګرد او خلفي تیره کنار لرونکې دي چې خلفي کنار د سترګي کري سره تماس لري.

د جفن کنارونه په لاندي ساختمانونو احتوا کوي:

الف ـ باڼه یا Eye Lashes:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بانه دنورو وینستو څخه غښتلي وینستان دي چې ۲-۳ قطاره په علوي او ۱-۲ قطاره په سفلي جفن کې تنظیم شوي دي.

بانه حتي په پرمخ تللي عمر کې هم خپل رنګ ته تغیر نه ورکوي خو په ځني ناروغیو کې کېداي شي چې سپین شي

- Meboamian غدواتو قناتونه چې په یو قطار کې تنظیم شوي دجفن د Posterior Margin په قدام کې خلاصیږي.
- د Moll او Zies غداوتو قناتونه هم دجفن په کنار کې خلاصیږي.

د جفن شراین:

- Lacrimal and Palpebral branch of ophthalmic artery
- Facial artry
- Superfacial temporal artery
- Infra orbital atery

دجفن وریدونه:

- Ophthalamic vien
- Temporal vien
- Facial vien

دجفن لمفاوي دریناژ دجفن نمایي خارجي برخه لمفاتیک Pre ouricular lymph node او پنځم زوج د Ophthalmic شعبي د Laerimal branch څخه وځي همدارنګه دپنځم زوج د Maxillary شعبه د Infra Orbital branch څخه یي اعصاب اجفانو ته رسیږي.

د اجفانو ولادي سو شکل Congenital abnormality of eyelids:

۱ـ Coloboma of the Eyelids:

دجفن دا ولادي سو شکل نادر دي چې د جفن په کنار کې یو مثلثي خالیګاه لیدل کېږي چې په دي ناحیه کې بانه او دجفن غدوات موجود نه وي.

۲ـ Epicanthus:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دجفن دا ولادي سو شکل دوه طرفه دي او دعمودي جلدي قنات څخه عبارت دي چې دپزي يو طرف ته واقع کېږي دا جلدي قات دپزي دقاعدي څخه دسفلي جفن داخلي نهايات پوري امتداد لري چې Medial Cantue او Curauncle پوښوي که چېري دا جلذي قات دښايست او رويت کې مداخله وکړي بايد دجراحي عمليات په واسطه لري شي دا سو شکل په اطفالو کې زيات ليدل کېږي اما دعمر په تيريدو سره اکثراً دمنځه ځي.

۳ـ Distichiasis:

دبڼو ديو اضافي قطار څخه عبارت دي چې دا سو شکل هم نادر دي چې دا اضافي قطار د Meibomian Gland دقناتونو څخه راوځي او قرنيي خوا ته تدور کوي.

۴ـ Congenital Ptosis د Ptosis بحث کې ولوستل شي

داجفانو اذيما Oedema of the Eyelids:

دجفن دتحت الجلدي نسج دسست والي له کبله اجفان په ډيره اساني سره په اذيما مصاب کېداي شي چې دا اذيما کافي اندازه يي په لاندي حالاتو کې ليدل کېږي:

۱ـ Active Oedema :

الف ـ د اجفانو التهابي حالاتو له کبله توليديږي لکه:

- External hardeolum
- Internal Hardeolum
- Insect bite
- دجفن Dematitis
- دجفن ابسي او Cellulites

ب ـ په تالي توګه دجفن د مجاورو ساختمانونو د التهاب له کبله

- Acute Purulent Conjanectivitis
- Acute Membranus or Psudo Membranus Conjeetivitis
- Orbital Cellulites
- Acute dacryocys titis
- Facial Cellulites
- Inflammation of Nasal sinus

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- Passive Oedema

د C.H.F او کليه عدم کفايه او Cavernous sinus thrombosis له کبله منځ ته راځي.

:Blepharitis

تعريف د جفن د کنار د Sub acute يا مزمن التهاب څخه عبارت دي چې دا برخه د جلد او منضمي د التصاق څخه عبارت دي.

اسباب:

Predesposing Factors

- Age يا عمر عموماً ماشومان اخته کوي اما کېداي شي په هر سن کې مصاب شي اکثراً دوطرفه وي.
- خارجي تخريشات لکه دوړي ، لوګي Cosmetic او نور مواد شامل دي.
- اساسي فکتورونه لکه د جلد طبيعت لکه د Seborrher خواته تمايل.
- ميتابوليک فکتورونه لکه غذايي مواد وکې د کاربو هايدريت زياتوالي
- الرژيک فکتور لکه د جلد Eczema
- Toxic Factor لکه د Septic Focus موجوديت
- د مجاورو ساختمانونو التهاب لکه Conjaanctivitis او Decryocystits
- پرازيتي انتانات لکه Filariasis Pulpebram

د کلينيک له نظره دوه ډوله Blepharitis ليدل کېږي

- Squeous Type
- Ulcerative Type

:Squamous Blepharitis

د جفن د کنار التهاب اصلاً انتاني منشا نه لري ميتابوليک اسباب حفظ الصحه فکتورونه د سر Seborrhea د دي حالت په منځ ته راتلو کې مهم رول لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعراض:

- درد موجود نه وي شايد دسترګي نا راحتي موجوده وي.
- په نا تداوي شوو اشخاصو کې Epiphoria ( اشک ريزي ) موجود وي.

علايم:

- د جفن په کنار کې سپين Seals ليدل
- کله چې Seals لرې شي د جفن کنار اختقاني وي اما هيڅ کله قرحه نه ليدل کېږي.
- بانه تويږي اما ډير زر شنه کېږي.
- دجفن دکنار زخامت زياتيږي.

:Ulcerative Blepahritis

د جفن دکنار التهاب Staphylococus Coagulase په واسطه منځ ته راځي په دي ناروغي کې Follicle Cillary د Moll او Zcis غذواتو په قيحي التهاب کېږي.

اعراض:

- Lacrimation
- Itching
- Photophobia
- دجفن دکنار درد او سوزش

علايم:

- دبڼو په بيخ کې ژيړ کرست موجوديت چې بانه يو دبل سره نښلوي کله چې کرست لرې شي دبڼو بيخ کې قرحه ليدل کېږي چې په ډيري اساني سره وينه ورکوي او کله چې بانه شنه شي منحرف به وي.

اختلاطات:

- Madarosis يا دبڼو تخريب
- Trichiasis

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- Tylosis د جفن د کنار هيپر تروفي
- Ectropion

تداوي

اول عمومي تداوي

- عمومي حفظ الصحه په اطفالو کې په نظر کې ونيول شي
- ښه غذاي مواد او ويټامين a ورکړل شي
- د سر Seborrhea تداوي شي.

موضعي تداوي

- د جفن د کنار څخه Scals او Crust د Sodiium bicarbonate ۳٪ lotion په واسطه پاک شي
- وسيع الساحه انتي بيوتيک لکه Gentamycin او Chloramohenicol
- کله چې قرحه شفاياب شي بيا Hydrocortison مرهم يو فيصد
- د Trichiasis او Ectropin تداوي.

External Hardeolum or Stye:

تعريف د التهابي وتيره د ښو فوليکل قيحي التهاب دي چې د Zies غدوات هم التهابي کېږي

Predisposing Factors:

۱ـ د عمر په هر سن کې ليدل کېږي اما په ځوان کاهل کې زيات ليدل کېږي

۲ـ ميتابوليک فکتور Coagulade او Staphy Lococcus دي

علايم:

- پړسوب سوروالي او اذيما
- د جفن کنار کې يو سپين قيحي نقطه ليدل کېږي چې د بانه د بيخ سره ارتباط لري.
- Auricular Lymph gland ضخاموي دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تداوي:

- ګرم ټکور دورځې دوه واري
- Gentamycin قطره څلور واري دورځې او مرهم يې دخوب په وخت کې
- Ampicllin ۲۵ ملي ګرام څلور ځلې دورځې دخولې دلارې دپنځو ورځو لپاره.

کله چې قيحي نقطه واضح وليدل شي بايد تخليه شي چې دا عمل ماوفه بانه د ويستلو په واسطه او يا داچې دکوچني مشتق په وسيله تخليه کېږي.

**Interal Hardilum:**

تعريف د Meibomian غدواتو يو قيحي التهاب دي چې سبب يې Staphy Lococcus دي چې کله کله دا حالت Supporative chalazion په نوم هم ياديږي

.

اکثراً Chelazion د تالي انتاناتو څخه هم منځ ته راځي.

اسباب يې External hardeolom په شان دي.

اعراض:

حاد درد ، اذيما او دړوندوالي څخه عبارت دي.

علايم:

- Tendernes نقطه دجفن دکنار څخه لرې واقع دي.
- دجفن پړسوب ، سوروالي
- Chemosis of bulber conjunctiva
- قيحي نقطه په Tarsal conjunctiva کې ظاهريږي

تداوي:

- تود ټکور ۲-۳ ځلې دورځې
- وسيع الساحه انتي بيوتيک د خولې دلارې

د قيح تخليه کولو دپاره په Tarsal Conjunctiva کې عمودي شق اجرا کېږي

Meibomian Cyst or Chlazion or Tarsal Cyst:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د Mebomeian غدواتو مزمن Granulomatous التهاب څخه عبارت دي چې سبب يې معلوم نه دي.

منصف دي په علوي جفن درد او پړسوب دا التهابي وتيره شايد د Hardeohum په شان شروع شي او په کافي اندازه لوي شي چې په دي حرکت کې د سترګي په کره باندي فشار باعث وګرځي او ناروغ دروبت د تشوش سببً شي د Chalazion پړسوب کلک اما په جس سره حساس نه وي په څو هفتو کې نشو نما کوي او برجستګي يې جنفي منضمي خواته دي کله چې جفن چپه کړل شي.

په هغه برخه کې چې Chalazion موقيعت لري منضمه احمراري او برجسته معلوميږي Chalazion په قرنيي باندي دفشار باعث کېږي او Astigmatism منځ ته راوړي.

هستولوژي:

د هستولو ژي له نظره Chalazion د Meibomian غدواتو قنات د Epithelium وده په وسيله تړل کېږي چې Sebaceous مواد د Chalazion غدواتو قنات د Epithelium موقيعت نيسي او Epithelial jaint cell,Lymphocyte cell په واسطه احاطه شوي دي Chalazion په ځوانو کاهلانو کې زيات عموميات لري د اعراض دنظره دروند والي او خفيف تخريشي احساس موجود وي.

علايم:

- يو کوچني Cyst د نخود دداني په اندازه د جفن د کنار څخه لږ لري واقع وي.
- کوم التهابي علايم موجود نه وي د Chalazion ساحه حساس نه وي.
- کله چې جفن چپه کړل شي Tarsal conjunctiva هغه برخه کې چې Chalazion باندي موقيعت لري مخملي يا ارغواني رنګ ليدل کېږي.
- ناحيوي لمفاوي غدوات پړسيدلي نه وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخامت:

- کوچني Chalazion شاید خپله له منځه ولاړ شي.
- د Mobomian غدواتو دلاري کېداي شيMarginal Chalazion منځ ته راشي.
- Chalazion شا يد دتالي انتاناتو په وسيله Literal hard Elam جوړ کړي.
- Chalazion شاید Calcified شي.
- په زړو خلکو کې شاید مکرر Mebomain Carcinoma سبب شي.

تداوي:

- يو کورس انتي بيوتيک کريم لکه Chlormycetin
- غټ Chalazion باید وروسته دموضعي انستيزي څخه وويستل شي.

## Anomlies in the Position of Eyelashes and lids (Trachiasis)

تعريف هغه حالت وي چې بانه دننه خزا ته منحرف او قريني سره په تماس راځي دمنحرف بانه يا څو عدده وي او يا ټول بانه منحرف شوي وي.

اسباب:

دابه په ولادي ابنارملتي کې ولوستل شي.

کسبي يا Aquired:

- Trachoma Stage iv
- Uleerative blepharitis
- External hardeolum
- Membranous Conjunctivitis
- کوم جراحي عمليات دجفن کنار باندي.

اعراض:

- د اجنبي جسم احساس په سترګه کې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- داوښکو بښیدل
- درد

علایم:

- Cilliary Congestion
- Reflex Blepharspasm
- دقریني سطحي کثافت
- Corneal ulcer

تداوي:

که منخرفه بانه یا څو عدده وي نود Epilation Forceps په وسیله ایستل کېږي اما داتداوي موقتي ده ځکه چې دبنو بیخ نه تخریبږي او بانه ډیر ژر بیرته نشونما کوي بهترین میتود دتداوي یي Electrolysis Epiliation دي.

که [یري ډیر زیات بانه منخرف شوي وي دجراحي پلاستیک په واسطه تداوي کېږي.

:Entropion

هغه حالت دي کوم چې دجفن کنار داخل خوا ته تاوشوي وي.

اسباب:

ولادي دا ډول ډیر نادر دي چې معمولاً Anophthalamus او Microphthalmus thalamus سره یو ځاي وي.

کسبي یا Aquired:

- Spastic entropion دا ډول Entropion د blephare Spasm له کبله منځ ته راځي.
- Mechanical cntropion زیاتره دجفن دحمایه د کموالي له کبله چې په Phthiasi bulbi , enophthalamus کې لیدل کېږي.

:Senile entropin

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

داشکل ډیر معمول وي او زیاتره د Orbital شحم دکموالي له کبله او د جلد Atrophic حالاتو کې د جفن حمایه او Support کم کېږي.

:Cecatrical entropin

دا شکل د منضمي او Tarsus د Scar په وسیله منځ ته راځي او عموماً علوي جفن کې وي.

کلینیکي اعراض او علایم:

عبارت دي د قریني د میخانیکي تخریش څخه چې د ښو په وسیله تولید کېږي همدا رنګه د ناروغي د درد ، او ښکو بهیدل او Photophobia سره یو ځاي وي د منضمي اختقان او او قریني قرحات شاید تولید شي.

تداوي:

Spastic شکل کې باید د blepharospasm سبب تداوي شي او Senile شکل یې د سفلي جفن خارج خوا ته د تاوولو په واسطه چې دا عمل د یو Plaster په وسیله په اسانه اجرا کېږي که چېري Senile شکل د پورتني ناروغي په وسیله شفایاب نه شي نو Plastic جراحي په واسطه تداوي کېږي.

:Ectropion

هغه حالت څخه عبارت دي چې جفن خارج خوا ته تاو شوي وي.

اسباب:

- Spastic Ectropion چې د Orbicular عضلاتو د نقص له کبله منځ ته راځي او په کوچنیانو کې زیات تصادف کوي.
- Senileectropion سفلي جفن متاثره کوي Ectropion په زړو خلکو کې د جفن د نسج ضعیف والي له کبله او د Orbicular عضلاتو د Tone د کموالي له کبله منځ ته راځي.
- Paralytic Ectropion داشکل د Orbicularis عضلاتو فلج او وجهي عصب فلج په واسطه منځ ته راځي.

:Mechanical Ectropion

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ډول دجفن دوزن د زیاتوالي له کبله لکه تومور او یا شاوخوا ثخه د جفن دټیله کېدو له کبله منځ ته راځي لکه Prosctosis او معمولاً سفلي جفن مصاب کوي.

اعراض یې عمومي اعراض اشک ریزي یا اوښکې تویدل دي.

کلینیکي علایم:

- Chronic Conjunctivitis چې د سترګي دخلاص والي دکبله منځ ته راځي.
- هغه حالت چې وخت زیات تیر شوي وي منضمه وچېږي او دنارمل حالت ثخه زخیم وي.
- د قرنيي قرحات د سترګي د خلاصوالي له کبله منځ ته راځي.

تداوي:

په Spastic شکل کې Blapharspasm او نور اشکل یې د پلاستیک جراحي په واسطه تداوي کېږي.

:Symblepharon

تعریف دهغه حالت ثخه عبارت دي چې جفن دسترګي دکري سره التصاق وکړي چې دا حالت د Palpebral او Bulbar منضمه دالتصاق د کبله منځ ته راځي چې التصاق عموماً په سفلي جفن کې وي.

Symblepharon په دوه ډوله دي

الف ـ Anterior Symblepharon په دي حالت کې التصاق د سترګي په قدامي برخه کې منځ ته راځي او د سترګې دکري دحرکاتو دکبله دا التصاق شاید دیوپړي په ډول اوږد شي.

ب ـ Posterior. Symblepharon په دي حالت کې د منضمي ټوله سطحه یو دبل سره التصاق کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسباب:

هر هغه عمل چې د منضمي د سطحي مخصوصاً د Bulbar او Palpebral Conjunctiva د ضخيموالي سبب شي دالتصاق باعث ګرځي چې شايد سوځيدو لکه د کېمياوي موادو په واسطه او يا قرحاتو له کبله وي لکه Membranous Conjunctivitis د کبله

اعراض:

په پيشرفته حالاتو کې د سترګي دکري دحرکاتو محدودوالي باعث ګرځي چې د Diplopia سبب ګرځي.

اجفاًن شايد په مکمله توګه ونه تړل شي چې په نتيجه کې سترګه خلاصه پاتي کېږي.

تداوي:

وقايه بهتره ده چې Soft Contact Lens استعمال شي تر څو دسترګي کره وپوښول او دالتصاق جلوګيري وشي اما کله چې التصاق منځ ته راغلي وي يواځي تداوي يي جراحي ده.

Anky Loblepharon:

تعريف د جفن کنارونه يو دبل سره التصاق کوي چې دا التصاق شايد مکمل او يا قسمي وي معمولاً Symbllepharm سره مشترک ليدل کېږي.

اسباب:

د ولادي او کسبي د دواړو ډول د سوځيدو له کبله منځ ته راځي.

تداوي:

دجراحي عمليه په واسطه د جفن کنارونه بيلول

Logophthalmus:

تعريف په دي حالت کې اجفان په مکمل ډول نه تړل کېږي کوم وخت چې سترګي پټيي شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسباب:

- د جفن ولادي سو شکل
- کسبي اسباب لکه د Orbicularis عضلاتو فلج د ضعيفوالي له کبله لکه په عميق کوما کې همدارنګه د سترګي د خلاصوالي وچېږي او Keratitis منځ ته راځي.

تداوي:

د سترګي د وچوالي دمخنيوي دپاره دخوب په وخت کې ناروغ ته مرهم تطبيق او يا جراحي عمليه.

تاثيرات Blepharospasm:

د هغه حالت څخه عبارت دي چې اجفان د Orbicular عضلاتو دشديد تقلص په واسطه کلک تړل کېږي دعضلي دا Spasm غير ارادادي شايد ژر دمنځه لاړشي او يا داچې په هفتو او مياشتو دوام وکړي.

د Blephatospams تاثيرات:

- دوامداره اوښکي تويدل موجود وي.
- دسفلي جفن Eczema دوامداره اوښکې تويدني له کبله منځ ته راځي.
- دجفن اذيما دجفن وريدونو دوامداره فشار له کبله منځ ته راځي.
- دسفلي جفن Cetropion او Entropion

اسباب:

۱ــ د پنځم زوج دشعباتو تنبهات لکه

- Phlyctenular Keratisis
- Interstital Keratisi
- Foreign body دقريني nlcer
- Medbranus and Psuodomembranous Conjunctivitis
- Severe iritis and iridoey clitis

۲ــ د شبکې زيات تنبه

۳ــ د وجهي عصب تنبه

۴ــ Hysteria

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تداوي:

د اسبابو تداوي باید اجرا شي

Blepharophimosis:

د هغه حالت څخه عبارت دي چې Palpebral Fissure کې بیدون د کوم التصاق څخه کموالي موجود وي دا حالت عموماً ولادي وي.

Ptosis or Blepharoptosis:

دهغه حالت څخه عبارت دي چې علوي جفن دخپل نورمال وضعیت څخه لاندي موقیعت اشغال کړي وي دا حالت شاید یو طرفه یا دوه طرفه وي قسمي یا مکمل وي.

اسباب:

۱ــ ولادي

- Simple ptosis شاید د Livator عضلي نامکمل ودي څخه وي.
- Ptosis شاید د livator عضلی نامکمل ودي څخه وي
- Ptosis شاید د superior rectus ولادي ضعیف والي سره یو ځای ولیدل شي
- Ptosis شاید د جفن شکل لکه ephicanthus سره یو ځاي موجود دي

کسبي Potsis:

- Paralytic potsis دریم زوج د قسمي یا مکمل فلج له پدې شرط چې livator عضله هم فلج شوي وي
- علوي جفن د تقوي موجودیت لکه microphthalmus سترګې د کرې غونجوالی او enophthalamus
- Mechanical ptosis د علوي جفن دوزن زیاتوالې له کبله اذیما ، ضخامه ، التهاب او تومورونه له کبله منځ ته راځي دانوع د ptosis په نوم هم یادیږي psudoptosis
- Miogenic ptosis

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د livator عضلي ترضيض
- Muscular dystrophy
- Mystina gravis

اعـــــــراض

کوم خاص اعراض نلري اما کله ، چې د حدقې ساحه د علوي جفن په وسيله وپوښل شي د رويت تشويش منځته راځي

علايم:

- د نورمال حالت څخه زياته علوي جفن قرنيه پوښوي
- علوي جفن کښې جلدې قات د منځه ځي
- کله چې ناروغ کوشش وکړي چې خپل علوي جفن پورته کړي د پورته کېدو سره وريځي هم پورته کېږي
- سر شاوخوا ته کږيږي تر څو ناروغ وکوالي شي علوي جفن د حدقې د ساحه څخه لري وساتی
- کله چې ناروغ ته وويل شي چې وګورې او په عين وخت په وريځو وخت په وريځو فشار راوړل شي نو دابه واضح شي چې د livator عضله يا ډير لږ هيڅ عمل نه شي اجرا کولای ۰

تـــــــداوي:

- کسبي ptosis بايد سببې تداوي شي
- ولادي ptosis کښې بايد سوشکل د جراحي عمليه په واسطه اصلاح شي

Tumor of the eyelids

داجفانو تومورونه کېدای شي سليم وي خبيث

سليم تومورونه عبارت دي له

- Papiloma
- Angioma
- Naevus

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- Xanthelasmia and xanthema
- Neurofibroma

## خبیث تومورونه عبارت

- Rodent ulcer
- Epidermoid carcinoma
- Malignant melanoma

**Papiloma**

داتومورونه په اجفانو کښې زیات لیدل کېږي داتومورونه د زخم په شان دي کوم چې pedunculated دتومور په سطحه کښې papilla موجودوي د هستولوژي دنظره papilla د fibrous tissue څخه جوړ شوي چې proliferated epithelium په واسطه احاطه شوي دي

:Angioma

داتومورموضعي دي او capillary او یا cavernous angioma په شکل ظاریږي اویا داجفن د facial angioma په واسطه متاثره کېږي stuge webers syndrome

: Naevus

دایوصباغي سلیم تومور دي چې دصباغ جوړونکې حجراتو څخه جوړشوي دي عموما دجفن کنارکښي کېږي چې د حسي اعصابو د epiderm basal layer څخه منشا اخلي

Xanthelasma or Xanthema

یو روښانه او ژیړ پلک په شکل دي چې زیاتره په علوي او سفلي جفن کښې inner canthus ته نژدي لیدل کېږي په ښځو زیات تصادف کوي کله کله د diabetus او هغه خلکو کښې چې دوینې کولسترول زیات وي لیدل کېږي

Neurofibroma

عموما plexiform neurofibroma شکل جفن متاثره کوي چې زیاتره په علوي جفن تصادف کوي جفن هیپرتروفي کېږي او سقوط کوي (ptosis ) د جفن جلد

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندی ضخاموي اعصاب جس کېدای شي چې په عین وخت د مخ صدغي برخه هم پدی افت مبتلا شوي وي

خبیث تومورونه malignant tumours

Rodent ulcer of Basal celled carcinoma

د جفن عمومي خبیث تومور دي چې د epiderm د basal layer یا hair folicol څخه منشه اخلیدای تومور عموما په سفلي جفن کښې inner canthus وده کوي د یو کوچنی زخم په شان دي اوبلاخره تقریح کوي داقرحه ډیرورو پرمختګ کوي او جفن تخریبوي چه کله داوربیت ساختمانونه او حتی هډوکې هم تخریب کوي

۲ ــ squamous cell carcinoma Epidermoid carcinoma or

داتومر داپیپدم څخه اخلي مخصوصا په هغه ځایونو کی چې ایپتیلیم یې تغیر کوي لکه د جفن کنار د nudele په شکل شروع کوي او ډیر ژر تقریح کوي دا تومور ډیر مخرب تومور دي ناحیوي لمفاوي عقدات ډیر ژرمتا ثره وي د هستولوژي د نظره داپیدم ټول طبقات حجرات احتوا کوي داتومور په زړو خلکو کښې زیات تصادف کوي

۳ ــ Malignent Milanoma

دایونادر صباغي خبیث تومور دي عموما د Nerves څخه منشاُ اخلي د عضویت دنورو برخو malignant melanoma تومورنو په شان دي

د اجفانو د تومورونو تداوي:

۱ـ سلیم تومورنه باید دجراحي عملیه په واسطه تداوي شي

۲ ـ خبیث تومورنه په مقدم مرحله کښې د جراحي په واسطه او وروسته د x-ray یا Radium په واسطه تداوي کېږي Malignant melanoma د شعاعي تداوي مقابل کښې دي٠

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د منضمې ناروغي

د منضمې اناتومي:

تعریف منضمه یوه مخاطي غشاء ده کوم چې د جفن لاندني برخه پوښوي او جفن څخه په منعکسه توګه د سترګې د کرې قدامي برخه د قرنیې تر کنار پورې پوښوي

.

د منضمې مختلفې برخې:

١ Plapebral conjunctiva د زېړمې منضمه چې مشتمل ده په

١ـ Marginal

٢ـ Tarsal

٣ـ Orbital

د منضمې marginal برخه د inter marginal zone څخه چې د زېړمو په کنار کې واقع دي تر Sub Tarsal Sulcus پورې پوښوي د زېړمو منضمه چې د Tarsal Palate پوښوي.

Orbital برخه د زېړمو پاتې برخه پوښوي

:Fornix of Conjunctiva II

د منضمې یو Fold یا قات دي چې د مخاطي غشا د انعکاس په وسیله د زېړمو څخه د سترګې په ګاټې جوړېږي.

:Bulber Conjunctiva III

د منضمې دا برخه د سترګې قدامي برخه تر limbus پورې پوښوي.

IV د لمبس منضمه:

د قرنیې شاوخوا پوښوي چې ضخیم او غیر منظم اپیتیل څخه جوړ شوي چې دویني داوعیو او لمفاتیک اوعیو درلودونکې دي.

Plica Semilunaris V پیلکا سیمیلوناریس

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
د منضمي يو هلال ډول قات دي چې په inner Canthus واقع دي او په بعضي حيواناتو کې Nictitating membrane سره مطابقت کوي لکه Frog يت چنګبنه او کوتره.

د منضمي د مختلفو برخو اوصاف:

Marginal او Tarsal منضمه په کلک ډول سره د Tarsal Palate سره اړيکه لري او Orbital برخه د Episcleaal انسا]و سره د Sclera لاري سستي اړيکې لري د منضمي limbos برخه هم په کلک ډول اړيکه لري.

د منضمي هستولوژي:

Conjunctiva د هستولوژي د نظره د لاندي طبقو څخه جوړ شوه ده

- Epithelial layer
- Substantia Propia چې د لاندي دوه پرخو څخه جوړه شوي ده
- Adenoid layer
- Fibrous layer

د **Conjunctiva**د مختلفو برخو د **Epithcliam** خواص په لاندي ډول دي:

۱ـ Marginal Conjunctiva

د Stratified Sqnamous Epitheliam څخه جوړ شوي دي

۲ـ Tarsal Conjunctiva

د دوه طبقو حجراتو څخه سطحي برخه Cylindric او ژوره برخه د Flat Cell حجراتو څخه جوړ شوي دي.

۳ـ Forinx and bulbar Conjunctiva

د دري برخو څخه جوړ شوي دي سطحي برخه Cylindric او متوسطه برخه څو ضلعي عميقه برخه Flat Cells حجراتو څخه جوړ شوي دي.

۵ـ Limb us برخه د Startified Squmous Epithelium څخه جوړ شوي دي چې په زياته اندازه د مخاط افرازونکې Goblet Cells حجراتو څخه جوړشوي دي.

Substantia Propria II

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د Epitheliam د لاندي برخو انساجو څخه عبارت دي د طبقه د زيږيدلو په وخت کې موجود نه وي او وروسته د ۲-۳ مياشتو څخه نشو نما کوي ۹۱۰ شکل Substantia Propria عميقه طبقه د Fidrous طبقي په شان وي چې د Collagen او Elastic اليافو څخه منشا اخلي او د Tarsal Palate په علوي برخه کې موجود نه وي د Substantia Propria برخي Plica يو هلالي جوړښت لري.

د منضمي اروا

منضمه په دوه ګروپو شراينو په واسطه اروا کېږي.

۱ـ خلفي منضمي شريان چې د جفن د شرياني قوس څخه مشتق کېږي د انفي جفني او Lacrimal artries of lids په واسطه تشکېل شوي دي.

۲ـ د منضمي د قدامي برخي شراين د Anterior Ciliary artry څخه منشا اخلي او همدا رنګه د منضمي Palpebral برخه د جفن د خلفي Post Tarsal Plexus په واسطه اروا کېږي د Limbus منضمه د Pericorncal Plexus په واسطه چې د قدامي او خلفي منضمي اوعيو په واسطه تشکېل شوي دي اروا کېږي.

د منضمي وريدونه Venous drainage د شراينو سره يو ځاي سير لري او په Palpebral او Ophthalamic وريدونو کې خالي کېږي.

د منضمي لمفاوي او عيسي ډيري دي Lymphatic drainage of Conjunctiva د Palpebral منضمه لمفاوي اوعيه د زيږمو په لمفاوي چېنل کې او د منضمي د نورو برخو لمفاوي اوعيو مستقيم داخلي او خارجي Canthus ته رسيږي چې بلاخره د پوستکې لمفاتيک سيستم سره مستقيماً يو ځاي کېږي او د منضمي د وحشي برخي لمفاوي او عيي د Submandibula برخو ته رسيږي.

د منضمي اعصاب Nerve Supply of Conjunctiva:

د منضمي د تعصيب د پاره دوه مختلف ګروپونه موجود دي

۱ـ حسي اعصاب Sensory nerve

- Cillary عصب خانګي Limbal ناحيه تعصيبوي
- د Nasocillary عصب خانګه intratrochlear

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- Lacrimal nerve
- د جبحي عصب Supra trochlear او Supra orbital څانګه.
- Maxillary nerve د infra orbital څانګه

پورتني څانګې د منضمې ټولې برخې پرته د Limbus تعصیبوي.

۲ ـ Sympathic

داعصاب د هغه sympathetic plexus څخه چې ophthalmic شریان سره یو ځای سیر کوي رسیږي او منضمې رګونه تعصیبوي

د منضمې معاینه:

د منضمې په معاینه کښې لومړي مخامخ bulber conjunctiva لیدال کیږي اوددې لپاره چې ټوله برخه ښه ولیدل شي د ناروغ زیږمې ددوه ګوتو په واسطه جلا کیږي اوناروغ ته هدایت ورکول کیږي چې پورته او ښکته وګورې اود ښکتنۍ palpebral conjunctiva د لیدلو لپاره دناروغ زیږمه لاندې کش او منضمه لیدل کیږي اود پورتنۍ برخې د لیدلو لپاره د ناروغ زیږمه قات کیږي چې دامعاینه ماشومانو کښې مشکل وي چې د مور پلار او نرسانو مرستې ته ضرورت وي چې په معاینه کښې لیدل کیږي چې منضمه نورمالحالت لري چې عبارت دی له لوندوالي ، ځلا یا داچې داجنبی جسم اوافرازاتو موجودیت یا د منضمې رنګ چې ژیړ وي سور اویا صباغي وي اود حرکت لیدل کیږي د ځینو ناروغیو کښې سره لګیدلي وي

د منضمې سوروالی:

د منضمې داوعیو داحتقان څخه عبارت دی یا په بل عبارت د منضمې په رګونو کښې د وینې تراکم څخه عبارت دي

لامـــــلونه:

په عکسوي توګه د منضمې په کبسه کښې داجنبي اجسامو موجودیت ، شغلی یا occupational خراب حفظ الصحه دوړې اولوګي اونور دانکسار خطا ، په عکسوي توګه د پزې تخریش له کبله عمومي ناروغي یا Gout

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعـــــراض:

ناروغ دناراحتۍ احساس کوي په سترګه کښې شګه لیدل کېدل احساس Sensation of grittiness درد ، تخریش

درمــــلنه:

د سبب دله منځه وړل

Astringent مواد لکه ۵٪، ۰ zine sulphate د ۱٪ boric acid سره د ورځي درې ځله سترګه کښې تطبیق شي

د منضمي پړسوب:

یو عام حالت دي چې لاملونه یې په لاندي ډول دی

۱ د سترګې حاد التهابي حالات لکه د قرنیې وخیم قرحه iridocyclitis او panophthalmitis

۲ د مجاورو ساختمانونو حاد التهاب لکه external and internal hardilum

۳ orbital tenoitis,cellulites , Acute , dacryoeystitis

۴ وریدی stasis لکه acute conjunctivitis , glaucoma او orbital tumours

۵ د مخرشه موادو موضعي استعمال چې د قرنیې اوعیو endothelium نقصان ورسوي

۶ عمومي خالات لکه nephritis زړه ناروغي ، وخیم انیما او angioneurotic odema منضمي التصاق د tars سره هیڅ کله په واضح توګه اذیما ته اجازه نه ورکوي بناً پدي ناحیه کښې منضمه سست التصاق لري اذیما پدي ناحیو کښې د لیدلوړ ده داذیما له کبله منضمه خپل شفافیت دلاسه ورکوي chemosis د منضمي داذیما په معنی ده شدید اذیما ډیره وي چې غشا یې بیرون ته ووځي

(۲) شکل

د منضمي وینه بهیدنه: Sub Conjunctival heamorrhge

داحالت زیات عمومیت نه لري د bleeding of the conjunctiva څخه وینه حتماً په sub conjunctival کښې وي لاکن کله چې وینه بهیدنه د palpebral زیړمو


Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
منضمي ځخه وي نوتحت منضمي کېدای شي داځکه چې د منضمي دابرخه د منضمي لاندي انساجو سره صميمي التصاق لري چې وينه عموماً بيرون جريان پيداکوي

لامـــلـــونه:

- هرهغه Conjunctivitis چې وخيم سير ولري خصوصا په ماشومانو کې
- د منضمي وعايي تومورونه لکه Angioma
- د ويني ناروغي لکه Hemophilia
- ژيړي يا Jaundice
- Vecayous menstation

په دي حالت کې وينه بهيدنه د مختلفو منابعو ځخه لکه **Conjuncitva** پزه ، معده ، غوږ او دبدن دنورو اعضاو ځخه د نارمل مياشتني عادت کې صورت نيسي.

د منضمي ناروغی:

د منضمي معمول ناروغي Conjunctivitis دي منضمه شايد په لاندي طريقو په ناروغي اخته شي چې اکثراً په دوه شکلو تظاهر کوي.

١ـ Infective Type

٢ـ Allergic type

Exogenous:

په دي طريقه کې سببي عامل د باندي ځخه منضمي کېسي ته داخليږي چې دا عوامل شايد مايکرو ارګانيزم ، اجنبي اجسام يا کېمياوي مواد وي.

Endogenous:

په دي ډول کې شايد انتان دويني دلاري ياداچې Allergic عکس العمل وي او يا داچې دمنضمي متاثره کېدل دعومومي متابوليک تشوشاتو لکه بله منځ ته راشي لکه نقرص Gout چې نادرا ليدل کېږي لکه Gonococal او Meningococal

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library
انتان د افت موضعي خپریدل د مجاورو ساختمانونو لکه پوستکې ، دمعي طرق دسترګي دکري ځخه مخصوصاً دقریني Scelra او یا Orbit ځخه.
د منضمي غیر انتاني التهاب:
الف ـ حاد شکل په عمومي ډول دري سببونه لري:
- میخانیکې تخریشات ، دوړي ، خاوري ، لوګي او اجنبي اجسام ددي سبب کېږي د ناروغ دمنضمي سوروالي ، اوښکې بښیدل او داجنبي جسم احساس په کې موجود وي ددي ناروغي په درملنه کې لومړي دمنضمه کښه د نارمل سالین په واسطه و مینځل شي او اجنبي جسم وویستل شي او که تخریش شدید وي نو انتي بیوتیک او انتي سپتیک محلولونه په سترګو کې استعمال شي. ۱۰-۹۲ ص
- کېمیاوي تخریشات غازات ، اسید ، قلویات ، چونه او الکولیک مستخضرات ، رنګونه د منضمي دتخریش سبب کېږي په خفیف اشکالو کې د منضمي سوروالي او اوښکې بښیدل لیدل کېږي چې ژر ښه کېږي او که شدید وي نو د فلوروسین په واسطه رنګ کېږي او دمنضمي او قریني تخریب شوي برخي معلومېږي ددي ناروغانو درملنه کې لمړي سترګه دنارمل سالین او انتي سپتیک په واسطه و مینځل شي او په سترګه کې انتي بیوتیک هم استعمال شي.
- فزیکې تخریشات لوړ حرارت او یخ زده ګي په کوچنیانو کې یا ویلډنګ کارانو کې د منضمي دفزیکې تخریش سبب کېږي چې دا ناروغان اته ساعته وروسته په خپله سترګه کې درد ، اوښکې بښیدل او دړنا ځخه ویره احساسوي او دمنضمي شدید سوروالي احساسوي او دمنضمي شدید سوروالي موجود وي دي ناروغانو ته توري چشمي او انتي بیوتیک مرهمونه او انتي سپتیک محلولونه استعمالیږي.

ب ـ مزمن شکل کله چې ناروغان په دوامداره توګه د تخریشاتو سره مخ وي یا ددمعیه کښي التهاب ولري د منضمي په مزمن التهاب اخته


Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي چې فو لیکلونه او **Papihha** جوړوي. چې په مشکل سره جوړیږي د درملني د پاره **Zinc Sulphate** محلول دورځي دري ځلي استعمال شي.

**Infective Conjunctivitis :**

باکتریایي:

- د منضمي حاد تقیحي التهاب
- د منضمي ګونریایي التهاب
- Ophthalmia ncoratrom
- د منضمي غشایي التهاب
- د منضمي کاذب غشایي التهاب
- Angular Conjunctivitis

ویروسي:

- د منضمي حاد ویروسي التهاب
- Pharyango Conjunctivitis
- Epidemic Kerato Conjunctivitis
- د منضمي هیر پیتیک التهاب
- د منضمي ویني بهیدونکې التهاب
- New Castle diseese Conjunctivitis
- Coxsackie virus

۲ـ د منضمي مزمن ویروسي التهاب

- Malluseum Contagiosm belepharo Conjunctivitis
- Vaccinal blepharo Conjunctivitis
- Varicella Zoster Conjunctivitis
- کلایمیډل
- تراخوما
- invlusion Conjunctivitis
- Iymphogranulma venirum
- Pstacosis

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریکېټسیل

- تایفس
- Murinc Typhus
- Q.Fever
- فنګسي
- تقیحي
- Granolomatos

پرازتیک

- Onchocerca volves
- Ascaris lambricousdus
- loa–Loa

د منضمي الرژي التهاب

- د منضمي ساده الرژي التهاب
- Phlyctenular
- Vernal Conjunctivitis or Spring Catarrh

کېمیاوي موادو په واسطه التهاب د ځینو دواګانو او کنټېک لینز استعمال

- وظیفوي لکه اسید ، القلي او داسي نور
- د سیستمیک ناروغیو په سیر کې د منضمي التهاب لکه تایرایدد غدی ناروغی
- د پوستکې ناروغي (Steven jonson Syndrom)

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د منضمي تقيحي التهاب

Actue Catarrhal(Mucopurulent) Conjunctivitis

په عامه توګه دمنضمي په دي حالت کې د سترګي سوروالي موجود وي او ورسره د Palpebral منضمي Papillary Hypertrphy او تقيحي افرازات ملګري وي.

لاملونه:

۱ـ په هرسن کې ليدل کيږي

۲ـ د جنس له نظره کوم توپير نشته

۳ـ شايد د Eruptive Fever لکه Measles سره يو ځاي دمنضمي التهاب منځ ته راشي خراب حفظ الصحه منضمي التهاب لپاره ښه مساعده زمينه برابره وي سرايت يي ديو شخص څخه بل ته ډير چټک دي يعني شايد ساري ناروغي ده.

سببي عوامل:

- (Coagulase Postive) Staphy lococcus aurous
- Koch Weeks bacillas
- Influenza bacillus , Pnuamococcus
- نادراً Gonococcus او influenza

علاوه دپورتني ارګانيزمونو نه کله کله Adino Virus هم د Acute Catarrhal Conjunctivitis سبب کيږي

پتالوژي:

۱ـ د منضمي داوعيو اختقان سره يو ځاي د منضمي داوعيو د نفوذ په قابليت کې زياتوالي منځ ته راځي.

۲ـ د Polymorph او Firbrin (Exudation) او نور التهابي حجرات په منضمي نسج کې راټوليږي ۹-۴۵ مخ

۳ـ د منضمي اذيما او کله چې اذيما زيات وي نو Chemosis په نوم ياديږي

۴ـ د مخاط افراز (Gablet cells) څخه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چېري د منضمي التهاب وتیره وخیم سیر ولري مخصوصاً په Stroma کې په دي وخت کې RBC او عیو څخه خارجیږي او افرازات Blood Stained کېږي. په واقعاتو کې التهابي وتیره د ۱۰-۱۵ ورځو کې شفایاب کېږي او یا داچې مزمني مرحلي ته داخلیږي که چېري د منضمي التهاب وتیره د څه مودي د پاره دوام وکړي دویني رګونه مخصو صاً په Tarsal Conjunctiva کې د Tufts of Capillary چې د سطحي اوعیو په پلان باندي سیر لري تشکل کوي.

اعراض:

- ناروغ ناراخته وي او داجنبي جسم احساس په سترګي کې کوي.
- Photophobia او د سترګي اوبه وهل موجود وي.
- د ناروغ دید مغشوش کېږي د Discharge موجودیت په قرنیه باندي ۳ شکل
- اجفان د خوب په وخت کې سره نښتي وي
- کله کله ناروغ د څراغ په شاوخوا کې Rainbow halow رنګه حلقي ویني

نښي:

- د منضمي التهاب اول یوه سترګه اخته کوي او بیا بله سترګه په ناروغي اخته کېږي.
- د منضمي Congestion احتقان موجود وي.
- د اجفانو Chemosis او اذیما موجوده وي.
- د منضمي لندي د ټکو په شان وینه بهیدنه لیدل کېږي.
- قیحي مخاطي Discharge په داخل او خارج Canthus کې موجود وي.

پیژندنه ټکي:

- د اجفانو لګیدل د خوب په وخت کې (تاریخچه موجوده وي)
- د منضمي احتقان
- قیحي افرازات موجودوي جدول (۱)

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختلاطات:

- مزمن کېدل
- Marginal Corneal ulcer
- Blepharitis
- Chronic dacryocystitis ( نادر )
- Superfacial Keratitis د قرنيي سطحي التهاب

وقايوي درملنه:

ناروغ ته بايد توصيه وشي چې روغي سترګي ته ګوته ورنه وړي او همدارنګه ناروغ دماوفه سترګي په طرف استراحت وکړي تر خو افرازات دروغي سترګي سره تماس ونه کړي د سترګي دپاکولو دستمال بايد بيل وي د فاميل نورغړي بايد دستمال ، جان پاک د ناروغ څخه بيل کړي.

درملنه:

- د منضمي کبسه په نارمل سالين سره د ورځي دري ځلي ومينځل شي چې ديوي خوا زوي يا Pus لري کوي او دبلي خواد Antibiotie تاثير ته زمينه مساعده وي او توکسين دمنځه وړي typc ۷-۱۰۷ مخ
- توري چشمي د Photophobia د مخنيوي دپاره.
- Silver مشتقات لکه ۱۵٪ Lotion argye د ورحي دري ځلي ز
- Chloramphecol , tatracy eline Drops Antibiotic eye Drops
- د خوب په وخت کې انتي بيوتيک مرهم په سترګه کې استعمال شي.
- نوي انتي بيوتيکونه لکه Ciprofloxacin او Ofloxacin استعمال شي.

نوټ ـ سترګه بايد پټ پلستر نه شي.

د منضمي د معمول ناروغيو ترمنځ توپيرونه

| شماره | کلايميډيل | الرجي | ويروسي | باکتريايي | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | کمه اندازه | کمه اندازه | متوسط | ډيرزيات | د منضمي سوروالي |
| ۲ | + | ++ | + | ++ | پړسوب |
| ۳ | - | - | + | + | دمنضمي لاندي وينه بهيدنه |

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۴ | تقیحي | اوبلن | اوبلن | تېنګ | دمنضمي زوي |
| ۵ | + | ++ | − | + | پایلا |
| ۶ | ++ | − | + | − | د منضمي فولیکل |
| ۷ | − | − | + | + | کاذب غشا |
| ۸ | + | − | − | − | پانوس |
| ۹ | + | − | ++ | + | دغدوپړسوب |

د منضمي مزمن التهاب:

د منضمي دمزمن Catarrhal التهاب څخه عبارت دي

لاملونه:

۱ـ کله چې Acute Catarrhal conjunctivitis په بیړني او سمه توګه درملنه شوي نه وي.

۲ـ د سترګي دوامداره تخریشات لکه لوګي ، دوړي او انکسار خطا .

۳ـ موضعي لاملونه لکه منخرفه بانه ، مزمن Dacrtocystitis او مزمن Rhinitis

اعراض:

د سترکې سوی احساس او Photophobia څخه عبارت دي.

نښې:

د Palebral او Fornix منضمي اختقان نري سریښناکه افرازات.

اختلاطات:

یواځني اختلاط یي Blepharitis دي.

درملنه:

په عمومي توګه دالتهاب د لاملونو دمنځه وړل لکه دانکسار خطا اونور د منضمي څخه Swab واخیستل شي او مناسب Antibiotic وټاکل شي. Zinc Sulpate په واسطه Painted شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د منضمي غشايي التهاب:

په منضمه کې د غشا د منځ ته راتلو څخه عبارت دي او نادر ليدل کېږي.

لاملونه:

معمولاً ماشومان مصابوي چې عمر يې د ۲-۴ کلني پوري وي.

خراب حفظ الصحه د منضمي دي التهاب ته زمينه برابره وي په زياتره واقعاتو کې يې سبب Kebles Loffer Corynobactrium بسيل دي کوم چې معمولاً Streptococcos سره يو ځاي وي د Bacillus dyphteria د اخته کېدو دلاري.

- د خولې دلاري منتن کېدل د منتن موادو خوړل
- د پزي دلاري Dyphteria خپريدل د Nasolacrimal Ducts دلاري
- ناقل شخص څخه بل ته

اعراض:

د بدن د حرارت درجه لوړه وي ناروغ توکسيک حالت لري او تشو متيازو کې البومين موجود وي

پيژندنه:

- د Dyphteria تاريخچه او د ناقل سره تماس
- د Acute conjunctivitis بارز نښې موجودي وي
- ژيړبخنه افرازات Tarsal Conjunctiva کې چې په مشکل سره لري کېږي موجود وي.

اختلاطات:

- شديد اختلاط يې د قريني قرحي څخه عبارت دي
- په شديدو حالاتو کې د قريني بدلول Corneoplasty
- موخر اختلاطاتو کې يې Enotropion , Syrmblepharon Trichiasis منځ ته راځي.
- Paralytic Squint او د Accomodation خرابوالي Type

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

درملنه:

- ناروغ په وقايوي ډول تجريد شي
- د منضمي څخه Swab واخيستل او معاينه شي.
- د Pencillin Crystal ۱۰۰۰units/cc مقطرواوبو سره هر نيم ساعت وروسته سترګه کې واچول شي.
- د ديفتريا انتي توکسين هر ساعت وروسته سترګو کې واچول شي
- د قريني دقرحي دپاره Atropin Sulphate Ointment استعمال
- وسيع الساحه انتي بيوتيک مرحم دخوب په وخت کې استعمال شي

عمومي درملنه:

زرقي انتي ديفتريا سيروم ۵۰۰۰۰ يونټه هر ۱۲ ساعته وروسته

زرقي Pencillin Crystal۵mg د ورځي دوه ځله

د منضمي کاذب غشايي التهاب:

د منضمي دالتهاب څخه عبارت دي کوم چې يوه کاذبه غشا جوړيږي.

لاملونه:

- معمولاً ماشومان اخته کوي
- د عضويت دمقاومت کموالي او خراب حفظ الصحه
- هغه اورګانيزمونه چې د دي ناروغي سبب کيږي عبارت دي له

Staphylocoeccus aureas , streptococcous pneumonia , klebs loffler bacillus کيمياوي تخريشات الکه امونيا ، چونه Silver nitratc او Atropin

پتالوژي:

د پتالوژي له نظره Fibrin Exudaation په Tarsal او Fornix په سطحي باندي توليديږي چې د افرازتو د مهاجم ارګانيزم يا کيمياوي موادو د تخريش له کبله منځ ته راځي چې عموماً د منضمي سطحه په اساني سره لري کيداي شي او کومه ندبي سطحه د ځان څخه نه پريږدي ( جدول ۲ )

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعراض او نښې:

د منضمي ددي التهاب اعراض او نښې Mucopurulent Conjunctivitis په شان وي په دي التهابي وتیره کې د زیږمو بې درده پړسوب موجود او Seropurulent discharge هم په لږه اندازه لیدل کېږي د غشا رنګ ژیړ بخن سپین دي موضعي موقیعت لري او دناروغي په دریمه ورځ منځ ته راځي عموماً په Tarsal او Fornix کې لیدل کېږي نادرا Bulber Conjunctival ته هم خپرېږي دا غشا په اساني سره لري کېږي پرته له دي چې وینه ورکړي.

درملنه:

- د منضمي کڅسه د نارمل سالین په واسطه ومینځل شي
- ۵٪Lotion argyrul ناروغ ته توصیه شي
- ۲۰٪Sulphactamid محلول ځلور ځله د ورځي سترګي کې واچول شي
- وسیع الساحه انتي بیوتیک لکه ۱٪ Tetracyeline د خوب په وخت کې

د منضمي دکاذب او حقیقي غشا ترمنځ توپیرونه

| | حقیقي غشا | کاذب غشا |
|---|---|---|
| | فیبرین اکسدیشن | فیبرین اکسدیشن |
| جوړښت | دمنضمي داپتیلیل دپاسه لیدل کېږي | دمنضمي داپتیلیل دپاسه په سطحه لیدل کېږي |
| بیلیدل | په اساني سره نه بلیږي | په اساني سره بیلیږي |
| وینه بهیدنه | دلري کولو په وخت کې وینه ورکوي | دلري کولو په وخت کې وینه نه ورکوي |

د منضمي ګونوریایي التهاب

- په غټانو کې چې د Gonorrhea تاریخچه لري
- سببي عامل یې Gonococcous دي

د اخته کېدو لاري:

- د تناسلي جهاز څخه د مستقیم تماس په واسطه
- اکثراً داکتران کله چې ناروغ معاینه کوي د مستقیم تماس په واسطه
- Metastatic infection form urithritis

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

پتالوژي:

۱ــ ۲۴ ساعته وروسته د منضمي داخته کېدو څخه Gonococci د منضمي د Epithelium حجراتو باندي Clusters تشکېلوي

۲ــ تر ۳ ورځو پوري سطحي Epithelial حجرات تخريبوي

۳ــ ارګانيزم د منضمي لاندي طبقاتو ته خپرېږي او Sub Epithelial نسج ته ځان رسوي.

۴ــ د منضمي لاندي انساج د Exudate او لمفاوي حجراتو د تجمع له کبله اذيما او پړسيدلي ښکاري.

۵ــ د لمړي هفتي په اخره کې Epithelial حجرات د Basal Layer څخه بيا وده کوي.

او په فعاله توګه ارګانيزم Phagocytosis کوي چې دا Phagocytosis عميه تر هغه پوري دوام کوي تر څو چې دالتهابي وتيره د منځه ولاړه شي او نهايي شفا پرته له دي چې کومه ندبه به پريږدي حاصليږي.

کلينيکي نښي نښاني:

په اوله کې يوه سترګه په دي ناروغي اخته کېږي او بيا بله سترګه اخته کوي کلينيکي لوحه يي په دري مرحلو سير کوي.

د منضمي التهاب په لمړي ۴-۵ ورځو کې infiltration stage په نوم يا ديږي چې متصف دي په:

- د سترګي درد او پړسوب په کافي اندازه موجو دوي
- منضمه سور مخملي معلوميږي
- افرازات اوبلن وي
- افرازات د منضمي په ساحه باندي تحشر کوي او د کاذب غشا د جوړيدو سبب کېږي.
- جفن حساس او پړسيدلي وي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- Peri Uricular غدا وات ضخاموي وي.

د منضمي دالتهاب دوهمه مرحله Blenorrhea مرحله ده چې تقريباً د ناروغي په پنځمه ورځ شروع کېږي.

- پدي مرحله کښې افرازات ډير قيحې وي مقدار يې زيات او ضخيم وي د ناروغپه مخ جريان کوي ( ۵ ) شکل
- ددې مرحلې د شروع سره سم د جفن سطحي tenseness خاموش کېږي دامرحله د څو هفتو پورې دوام کوي

د جوړيدو مرحله:

- درد له منځه ځي
- پړسوب کميږي
- منضمه سور او مخملي رنګ پاتې کېږي
- افرازات ورو ورو لږ کېږي او ناروغي هيڅ کله chronic يا مزمن حالت ته نه داخليږي

اختلاطات:

۱ ـ د بندونو الهتاب Arthritis

۲ ـ ايندو کارډ ايټيس endocarditis

۳ ـ سيپټيسيميا speticemia

موضعي اختلاطات

۱ د قرنيې زخم

۲ د قرنيې سوري کېدل

۳ د ايريس التهاب او مخکښې خونه کښې دزوې موجوديت

۴ د ټولې سترګې التهاب pan opthalaitis

د زيږمو د باندې تاويدل spastic ectropion

د پيژندونکې ټکې ( تشخيص )

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ ESR لوړوي

۲ gram staining of conjuction swab

۳ aglutinin test

۴ نورو ناروغیو پلټنه ( urethritis )

درملنه:

- وقايوي درملنه
- هغه مواد يا بنداژ چې په سترګه استعماليږي د منځه يو وړل شي
- د ناروغ سامان او لوازم بيل وي
- که چېري داکتريا نرس اخته شوي وي بايد فورا solution silver nitrate ۱٪ او وروسته وسيع الساحه انتي بيوتيک استعمال کړي

درملنه:

- د سترګې منځل د ګرمو مقطرو اوبو سره
- Eye antibiotics ( pencillin cry stal )۱۰۰۰۰ Units/ml drops د سر تګې ځاځکې هره دقيقه د نيم ساعت لپاره
- که ناروغ د پنسلين سره حساس وي تتراسيکلين بايد استعمال کړي
- وسيع ساحه انتي بيوتيک مرهم د خوب په وخت کښې
- Atropin sulophate۱٪ د ورځې درې د ځله د قرحې د مخنيوي لپاره

سيستميک درملنه

۱ - Sulphanomid په قوي دوز د خولې له لارې

۲ - pencillin injection د urethritis د مخنيوي لپاره

( د نويو زيږيدلو ماشومانو د منضمې التهاب ophthalmia

**Neonatraum**

تعريف د منضمې دوه طرفه قيحي التهاب دي چې په نوي زيږيدلی ماشومانو کښې دژوند په لمړي درې هفتو کښې ليدل کيږي


Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاملونه:

۱ګونوکوک Gonococcus ۷۰٪

۲ استرپتوکوک ، نوموکوک ، استافیلوکوک

۳ دمور ولادي کانال دوایروس په واسطه منتن شوي وي نو د منضمي دالتهاب سبب کېږي چې دنوي زیږېدلې ماشوم د inclusion blenorrhea په نوم یادیږي وصفي inclusion body نوي زیږېدلي ماشوم منضمي epithelial حجرات او د ماشوم په urethra او دمور په vagina کې موجود دی.

داخته کېدو لاري

- مخکې د ولادت څخه نادر دي
- د ولادت په وخت کې چې د ماشوم اعتلان په مخ وي
- وروسته د ولادت څخه د ځیني سامان او لوازم اود نرسانو د ګوتو سره

پـــــتالـــوژي:

د نوي زیږېدلي ماشوم اناتومیک خصوصیات باید په نظرکښې ونیول شي داوښکو عدم موجودیت ددرې هفتو څخه تریو میاشت وروسته د ولادت څخه چې پدي موده کښې ماشوم داوښکو غدي اوښکې نه افرازیږي د ماشوم د منضمي او قرنیې اپیتلیم نري والي یعني د ماشوم قرنیه کښې یواځي دوه طبقه حجرات موجود وي د نوي زیږېدلي ماشوم په منضمه کښې adcnoid layer موجود نه وي نو نور پتالوژیک تغیرات کټ مټ gonorrheal conjunctivitis په شان دي

کلینیکي اعراض اوعلایم

د تفریخ دوره د ګونو کوک دپاره ۳۱ ورځي اودنورو اورګانیزمونو ۲۱ هفتی او وایروسونو لپاره ۱۰۷ ورځي دي داحالت دوه طرفه دي نور کلینکي نښې د کاهل Gonococcal conjunctivitis په شان دي لاکن پدي التهابي وتیره کښې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
دا ناروغي سير په متوسط شکل وي افرازات د ۸۲ اونيو کښې له منځه ځي لږ
ندبي تغيرات له ځان پريږدي

تشخيص:

د منضمي تقيحی التهاب په نوي زيږيدلي ماشوم کښې (۲) شکل

د منضمي smear کښې gonococcus موجودوي

اختلاطات

۱ که دقرنيې قرحه منځ ته راغلي وي نود قرنيې کثافت توليد وي

۲ د قرحه شايد سوري شي او adherent leucoma سبب شي

۳ قرنيه شايد تخريب شي او anterior stophyloma

ددې ناروغۍ هر څومره چې ژر درملنه شي انزارېې ښه دي

درملــــــنه:

بلاربه ښځي يا باردار ښځې په منظم ډول معاينه او مراقبت شي سمد ستس ورو سته دولادت څخه دماشوم سترګه کې ٪۱ Slver nitrate واچول شي اما اوس Pencillin ۱۰۰۰IU/cc Erystal ښه نتيجه ورکوي Eredea method او که conjunctivitis منځ ته راغلي وي نو Smear اخيستل او درملنه د کاهل Gonococous په شان شروع شي.

Angular conjunctivitis:

د منضمي د هغه التهاب څخه عبارت دي چې Proteolytic انزايم افرازوي او دمنضمي اپيتيل تخريبوي Type ۱-۴۴ مخ

لاملونه:

کاهلانو کې ډير تصادف کوي او دپزي افرازات هم موجود وي.

د اوړي په موسم کې ډير ليدل کيږي انتان Morax-axenfeld diplohacills

heamophous licanatus:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اخته کېدو لارې:

انتان د ګوتې د دستمال او نادراً د پزې څخه انتقال کوي د دې ناروغي د تفریخ دوره څلور ورځې ده دا ناروغي دوه طرفه او ډیره ساده وي.

کلینیکي اعراض او علایم:

اعراض، خارښت، تخریش او Smarting Sensation یا شګه شګه کېدل په سترګه کې موجود وي.

نښې:

د منضمې Hyperemia پنیر مانند ه افرازات د سترګې په انسي او وحشي Eanthus کې Fissuring او Dermatitis د سترګې انسي او وحشي Canthus په جلد کې لیدل کېږي.

پتالوژي:

۱ـ د Proteolytic انزایم افرازیدل د biacil په واسطه

۲ـ د انزایم د اوښکو په واسطه د منځه ځي نو ځکه په هغو ځایونو کې لیدل کېږي کوم چې د اوښکو څخه لرې کېږي لکه دواړه Canthus کې.

۳ـ په Sub Epithelial نسج کې د Plasma Cell تجمع پېژندونکې ټکې.

- د منضمې Hyperemia سوروالي خصوصاً د جفن کنار کې لیدل کېږي.
- جلد ECZEMATUS حالت
- د افت د ساحې څخه د Diplobacill تجرید.

اختلاطات

درملنه:

۱ـ ۱٪ ine Sulphate د ۲٪ Boric acid سره دورځې دري ځلي

۲ـ Tetracyline مرهم د خوب په وخت کې.

د منضمې وایروسي التهاب:

د وایروسونو ډیر تعداد conjunctivitis سبب کېږي چې په منضمه کې د فولیکل په شکل تظاهر کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فولیکل د lymphocyte د موضعي تجمع په Adenoid Iayer Subepithelial کې ده چې کوچني ګرده نیم شفافه پړسوب په شان ظاهریږي.

په لاندي حالاتو کې Follicul په منضمه کې جوړیږي.

- Folliculosis
- Follicular conjunctivitis
- Trachoma Stege III
- د ځینو دواګانو استعمال لکه Pilocarpin , Atropin او Esirn دوامداره استعمال

فو لیکو لویسیس:

ددي ناروغي کلینیکي منظره په لاندي ډول ده:

- په Lower Fornix کې دفولیکولونو تشکل
- التهابي نښې او Discharge موجود نه وي
- ناروغي سلیم دي اما مزمن سیر لري.

لاملونه:

- معمولاً په اطفالو کې لیدل کیږي د شل کلني څخه پورته نادر وي
- غیر صحي محیط غذایي فقر
- د انکسار حطا معمولاً Hypermetropia
- دا ناروغي دغټ شوي تناسل او Adeniod سره یو ځاي لیدل کیږي.

نښې:

- فولیکل په موازي شکل د قطار په ډول تنظیم شوي دي او کله کله په Tarsal conjunctivitis کې هم لیدل کیږي ۷ شکل
- فو لیکل په Plica Semilunaris Bulber کې نه لیدل کیږي.
- د دوه فولیکولونو ترمنځ منضمه روغه وي.
- د منضمي احتقان او افرازات موجود نه وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ناروغي کوم خاص اعراض نه لري او په ورځینو شکایاتونو کې کشف کېږي
دا ناروغي د ۱-۲ کاله دوام کوي او بي له کومي بقايي څخه پرته ښه کېږي.
درملنه:
د لوي شوي تناسل ایستل او حفظ الصحه مراعت کول.
Zine Sulphate ۱٪ سره د Boric acid ۲٪ د څاڅکې په ډول د ورځې ۳-۴ ځلي په سترګه کې اچول کېږي.

د منضمي حاد فوليکولي التهاب دا ناروغي هم دفوليکل د تشکل په نوم يادېږي او سر بېره پردې د Acute Catarrhal conjunctivitis نښې هم موجود وي.

سببي عامل يې وايروس دي د منضمي دالتهاب مختلف ډولونه موجود دي چې دمختلفو وايروسون په وسيله تواديږي چې لاندي ډولونه لري:

۱ـ Acute herptic conjunctivitis

د منضمي ددې ناروغې سببې عامل Herpes simplex وايروس دي د منضمي د التهاب په ماشومانو کښې پيداکېږي د منضمي فوليکل معمولاً غټ وي په قرنيه کښې ويزيکل visicule تشکل کوي چې شايد د Dendritic ulcer باعث وګرځي periuricular غدي لويې شوي وي

۲ ـ Epidemic Kerato Conjunctivitis

سببې عامل يې adeno virus type ۸ او زياتره په epidemic شکل ليدل کېږي په کلينکی کښې د يو حاد follicular conjunctivitis دی چې بارز التهاب ورسره مل وي د periuricular غدو غټوالې هم ليدل کېږي د قرنيې اختلاطات د ۷ - ۱۰ ورځو وروسته ليدل کېږي چې په لومړيو مرحلو کښې د superficial punctuate keratitis په شکل ليدل کېږي د conjunctiva حالت ورو ورو ارميږي لاکن د قرنيې کثافت ترمياشتو پوری موجودوي

۳ ـ pharyngos conjunctival fever

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
سببي عامل يې adeno virus دی چې follicular pharyngitis conjunctivitis
او ښه ورسره ملګري وي په ماشومانو کښې په epidemic شکل ليدل کيږي او
کېدای شي periauricular غدی غټې شوي وي superficial P.K يوازي په ۳۰٪
ناروغانو کښې ليدل کيږي
۴ ـ New castle conjunctivitis
سببي عامل يې myxo virus دي چې د حيواناتو د فضله موادو سره د تماس له
کبله پيدا کيږي د کلينک له نظره د follicular conjunctivitis په شان دي چې
pgarynge conjunctivitis ورسره موجود وي د pereuricalar gland په ثابت
ډول غټيږي د قرنيې اختلاطات کم دي لاکن کېداي شي superficial punctuate
keratitis د اختلاط په ډول منځ ته راشي
درملنه:
Anti viral drugs : يا دوايرس ضد دواګاني لکه Idoxurdine څاڅکې
Adenine arabinoside په درملنه کښې مرسته کوي
د منضمې مزمن فوليکلي التهاب:
داډول منضمې التهاب د نور ټول follicular کنجکتيوايتس څخه زيات
عموميت لري دا په حقيق کې يو folliculosis دي چې د خفيف انتان پوسيله
دوباره اخته کيږي سببي عامل مايکروارګانيزم يې تجريد شوينه دي خوامکان
لري چې وايروس وي
اعراض او علايم:
د منضمې تخريش photophobia يا دنور څخه ويره موجوده وي
د ښکتني fornix او پورتني tarasal منضمې سوروالي موجود وي افرازات
موجود وي چې کېدای شي ۱،۵۲ پوري دوام وکړي
درملنه
د zine oxide او ۲٪ boric acid دورځي له دري څخه تر څلور ځله استعمال شي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Chlamydial Conjunctivitis

ددې ناروغي سببي عامل chlamydia دي چې دا وایروس او بکتریا ته ورته خواص لري یعني د حجري داخل کښې ژوند کوي او انتي بیوتیکونه په واسطه د منځه ځي درې ډوله chlamydia وجود لري

۱ـ chlamydia trachomatus

۲ـ chlamydia oculogentalis چې د inclusion سبب کېږي

۳ـ chlamydia lymphogranlomatosis چې دالوتونکود منضمي دالتهاب منځ ته راتلو سبب کېږي

## Trachoma

یو ډول Kerato conjunctivitis دي ، چې هر وخت منضمه او قرنیه په افت اخته کوي

سببي عامل ئي Chlamydia یا bedsonia اورګانیزم دي

## لاملونه

۱- عمر: په اندیمیک ساحو کې کوچنیان دژوند په لمړیو څو کلونو کې ډیر زیات اخته کېږي

۲- نژاد: دا ناروغي په تورپوستکي کې غیر معمول دي خو په ځینو نژادونو کې ډیر عمومیت لريلکه یهودیان او دهند شمالي برخو او پنجاب کې ډیر لیدل کېږي ،چې غریبه طبقه خلک په ناروغي اخته کېږي.

۳- موسم: دا ناروغي په هغه هیوادونو کې چې وچه او له دوړو ډکه هوا ولري ډیره لیدل کېږي.

## میکروبي لاملونه

Trachoma د Chlemydia یا bedsonia اورګانیزم په وسیله تولیدیږي دتراخم سببي عامل حقیقي وایروس ندي بلکې د کوچني بکتریا او وایروس ترمنځ قرار لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمنضمي او قرنيي epithelial د ماوفه او inclusion bodies تشکېلوي ،چې د halber steadsler prowark په نوم یادیږي دد ي ناروغي دتفریخ دوره له ۲ تر ۱۲ ورځو پوري ده او دلمبس په ساحه کې pits لیدل کېږي (۸شکل)

## داخته کېدو لاري

دا ناروغي ددستمال ، ګوتي او مچانو په وسیله انتقال کوي.

## اعراض

دا ناروغي تدریجي ده اما کله کله په حاد ډول هم شروع کېږي دتالي انتان په نه موجودیت کې دتراخم اعراض حقیقي وي.

اعراض ئي په لاندي ډول دي

۱- داوښکو بهیدنه

۲- داجنبي جسم احساس په سترګه کې

۳- دزیږمو لړیدنه دمحاطي افرازاتو له کبله

۴- کله ،چې تالي انتان مداخله کړي وي دحاد تقیجي conjunctivitis اعراض موجود وي.

## دتراکم مرحلي

Mac-Callan په څلورو مرحلو ویشل شوي دي اوله او دوهمه مرحله په منضمه او قرنیه کې لاندي تغیرات لیدل کېږي. ۳ مخ

## ۱- دمنضمي تغیرات

a. Bulber او palpebral منضمي احتقان

b. د papilla تشکل په tarsal منضمه کې ۳ جدول

c. د follicule تشکل دتراخم وصفي علامه ده.

۲- دقرنیي تغیرات دقرنیي دمنضمي تغیراتو سره په عین وخت کې تولید کېږي ،چې په لاندي ډول دي.

a. Epithelial keratitis

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

b. سطحي keratitis د قرنيې اپتيليم په افت اخته کوي او که چېرې د flurocine په واسطه رنګ شي کوچني رنګ شوي ساحې ليدل کېداي شي.

c. Trachomatous pannus داعيو infiltration څخه عبارت دي، چې د limbus څخه شروع او د قرنيې علوي برخه متاثره کوي.

دقرنيې اپتيل ارتشاح د lymphocytes سره يو ځاي د دولس بجو په کې منځ ته راځي کوم، چې د limbus څخه cornea خواته پراخه شوي وي، چې دويني درګونو موقعيت سره موازي حرکت لري، چې داعيو دغه ارتشاح د pannus په نوم يادېږي، چې لومړي دقرنيې پورتني برخه کې محدودوي او دوخت په تيريدو سره د limbus په ټول شاوخوا کې ليدل کېږي.

## دقرنيې قرحات

دقرنيې قروحات د pannus په پرمختللي کنارونو کې منځ ته راځي، چې ډېر تخريش کوونکې وي داوښکو بهيدل او نور څخه ويره موجود وي.

**دريمه مرحله:** دا مرحله دتندوب او جوړېدو مرحله ده، چې دتراخم دتندب په وسيله جوړېږي دتندوب لومړني نښه په پورتني زېږمه کې ليدل کېږي فوليکلونه اتروفي کوي، چې منضمه هم په atrophic pannus اخته کېږي داوعيو نورمال نظم له منځه ځي او په اخره کې د pannus نشو نما توقف کوي او دقرنيې قرحات جوړېږي.

**څلورمه مرحله:** دامرحله داختلاطاتو مرحله ده، چې لاندي اختلاطات په کې منځ ته راځي.

۱- د پورتني زېږمي Entropion

۲- Trachiasis

۳- داوښکو دغدواتو دتخريب له کبله دمنضمي وچېدل

۵- سفلي fornix تخريب او حتي د symbalipheron منځ ت راتګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶- دقرنيي كثافتونه

۷- دپورتني زيرمي دوزن دزياتيدو له كبله شايد يو كاذب ptosis منځ ته راشي.

## نړيوالي صحي ټولني تراخوما په لاندي مرحلو ويشلي

| | | |
|---|---|---|
| TF | تراخوما دفوليكل سره | فعاله ناروغي ده درملني ته ضرورت لري |
| TI | تراخوما پړسوپ سره | بيړني درملني ته ضرورت لري |
| TS | تراخوما اسكار | ميكروب غلي او غير فعال شوي وي |
| TT | دتراخوما دترايكيا سيس سره | جراحي درملني ته ضرورت لري |
| CO | دقرنيي كصافتونه | دړنديدو امكان شته |

## پيژندنه

۱- دا ناروغي دوه طرفه وي

۲- دلاندي كلينكي نښو څخه ددوو موجوديت

a. فوليكل ، پاپيلا او دمنضمي سوروالي موجوديت

b. Pannus

c. دتندوب او اختلاط نښي

## درملنه

۱- موضعي درملنه څرنګه ،چې تراخم سببي عامل يو غټ وايروس دي او د sulphacetamide په مقابل كې حساس دي نو بايد sulphacetamide په ۱۰٪ ۲۰%

پوري دوه څاڅكي دورځي څلور ځله ديوي مياشتي لپاره په سترګه كې تطبيق شي

Ointment Tetracycline دخوب په وخت كې ديوي مياشتي لپاره استعمال شي

۲- عمومي درملنه تابليت sulphanomid دورځي دري ځله دخولي له لاري دلس ورځو لپاره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- د اختلاطاتو درملنه ئي جراحي عمليه ده

## د منضمي التهاب د خاصو انتاناتو په واسطه

### د منضمي توبرکلوزي التهاب

د منضمي د دي التهاب عامل tuberclos bacill دي ،چې منضمه د exogenous يا endogenous منبع څخه دويني د لاري منتن کېږي

### پتالوژي

د منضمي افت Gaint cell, Epithelial cell او Lymphocyte دي ،چې caseation او fibrosis سره يوځاي وي

### کلنيکي نښې

د منضمي دا ناروغي احتمال لري په مختلفو ډولو ښکاره شي
۱- ulcerative type د منضمي د پاسه يو يا څو ulcer ليدل کېږي
۲- Nodular type واړه نور ډولونه د منضمي د پاسه ليدل کېږي
۳- Hypertrophic type د fornics يا tarsal منضمي څخه granulation نسج وده کوي ،چې د منضمي نه داوبو راتلل او سوروالي ورسره وي او همدارنګه preauricular غدي پړسيدلي وي.

### تشخيص

د هستولوژي معايناتو په واسطه وضع کېږي

### درملنه

معمولاً antibacterial يا ضد مکروبي درملنه ګټوره ثابتېږي لکه Streptomycin mg/cc ۵ ،۰ دي څاځکې په ډول تطبيق شي.

## د منضمي سيفليسي التهاب

منضمه د سيفليس په ټولو مرحلو کې په ناروغي اخته کېداي شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱-Chancre e په منضمه کې chancre عمومیت لري د دي افت سره د جفن پړسوب د periuricular غدو پړسوب او maxillary lymph node غټېږي

۲- Secondary stage د مخاط دالتهاب سره یو ځاي منځ ته راځي.

۳-Gummate Tertiary stage احتمال لري ، چې منضمه کې وده وکړي کله چې Gummate وچوي نو یو indolent ulcer تشکېلوي.

## تشخیص

Waserman , Khon reaction او V.D.R.I په وسیله کېږي

## درملنه

Anti syphilitic یا ضد دصفیس دواګاني تطبیق کېږي او نتیجه ورکوي

## Tularensis conjunctivitis

ددي ناروغي سببي عامل brucella tolerenses دي ، چې دسوي Robit یاموږک څخه منشا اخلي او انسان ته سرایت کوي.

پدي ناروغي کې کوچني necrotic ulcer په منضمه کې تولیدیږي چې دجفن د پړسوب دناحیوي لمفاوي عقداتو له پړسوب سره ملګري وي.

## درملنه

کومه وصفي درملنه نلري عرضي درملنه باید اجرا شي.

## Conjunctivitis in Ieprosy

منضمه د Ieprosy کښې تقریبا معافیت لري نو ځکه لري نو ځکه حقیقي conjuncetivitis Ieprous وجود نلري د leprosy عصبې شکل چې حسي اعصاب په افت اخته کوي او منضمه ددوړو ځاوروار اجنبي جسم سره مخامخ وي نود منضمي احتقان شاید موجودوي

## Paranoids conjunctivitis

داحالت په منضمه کښې د granuloma په شکل او ناحیوی لمفاوي عقداتو لویوالي په نامه یادیږي مختلف انتان د افت تولیدولاي شي لکه tubercolusis syphilis talurenosis

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د منضمي الرژي التهاب:

تعریف د منضمي دالتهاب د منضمي دالرژیک عکس العمل په معنی دي چې دوه ډولونه لري

۱ـ simple Allergic conjunctivitis

۲ـ phlyctenular conjunctivitis

simple allergic conjunctivitis

ددې ناروغي سبب داخلي endogenous یا خارجي الرجیک Exogenous مواد دي خو Exogenous allergen شکل ډېر عمومیت لري لکه د ګلانو pollen د حیواناتو پوستکې دوړي او ځني دواګاني لکه pencillin atropin pilocarpin او نور باکتریا یې مواد septic محراق څخه مخصوصا Staphylococcus

اعراض

۱ـ د منضمي hyperemia یا سوروالي

۲ـ د منضمي chemosis یا پړسوب

۳ـ افرازات لږ وي او هیڅ کله mucopurulent نه وي

۴ـ د منضمي په smear کښې ecosnophil موجود وي

۵ـ جفن ازیمایي وي

درملنه:

په لومړي مرحله کې باید allergen مواد د منځه یوړل شي

Anti allergen او vasoconstractor دواګاني دورځي ۲۴ ځلي په سترګه کښې مفید ثابتیږي په سترګي کښې د ٪۱۰ Hydrocortisone ملهم تطبیق ډېر موثر دي

Phylctenular conjunctivitis

د منضمي یو الرژیک عکس العمل دي چې د بعضي endogenos toxin باکتریایې منشا لري او زیاتره د B.K پروتین staphylococcus او ascaridosis د حساسیت د کبله منځ ته راځي ۴ مخ ۹۴

لا مـلونه:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ عمر په عمومي توګه کوچنيان په ۱۳ تر ۱۴ کلنۍ کښې ډير اخته کېږي

۲ محيطي حفظ الصحوي حالات

۳ غذائي مواد چې زيات carbohydrate ولري

۴ Tuberculosis

اعـــــراض

A د سترګو تخريش چې عکسوي ډول اوښکې بهيدل هم ورسره يو ځاي وي او همدا رنګه blepharospasm هم ليدل کېږي

B که تالي انتان مداخله کړي وي photophbia هم موجودوي

نښـــــې:

- ✓ سپين ګلابي رنګه pinkish نوډول تشکل limbus ناحيه کښې چې ۱۴mm پوري وي
- ✓ Phlycten تعداد يو يا متعد دوي چې کله کله قرنيې ته خپريږي
- ✓ Phlycten شاوخوا منضمه احتقاني وي چې اکثرا په bulber منضمه کښې ليدل کېږي او په pulpebral منضمه کښې لږ ليدل کېږي
- ✓ Lacrimation يا اوښکې بهيدل موجودوي او افرازات موجودنه وي
- ✓ که تالي انتان مداخله کړي وي نوتوله منضمه احتقاني او mucopurulent discharge ورسره ملګري کېږي
- ✓ شاديد د ناروغ تانسل شوي وي او cervical غدي پړسيدلي وي

تفريقي پيژندنه:

۱ Pingucula

۲ Episclerritis

۳ Spring catarrh

۴ دتراخوماپانوس

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشخیص:

ماشوم په خراب حفظ الصحوي محیط کښې ژوند کوي وړوکې pinkish white نوډول چې یو یا متعدد وي د limbus په ناحیه کښې لیدل کېږي

د منضمې د هغې برخې hyperemia چې nadule په شاخوا کښې موقعیت لري Septic tensile او cervical غدو غټوالي.

اختلاطات:

- ✓ Recurence بیا پیدا کېدل
- ✓ Eczema of Lid د جفن اګزیما
- ✓ Macopurulent Conjunctivitis د منضمې تقیحي التهاب
- ✓ Corneal Manifestaion

درملنه:

موضعي درملنه:

که چېرته ثانوي انتان موجود نه وي د ۱٪ Hydrocortisone acetate محلول په سترګه کې موثر دي.

که چېرته ثانوي انتان مداخله کړي وي د ناروغي درملنه لکه Acute Mocopurulent Conjunctivitis په ډول شروع شي په عمومي توګه باید دناروغ Tuberclosis اجراشي لکه edmentation rate که چېرته پورتني معاینات په T.B د لالت وکړي نو دتبي ضد دوياني دي تطبيق شي همدارنګه Septic محراق باید ولټول شي او ناروغ ته دي غذایي مواد او ویټامین توصیه شي په سیستمیک ډول Cap tetracy cline ورکول کېږي.

:Verna Conjunctivitis or Spring Catarrh

د انتاناتو مقابل کې د منضمې Hypersenstive عکس العمل دي Exogenous

لاملونه :

د ۲-۶کلني عمر کې معمولا هلکان اخته کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پسرلي او وړي کې زيات وي او کوم فکتورونه چې ناروغي تشيدده وي له دړو خاورو او وچ حرارت څخه عبارت دي د ناروغي په منځ ته راتلو کې دري فکتورونه عمده رول لري يو دغدواتو دافراز تشوش دويم درېا او لمر وړانګي دريم حساسيت او الرژي.

اعراض:

- ✓ Itching خارښت
- ✓ Iacrimation اوښکي بهيدل
- ✓ Photophbia دنور څخه ويره
- ✓ د سوزش احساس

نښي:

- ✓ Papebral Type
- ✓ Limbal Type
- ✓ Mixed Type

د Palbcral ډول نښي:

- ✓ په Patpebral منضمه کې کلک هموار Papilla موجود وي.
- ✓ د Papilla رنګ blush White يا روښانه ابي وي.
- ✓ Fornix په افت نه اخته کېږي.
- ✓ نادراً Papilla هايپر تروفي کوي او ګوپي مانند( Cowly Flower ) تشکلات منځ ته راوړي.
- ✓ سپين رنګ Discharge چې Cosonophil احتوا کوي موجود وي.

نښي Limbal Typc:

په دي حالت کې جلا ئين ډوله ضخيم نسج د Limbus په شا وخوا کې ليدل کېږي اعرض يي د Palpebral Type په شان دي منظم او غير منظم او ضخيم کېږي چې Papilla د هغي دپاسه منځ ته راځي چې ديو مخاطي قوس په شکل د Limbus د پاسه ظاهريږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم مختلط یا Mixtd Type شکل نښې چې د ناروغي نښې هم پورتني Tarsal منضمه او هم د Limbus کې لیدل کېږي ۲-۹۲مخ

اختلاطات:

په اوسني وخت کې د Steriod د زیات تطبیق له کبله Steriod induced glaucoma لیدل کېږي.

Superfacial punctate keratitis داروغي څوکاله وروسته له منځه

تشخیص

ماشوم چې د سترگو شدید itching تاریخچه ولري

د flat cobble stone مانند ( ۹ ) شکل Papilla موجودیت په Palpebral منضمه کښې اویا د limbus په شاوخوا کښې جلاتین نسج تجمع

درملنه

په یخو اوبو د سترگو مینځل او موضعي سترويد استعمالول گټور دي ۲٪ Disodium cremoglyate ( Opticrom ) څاڅکې دورځې څلور ځلي د سترگو خارښت له منځه وړي

Dexamethason drops تطبیق دورځې څلور ځلي ښه نتیجه ورکوي

Cryotherapy ونوړول کله کله موثره ثابتیږي ۱٪ ,.Ladoxamid د نوي دواگانو څخه دي چې د sodium cremoglyate په پرتله گټور دي

تفریقي پیژندنه:

۱ Palpebral form of papillary trachoma

۲ Bulbar form of phlyctens

د منضمې استحالوي بدلونونه

۱ (Lithiasis)( Concrations ) کانکریشن

د منضمې ډیر کوچني کلک ژیړبخن سپین ټکې دي چه منضمه کښې مخصوصا په palpebral منضمه کښې لیدل کېږي ( ۱۰ ) شکل دافت عموما په زړو خلکو کښې ډیر منځ ته راځي دااستحالوي حالت د Leukocyte epithloid cell

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

محصول دي په عادي ډول کوم عرض نه لري اما کله کله داجنبي جسم احساس دقرنيې د تخريش سبب ګرځيداي شي درملنه يې د موضعي انستيزي او تيره ستني په واسطه د conratins ايستل دي

Pingucula ۲

دايوکوچني برجسته زيړبخن سپين nodule دي چې د bulbar منضمه کښې limbus څخه په لږه فاصله کښې ليدل کېږي د هستولوژي له نظره د کولاجن اليافو degenration دي چې سطحي اپيتيل يې نري شوي وي

Temporal خواته موقعيت لري داافت په زړو خلکو کښې چې دوړو او خاورو سره په تماس کې وي ليدل کېږي چې اعراض نه ورکوي او کوم درملنه ته ضرورت هم نلري

ptrygivm ۳

دمنضمي يو مثلثي قات يا fold دي چې ورو ورو په قرنيې باندي د صدغي يا انفي يا دواړه خواوڅخه تير ي کوي د pterygium مهم سبب په subconjunctival نسج کښې استحالوي بدلونونه دي جدول ۴

معمولا منضمي لاندي په زړو خلکو کښې اوپه نارينه کښې زيات ليدل کېږي يو طرفه يا دوه طرفه وي خو په عمومي ډول د پزي nasal خواکښې زيات تصادف کوي

Pteygium دري برخو څخه جوړشويدي راس يې چې قرنيه باندي واقع دي غاړه او جسم ۱۱ شکل د کلينک د نظره په دوه ډوله دي حقيقي Ptrygium او کاذب ptrygium لاندي جدول کښې ښودل شويدي کله کله داوسپنی ترسباتو د کبله د Pterygium په سير کښې يوه سپينه کرښه منځ ته راځي چې stockers line په نوم ياديږي

د Pterygium مرحلي:

۱ Progressive stage يا پرمخ تلونکې مرحله په دي مرحله کښې Pterygium ضخيمه flashy وعاويې وي همدارنګه قرنيه کښې کثيف ټکې چې pterugium

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څنډي څخه لږ وړاندي واټن کښي ليدل کېږي pteygium راس د قرنيې د bowmens غشا پوري پر مختګ کوي

۲ Atrophic stage

په دي مرحله کښې pterygium لږ وعايې وي د قرنيې کثافت ليدل کېږي

اعراض:

معمولا کوم عرض نه لري اما کله چې د حدقي کسي ساحي ته ورسيږي د ديد د کميدو سبب کېږي خو کله کله Diplopia دوه ليدل د سترگي د کري د حرکاتو محدوديدو له کبله منځته راځي

درملنه:

که چېر ته ptrygium پر مختګ کړي وي اويا داچې د ناروغ ښايست متضرر کړي يا د ناروغ ليدو تشويش شي د جراحي عمليې په واسطه دي يې درملنه وشي

## د کاذب او حقيقې ترايجيوم ترمنځ توپيرونه

| ګڼه | | کاذب ترايجيحوم | حقيقي ترايجيحوم |
|---|---|---|---|
| ۱ | عمر | په ځوانو ماشومانو کې ليدل کېږي | په زړو خلکو کې ليدل کېږي |
| ۲ | لاملونه | وروسته د التهابي ناروغيو څخه | نا معلوم دي |
| ۳ | موقيعت | دزيزمو منضمه | دزيزمو منضمه کې |
| ۴ | بڼه | مايل | افقي |
| ۵ | حالت | ثابت | پرمخ تلونکې حرکت لري |
| ۶ | غاړه | ازاده وي | ليمبس سره نښتې وي |
| ۷ | پروب | په آسانۍ سره تيريږي | پروب نه تيريږي |

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Pigmentation of the conjunctiva**

**Exogenenius source** باندني منبع

**Argyrosis -A** پدي حالت کښې د منضمي د تور رنګ سبب ګرځي اود **silver** د مشتقاتو زيات استعمال د کبله سترګه کښې يا **Silver** په دوړو کښې کارکول **silver** په منضمه کښې ترسب کوي او نورمال حالت د تغير سبب ګرځي

**Siderosis B** کله چه اوسپنه په منضمه کښې ځاي په ځاي شي اويا هغه په شاوخوا کښې د اوسپني رنګ په وضاخت سره وليدل شي د **siderosis** په نوم ياديږي

**Endogenous source**

**Bile** صفرا د منضمي ژيړ رنګ لکه په **juindice** کښې

د **melanin** د صباغ ترسب د منضمي د توررنګ سبب ګرځي ځوچې داحالت د **Vitamin**

**A** فقدان **Addisons, Alkaptonurea** اود منضمي په سليم او خبيث **melanoma** کښې د **melanin** صباغ ترسب کوي

د منضمي د لاندي وينه بهيدني لاملونه

۱ مستقيم ترضيضات

۲ قحفي ترضيضات اود orbit ترضيض چې orbit د جدار ماتيدو سبب شوي وي په داسي واقعاتو کښې وينه د منضمي لاندي داخليږي او وروسته د ۱۲-۲۴ ساعتو تحت منضمي نذف په شکل ظاهريږي (۱۲ شکل که چېري وينه د orbit داخل څخه منشا واخلي دنذف حلفي سرحد دليدلو وړنه وي

۳ دغاړي دوريدونواختقان لکه په تورټوخله whoping cough کښې ماشومانوکې اوياد تېراوغاړي شديد فشارلاندي راتلل

۴ دويني ناروغي لکه leukemia. Hemophilia purpora

۵ Arteriosclerosis and hypertension

۲ دمنضمي حادالتهابات

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
۷ حاد systemic تبه لرونکې انتانات لکه حاد bacterial endocarditis
meningococcal septicemia
۸ Vecarious menstruation
۹ idiopathic

درملنه

بایددي وینه بهیدنه سببي عامل پیژندنه اودرملنه دمنضمي لاندي ویني بهیدنه دیوي اوني څخه تردریواونیوپوري خپله دمنځه ځي تودتکورکول دویني بهیدني په بنه کېدوکښي موثرتماميږي

دمنضمي تورمونه

په ولادي اوکسبي ډول منځته راځي

۱ ولادي یا congenital

دامنضمي عمومي ولادي تومورديEpibulbar dermoid داتومورهمواره اوبیضوي توموردي چې llimbus کښي ډیرواقع کېږي ددي توموریوه برخه ممنضمي خواته اوبله برخه یي قرني خواته واقع شویدي دیروورنوشونماکوي تومورمحتویات دوښتوفولیکل Sebacous عرفیه غدوات څخه عبارتدي چې پواسطه پوښل شویدي stratified epithelium

Dermoid lipoma

داهم یوولادي تومور دي چې زیات په منضمه کښي لیدل کېږي داتومور یواندازه برجسته ژیړبخن سپین تومور دي چې دیصلي منضمي لاندي په پورتني اوخارجي زاویه کښي واقع شوي دي او orbit ته هم خپورشوي وي

کسبي یا Acquired tumors

Benign tumors

۱ Papiloma داتومور شاید د منضمي هربرخه کښي وده کړي اویا داچې limbus کښې نشونما وکړي داتومور نرم وي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
۲ Angioma معمولا داتومور convernous type وي د منضني هره برخه کښې موقيعت نيولي شي داتومور ګردوي اويا معوج تومور دي تومور سطحه Dark blush red يا توربخن سوررنګ لري او درملنه يې جراحي عمليه ده

۱ Epidermoid Carcinoma عموما د limbus ناحيه کښې منځ ته راځي په لمړي مرحله کښې ptrygium راس په شکل معلوميږي کله چې نشونما وکړي په قرحه بدليږي

۲ Malignent Melanoma د منضمي داتومور د عصب څخه منشا اخلي داتومور ډير صباغي او شديد ا خبيث تومور دي اوژرنشونما کوي

Pre cancerruos and cancerous melanosis O

د منضمي او د جلد دموي ساحي صباغي کېدل چې معمولايو طرفه وي يا ځوکلونو لپاره په خپل حال باقي پاتي شي لاکن کانسري تغيرات احتمال لري چې منځته راشي

درملنه:

په خبيث تومورونوکښې بايد د سترګې کره ويستل شي او precancerous حالاتو کښې بايد orbit محتوي exentreration شي

د منضمي سيست يا Cyst of Conjunctiva وي

۱ Implantation cyst د منضمي داسيست ډير عموميت لري اود منضمي epithelial حجراتو د غرض کېدوڅخه د جرحي عملي بوخت اويا د ترضيض په وسيله منځته راځي

۲ Retention د معاوفه دمعي غداواتو Iacrimal gland د قناتونو د بنديدوله کبله منځته راځي (۲ مخ ۸۴)

۳ Lymphatic cyst چې د lymphatic توسع څخه پيداکيږي درملنه يې جراحي عمليه ده

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Figure 3.88 Advanced ptergium [m]



Figure 3.35 Mucopurulent discharge in neonatal chlamydial conjunctivitis



Figure 3.8 Removal of a conjunctival pseudomembrane



Figure 3.28 Herbert pits in trachoms



Figure 3.33 Giant 'cobblestone' papillae on the superior tarsal conjunctiva in severe vernal conjunctivitis



Figure 3.2 Conjunctival follicles

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## :Anatomy

سکلیرا د سترګي کري باندني پوښ دي یو مکدر سپین کثیف او وعا یې ساختمان دي چې تفریبا ۱ mm ضخامریت لري د یو بنډل collagen او fibers څخه جوړ شویدي که افت ترضیضي او یا انتاني وي ددې نسج ناروغې نسبتا نادره ده او که چیرې ناروغي تولید شي یا مزمن وي یا به وروسیر کوي۰

څلور واړه Rectus عضلات په sclera ننوتي دي د یوتعداد اوعیو او اعصابو په واسطه سوري شویدي چې غټه اوعیه یې څلور vertex وریدونه دي د sclera اخلي سطحه د choroids څخه potential space په واسطه جلا شویده چې supra choroids په نوم یادیږي

Inflammation of the Sclera

دوه ډوله التهاب لیدل کیږي

Superfacial Episcleritis

Deep Scleritis

Episclritis

د منضمي د سطحي نسج په التهاب مبتلا کېدل دي چې د sclera سطحي lamella هم په برکښې نیسي چې limbus څخه لرظاریږي دا nadole کلک غیر متحرک او ډیر حساس وي اود منضمي هغه برخه چې پدي باندي واقع وي په ازاده توګه په نوډول باندي حرکت کوي څرنګه چې د episcleral اوعیه په نوډول باندي عرضاني تیریږي نو له امله Nadule ارغواني ښکاري داناروغي معمولا یوطرفه وي خوراګرزیدلوته ډیر تمایل لري د Nadule هیڅ کله په تقرح نه اخته

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
کېږي بنايې په کامله توګه رشف شي اما کله کله په هغه ځاي کې چه منضمه ورسره التصاق لري ندبه د ځان پرېږدي

اسباب:

۱ په زړو خلکو کښې

۲ Gout. Rhumatism او نوره ناروغي

۳ Allergic reaction ( Tuberculosis,streptococcoal)

۴ Collagen disorder

۵ د منتن محراق موجوديت

اعراض:

درد شايد ډير کم وي حساسيت او ناراحتي ډيره وي

Photophobia موجود نه وي

علايم:

- کلک سور ګلابي رنګه نوډول د منضمي لاندي د limbus څخه له ۲-۳ ملي متره واټن لري
- نوډول په عميقه ساختمانونو کښې fixed وي او د تماس سره ډير حساس وي
- Hyperemia of Conjunctiva

اختلاطات scleritis Uveitis

تفريقي تشخيص:

Episclertis,phlycten,pingucula

تداوي:

موضعي Hydrocortison يوه قطره هردوه ساعته وروسته يا تحت منضمي زرق شي

موضعي حرارت هم ګټه کوي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
عمومي تداوي دانتاني محراق تداوي اود خولي د لاري Aspirin تابليت ښه دي

:Scleritis

داناروغي دسترګي دوه طرفه ناروغي ده چې غلبا ښځي پري اخته کېږي episcleritis په نسبت نادره ده په اوله مرحله کښي پړسوب Drak red اوپه اخرمرحله کښي ارغواني رنګ اختياروي

اسباب

۱ توکسيک اوالرجيک لکه bacterial دمنتن غاښونو اوتناسلونوڅخه

۲ endogenous infection لکه T.B syphilis, leprosy

۳ چې تالي انتانات چې د pre ocular او intraocular انساجوڅخه sclera ته انتشارکړوي

۴ Exogenos infection دمنضمي قرحي اوترضيضاتوپه سيرکښي

۵ Systemic and metabolic disorder لکه Gout Rrhumatiod Arthritis

اعراض دسترکوشديددردچې Frontal ناحيي ته انتشارکوي

Lacrimation او diseharge موجودوي

علايم

معمولاً سکليرااقدامي برخه متاثره کوي

دمنضمي په شاوخواکښي ګلابي رنګه ساحه ليدل کېږي

Seleritis ساحه کمه اندازه بارزه ښکاري اوزيات حساس وي

اختلاطات

۱ Corneal complications

Selerosing keratitis

karatolysis

۲ cillary staphyloma

۳ Uveitis

۴ secondary glaucoma

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تداوي

۱ سببي تداوي بايد اجراشي

۲ ۴۰Mmg prednisolon دورځي دخولي دلاري

۳ په شديدوحالاتوكښي ۴۰Mmg oxyphenalbutazen دورځيي دخولي دلاري

۴ ددردلپاره Asprirn يا indomethacin

**Staphyloma**

دسترګي دكري bulgingڅخه عبارت دي چې uveal انساج متاثره كيږي اواوانواع يي په لاندي ډول دي

۱ Anterior stapheloma

۲ intercalary staphyloma

۳ eiliary staphyloma

۴ Equatorial staphyloma

۵ posterior staphyloma

posterior staphyloma دقرنيي او lirs په انساجوكښي منځ ته راځي اوزياتره د cornealuleer او corneal perforation

په تعقيب منځ ته راځي

داپه دوه دوله دي

- Total anterior staphyloma
- Partial Anterior staphyloma

۲ Ciliry staphyloma د seleara دپړسوب اوضخيم كېدوڅخه عبارت دي چې د ciliry body په سيرمنځ ته راځي اود limbusڅخه تقريباً ۸ ملي متره لري واقع وي

۳ staphyloma intercalary دسكليرا د bulging څخه عبارت دي چې د Iris په سيرمنځ ته راځي د limbus په ناحيه كښي د ciliry body په قدام كښي موقعيت

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
لري ابي رنګ لري او اسباب د I.O.P selertis جګيدلو يي عبارت دي روښان ابي رنګ لري چې عموماً د sclertis په تعقيب منځ ته راځي

۴ Equatorial stapheloma دسکليرا د bulging څخه عبارت دي چې د choriod په سسيرمنځ ته راځي د Equatorial په ناحيه او همدا رنګه د سکليرا هغه برخه چې vertex وريدونو په واسطه سوري شوي وي موقعيت لري چې اسباب يي د seleritis او intraoclura فشار دلوړوالي څخه عبارت دي

۵ posterio r stapheloma دسترګي د کري د حلفي قطب پړسوب څخه عبارت دي چې د سترګي د کري د حلفي قطب د سکليرا د څخه د باندي پړسوب پيدا کړي وي اسباب يي له high myopia ,ehoriod retinal degeneration څخه عبارت دي

د سکليراد د ناروغي ډيره عامه نده او احتمالا د نوډول په شکل ظاهريږي چې نوډول په مختلفواندازووي او limbus ته نژدي سترګي ترequator پوري وسعيت پيدا کړي وي او يا داچې gumma ښايي د سترګي داخل ته انتشار وکړي او يا داچې cliary body , syphlytic افت سکليرا خواته انتشار وکړي د ناروغي د تاريخچې او wasserman تيست اجرا کولو په واسطه تشخيص کيږي او تداوي يي Antisy phlatic drugs استعمال دي

**Tubrelosis of selera**

د ناروغي امکان لري د seleritis په شکل تظاهروکړي او يا داچې د منضمه Iris,eiliary body , chroid څخه سکليرا د ته انتشار وکړي او يا داچې په اصلي توګه په سکليرا د کښي توليد شي

د ناروغي ديو موضعي نوډول تاسيس کوي او وروسته caseation او ulcerets کيږي د دي ناروغي تداوي په P.A.S streptomyein او Isonasid مشتمله ده چې په عمومي ډول تطبيق کول دي

Scleromalacia perforans

Selera د ناروغي يوه نادره ناروغي ده چې د عمرپه شبږمه لسيزه کښي په ښځوکښي ليدل کيږي چې دډيروخت لپاره په روماتيزمااخته وي د ناروغي

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

Patehes په شکل ظاهريږي چې له شديد التهاب سره ملگري نه وي دنکروزي ناحيي خارج خواته وځي داناروغي په اخره مرحله کښي شديد iritis منځ ته راوړي داناروغي ورو ورومخ په وړاندي ځي چې زاړه Patehes توسع کوي اونوي Patehes توليديږي چې نتيجه کښي شايد سترگي ضايع شي دپتالوژي له نظره سکليرانوډول درو ماتيزم نودول سره مطابقت لري ددي ناروغي پيژندل شوي تداوي د cortison موضعي اوسستيمک استعمال دي

**Blue selera**

په کوچنيانوکښي ابي رنگه ارثي حالت دي اوډژوندترپايه پوري موجودوي نراوښځي په مساوي توگه پدي افت اخته کيداشي يواځي هغه خلک چې پدي ناروغي اخته وي دناروغي دانتقال سبب کيږي

**Antaomy and disease of the Cornea**

قرنيه يوشفاف translucent نسج دي چې ښوي خليدونکې قشرلري ۱۲ ملي متره پراختيالري دمنځني برخي ضخامت يي mm ۵ دي حال داچې په محيط کښي ضخامت يي mm ۸ دي

دمرکزي برخي وسعت يي mm ۴ دي sphrecal دي اومحيط يي flatted دي

قرنيه دقدام نه شاوخواته پينځه طبقي لري

۱ Epitheliam ډيرپه منظم ډول ضخيم اوپينځه طبقي حجراتوځخه جوړشويدي اود epitheliam eonjunctiva سره ارتبات لري

۲ Bowman ديو hemogenous غشاده چې اپيتلسيم دباندي پرته ده اوپه limbus کښي ختميږي

۳ substantia propria

۴ Descemtis membrane

۵ Endothelium

دقرنيي تغذي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرنيه نورمال ډول هيڅ وريد اوشريان نلري مګري تغذي يي دلاندي دري لاروڅخه صورت نيسي

۱ perilimbal plexus of blood vessils

۲ aqueus heumur

۳ oxygen form air

دقرنيي تعصيب : ciliry nerve په واسطه تعصيب شويدي تماس دردا و thermal sensation حس کوي

دقرنيي دابنارملتي

۱ micro cornea دقرنيه نورمال وسعت ۱۳.۱۲ ملي متره دي مګرپدي افت کښي يي وسعت ډيرکميږي سترګه کېداشي وړه وي اويانورمال وي چې انکساريي زياتروخت hypermetropic وي

۲ megalo coraen په دي حالت کښي وسعت له ۱۴mm ملي متره څخه زيات وي اودسترګي ګاټي نورمال وي انکساريي astigmatie وي اوکېداشي لاندي اختلاطات ورکړي

- Sub copsular cataract
- Secondary glaucoma

Corneal odema

دبدن دنوروساختمانونوپه شان قرنيه هم کېداشي ازيمايي شي کله انساجوکښي مايع تجمع وکړي دقرنيي مايعات په يوستندارداندازه کښي دي کله چې ګډوډشي نوازيماپيدا کېږي

اسباب

هغه مايعات چې ازيماپيدا کوي

۱ tear دا پيتيل دمتضررکېدوله کبله

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ aqeous humour دقرنيي اندوتيليم متضررشوي وي مايعات د decmet غشااو bowman غشاخخه تيرشي عصبي كانال دلاري دڅاڅكوپه شكل په basal epithelium كې ښكاره كېږي

۳ داپتيليم اواندوتيليم ځيري كېدل د trauma ulcer او erosion له كبله دمهموفكتورونه څخه شميرل كېږي

۴ I.O.P جيګيدل چې په closed angle glcoma او absulote glcoma اونوروكې ليدل كېږي

۵ دستركې دقدامي سګمنت دالتهاب لكه acute Iritis

۶ دقرنيي تخريبي حالات

۷ neuroparalytic keraitis neuroparalytic چې دالكول دزرق له كبله پيداكېږي

۸ oxygen deorivation of cornea لكه څوساعتونولپاره د contact lens استعمال دي

**Classification of coreal ulcer**

۱ purulent lucers or suporative keratitis

۲ ordinary pyogenic corneal ulcer

۳ hypopyon ulcer or serpiguns ulcdr

۴ my cotic ulcer

۵ marginal ulcer

۶ nonpurulent lucer

Non purulent ulcers II

۱. ulcer associated with trachoma
۲. dendritic ulcer
۳. legophthalmic ulcer
۴. ulcer due to vit A deficiency
۵. neurotropic ulcer produced by injection of alchol

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Allergic ulcer III

۱. Phylectenular ulcer
۲. degenrative ulcer
۳. atheramatius ulcer occurring in old leucoma
۴. moorens ulcer

په عمومي ډول هغه قرحي چې د قرنيې په منځني برخه کښې پيدا کېږي معمولا exogenous منشا لري چې کېداي شي بکتريايي ، وايروسي ، اوفنګسي وي او هغه قرحي چې د قرنيې په محيطي برخه کښې وي معمولا endogenous منشه لري چې سبب يې توکسيک مواد او الرجي وي٠

Corneal ulcer or Suporative Keratitis

## Corncal uleer or Suporative Keratitis

تعريف: دقرنيي ديوي برخي له منځه تلل دانتان له کبله منځ ته راځي ، چې يوه زيږه ساحه منځ ته راوړي په نارمل حالت کې هيڅ اورګانيزم دقرنيي epithelium نشي سوري کولاي پرته ل gonococcous او Diphteria

### هغه شرايط ، چې ulcer منځ ته راوړي.

۱- هغه ترضيض ، چې دقرنيي اپيتليم ته رسيدلي وي.

۲-غير صحي حالات داپتيليم لکه glaucoma کې ، چې اپتيليم ازيمائي کېږي او يا په Keratomalacia کې پس له دي دغه دوه پورتني حالت دانتان په واسطه تعقيب کېږي چې انتان دباندي راغلي وي او يا هم دمنظمه او يا دنورو ځخه او هم کله ، چې مداخله وکړي نو دقرنيي له شاوخوا کې نيکروتيک منځ ته راځي او دغه نيکروزس برخه لري کېږي او بالاخره قرحه جوړيږي دقرنيي قرحه دري سيره غوره کوي.

- که چېري دانساجو کېښني مقاومت کافي وي نو قرحه موضعي پاته کېږي او بالاخره ښه کېږي.
- قرحه نورهم دقرنيي په انساجو کې ننوځي او بالاخره قرنيه سوري کېږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- قرحه خپرېږي او د قرنيې ټول ضخامت خرابېږي يا له منځه ځي چې دا د Sloughing قرحي په نوم يادېږي.

## د قرنيي موضعي قرحه:

### اعراض:

درد درد دلمر سره دمخامخ کېدو او د حسي اعصابو دنهاياتو دتخريش له انله پيدا کېږي اوښکې بهيدل د حسي اعصابو دتنبيه کېدو له امله پيدا کېږي.

Photophobia د نور سره د نه زغم له کبله پيدا کېږي.

سر درد او bluring of Vision

### علايم

۱- په زياته اندازه blepharospasm

۲- ضخيم او زيږ رنګه سپينه ساحه په قرنيه کس ليدل کېږي.

۳- د قرنيي مکدر کېدل د Leucocyte انفلتريشن له کبله.

۴- Cillary Congestion with conjunctiva hypermia

۵- د قرنيي د قرحي څخه داوبو تلل mucopurulent discharge سره نه دي.

۶- عدسيه خاورين رنګ لري او pupil وړوکې ښکاري.

۷- Hypopyon کېداي شي موجود وي.

۸- اوعيي کېداي شي Encreach شوي وي د قرنيي څخه تر limbus پوري.

### د قرنيي د قرحي تشخيصي criteria

۱- Watering and pain

۲- Cillary congestion and gernerlized conjunctival hypermia

۳- په قرنيه کې ديوي نقطي موجوديت چې شاوخوا مکدر وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تفريقي تشخيص:

| Corneal Uleer | Keratitis | Leucoma | |
|---|---|---|---|
| Nil | Persen | Present | Pain watering |
| Nil | Persen | Present | Ciliary congestion |
| No stain and Windows Reflex Raw area | Stain with Flurocin and Windows reflex | Stian with Flurocin and Windows reflex | White area in cornea |

## دقرنيي دقرحي اختلاطات

۱- ثانوي glaucoma چې fibrin exudation له کبله په قدامي chamber کې منځ ته راځي او زاويه بند دي.

۲- دقرنيي خيري کېدل.

۳- دخپل شاوخوا انساجو سره دقرنيي مکدرکېدل.

## تداوي

### ۱- موضعي تداوي:

- دانتان کنترول دانتي بيوتيک استعمال وروسته دکلچر او antibiogram څخه
- سترګي ته استراحت ورکول
- اتروپين مرهم استعمال دورځي دوه ځلي ، چې د ciliary عضلات فلج کوي
- تور عينکې يا سوري ، چې سترګه دمخرشي مادي او نور څخه وژغوري او سترګه هيڅ کله بنداژ نه شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- درد د ارامولو لپاره انالجيزيک استعمال دخولي دلاري او گرم compress استعمال په واسطه
- دمنتن ساحي لري کول دشاوخوا انساجو څخه

## II – عمومي تداوي

- دعضويت دمقاومت لوړوالي
- دخولي له لاري دويتامين A او C اخستل

دقرحي په تداوي کې دي لاندي دواگاني استعمال نه شي

- Steroids
- Cocain قطري استعمال نه شي
- سترگه بنداژ نه شي

## دقرنيي دقرحي داختلاطات تداوي

۱- دثانوي Glucoma تداوي لپاره diamax استعمال دخولي دلاري او ضرور وي Paracethesis وشي.

۲- Discemetocele دتداوي لپاره کله ، چې دسوري کېدو خطر موجود وي Paracenthesis او Pad او بنداژ بايد استعمال شي.

۳- که چېرته د iris Prolaps سره تشقب يا Perforation پيدا شوي وي Pad اوبنداژ ژر بايد استعمال شي.

۴- که چېرته قرحه مکدره شوي وي او د lens يوه زياته اندازه برخه ئي هم نيولي وي همدارنگه lens هم مصاب شوي وي نو pad بنداژ او Antibiotic بايد استعمال شي او همدارنگه که donor موجود وي Keratoplasy استطباب لري.

## Leucoma

تعريف: دقرنيي دمکدر کېدو څخه عبارت ده ، چې lecoma ئي دټولو نه مکدر شکل وي ، leucoma ساحه کېداي شي ، چې وړه او يا ټوله قرنيه ونيسي،

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوکوما کېداي شي اوعيي ولري او کېداي شي ، چې brown pigment پـه کې موجود وي مخصوصاً کله چې Iris ورسره التصاق کړي وي.

او بود سير لرونکې لوکوما کېداي شي په degenerative ulcer باندي بدل شي ، چې atheromatos قرحي په نوم يادېږي.

## هغه ميکانيزمونه ، چې دهغي په واسطه کثافت منځ ته راځي عبارت دي له

۱- دقرنيي جوړه شوي قرحه ډير عام دي.

۲- جوړ شوي Keratitis

۳-دقرنيي ځيري کوونکې جروحات

۴- دقرنيي عملياتي جرحه

۵-اجنبي اجسام ، چې قرنيه متضرره کړي.

۶- Corneal dystrophy

هر هغه جرحه چې Substeneia propria متضرره کوي او له جوړيدو وروسته يو opacity پريږدي.

هغه تغيرات ، چې امکان لري دقرنيي په Opicity کې منځ ته راشي.

۱- د opacity دمنځه تلل

۲- Pigmentry change

۳- Reduction of sensitivity

۴- Degerative changes

## Lecoma اعراض (Pigmentry)

۱- که چېرته لوکوما د Papilary ساحي نه لري واقع وي هيڅ اعراض نه ليدل کېږي.

۲- دليدو تشوش که چېري Papilary ساحه کې موجود وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تداوي:

۱- که چېرته لوکوما وړه وي او دید کوم تشوش ئي نه وي ورکړي نو تداوي نه ضرورت نلري.

۲- Cosmatic treatement

۳- local Anasthesia( Xylocain ۴٪ drops ) د Cataract Knife په واسطه د leocoma اپتیلیم لري کېږي.

۴- د۲٪ Gold chloride یا ۲٪ Platinum chloride او hydrazine hydrate .

۵- اضافي کېمیاوي مواد منځل کېږي او اتروپین او انتي بیوتیک په سترګې باندي وهل کېږي او د ۴۸ ساعتو وروسته سترګه بنداژ کېږي.

۶- دغه توره ساحه تر دوه کلو پوري دوام کوي او که چېري Vaseularzation په لوکوما کې موجود وي. نو دغه توره ساحه په لږ وخت کې سپینیږي.

۷- که چېرته لوکوما داسي موقعیت ولري ، چې دید متضرر کړي نو تاوي ئي ضروري ده ترڅو پوري دید نومال شي او ددي لپاره لاندي دوه طریقې استعمالیږي.

- Keratoplasty یا Corneal raph دا یوه بهترینه طریقه ده ، چې ددي په واسطه سپینه ساحه لري کېږي او په ځاي ئي د donor صفا قرنیه اچول کېږي
- Optical irridectomy

## Adherent leucoma

تعریف دلوکوما سره د iris التصاق څخه عبارت ده ، چې brown pigment, قدامي خونه دالتصاق په شاوخوا کې لیدل کېږي.

- Perforated Corneal ulcer
- Perforated Corneal injury
- عملیاتي ندبه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اختلاطات:

د Leucoma پشان تداوي لري همدارنګه کېداي شي Syneechtomy اجرا شي.

## Hypopyone Uleer of Cornea or Serpens uleer

دا زياتره په هغو خلکو کې، چې عمر ئي زيات، ضعيف او الکوليک وي ليدل کېږي

## سببي عامل:

۱- زياتره وخت Pneumococcous له کبله منځ ته راځي، چې منبع ئي associated chronic daeryocystitis دي.

۲- Pseudomonas pyognic

۳- Strephylo Coccous

۴- Streptoeoccous

۵- Gonococous

۶- Morax axenfeld diplo bacill

## کلنيکي اعراض

۱- Pain in the eye and eyebrow

۲- Photophobia

۳- lacrimation

۴- bluring of vision

۵- Headache

## کلنيکي علايم

۱- خاکې سپين کوچني dise مانند ه قرحات د قرنيې مرکزي برخه ته نژدې ليدل کېږي.

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- قرحات يو طرف انتشار كوي ، چې هلالي ځنډي لري او څه وخت وروسته ئي انتشار كميږي او بل طرف ته انتشار كوي.

۳- له شديد Iritis سره ملګري وي او همدارنګه Hypopyon ساختمان منځ ته راځي.

۴- بارز Cilliary احتقان ليدل كېږي.

۵- Lid پړسوب هم كېږي.

## نوټ:

هريوه قرحه كېداي شي د hypopyon سره ملګري وي مګر د قرنيې قرحه ، چې hypopyon ولري مساوي نده دغه قرحه په اولو وختو كې ، د قرنيې سوري كېدلو ته ميلان لري او sccondary glocoma خوا ته پرمختګ كړي.

## اختلاطات:

- Perforation
- Secondary glaucoma
- Corneal fistula

## تداوي:

- Atropin ۱٪ دورځې دري ځلي
- Anibiotic
- Analgisic

Secondary glocoma د تداوي لپاره tab diamox دورځې دري ځلي وركړي شي كه چېرته lacrimal sac بند شوي وي كېسې ته pencillin محلول بايد داخل شي او ومينځل شي.

## Mycotic Uleer

دا قرحه دفنګسي انتاناتو په سير كې منځ ته راځي هغه انتانات ، چې د دري قرحې سبب كېږي عبارت دي له

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- Aspergillus fumgatous
- Candida Albieans
- Strptothrix actinemyosis

## دانتان د سرایت لاري

ملوثي خاوري او نباتات د فنګسي امراضو زیاتوالي او هم دانتي بیوتیکې او ستروید زیات استعمال له کبله زیات شوېدي.

## کلنیکي علایم

- وچ ګرد زیړ رنګه dise د قرنیې په سر لیدل کېږي
- Hypopyon جوړیدل
- Ciliary congestion
- هغه مواد ، چې د نوموړي قرحې څخه اخستل شوي فنګس په کې موجود وي اعراض ئي د قرنیې د قرحې پشان اعراض ورکوي.

## تداوي

۱- ۵٪ natamyen یا Nystatin موضعي استعمال یو یو ساعت وروسته
۲- mg ۲۰۰-۴۰۰ Ketoconazole دورځې د خولې دلاري
۳- ٪۱۵ Amphtracin B دورځې دري ځله موضعي استعمال
۴- ۱٪ Atropin موضعي دورځې دري ځله

## جراحي تداوي

۱- Curetage
۲- Conjunctival flap
۳- Penertrating Keratoplasty

نوټ Corticosteriod په ټولو حلاتو کې مضاد استطباب لري

## Marginal Coroneal Uleer

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا قرحي عموماً په هغو خلکو کې زياتي ليدل کېږي ، چې زاړه او gout ناروغي ولري يا کمزوري کوونکې ناروغي ولري همدارنګه په acute mucopurulent conjunctivitis کې د اختلاط په ډول ليدل کېږي.

## سببي عامل:

عموماً Koch week bacil له کبله منځ ته راځي مګر په بعضي حالاتو کې د Morax Axonfil diplobacil له کبله هم منځته راځي.

## Predisposing factors

- Polyarteritis nodasa
- S.L.E
- Wingers granulomatosis
- Mucopurlent conjunctivitis

## کلنيکي علايم

۱- قرحه د قرنيي په سر limbus ته نژدي واقع دي.
۲- د قرنيي Vascularization په زياتو حالاتو کې ليدل کېږي.
۳- قرحه متعدد او د قرنيي infiltration ورسره ليدل کېږي.
۴- قرحه کېداي شي ډير ژر جوړ شي مګر ډير عود relapse په کې امکان لري.

په شديدو حالاتو کې کېداي شي قرحه limbus شاوخوا اشغال کړي.
او يو Ring uleer منځ ته راوړي ، چې قرنييه ورسره په مکمل ډول neerosi کوي اعراض ئي دنورو قرحو پشان دي.

## تداوي:

- Antibiotic eye Drops
- Silver nitrate ۱٪
- Steriod drop or ointment
- Septic focus د منځه وړل

## Dendritic Corneal Ulcer

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
دیو منشعب ulcer څخه عبارت دي ،چې Herps simplex له کبله منځ ته راځي.

## اسباب:

۱- په هر سن کې پیدا کېږي.
۲- عموماً یو طرفه دي.
۳- مساعد کوونکې فکتورونه Malaria , inflenzua , Pneumonia

## کلنیکي علایم

- نـري Corneal nerves عصـب دنهایـاتو پـه epithelial تـه راځـي او زر rapture کوي
- دغه ساحي د flurosein په واسطه تلوین کېږي.
- Vessels ډیر زر چوي او ستوري ډوله ساختمان غوره کوي.
- هغه اپیتیلیل ، چې bowmen غشا سره وصل دي په ulcer بدلیږي.
- دقرنیي حسي وظیفه دمنځه ځي ، چې د مالوچو په واسطه معالومیدلاي شي.
- Cilliary Congestion او lacrimation

## اعراض:

۱- Pain
۲- Photophobia
۳-Laacrimation

که چېري تداوي نشي نو تر میاشتو پوري ئي اعراض او علایم باقي پاتي کېږي او دقرنیي Stroma ته سرایت کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
خومره ، چې حیثیت ئي دلاسه ورکړي وي په هماغه اندازه وروسته قرحه جوړیږي زیاتره وخت تالي انتانات مداخله کوي بعضي وخت iritis هم منح ته راځي ، چې نذفي وي.

## تداوي:

۱- دقرحي شاوخوا اپتیل پاکول دایودین الکولیک محلول او پوتاشیم ایو داید په واسطه دغه عملیه دیو پاک ډکي په واسطه سرته رسوي.

۲- پس د پورته عملیي څخه وروسته ۴٪ Cacain HCI محلول وربانديي اچول کېږي تر خو ایوډین fix شي.

۳- د Atropine او Chloromycitin ملهم استعمال.

۴- متاثره سترګه دي بنداژ شي.

۵- Cryotherapy په شدیدو حالاتو کې ورڅخه کار اخستل کېږي.

## نوي تداوي:

(I.D.U) Doxy uridin۱٪ Iodo۲- ۵ محلول هر یو ساعت وروسته دورځي او هر دوه ساعته وروسته راشي او ۵٪ ، محلول ملهم ئي شپي له خواد ۷ ورځو لپاره استعمالیږي دغه دوا شاوخوا انساجو هیڅ راز مضره اثرات نه لري.

## Lagophthalmic ulcer

دا قرحه هغه وخت منځ ته راځي کله چې زیزمه دخوب په وخت بنده نشي او دزیزمي دنه بندیدو علتونه عبارت دي له

۱- شدیده ناروغي ،چې دکوما سبب شوي وي.

۲- په facial Palsy کې د Orbicular عضلي فلج کېدل

۳- Protrusion forward of the eyeballs in proptosis

۴-دزیزمي کش کېدل دکومي جرحي له کبله

## تداوي:

۱- دنورو قرحو په شان تداوي کېږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- دجراحي عمليات زيزمي په سر اجرا کېږي لکه Tarsoorhophy تر څو ، چې قرنيه پوښ شي.

## Neurothropic Ulcer

دقرنيې دحسي اعصابو دخرابيدو په وجه منځ ته راځي دحسي اعصابو د خرابوالي عوامل عبارت دي له

- دالکول زرق کول په Gasslrian Ganglion کې د Trigiminal Neurolgia د تداوي لپاره
- تومور ، چې په Gassiran ganglion باندي فشار واردوي.

## کلنيکې منظره:

۱- دقرنيي اپيتليل ازيما چې دقرحي سبب گرځي

۲- Ciliary Congession

۳- دقرنيي مکمل حثيت دمنځه تلل.

۴- درد او Iacrimation موجود نه وي.

## تداوي:

Tarsorrhaphy تر هغه وخته وشي ترڅو چې تکليف شفاياب شي.

## Phlyctenular Keratitis

## اسباب

عمر معمولاً په ماشومانو کې ليدل کېږي.

سببي عامل دقرنيي الرژيک عکس العمل د endogenous توکسينونو په مقابل کې کوم چې بکتريائي منشا ولري لکه T.B

## پتالوژي:

موضعي lymphatic infiltration په قرنيه کس ليدل کېږي کله چې rapture وركړي نو قرحه منځ ته راځي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## علایم

- سپین رنګه قرحه یا نو ډول د قرنیې په هره برخه کې پیدا کېدای شي مګر عموماً limbus ته نژدې واقع کېږي.
- Ciliary congestion او lacrimation لیدل کېدای شي.
- شدید blepharospasm لیدل کېږي

## اعراض

درد ، اوبه کول او Photophobia معمولاً اعراض دي.

د قرنیې Phlyctenular اخته کېدل لاندې اختلاطات ورکوي.

۱- Phlyctenular ulcer هغه وخت منځ ته راځي کله ،چې نوډولر infiltration موجود وي

۲- Phlyctenular ulcer هغه وخت منځ ته راځي ، چې نو ډول وچوي.

۳- Fasieular ulcer

۴- Phlyctenular Pannus کله ، چې قرنیه کې دهري خوا اوعیې جوړ شي پدې نامه یادیږي.

## اختلاطات:

تالي انتانات او Perforation ئې د اختلاطاتو څخه عبارت دي.

## موضعي تداوي:

۱- اتروپین مرهم ۱٪ دورځې دوه ځلې.

۲- Hydrocortison acetate سلوشن هر دوه ساعته وروسته یو څاڅکې.

۳- وسیع الساحه انتي بوتیک استعمال

۴- توري عنیکې استعمالول

## عمومي تداوي:

۱- Anti histamine استعمال

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- حفظ الصحي مراعت کول

۳- دانتاني محراق تداوي کول لکه T.B

## Atheromatous Ulcer

يو ډول قرحه ده ، چې پخواني لوکوماتاريخچه دلرې ناروغانو کې منځ ته راځي او degenerative تغيرات په کې موجود وي او هغه ندبه ، چې اپتيليم سره يو ځاي وي مقاومت ئي ډير کمزوري وي. ځکه اروا ئي ډيره خرابه او اساني سره منتن کېدو چانس لري قرحه د تداوي سره مقاومت ښيي چې انتخابي تداوي ئي Keratoplasty ده.

## Moorens Ulcer

## اسباب:

عمر معمولاً په زړو خلکو کې ليدل کېږي.

او هم زياتره واقعاتو کې علت ئي معلوم ندي.

## کلنيکي اعراض او علايم

۱- سطحي قرحه په اطرافو کې ليدل کېږي.

۲- په تدريج سره ټولي قرنيي ته سرايت کوي.

۳- په پرمختللي اشکالو کې قرحه داپتيليم او Stroma سطحي طبقات مصابوي
.

۴- دقرحي قاعده ډير ژر شبکوي کېږي داوعيبو شبکه

۵- شديد عصبي درد Photophobia , lacrimation موجود وي.

دا قرحه هيڅ کله قرنيه نه سوري کوي.

## تداوي:

۱- اطميناني تداوي نلري.

۲- قرحه کېداي شي therocutery Conjuncteoplasty په واسطه وسوځل شي.

۳- Barium irrdation هم توصيه کېږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Keratitis

تعریف دقرنیې دانساجو التهاب څخه عبارت دي ،چې دقرحی سره یو ځاي وي اویا هم یو ځاي نه وي.

## پتالوژي:

دقرنیې په انساجو کې دالتهابي حجراتو odema , infiltration او necrosis دقرنیې په lamella او په اخره کې fibrotic نسج تشکېل په leucoma منجر کېږي.

## د Keratitis ډولونه:

۱- Superfacial چې epithelium او د Stroma سطحي طبقات ئي نیولي وي.

۲- Deep چې د Stroma ژوري طبقې ئي نیولي وي.

## Superfacial Keratitis

### Superfacial Punctate Keratitis

### اسباب:

### ۱- وایروسي انتانات لکه

Mumps virus Herpes simplex , Herpes Zoster , Adeno virus, Measls virus

۲- دزیږمي وایروسي انتانات لکه Warts, Molluseum contagisum

۳-د ultraviolet شعاعو سره مخامخ کېدل

۴-Kerato conjunctivitis په زړو خلکو کې معمول دي.

## اعراض

- شدیدي discomfort
- Severe lacrimation
- Severe Photophobia
- Severe blepharospasm

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## علایم

- Punctate erosion لیدل کېږي
- Ciliary Congastion لیدل کېږي
- د Pre uaricalr gland غټیدل مخصوصاً د adino virus په انتان کې

## اختلاطات:

که ژر تداوي شي نو افت نښه کېږي او که تداوي وځنډېږي شي نو مرض Stroma ته سرایت کوي ، چې Punctate Corneal opacity ورڅخه پاتي کېږي.

## تداوي یا درملنه:

- ١٪ atropin sulphate ملهم دورځي دوه ځلي.
- Chlormycitin مرهم دورځي دوه ځلي.
- سیستمیک تداوي د Kerato conjunctivitis seca په موجودیت کې
- که افت ultra violet له کبله ١٪ cortison محلول سترګه کې اچول کېږي.

## Herps Zooster Ophthalmicus

اکېداي شي epidemic یا Symptomatic شکل باندي واقع شي.

Epademic شکل ئي

## اسباب:

عمر: په زړو خلکو کې پیدا کېږي ، چې کمه اندازه عمر ۴۰ کلني ده.

جنس: په دواړو جنسونو کې مساوي اندازه سره پیدا کېږي.

سببي عامل ئي یو وایروس ، چې د Cheakin pox ته ورته دي.

## د مرض د انتقال میکانیزم

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وایروس په واسطه مصابیږي Gasserin ganglion پرسوب او ganglion د lymphocite infiltration په کې منځ ته راځي او پس لدي وایروس د پنځم زوج په واسطه ، چې Supraorbital او Supra trochlear برخي داعصابو خرابوي سترګي هغه وخت مصابیږي چې Nasocillary nerve مصاب او وایروس سترګي ته انتقال شي.

## اعراض او علایم

- Herps nurologic pain په First division د پنځم عصب په سیر انتقال کوي ،چې کېداي شي دا دردونه شدیدي وي تبه او ضعیفي هم ورسره امکان لري موجود وي.
- دي څخه ۲-۳ ورحي وروسته Visicles په تندي او سر په پوستکې تشکل کوي.
- Vesicles تقیحي کېږي او پس د څه مودي په Crust بدلیږي او crust بلاخره ندبي نسج په خپل ځاي پریږدي.

## د سترګو علایم

په نیمائي واقعاتو کې سترګي هم مصاب کېږي او علایم ئي په لاندي ډول دي.

۱- دزیږمو ازیما

۲- دکنجیکتیوا احتقاق

۳- په قرنیي کې لاندي تغیرات لیدل کېږي

- Punctate Keratitis چې کېداي شي په قرحه بدل شي او یا تالي انتان پکې مداخله وکړي.
- Deep Punctate Keratitis چه دي ته Keratitis Profonda هم وائي
- دقرنیي حثیت دمنځه تلل

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- iritis هم موجود وي ، چې کېداي شي heamorrhgic وي او يا هم نه وي.

۵- په Selera باندي کېداي شي نو ډول موجود وي.

۶- ځيني وخت دريم ، شپږم ،او اووم عصب فلج هم ليدل کېږي.

**دوام:** تخريش مرحله تر دري اووني پوري دوام کوي او پس له هغه پوستکې ئي حسه کېږي او عصبي دردونه تر مياشتو پوري دوام کوي.

## Symptomatic II شکل ئي

د apademic شکل سره ورته افت ورکوي مګر gasserin ganglion مصاب کېدل د خبثيت دودي Commatous meningitis , arsenic poisoning له کبله وي.

## تداوي يا درملنه

۱- انتي بيوتيک ملهمونه دافت په ځاي کې

۲- دعصبي دردونو دخاموش کولو لپاره انالجيزيک لکه ergotamine او Pitutrin توصيه کېږي مګر کله کله ځواب نه وائي.

۳- Herps انتان Vesicles څخه مايع اخستل کېږي او د autovaccine په بڼه په اووني کې دوه ځله توصيه کېږي.

۴- موضيعي ملهمونه او ۱٪ atropin هغه وخت نوصيه کېږي ، چې قرنيه ئي مصاب کړي وي.

دموضعي corticosteroid په واسطه uvitis بڼه تداوي کېږي.

## لاندي اقسام لري.

۱- interstitial Kerat

۲- Seleosing keratitis

۳- Dise form Keratitis

۴- intra corneal abscess

## Interstatial Keratitis

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا متصف دي په حجروي ارتشاح ، چې په عميقه طبقاتو دقرنيه کې ليدل کېږي او Vaseularization باندي ختميږي.

## اسباب:

- Congenital or acquired syphilis
- Tuberclosis
- Leprosy

هغه interstitial Keratitis ، چې ولادي سفليس له کبله منځ ته راځي.
دا ډول Keratitis ډير عام دي.

## اسباب:

- عمر: ۵-۱۵ کلني په منځ کې ليدل کېږي
- معمولاً دواړه سترګي مصابوي
- دا Keratitis معمولاً الرژيک بڼه لري او Spirochets هيڅ کله ندي تجريد شوي. دغه الرژي دقرنيې فرط حساسيت څخه عبارت دي Keratitis کيدای شي سطحي جروحانو په واسطه تنبه شي لکه دقرنيې باندي اجنبي اجسام دا يا د Cataract Congenital لپاره dissection عمليات په واسطه هم تنبه کېږي.

# اعراض

## درد:

په دواړه سترګو کې حس کېږي ، چې Photophobia او lacrimation سره ملګري دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دید ضیاع

## علایم

عمومي علایم

- Hutchison teeth
- Forntal واضح تبارز کېدل او Depress Nasal bridges
- Cervieal غدواتو غټوالي

## موضعي علایم

- Marked blepharospasm
- Cillary Congestion
- دقرنيي عميقه Vascularization منځ ته راځي

دغه ټول تغیرات ۲-۳ میاشنو موده کې منځ ته راځي

## دناروغي سیر

کله ، چې مرض خپل اوج ته رسیږي قرنیه په تدریجي ډول اطراف څخه د مرکز خوانه سپینه کېږي او کېداي شي ډېر وخت دپاره مکدره پاتي شي او بالاخره ښه کېږي مګر کله. چې زیات شدید وي ډېر وخت لپاره دوام کوي د ویني رګونه نري سور رنګه خطونو په څیر باقي پاتي کېږي ، قرنیه هیڅ کله نه تقیح کېږي.

## پتالوژي:

په قرنیه کې واضح لمفوسایت ارتشاح او ازیما لیدل کېږي ، چې په دواړو endotheliam او epitheliam کې لیدل کېږي ارتشاح چې د عمیق Vascularization سره ملګري وي چې روپسي د lamin د necrosis منځ ته راځي

.

## تداوي یا درملنه

۱- عمومي تداوي د antisyphlytic دواګانو استعمال دلوړ دوز Pencillin سره

۲- موضعي تداوي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ۱٪ Atropin ملهمونه دورځي دوه ځلي استعمالیږي.
- ۱٪ Hydrocortisone acetate څاڅکي د ورځي دوه ځلي اچول کېږي.

## Interstatial keratitis due to T.B

انتان یو طرفه دي او افت د قرنیي دیوي برخي مربوط وي او تر اعراض او علایم د Syphlitic پشان وي.

## Discform Keratitis

عموماً په کاهلانو کې لیدل کېږي او سببي عامل ئي herps simplex وایروس دي پدي حالانو کې د قرنیي په مرکزي برخه کې رنګه سپین dise شکله کثافت ، چې عمیقه طبقات متاثره کوي لیدل کېږي ، همدارنګه د قرنیي په stroma کې پړسوب لیدل کېږي ، چې پدي ډول د قرنیي ضخامت زیاتیږي.

## اعراض او علایم

درد او اوبه کول Ciliary Congestion او واضح د دید کموالي موجود وي همدارنګه کېداي شي ، چې د قرنیي حسیت په واضح ډول کم شي.

## پتالوژي

سببي پتالوژي Corneal lamella واضح پړسوب دي ، چې کتلوي نکروزیز سره یو ځاي وي.

## تداوي یا درملنه

ډیر دډاډ وړ ندي اتروپین ۱فیصده مرهم دورځي دوه ځلي او ۱٪ IDU قطري هر یو ساعت پس کېداي شي موثر تمام شي.

هغه افتونه ، چې ایزوس په واسطه په قرنیه کې منځ ته راځي عبارت دي له

۱- Superfacial punctuate Keratitis

۲- Dendritic ulcer

۳- Diciferon Keratitis

۴- Punctate Keratitis by herps Zoster Virus

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Keratitis Profunda

يو عميقه Keratitis ، چې په کاهلانو کې واقع کېږي او عموماً يو سترګه متاثره کوي ورسره ضميموي uvitis هم موجود وي اصلي سبب ئي معلوم ندي او دغه حالت ۳-۴ اونيو پوري بهبودي مومي

تداوي ئي interstitial په څير ده Keratitis معمولاً علايم په کې موجود دي.

## Degncrative Changes in the Cornea

۱- Areus senilis

دا په زړو اشخاصو کې کېږي پدي حالت کې يو خاکې ډوله سپينه حلقوي کرښه په قرنيه کې ليدل کېږي ، چې د limbus په ساحه کې غلظت پيدا کول د قرنيې يوه واضحه ساحه د limbus په برخه کې پاتي کېږي سبب ئي د قرنيې شحمي استحاله ده.

پدي ډول ، چې شحمي ځاځکې په اساسي ډول په Substantia Propria کې ځاي په ځاي کېږي.

۲- Band Shape degenration

د استحالوي تغير معمولاً د اوږود او دوامداره uvitis سره يو ځاي وي دغه افت د يو band shaped opacity په ډول تظاهر کوي ، چې په هغه intra Palpebral fissure کې په افقي ډول واقع کېږي چې د قرنيې په ټول امتداد غزيدل وي دهستولوژي له نظره دلته lime salts او hyaline tissue ځاي په ځاي کېږي.

چې کېداي شي د bowmen membrane په داخله يا هغه لاندي وي.

## Corneal dystrophies

### Endothelial dystrophies of fuchs

دا په زړو خلکو کې پيدا کېږي ، استتحالوي تغيرات په endotheliam کې منځ ته راځي چې Corneal opacity په واسطه تعقيبيږي.

## Hereditary dystrophy

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

معمولاً د قرنيي مرکزي برخه متاثره کول او کېداي شي د شکل له نظره ټول فاميلي او ارثـي منشـاء لـري nodular and granular وي او انتخـابي تـداوي ئـي Keratophasty څخه عبارت دي.

## Conical cornea (Kerato conus)

د قرنيي دلاري ضعيفي له امله منځ ته راځي او قرنيه په کې د کون يا قيف پـه څير شکل غوره کـوي معمـولاً نجونـو کـې د بلوغ څخـه وروسته ښکاره کېږي د ديد خرابوالي پدي کې منځ ته راځي. چې علت ئي د قرنيي bulging لـه کبلـه د سترګي مرکـزي برخي myopic ګرځيـدلي وي کلـه کلـه د شـرياني نبضـان سـره هـم زمـان ښضان کوي او ددي باعث کېږي.چې اجسام درپيدو پـه حال وګوري د غـه حادثـه دعادي عينکو په واسطۀ نه شي اصلاح کېداي البته Cantact lens په واضح ډول ديد کې بهبود راولي.

## Megalo Cornea (Keratoglubus)

په دي حالت کې دقرنيي قطر د نورمال حالت څخه غټيږي ځرنګه چې عادي حالت کې د غه قطر ۱۲-۱۳ ملي متره پوري دي نو پدي حالت کې دا قطر د ۱۲ ملـي متـر تـه رسيږي مګر قرنيه پاکه پاتي کېږي او نه مکدر کېږي.

Intraocular tension کې زيـاتوالي منـځ تـه راځـي او optic dise نورمـال پـاتي کېږي د غه حالت فاميلي او ارثي منشا لري او په نارينه کې دو طرفه واقع کېږي.

## Pegmentation of the Cornea

### Argyrosis

پـه قرنيـه کـې dark brown رنـګ مـنځ تـه راځـي چـې دوامـداره ډول دفقـري مستحضرانو لـه کبله لکه Argyrol , silver nitrate استعمال لـه کبلـه منـځ تـه راځي.

Golden brown رنګ په قرنيه کې د يو حلقي په ډول چې Kayser fisher ring په نامه يادېږي منځ ته راځي دا حالت د hepatocelular استحالي په حالت کې ليدل کېږي پدي حالت کې deseemen غشا متاثره کېږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د قرنيې blood staining

د شديدې hyphema او د I.O.P سره يوځاي کېدل.

Melanin صباغ ځاي په ځاي کېدل معمولاً په لوړه myopia او diabetus کې د قرنيې د خلفي سطحې کې د ميلانين صباغ ځاي په ځاي کېږي.

## Tumours of the Cornea

د قرنيې د dermoid تومورونو په استثنا نور تومورونه لکه Papiloma, epitheloma, melanoma or د limbus څخه دا انتشار له امله منځ ته راځي چې epitheloma ، bowmens intra هم پکې شامله ده اګر که ډېره نادره ده.

## Anterior Chamber

د قدامي خونې د مرکزي برخې نارمل اوږدوالې ۲.۵-۳ mm ملی متر.

د قدامي خونې په خارجي محيطي برخه کې او د Schlemm کانال په داخل طرف کې يو سست network د انساجو موقعيت لري.

چې تر desemet membrane او تر Corneal endothelial پورې دوام کوي د network تر منځ مسافات موجود وي چې د Fontana مسافاتو په نامه يادېږي Canal of sechlimm دا يو دايروي sinus دي چې په نارمل ډول د aqeous humaur لرونکې دي چې د سکلرا په منځ کې او د trabecula څخه د باندې موقعيت لري.

Aqeuaous viens دا يو تعداد مرسله چېنلونه efferent chanels دي. چې schelimm کانال څخه راوځي. چې په نارمل حالت کې aqueous انتقال او په scleral, inter يا episcleral وريدې ذخيره کې ئي تخليه کوي.

## Scleral spur

دا يو دايروي او متراکمه برخه sclera ده. چې د schelmm د کانال خلفي انسي ته واقع دي او Cilliary muscle څخه سرچېنه اخلي.

## Cilliary muscle

چې د scleral spur څخه منشا اخلي او په Choroid باندې ختمېږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Posteior Chamber

دا یو زاویي مسافه ده چې قدام ته ئي Iris او خلف ته عدسیه واقع ده د Posterior Chamber، سرحدات عبارت دي له

## قدام ته Iris

خلف ته عدسیه او suspensary رابطي موقعیت لري.

Ciliary body دواړه خواووکې واقع دي.

## Aqueous Humour

په نارمل ډول قدامي او خلفي چمبرونه دیو مایع څخه ډک دي Aqueous humour په نامه یادیږي.

## د A.Humour طبیعت

دا مایع په کمه اندازه القلي ، اوبیزه مایع دي چې کثافت ئي د اوبو څخه لږ زیات دي . چې په قدامي چمبر کې ئي حجم تقریباً ۲۵ cc ،. په داسي حال کې چې په خلفي چمبر کې تقریباً ۰،٦ cc ته رسیږي.

## Aqueous Humour اجزا

دا تقریباً په زیاته اندازه د اوبو او په کمه اندازه د پلازما د ټولو نفوذیه موادو څخه متشکله ده. چې د پروتین اندازه ئي دومره د پام وړ نده بلکه د سودیم او ویټامین سي غلظت ئي د پلازما په نسبت زیات د ي

## Aq. Hmour منشا

ددي مایع مهمه منشه د Cilliary استطالو د Ciliary body څخه په کمه اندازه د iris د اوعیو څخه منشا اخلي.

## د Aqueous Humour د جوړیدو میکانیزم

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پوره ډول ددي ميکانيزم معلوم ندي مګر اوس داسي نظريه موجوده ده چې دا مايع په قسمي ډول دشعريه اوعيو دجدارونود ultrafiltration په نتيجه کې منځ ته راځي لکه دفشار لاندي فلتريشن او په قسمي توګه د Ciliary استطالو دافرازاتو په نتيجه کې منځ ته راځي خو پدي کې دا ستطالاتو ميکانيزم ډير مهم دي ددي ميکانيزم ځخه څرګندېږي. چې ددي مايع د سوديم او ويټامين سي اندازه لوړه دي

**وظايف**: ددي مايع وظيفه د avascular اجسامو فضوله موادو داطراح وظيفه په غاړه لري او هم قدامي چمبر humour مايع درڼا دشعاعو انعکاس کېدونکې برخه اخلي خوتر ټولو مهمه وظيفه ئي دا ده. چې د intra ocular فشار په ثابت حالت کې ساتي.

## Rate of flow of queous humour

هغه تخنيک چې د queous humour دجريان اندزه پري کېږي اړه لري. د A.humour دجريان سرعت cumm/min ۵-۱ تر منځ نوسان کوي ددي مايع حرکات دوه ډوله دي.

١- Thermal circulation

٢- bulk flow

## Thermal circulation

په نارمل ډول دقرنيي او iris دحرارت درجي ترمنځ تفاوت موجود دي ، چې قرنيه دخارجي هوا په واسطه يخ ساتل کېږي حال دا چې iris داوعيو په واسطه Vascularization کېږي د ويني سره په تماس کې ده او دحرارت درجه ئي نسبتاً لوړه ده.

چې ددي ترمنځ دحرارت درجي تفاوت تقريباً c ۵-۳ پوري رسيږي دحرارت درجي ددي تفاوت په نتيجه کې د قدامي چمبر Aqueous humour مايع داسي Corection current قرار نيولي ،چې ددي سبب کېږي چې يو ثابت جريان ددي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
مایع پورته خوا ته په iris برخه کې او ښکته خواته د قرنیې په برخه کې ثابت ساتي دغه ذکر شوي حرکت د thermal حرکت په نوم یادیږي.

دوهم حرکت ئې Bulk flow ده

ددې مایع حرکت په لاندې طرقو صورت نیسي

## Circulation of aq.humour

لمړې مایع داحدابي جسم څخه منشاً اخلي خلفي چمبر ته ځي او بیا د Pupil دلارې قدامي چمبر ته ځي او د fontanns مسافاتو دلارې چې د قدامي چمبر په زاویه کې په trabiculs قرار لري او efferent چینلونو خوا ته ځي او وروسته schlemm کانال ته ځي او بیا په اخره کې مرسله چنلونه د inter scleral او یا episcleral وریدي ذخیري ته ځي

## دعمیق قدامي چمبر پتالوژیک اسباب

۱- Aphakia

۲- Posterior sub luxation of lens

۳- hypermature cataract

۴- Parially absorbed traumatic cataract

۵- buphthalamous

۶- Keratocnous

۷- high myopia

## د قدامي چمبر اجزا په نارمل حالت کې

یو شفاف مایع د Aq.Homour په نامه لیدل کیږي ددې مایع اجزا تقریباً د پلازما اجزاوو سره ورته والي لري مګر اندازه ئې کمه ده.

غیر نورمال مواد په قدام چمبر کې

۱- Blood (Hyphemia)

۲- pus(hypopyon)

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- foreign body

۴- lens mater

۵- entire lens (dislocation anteriorly)

۶- lens neucleus

۷- Vitrus(due to vitrus loss in cataract oiperation)

۸- Parasitis

۹- air bubles پـه قدامي چمبر کې دهوا داخليدل

۱۰- Iris (tramatic injury)

۱۱- Neoplastric cells (form retinoblastoma)

## Blood Aqueous barrier

دا يوه hypothetical پرده ده. چې دويني او aqueous humour ترمنځ موجوده ده چې داضافي او اجنبي موادو دننوتلو څخه Aq.humour ته ممانعت کوي. چې ددي عملي په واسطه دويني په منځ کې وموادو تبادله بر حال ساتي دا پرده څخه بلکې د دوه طبقو Cilliary apithelium څخه هم بايد تيره شي او پس لدي خلفي چمبر تـه رسيږي. همدارنګه پـه قدامي سطحه د Iris کـې دغـه پـرده يـوازي د Capillary endothelium څخه جوړه شويده پـه خلفي سګمنټ کې دغـه پـرده د retina څخه جوړه شويده.

## Plasmoid Aqeous :

دهغـه aqueous څخـه عبـارت دي چـې د Plasma اجزاووتـه ورتـه والـي لـري مخصوصاً د پلازما پروتين سره

دغـه پـروتين هغـه وخت پـه aqueous humour کـې زيـاتيږي کلـه چـې Blood aqueous barrier شـليدلي وي او يـا صـدمه مونـدلي وي ددي پـردي شـليدل وروسته له Paracenthesis او uveitis کـې صورت نيسي ميخانيکېت ئي پدي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول دي چې نفوذیه قابلیت زیاتیږي نو دویني پروتین aqueous humour ته داخلیږي.

که چېرته دغه پرده په مکمل ډول شلیدلي وي نو د سترګي قدامي چمبر ته وینه داخلیږي.

## اسباب

- Uvietis
- After paracenthesis

## اختلاطات

د Secondary Glucoma څخه عبارت دي.

## تداوي یا درملنه

- د اسبابو تداوي
- موضعي اتروپین ۱٪ دورځي څلور ځله
- Diamox تابلیت ۲۵۰mg دورځي دري ځله

دویني تجمع په قدامي چمبر کې عبارت ده. چې دوه ډوله لري.

۱- Spantenous hyphemia

۲-Traumatic Hyphemia

## Hyphemia

## Spontenous Hyphemia

## اسباب

- Over distesion of vessils
- Fragility of vessals
- Blood derangements
- Methabolic disorder(diabetus, scurvey)
- Vascular tumour

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تداوي يا درملنه

## عمومي تداوي

### داسبابو تداوي

### Traumatic Hyphema

چې Contusion injury of Globe څخه منځ ته راځي.

تشخيص

۱- دجرحي تاريخچه

۲-جرحي علايم يا نښې

۳- دمنضمي احتقان

۴- تحت منضمي نذف

۵- وينه په قدامي چمبرکې

۶- intraocular فشار زياتوالي

## تداوي

- ❖ دبستر استراحت
- ❖ دزخمي سترګې محافظت
- ❖ Mg ۵۰۰ Paracetamol دخولې له لارې دورځې درې ځله
- ❖ Amino Capric acid ۱۰۰ Mg/kg دپنځو ورځو لپاره
- ❖ Atropin۱٪ قطرې دورځې درې ځله
- ❖ ۲۵،۰٪ Timolol موضعي ډول

## اختلاطات

- ❖ Secandary glaucoma
- ❖ Optic Atropy
- ❖ Corneal blood staining
- ❖ Peripheral anterior syneechea



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Hypopyon

په قدامي چمبر کې د pus یا زوي تجمع څخه عبارت ده

### اسباب

- Corneal ulcer
- Infected wound
- Iridocyclitis
- Endophthalmitis

### اختلاطات

- Secondart Glucoma
- Posterior Synechiea
- Prepheral anterior syncechea
- Perforation of corneal ulcer

تداوي: د اسبابو تداوي

## : Nystigmous

تعریف: د سترګي د کري تیز او غیر منظم حرکاتو څخه عبارت دي. چې علت ئي د ocular position د خرابوالي څخه عبارت دي.

### عمومي معلومات:

دغه oscillation یا رپیدل د سترګي غیر ارادي دي او نورمال حرکات نه متاثر کوي.

دغه حرکات عموماً افقي وي مګر د ایروي او Vertical هم کېداي شي دغه حالت همیشه دوه طرفه وي.

### اسباب:

لکه څنګه مو ، چې وویل چې Nystegmus علت Ocular Position کې د خرابوالي څخه عبارت دي نو هغه حالت چې Ocular position متاثر یا متضرر کړي دا حالت منځ ته راوړي لکه sensory Pathwary کې خرابوالي Vestibular

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

apparatus کې خرابوالي motor mechanism کې خرابوالي او نو اسباب ئي په لاندي ډ ،ل دي.

A– Ocular Nystigmus چې سترګه په يو حالت کې نه شي درولي او لاندي اقسام لري.

A– Deviational Nystigumus دا هغه وخت منځ ته راځي چې سترګي بالکال په وحشي طرف کې متمرکز وي

B- Optic Kinetic Nystigumus هغه وخت منځ ته راځي چې سترګي ستړي شي په ليدو دهغه شيانو چې دحرکت په حالت وي لکه په موټر کې سفر کول ، دباندي اجسام دحرکت په حالت کې دي او يا غټ شي دتاويدو په حالت کې وي.

C– Latent Nystigmus کله چه دواړه سترګي خلاصي وي نو nystigumus نه ليدل کېږي او کله چې يوه يا دواړه پټي شي نو په رپيدو شروع کوي.

علت ئي کېداي شي دقرنيې قرحه موجود وي ، او يا ندبه موجود وي ، نو دسترګو پټولو سره يو تيز شي په پرده لګيږي او په رپيدو شروع کوي يعني په سترګي کې ليدل کېږي چې قرحه يا ندبه ولري.

## Spantenous Nystigmous

A– Amaurotic Nystigmous په هغو ماشومانو کې ليدل کېږي چې ړانده پيدا شوي وي.

B– Amblypopic nystigmus دا هغه وخت منځ ته راځي کله چې په mucular fixation نمو کې خلال منځ ته راغلي وي.

C-Spasmus nystigmus په هغه ماشومانو کی ليدل کېږي چې په ډير کمه روښنائي کې ژوند کوي.

D-Minory Nystigmus دا يوه وظيفوي ناروغي ده او په هغو خلکو کې زياته ليدل کېږي چې دډبرو سکرو په ذخايرو کې کار کوي او علت ئي دلږ رڼا سره مخامخ کېدل دي.

## Vestibular Nystigmus

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا کېداي شي لاندي اقسام ولري.

A– Labyrynthine nystigmus دا په فزيولوژيک ډول labyrinth دننبه څخه د حرارت دوراني حرکاتو او Compression په واسطه منځ ته راځي ، دغه nystigmous ډير تيز ځړيکي وهونکي او fine وي.

## Central Nystigmus

دا nystigmus توپ وهونکي jerky وي زياتره دوه طرفه دي او په جنبي اطرافونو دسترګو کي ليدل کېږي.

که افت مرکزي وي نو nystigmous په هميشه Vertical وي اسباب ئي عبارت وي له

۱- دمرکزي دماغ افت لکه epidemic encephalitis, tumours, Absces

۲- Cerebllar افات تومورونه او ابسي

۳- Spinal افات د spinal Cord په علوي طرف کې افت موجود وي دغه د nystigmus منځ ته راځي او علت ئي Crebrospinal pathway اخته کېدل لکه Syringomyella and T.B

## Conginetal Idiopathic Nystigmus

دا په ولادي ډول موجود وي علت ئي معلوم ندي سترګي نومال وي.

### تداوي درملنه

- د retrection تداوي کول مرض ښه کوي
- دعينکو ( توري ) او Contact lens کارول
- دعمر په زياتيدو سره دا حالت کميږي او يا له منځه ځي.

## Eye changes in Systemic Diseases

## دسترګي تغيرات په سيستميکو ناروغيو کې

## Vitamin Deficeiences

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Vitamin a فقدان هغه اعراض چې د ویټامین A د فقدان څخه په سترګي کې منځ ته راځي د Xerophthalmia په نامه یادیږي.

د Vitamin A د فقدان اسباب

- د دي ویټامین کم اخستل او یا نشتوالي په غذا کې
- د Vit A د جذب خرابوالي لکه په اسهال او د ګیډي چنجیانو کې
- د زیات وخت لپاره په غذا کې د Vit A نشتوالي
- د Vit A زیات مصرف لکه په شدیدو امراضو کې

## مراحل Xerophthelmia یا Keratomalacia

په دوارو سترګو کې د Vitamin A فقدان اعراض او علایم څرګندیږي په نارینو کې نسبت ښځو ته ډیر لیدل کیږي.

## اوله مرحله لومړي پړاو

اولني عرض د Vitamin A فقدان شب کوري ده ، چې نور هیڅ ډول اعراض او علایم په سترګه کې نه لیدل کیږي کله چې ماشوم په تیاره کې حرکت کوي نو د اجسامو سره ټکر کیږي دغه شب کوري د Visiul pupile د خراب کیدو یا نه ترمیم کیدو له کبله پیدا کیږي نو مال regeneration سیګل د walds Cycle په نوم یادیږي.

جدول

In Darknes.........Visual purple, bleached by light

Retinin+ protein..............Vit A + protein

## Deficiency of Vitamin B- Complex

### Vitamin B۱ فقدان

دغه فقدان لاندي حالاتو ته زمینه برابروي

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د قرنيي حثيت له منځه ځي ځکه چه trigeminal عصب ضعيف کېږي.
- Optic neuritis چه Papilomuscular د عصبي اليافو مصاب کېږي.

## Riboflavin فقدان

په لاندي حلاتو کې منځ ته راځي

- د سترګي سوزش او photophobia چې د Conjunctive د تخريش له کبله منځ ته راځي.
- د قرنيي Vascularization

## Vitamin C فقدان

په لاندي حالاتو کې منځ ته راځي.

- Proptosis په infantile scurvy کې ليدل کېږي علت ئې Orbital hemmorrhge دي
- په Lid, Conjunctive ، قدامي چمبر او Retina کې خونريزي.

## Vitamin D فقدان

د غه حالت hypocalciamia کې منځ ته راځي ، چې سترګي تغيرات په کې عبارت دي له

- Cataract جوړيدل
- Lacrimation زياتوالي
- Papiledema د Tatany سره يو ځاي منځ ته راځي.

## Common infections

Septic Abortion کې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- Endophtalmatis
- Orbital Cellulitis

## Measls کي

- Conjunctival hyperemia او Sub Conjunctival hamorrhge
- Kopliks spots
- Acute mucopurulent conjunctivitis
- Optic Neurtitis

## په Diphtheria کي

- Membranous Conjunctivitis
- Paralysis of accumdation
  - **Exraocular** عضلاتو فلج مخصوصاً **external rectus** عضله

## په **Typhoid** تبه کي

- د قرنيي قرحه چي علت ئي lagophthalamus وي
- Optic Neuritis

## په **whooping Cough** کي

- Sub Conjunctival heamorrhge
- کله کله orbital hemorrhage هم ليدل کيږي ، چي Proptosis ختميږي

## په **Mumps** کي

- Acute dacryoadnitis
- Uveitis

## په miningococal meningitis کي

- Metastatic Conunctivitis
- Pupil عکس العمل نه ښودل کيږي
- Paresis of extra ocular muscle
- Metastatic endophthalmitis
- د ديد ضياع ، چي د optic neuritis له کبله منځ ته راځي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په Tuberclosis کې

- دسترګي د ګاټي هره برخه اخته کېداي شي لکه tuberclosic Conjunctivitis، Iritis, interstitial Keratitis او نور

T.B Meningitis کېداي شي Pupilodema منځ ته راوړي ، چې علت ئيد قحف دننه فشار لوړوالي دي.

## په سفليس کې

Acquired syphilis

- په stage Primary کې په Conjunctive کې Chancor او Conjunctivitis ليدل کېږي
- Secondary stage کې Iritis, iridoeyditis او د Iris په سرونو ډول منځ ته راځي.
- Tertiary stage Chorio retinitis د orbit په ناحيه کې gummata ليدل کېږي.
- Quarternary stage Argull Robeson Pupil
- Primary optic atrophy, Ocular paralysis

## ولادي Syphlis يا Conginetal syphlis

- جلدي nodule دجفن دجلد په سر
- دبڼو او وريځو او وينبتانو توئيدل
- Conjunctivitis
- Superfacial punctuated interstial keratitis
- Pannus formation
- Leprmatis nodule in sclera
- Granulamatos uveitis
- Daryocystitis

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Parasitic infection

په پرازيتي امراضو کې د سترګي تغيرات په لاندي ډول دي

## په ملاريا کې

Dendritic ulcer of cornea

د Retinal شريان امبولي

په toxoplasmosis کې په ماشومانو کې neerotizing chorio retinitis ليدل کيږي.

## په **tenia echinococeassi** کې

- Hydiated cyst in orbit
- داخل قحفي cyst امکان لري د pupil odema سبب شي.

## **Tenia siliam infection**

- په retina او Vitrous کې د cyst جوړيدل
- په Conjunctiva او orbit کې cyst جوړيدل

## Metabolic diseases

د سترګي افات په ميتابوليک امراضو کې په لاندي ډول دي

۱- په نقرص يا Gout کې

- Episeleritis او Scleritis
- Uveitis

۲- په diabetus کې

- دا انعکاس تغيرات hypermetropia په هغه حالت کې، چې دويني ګلوکوز اندازه کمه شي او د myopia هغه وخت منځ ته راځي. چې د ويني ګلوکوز سويه لوړه شي.
- Heamorrhgic iritis او نوي اوعيو جوړيدل د Iris په سطحه باندي
- Diabetic cataract خصوصي ډول په Juvenil diabetus کې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- Diabetic cataract په retina کې microanurysm او دويني توئيدنه منځ ته راتلل او د hard waxy افرازات ليدل کيږي.
- Lipoemia retinitis په Jevinyl دیابیط کې کله ، چې acidosis ملګري وي منځ ته راځي.
- Extraocular عضلاتو فلج
- Optic Neuritis

## د پښتورګو ناروغي کې د سترګي تغيرات

۱- Passive odema of eylids

۲- renal retinopathy ، چې hepertensive retinopathy په شان وي

## Toxemia ofpregnency

- د retinal شريان د spasm له کبله ددید کموالي
- Retinopathy د Hypertensive retinopathy پشان

## Cardiovascular system

په قلبي امراضو کې په retina کې زيات تغيرات ليدل کيږي.

- Benign and malignant tension
- Vegitation Cardiac د Valve mitral امکان لري د retinal artry دبدش منځ ته راوړي.

## دويني ناروغي يا Blood diseases

## Leukemia کې

- د retinal شريان dilatation موجود وي
- Retinal heamorrhge
- Sub conjunctival heamorrhge

په hemophilia او Purpura کې

Sub conjunctival , retinal and orbital خونريزي په کې منځ ته راځي

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

Intracranial Lessions

په Sub dural hmorrhge کې Pupile odema ليدل کېږي.

په Sub arachnoidal خونريزي کې

A Sub hyloid heamorrhge په retina کې ليدل کېږي

B Proptosis

C Ocular palseies

## په داخل دقحفي تومورونو کې

A Pupil odema

Ocular paleisis که چېري cranil عصب ماوف وي.

دنخاميه په تورمونو کې bitemporal hemianopia منځ ته راځي تر څو پوري.

چې تومور sella turcica څخه دباندي نه تللي يا metastasis ئي نه وي ورکړي.

## په Head injury کې

۱- د Pupil کوچني کېدل په هماغه طرف کې کوم ، چې جرحه وارده شوي ده.

۲- پس له دي که دقحفي فشار لوړ لاړ شي نو pupil توسع کوي او نور مقابل کې عکس العمل نه ښيي که فشار نور هم لوړه لاړ شي نو مقابل طرف ت Pupil هم متوسع کېږي.

۳- د extra ocular عضلاتو فلج که دقحف قاعدي کې ترضيض وارد شوي وي.

۴- که optic nerve متضرر شوي وي نو optic atrophy ورکوي.

۵- sub Conjunctival heamorrhge ورکوي.

۶- field defect ورکوي

## په intra cranial anurism کې

A - که په circle of willis شراينو کې انوريزم موجود وي نو ocular palsies منځ ته راځي

B– که internal carotid شريان کې ، چې Cavernous sinus څخه دباندي واقع وي anurism موجود نو optic atrophy ورکوي.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C - پـه internal carotid شـريان كـې.چـې Cavernous sinus دننـه واقـع وي anurism مـنځ تـه راغلـي وي نـو oculomotor او exephthalmos Pulsating وركوي

## Demylinating disease

### په Disseminated sclerosis كې

Nystagmous –A

Diminsis of vision due to retrobulbar neuritis –B

C– د extra ocular عضلاتو فلج

Neuromylitis optica

A–فوري ړوند والي د Papillitis له كبله

B– د Pupil توسع د Visual acuty دخرابيدو له كبله

## Endocrine Disorders

په Throtoxic يا Gravis ناروغي كې ، چې thyroxin دزيا ت افراز له كبله منځ ته راځي.

A– دوه طريقه exophthalmus كوم چې دفشار پواسطه كميږي.

B- دپورتني lid تاوئيدل

C- lid lag كه فوراً لاندي وكوري نو پورتني جفن دستركي كانې سره يو ځاي نه راكوزيږي

Weakness of convergence-D

E- بعضي وخت دستركي په پورتني lid كې Pigmentation ليدل كيږي.

## Thyrotrophic exophthalamous

په دي ناروغي كې thyrotrpic هـارمون افـراز زيـاتيږي كـوم. چې قدامي نخاميه غدي څخه افراز كيږي.

A- واضح Proptosis

B- دمنظمه واضح Chemosis او دجفن ازيما ليدل كيږي.

C- دقرنيي قرحه هم كيداي شي منځ ته راشي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

External ophthalamoplegia –D

# دعدسيي اناټومي او ناروغي

# Anatomy and diseses of Lens

اناټومي Lens محدب الطرفين شفاف ساختمان دي ، چې د fibers څخه جوړ شوي دي ، چې دا modified epithelial دي عدسيه يو الاستيکي کپسول پواسطه احاطه شوي دي قدامي سطحه دعدسيه په لږه اندازه محدبيت لري.

عدسيه په خپل موقعيت کې د Supensory lig or zounole چې د Ciliary Processes څخه غزيدلي دي پروت دي.

دقدامي کپسول لاندي يوه طبقه د Cubical epithelial حجراتو ليدل کيږي.

عدسيه دوه برخي لري يو سطحي برخه د Cortex او بله عميقه برخه د neaclus په نوم ياديږي دا نو ډول دجنيبي neuclus څخه منشاء اخلي. چې دعمر په زياتوالي سره په متناوب ډول سره ورسره nuclea zon پرس Press کيږي چې د infantile nucleus ، fetal nucles او adult nucleus په نوم سره پيژندل شوي دي.

ځوان فايبرونه په Cortex کې موقعيت لري دعمر په زياتيدو سره زاړه فايبرونه د lens مرکز ته تيله کيږي نو پدي وجه د nueclus کثافت زياتيږي او د neuclus کلک کيږي ، چې دي عمليه ته lentil sclerosis وائي نو لدي کبله په زړو خلکو کې عدسيه خاکستري ښکاري دعدسيي فايبرونه ددوه خياطه ډوله خطوتو په واسطه سره يو ځاي کيږي ، چې قدام ته د Y او خلف ته د Y معکوس دي.

## دعدسيي دنده

عدسيه دنورشعاګاني په macula باندي متقاربه کوي نو پدي اساس هر ماده ، چې ليدل کيږي واضح تصوير جوړوي نو ددي لپاره چې پورته وظيفه سرته ورسوي نو دتطابق دنده بايد سرته ورسوي.

دعدسيه تغذي دجنيبي ژوند تر ۸ مياشتو پوري د hyaloid artry په واسطه او وروسته لدي څخه د aqeous hummur په واسطه تغذيه کيږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Cataract

تعريف: دعدسيي مكدريت يا كثافت ته وائي ، عدسيه يو غير وعائي ساختمان دي ، چې التهابي ناروغي منځ ته راوړي دا يوه عامه ناروغي ده ، چې د degenerative عمليي په سير کې دعدسيي دفايبرونو دكثافت څخه منځ ته راځي.

Classification of Cataract

١-Congenital and developmental cataract

- Blue dot cataract
- Cronary cataract
- Capsular cataract
- Sutaral cataract
- Coraliform cataract
- Central cataract
- Lemellar or zonular cataract
- Total cataract
- Soft total cataract
- Membranous cataract
- Acquired cataract
- Senile cataract
- Cortical or soft cataract

a-Nuclear or soft cataract

b– Posterior cortical or cupuliform cataract

- Traumatic cataract

a -Mechanical trauma

b– Chemical trauma لکه nephtalin, lactose, glucose

c– Radiational cataract

- Infra red rays
- Ultra violet cataract
- Deep x-rays
- Electric cataract

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Endoctine cataract

- Diabitus malitus
- Hypothyrodism
- Cretinism

## Cataract due to Systmic disease

- Mongolian idiocy
- Myotonic dystrophy
- Genralized dermatitis

## Complicated

- Iridocyclitis
- Glucoma
- Chroiditis
- Retinitis Pegmentosa
- Retinal detachment

## Cataract due to drugs

- Corticosteriods
- Strong mioties
- Di nitrophenol
- Phenothiazines

## Cangenital cataract

دولادت په وخت کې موجود وي تکاملي کتارکت هغه وخت منځ ته راځي کله چې عدسیيه د تکامل په دوران کې وي دا ډول کتارکت دعدسيي په يوه مخصوصه مرحله کې دنمو کې ځينو اختلاطاتو له کبله منځ ته راځي کوم هغه فايبرونه چې دا اختلال ښخه مخکې يا وروسته منځ ه راغلي وي نورمال پاتي کېږي نو له دي کبله دعدسيي دا ډول کثافت معمولا ثابت وي. مختلف ډولونه لري چې په لاندي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول يادونه ورڅخه کېږي او سببي عامل ئي معلوم ندي ممکن دلاندي امراضو له کبله منځ ته راشي.

١- maternal malnutration

٢- مورني انتاناتو مخصوصاً german measles وايروس او Rubella وايروس

٣- پلاسنتا دخونريزي له کبله ناکافي oxegenation منځ ته راځي.

## Blue dot cataract

واړه ابي رنګه متکاثف نقاط دي چې په عدسيه په پراګنده شکل موجود وي. بعضي اوقات دغه ابي رنګه نقاط د Y شکله ساختمانونو کې هم ظاهريږي او نادرا دغه نقاط په ديد کې مدخله کوي.

## Coronary cataract

د Cortex په محيطي برخه کې ناک مانند ه يا Club مانند ه کثافتونه دي چې د تاج په محوري ساحه دعدسيه روښانه کوي.

## Anterior Capsular cataract

دا د anterior Chamber دموخر تشکل په نتيجه کې دعدسيي دتکامل په جريان کې منځ ته راځي کله کله دا کثافت د Pyramid يا احرام په شکل دقدامي چمبر کې راوتلي وي پدي وخت کې د anterior pyramidal cataract په نوم ياديږي هغه وخت منځ ته راځي چې anterior lens capsul د cornea د يو ulcer سره اتصال پيدا کړي د perforation په تعقيب او د aqueous hummour د drainage څخه بصري اختلال ډير کم وي.

## Sutural cataract

کوچني نقطوي ډوله کثافتونه دي چې دعدسيي په Y خياطو کې موقعيت لري او بصري اختلال موجود نه وي.

## Corliform cataract

د کوچني کثافتونو څخه عبارت دي چې دعدسيي په مرکزي برخه کې د coral په شکل موجود وي او بصري اختلال موجود نه وي.

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Central cataract

دعدسـيي د nucleas كثافـت نيسـي ، كثافـت ممكـن granular وي او بصـري اختلال ورسره موجود وي او يا ټول nuclueus مكدر وي ممكن يو طرفه وي.

## Lamellar or Zonolar cataract

دا ترټولو معمول شكل دكتاركت دي په ماشومانو كې ممكن دوه طرفه وي دا ممكن په اخره موده د داخل الزحمي ژوند او يا infancy په دوره كې ارتقا وكړي او كله كله دويټامين D دفقدان سره يوځاي وي او د reckets شواهد موجود وي.

ددايمي غاښونو Enamel مخصوصاً incisors او canins څو شكل لري دا ډول كتاركت دعدسيي ديوي برخي دكثافت باندي مخصوص كېږي حال دا چې دعدسيي ټوله برخه د nucleous په شمول شفاف پاتي كېږي.

ځرنګه چې د lens fiber يو څو lamina متاثره شوي وي نو ځكه د lamella cataract په نوم هم يادېږي.

د pupil توسع په صورت كې مركزي دايروي dise s شكله كثافتونه ، چې دځرخ په ډول محيط خواته دتكاثفي ساحي څخه انتشار كوي او دغه ځرخونه ،چې د riders په نوم يادېږي دلته هميشه بصري اختلال موجود وي ليكن دا حالت ثابت وي.

## Total cataract

كېداي شي يو طرفه يا دوه طرفه وي او هميشه ولادي منشاء لري ټوله عدسيه متكاثفه وي دعدسيي مواد ممكن نرم يا مايع شكل ولري ترڅو شيدي ډوله مايع په كپسول كې شامل ده جوړه كړي ، ولادي total cataract دتكامل دا ختلال له كبله او يا داخل الرحمي ocularinfammation له كبله منځ ته راځي دا د maternal rubella په واقعاتو كې عموميت لري ، چې دحمل په دري لمړنيو مياشتو كې پېښيږي.

## دولادي كتاركت تشخيص

١- دستركي حدقه بايد د ١٪ اتروپين مرهم په واسطه متوسع شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library
۲- عدسیه باید د tourch او loup پواسطه اویا د slit lamp په مرسته د کوم کثافت د شواهدو د پیدا کېدو په منظور معاینه شي.

## دولادي کتارکت تداوي درملنه

۱- تداوي د بصري اختلال اندازي پوري اړه لري

۲- zonal cataract and total cataract تداو یضروري ده، چې ممکن د شدید بصري اختلال سره یو ځای وي.

## Zonal cataract treatment

که چېرته دید ۶/۲۴ وي نو تداوي ته ضرورت نلري همدارنګه که چېري دید ۶/۲۴ پوري وي د حدقي توسع د اتروپین د استعمال څخه وروسته تداوي تو ضرورت نلري.

که چېرته دید ۶/۲۴ څخه کم وي د disection عملیات باید اجرا شي د دي عملیاتو د اجرا ښه وخت د بلوغ مرحله ده.

د total cataract تداوي

د discussion عملیات لپاره مناسب وخت د ۲ میاشتو تر یو کلني پوري دي سره له دي وخت macula ښه نه ترمیم کېږي او د nystigmus تاسیس کوي.

د membranuos cataract په صورت کې باید ممبران لي شي دیو Capsule forceps په واسطه د Keratome incision د limbus دلاري د په ذریعه

## Acquired cataract

## لمړي Senile cataract

## اسباب:

- عمر: معمولاً د ۵۰ کلني څخه لوړ عمر کې تصادف کوي.
- جنس: دواړه جنسونو کې په مساوي ډول لیدل کېږي.
- معمولاً دوه طرفه وي لاکن په لمړیو وختونو کې په یوه سترګه کې هم وي
- جنیتیکي تاثیر په پیشرفته شکل کې موجود وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دغه کتارکت دعمومي ړوند والي ۵۵٪ تشکېل کوي

## Types of senile cataract

- Cortical or soft (cuniform) cataract ۷۵٪
- Nuclear (hard) cataract ۲۰٪
- Pasterior cortical (cupuliform) cataract ۵٪

## Cortical کتارکت پتالوژي

د cortex برخي lens fibers په عمده ډول اخته کېږي دلته په منځ دفايبرونو کې داوبو دقطراتو دتجمع له کبله hydration موجود وي ، چې دا دفايبرونو په Colloid system کې په تغيراتو تعقيب کېږي.

لمړي پروتينونه denuelration او بيا Coagulation کېږي او کثافت جوړوي بالاخره ټول عدسيه کثيف کېږي او يو روښانه ځليدونکې سپين شکله ورکوي.

## دکورتيکل کتارکت اعراض

- په تدريجي ډول دديد کډوډي
- Polyopic يعني يو شي ناروغ ته څو شيان ښکاري
- Rainbow haloes
- Fixed spots in visual field

## کلنيکې علايم

د Cotical cataract د stage پوري اړه لري ، چې مرحله او علايم ئي په لاندي ډول دي.

### Incipient stage –A

Wedge shop spoke کثافتونو په منځ کې په روښانه ساحو کې دعدسيي محيطي برخو کې ليدل کېږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې په یوه تیاره کوټه کې ، چې pupil متوسع دي معاینه شي پدي صورت .چې نور دیو مستوي اینې په واسطه سترګه ته واچول شي کثافتونه دتورو خطونو په شکل د سور ځلیدونکې fundal په مقابل کې ښکاري.

Progresive stage –B

پدي مرحله کې wedge shop کثافتونه لیدل کیږي

Immature stage –C

د opacification عملیه نوره هم مخ په وړاندي تللې وي عدسیه خاکستري معلومیږي خو روښانه cortex تر اوسه پوري موجود دي او همدارنګه د Iris سیوري دلیدلو وړ وي.

Intumescent stage- D

Cataract په immature stage کې دي خو عدسیه داوبو دجذب له کبله پړسیدلي وي قدامي چمبرکم عمقه کیږي پدي مرحله کې ممکن mature stage تر رسیدو پوري پاتې شي.

Mature stage:E

ټول کارټیکس کثیف سپین ګرځي کثیف شوي lens fibers محیط دلیدو وړ ګرځي د lens پړسوب معمولاً ښه کیږي خو intumescent stage ممکن دوام وکړي. دکتارکت کورتیکل ډول تقریباً یو کال وخه نیسي .چې پوخ شي.

Hyper mature stage –F

دلته ممکن hypermaure cataract دوه ډوله موجود وي.

Hypermature morgagnian -۱

ټول Cortical mater د دي لپاره چې شیدي په څیر مایع شکل غوره کړي تمیع کو ي نو دارنګه عدسیه دشیدو دیو کڅوړي په څیر بدلیږي ، داسي چې nucleus دخریطي په لاندي قسمت کې ځاي نیولي وي.

کتارکت په متجانس شکل سره شید یډوله سپین ښکاري دعدسیي په کپسول باندي ممکن دکلسیم ترسبات ولیدل شي قدامي چمبر ممکن نارمل او سطحي وي.

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Hypermature sclerotic type

عدسيي کپسول کې دنفوزيه قابليت دتغير په سبب يوه اندازه د cortical matter دباندي وځي او جذب کېږي.

عدسيه هوا يږي کپسول ضخيم کېږي او کتارکت نصواري ښکاري قدامي چمبر لږه اندازه ژور کېږي د iris shadow موجود نه وي.

## Diagnostic criteria of immature cataract

- عدسيه خاکستري معلومېږي
- د iris shadow موجود وي
- دګوتو شميرل سترګو ته د نژدي فاصلي څخه موجود وي
- که چېري په يوه تياره کوټه کې وروسته د pupil دتوسع څخه نور ديو مستوي ايني په واسطه پرسترګو واچول شي تو سيوري د red fundal glow په مقابله کې د ليدو وړ وي.

## Diagnostic criteria of mature cataract

- عدسيه سپين مرغلري ډوله ښکاري
- د Iris shadow موجود نه وي
- دځلورم Parkinji image موجود نه وي
- د مستوي ايني په واسطه په يوه تياره کوټه کې دمعايني نه وروسته د red glow نه موجوديت

## DDX of immature cataract and lentil sclerosis

| Number | Lental sclerosis | Immature cataract |
|---|---|---|
| ۱ | ديد په پرمختللي ذخيره شوي وي | دديد ذخيره والي ډير ورو وي |
| ۲ | عدسيه خاکستري معلومېږي | عدسيه خاکستري معلومېږي |
| ۳ | Iris shadow موجود وي | Iris shadow موجود وي |
| ۴ | په تياره کوټه کې ديوي مستوي ايني په | په مقابل کې red fundal glow نور نقاط د |

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مقابل کې red funda glow واسطه نقاط موجود وي | موجود نوي

## تفريقي تشخيص Marture cataract او Psudo glioma

ناحيه کې سپين ريفلکس موجوديت papillary په موجوديت کله چې کثافت دلينز د purkinge image خلورم په خلفي برخه کې وي | ناحيه کې سپين ريفلکس موجوديت Papillary په نه موجوديت Purkinge image د ځلورم

## Complication of cortical cataract

In intumnescent stage

A– Acute congestive glucoma

In Hypermature margagnian stage

- Iritis
- Secondary glaucoma
- Acute congestive glaucoma
- Dislocation of vitrus

In Hypermature sclerotic stage

A– Dislocation in vitrus

## Nuclear type of cataract

## پتالوژي

څرنگه چې مخکې ذکر شو په sclerosis يوه عمليه په lentil کې د sclerosis nuclear fibers کې پرمخ ځي کله نو موړي پروسه ډير زيات شدت پيدا کړي نو nuclear cataract منځ ته راځي او Nucleaus په منتشر ډول باندي cloudy او نورو شعاګانو مانع کيږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا پروسه ممکن تر کپسول پوري تقريباً خپره شي په هغه صورت کې چي دا پخه شوي وي.

خو يوه وړه صفحه روشانه کورتيکس ممکن سالمه پاتي شي دميلانين صباغ دتراکم له کبله lens نصواري او کله کله تور رنګ غوره کوي چې پدي وخت کې د black cataract يا Brunescens په نوم ياديږي

دا ډول کتارکت هيڅ کله hypermature نه ګرځي دکتارکت پرمختګ ورو وي او myopic سترګي ډير تمائل لري ، چې دا ډول کتارکت منځ ته راوړي.

## اعراض

- په پرمختللي ديد خيره ويالي پرته د polypia څخه
- روز کوري ممکن موجود وي
- دڅراغ په شاوخوا کې دهاله موجوديت څخه شکايت نه کوي.

## علايم يا نښې

- عدسيه نصواري تياره او توره معلوميږي
- Iris shadow معمولاً موجود وي
- Vision تردي پوري کم کېږي ، چې په يوي نژدي فاصله کې دسترګې مخې ته ګوتو شميرل او يا دلاسونو حرکت احساس کول دي او پدي پوري اړه لري ،چې کتارکت څومره پرمختګ کړي دي.
- Purkinje image موجود نه وي
- په تياره کوټه کې معاينه د red fundal glow په مقابل کې مرکزي تياره ساحه موجوده وي.

## Posterior cortical Cataract

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پتالوژي

کثافت په خلفي کورتيکس کې په فوري ډول د خلفي کپسول لاندې منځ ته راځي لومړي په دا مرکزي ساحه کې شروع کېږي او بيا په کراره خلفي کورتيکس ته خپريږي ليکن د دې ساحې څخه پورته خپريږي.
د دې پردې پر مختک ډېر ورو دی او کترکت تقريباً پاتې کېږي ، چې ګوندې د کلونو لپاره جريان پيدا کوي. مګر د کترکت نور ډولونه لکه nuclear يا cortical په ناڅاپي ډول سره منځ ته راځي Posterior cortical Cataract هيڅ کله نه mature کېږي.

## اعراض

- ✓ د ديد بارز کموالي موجود وي
- ✓ د ديد کموالي دورځي لخوا زيات وي
- ✓ Polyopia موجود نه وي
- ✓ دنو شاوخوا کې د haloes نه موجوديت

## علايم / نښې

- ✓ د ځلورم purkinje image خيره کول
- ✓ يوه مرکزي تياره ساحه د red fundal glow په مقابل کې موجوده وي
- ✓ د slit lamp معاينې په واسطه په خلفي cortex کې کثافت ليدل کېږي.

## treatment of senile Cataract

کترکت ديوي جراحي عمليې په واسطه ايستل کېږي ، چې د lens extraction په نوم يادېږي. چې کېداي شي intra capsular يا extra capsular وي جراحي عمليه هغه وخت استطباب لري ، چې ديد نږدې اندازې پورې کم شوي وي چې شخص نه شي کولای چې خپل ورځيني کاروبار په سمه توګه سرته ورسوي.

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Traumatic Cataract

By mechanical trauma –A

جرحه ممکن منتشره وي کله چې دلینز کپسول په حقیقي ډول سوري شوي وي او یا دهغه نیمه قابله نفوذیه قابلیت تغیر موندلي وي او یا کېداي شي کپسول شلیدلي وي.

fibers او د Aqueous humour –B د lens fibers سره په تماس کې راځي او د fibers دمتکاثف کېدو باعث ګرځي.

## د traumatic Cataract ډولونه

۱- واضع ستوري مانند ه کثافتونه په سطحي کورتیکس کې دا ممکن یو سګمنت متاثر کړي او کثافتونه معمولا ثابت وي

Rosette shaped Cataract -۲

دا ډول کترکت په خلفي کورتیکس کې چې ستوري شکل منځ ته راځي خلفي کپسول ډیر نري وي او ډیر په اساني تخریب کېږي او کترکت منځ ته راځي دا ممکن ثابت پاتي شي او یا شدید عدسیه ترمتکاثف کېدو پوري پرمختګ وکړي.

Total Cataract -۳

دا هغه وخت منځ ته راځي چې کپسول په شدید ډول تخریب شي د lens fibers د aqueous hummour په تماس ورځي پړسیږي او متکاثف ګرځي.

Vossiussring -۴

کله کله یوه حلقه دصباغي granules خفیف کثافت سره ممکن په کپسول په قدامي برخه کې جوړه شي تقریباً د papillary margine شاته موقعیت لري.

## Chemical trauma

Naphthelmic Cataract -۱

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حيواناتو کې کترکت ممکن د naphthelmia د تغذي څخه منځ ته راشي دا د ۲-۳ اوونيو پوري بشپړيږي او معمولا دوه طرفه وي.

۲- Lactose and glactose Cataract

هغه حيوانات چې صرف د lactose يا glactose په واسطهٔ تغذيه کېږي په دي ډول کترکت اخته کېږي معمولاً دوه طرفه وي او ډير دمخه ښکاري کېږي يا د glactose په ميتابوليزم نشي glactosemia په ناروغي کې چې په ولادي ډول رسولاي دغه ناروغي منځ ته رائي.

۳- Thalin Cataract

هغه حيوانات چې د thalin پواسطه تغذي کېږي د ۲-۴ هفتو پوري معمولاً په دوه طرفه کترکت اخته کېږي.

## Radiational Trauma

### ۱-Infra red Cataract

کترکت ممکن دزيات معروض کېدو له کبله منځ ته راشي ديد مثال په هغه خلکو کې دي چې د شيشه سازي او دفلزاتو دذوب کارخانو کې کار کوي او معمولاً د عدسيي په خلفي کورتيکس کې شروع کېږي.

### ۲- Ultra violet Cataract

په تجربوي حيواناتو کې په کتلوي ډوز د ماوراي بنفش شعاګانو استعمال د کترکت باعث شوي دي دماوراي بنفش شعاګانو منبع لمر دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳- Irradation Cataract

دا کترکت دا کسري یا radium شعاګانو سره معروض کېدو له کبله چې د دي شعاګانو تاثیر په تقسیم کېدو نکي حجرو زیات وخت پکار لري چې منځ ته راشي.

## Electric Cataract

دا ډول کترکت د بدن څخه د قوي برقي جریان د تیریدو په تعقیب لکه چې شخص و رعد و برق په واسطه ووهل شي منځ ته راځي کترکت د یو نقطوي subcapsular کثافت څخه شروع کوي او ژر پخیږي.

## Endocrine Cataract

## **Diabetic Cataract**

دا په یوه تازه شکر کې ، چې شدید شکل ولري منځنه راځي لمړني تغیر عبارت د زیات مقدار اوبو د والیو اونو د تظاهر څخه عبارت دي.

د قدامي او خلفي کپسول لاندي د واوري په شان کثافتونه په کورتیکس او په ټول عدسیه کې په مکمل ډول چې ډیر ژر **opaque** ګرځي ښکاره کېږي او دا ډول کترکت نادر دي.

## **Parathyroid Cataract**

که چېرته پاراتایریید غده په تصادف شکل د تایروید د غدي د عملیات له کبله ویستل شي نو ۲-۳ میاشتي وروسته کترکت منځ ته راځي کثافتونه په جدا ګانه ډول په کورتیکس د آبي او سور رنګونه په پراګنده شکل شروع کېږي او په ۶ میاشتو کې د عدسیي کثیف کېدو سبب کېږي.

## Cataract in cretinism

د cretinism مریضانو کې لیدل کېږي او نور خواص ئي para thyroid Cataract په شکل دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Cataract due to Systemic diseses

۱- Mangolian idiocy کترکت د نقطوي کثافتونو په شکل په سطحي کورتیکس کې تکامل کوي.

۲- myotonia dystrophy روښانه ګرد شکله کثافتونه په پراګنده شکل په سطحي کورتیکس کې تکامل کوي.

۳- Dermatogenous Cataract په شدید Dernatitis کې خصوصاً په ځوانانو کې منځ ته راځي عام د پوستکې ناروغي چې کترکت ورسره وي عبارت دي له dermatitis, scleroderma څخه

## Aphakia

هغه حالت څخه عبارت دي ، چې crystalin lens په خپل نورمال موقعیت کې موجود نه وي.

## Aphakia څنګه منځ ته راځي

۱- دجراحي عملیه په واسطهٔ د lens ایستل

۲- د ترضیض په واسطه کېداي شي عدسیه په vitrus کې وغورځیږي.

۳- په ولادي ډول نشتوالي

اعراض دیدي کموالي د کسبي hypermetrop د پرمختګ له کبله

## علایم

۱- عمیق قدامي خواته

۲- irdodonosis د عدسیي رپیدل

۳- purkinje image ۳th and ۴th نشتوالي

۴- خطي ندبه نښه په پورتني نیمائي limbus کې

## هغه تغیرات ، چې په Aphakia کې منځ ته راځي.

۱- Hypermetropia

۲- Astigmatism

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- د تطابق د منځه تلل کله ، چې عدسیه نه وي.
۴- کله کله یو جسم کم رنګه ګوري

## تداوي Aphakia

تداوي د spectacle عدسیو د تجویز په واسطه کېږي.

- ✓ هغه عدسیه ، چې د لري دید لپاره استعمالیږي د هغ سترګو لپاره چه emmetropic مخکې له عملیات څخه ۰dSP ، ۱۰+سره ۰Dey ، ۳+ په ۱۸۰ محور کې ۱۰+ دیوپټر کروي عدسیه کسبي hypermetropia د اصلاح د پاره
- ✓ د نژدې دید عدسیه ۰DSP ، ۱۳ سره ۰، ۲+ یا DCY ۳،۰ د ۱۸۰ محور سره کروي عدسیه ضروري ده لپاره د فرعي تطابق

## Subluxation and Dislocation

۱- کله ، چې یو یا څو فایبرونه د supensory ligament وشلیږي نو دې حالت ته subluxation ویل کېږي مګر عدسیه لا تراوسه په papillary ساحه کې دي که چېرې دا عدسیه نورمال وي دا به شفاف وي حتي وروسته له subluxation څخه

۲- Dislocation کله ، چې ټول فایبرونه د supensory ligament وشلیږي نو ویل کېږي ، چې عدسیه بې ځایه شوي ده په خلفي dislocation کې د lens کېداي شي عدسیه vitrous کې ولویږي په قدامي dislocation کې کېداي شي sub conjunctional مسافي ته دیوي څیري شوي مسافي له لیاري ولویږي اویوه بې ځایه عدسیه کېداي شي ډېر ژر متکاثف شي.

## دعدسیې د subluxation اسباب

### ولادي اسباب

۱- Ectopia lentis دلته دوه طرفه sub luxation دعدسیې دي ، چې د subspensory ligament دولادي ضعیف والي له کبله دا حالت منځ ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- Marfans syndrom

- ✓ Archo dactyly د پښو او لاسونو اوږده ګوتي
- ✓ Dolichocephalic skull قدامي خلفي قطر د سر ډير زيات وي.
- ✓ Flat foot
- ✓ په زړه کې ولادي سو اشکال

## کسبي اسباب

۱- ترضيض ليدل د Suspensory lig

۲- استحالوي تغيرات په Suspensory ligament کې

۳- التهابي تخريب د دي Suspensory lig

۴- د Zonule زيات کش کېدل قدم خواته بې ځايه کېدل

د Subluxation اعراض کله ،چې د lens شفاف وي لاندي اعراض ورکوي.

۱- defective distance vission

۲- defective near vission

۳- unicualr diplopia

کله ،چې lens کثيف وي نو هيڅ اعراض د subluxation نه ورکوي

## علايم

۱- د iris رپيدل موجود وي (Iridodonosis)

۲- غير برابر عميق د قدامي چمبر په مختلفو برخو کې

۳- که چېري pupil کاملاً توسع کړي وي د عدسيي کنار به ښکاره نه شي.

## اختلاطات

- ✓ Secondary glaucoma
- ✓ Uvietis

## تداوي يا درملنه

د sub luxation شفاف عدسيي لپاره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ✓ دعينکو امتحان کول ددید دزياتوالي لپاره
- ✓ که د pupil يو قسمت aphakia وي aphakia عينکې امتحان شي د sub luxation متکاثف عدسيه لپاره
- ✓ عدسيه بايد د vectis په واسطه ويستل شي

## دقدامي dislocation لپاره

عدسيه بايد د vectis په واسطه ويستل شي

## د lens ولادي سو اشکال

- ✓ Coloboma دعدسيي دلته يو نقص په کنارونو دعدسيه کې موجود وي
- ✓ Lenticounus خلفي قطب دعدسيي مخروطي شکل نيسي

## Diseases of lacrimal drainage system

Lacrimal gland-۱

**(lacrimal yhpersecration) lacrimation-A**

دهغه حالت څخه عبارت دي ، چې په عکسوي ډول داوښکو عده ډيري اوښکې افراز کړي ،چې خفيفاً ددید کموالي منځ ته راوړي ، چې دلاندي اسبابو دکبله منځ ته راځي.

۱- روحي تنبهات

۲- ددوا په واسطه د parasympathic عصب تنبه

۳-داوښکو دغدي التهابات او نيوپلازم

۴- hyperthyroidism

۵- دپنځم عصب تخريشات

۶- دشديد نور په واسطه دشبکيه تنبه

۷- وينه لرونکې اوښکې د hemophilia په ناروغي يا داوښکو دغدو تومورونو کې

## Lacrimal hyposecration (dry eye)-B

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغه حالت څخه عبارت دي ،چې داوښکو ديو يا څو ترکيبي اجزاو د نشتوالي له کبله منځ ته راځي ، چې په نتيجه کې داوښکو صفحه ژروچېږي او ،چه د منضمي او قرنيي دپاسه ليدل کېږي ،چې دوخت تيريدو سره Keratinization دقرنيي او منضمي منځ ته راځي او د ړندوالي سبب کېږي.

## اسباب

۱-trachoma

۲- Cicatricial pephigiod

۳-steven Johnson syndrome

۴- sjogren syndrome

۵- vitamin A defeciancy

۶- دمنضمي سوختګي (کيمياوي ،حرارتي )

۷- په ولادي ډول داوښکو غدي نه موجوديت

۸- anesthesia او antihistamine دواګانو استعمال

۹- دجراحي عمليه دزيږمو دپاسه خصوصاً tarsus کې

۱۰- په وچ اقليم کې ژوند کول

## اعراض

ناروغان داجنبي جسم داحساس په سترګه کې. وچوالي او د يدرد ، photophobia او د ديد کموالي څخه شکايت کوي او مخاطي افرازات زياتيږي نوموړي اعراض په لوړه درجه حرارت کې زياتيږي.

## علايم

Bulber conjunctive خپل نارمل شفافيت دلاسه ورکوي کېداي شي منضمه کلک ، ازيمائي او احتقاني شي دمنضمي او قرنيي دپاسه erosion تشکل کوي ، چې د فلوريسين په واسطه په اساني رنګ کېږي کله کله filament دتار په شکل

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دقرنييي او منضمي دپاسه ليدل کېږي ، چې دسترګو پټولو او خلاصولو وخت کې شديد درد سبب کېږي او ناروغان خوښ وي ،چې سترګي پټې وساتي.

تشخيص:

تشخصيه تست د schirmer تست دي ، چې پدي تست کې دفلتر کاغذ (۵په ۳۵ملي مترو کې ) استفاده کېږي دارنګه ، چې دکاغذيوه څنډه 5mm قات کوو او دښکتني جفن يو په دري وحشي کې دپنځو دقيقو لپاره اړدو په نورمال حالت کې د 15mm څخه ډير کاغذ لوند کېږي 5mm ،۱۰ پوري سرحد قبول شوي دي او د 5mm پوري د سترګي وچوالي يا dry eye موجود وي.

اختلاطآت

قرنيه وچېږي vascularization او Keratinazation او اخره کې ړوند والي منځ ته راوړي او يا کېداي شي دقرنيي قرحه او تثقب منځ ته راشي.

تداوي يا درملنه

۱-سببي تداوي

۲- دمصنوعي اوښکو تطبيق کول (artificial tear)

۳- د antibiotic ملهمونو استعمال

۴- Soft contact lens استعمال

۵- ناروغان بايد په وچو سيمو کې ژوند ونه کړي.

او همدارنګه دجراحي عمليات په واسطه panctum سوځول او د نکفيه غدي د قنات transplantation دمنضمي په کېسه کې په هغه صورت کې ،چې parotid ، غده نورمال وي.

Acute dacryoadenitis

دا داوښکو دغدي دحاد التهاب څخه عبارت دي ، چې يو طرفه وي او د سيستميک ناروغيو په سير کې منځ ته راځي ماشومانو کې دکله چرک ،سرخکان ،influenza دکبله او غټانو کې د gonorrhea داختلاطاتو دکبله منځ ته راځي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اعراض او علایم

دغدي په ناحیه کې سوروالي ، پړسوب او درد اوښکې بهیدنه موجود وي.
تفریقي تشخیص ئي د پوستکي او orbit cellulites سره کېږي.

## تداوي یا درملنه

که چېري سببي عامل تقیحي انتان وي نو عمومي او موضعي انتي بیوتیک ، انالجیزیک او ګرم تطبیقات کېږي دوایرسي انتانات په بنفسهي شکل ښه کېږي

## Chronic dacryoadinitis: D.

داوښکو دغدي دالتهاب څخه عبارت دي ، چې دګرانولو مايي افاتو په سیر کې منځ ته راځي. دکلنیک له نظره داوښکو غدو دوه طرفه پړسوب ، داوښکو عدم موجودیت ، دخولي او حنجري وچوالي پیدا کېږي ، چې د leukemia, hudgkin, sarcoidosis lymphadinomatosis او نور ګرانولو مایع ناروغیو په سیر کې منځ ته راځي ، چې mikaliez syndrome په نوم یادیږي.تداوي ئي سببي ده

## داوښکو دغدو تومورونه

په عمومي ډول دري ډولونه داوښکې غدي مصابوي

- Epitheloma ۵۰٪
- Chronic granuloma ۲۵٪
- Lymphoma ۲۵٪

## Lymphoma

دیو درد ناکه کلک پړسوب په شکل د پورتني جفن په وحشي کې منځ ته راځي ، چې د ptosis سبب کېږي او کېداي شي د exophthalmus سبب شي دا تومور دشعاع مقابل کې حساس وي.

## Granloma

دیو درد ناکه او کلک کتلي په شکل منځ ته راځي ، چې تشخیص ئي دهستولوژیک معایناتو په واسطه کېږي دجراحي عملیي په واسطه دتومور

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایستل ، چې تومور باید د کپسول سره وویستل شي ځکه ؤ چې د خباثت خطر موجود وي.

## Epitheloma

په دوه ډولو خبثيت او سليم شکل پيدا کېږي.

دا تومور په ۳۵ کلني کې منځ ته راځي او د هډوکې تخريشات سبب کېږي دواړه شکلونه ئي نکس کوي او خبثيت شکل ئي ميتا ستازيس هم ورکوي.

تداوي ئي جراحي او شعاع ده

## داوښکو دافاغي طرق ناروغي

### Epiphora-۱

دهغه حالت څخه عبارت دي ، چې اوښکې دافراغي طرق د سوريو څخه په نورمال صورت نه خارجيږي ، چې په نتيجه کې داوښکو تجمع په انسي کانتوس کس منځ ته راځي د تخريش سبب کېږي چې په عکسوي ډول داوښکو دزيات افراز سبب کېږي ، چې داولني اسبابو له کبله منځ ته راځي.

Deformity of lacrimal punctum:A کله د punctum بندوالي يا دندبي موجوديت د هغه دپاسه يا د orbicularis عضلاتو فلج

Canalicular obstraction :B دالتهاب او ندباتو له کبله

Lacrimal sae and duct obstraction:C دولادي انومالي ، التهاب او نيوپلازم له کبله

Meatus obstraction :D په ولادي ډول تنگوالي او دپزي موضعي افات

## تشخصيه تستونه

اول د punctum بندوالي دلوپ او بيومايکروسکوپ په واسطه پيدا کولاي شو .

دوه هم flurscin test په دي تست کې يو قطره ۲٪ Fluroscin د منضمي کبسه کې اچول کېږي ، چې وروسته درقيق کولو د سيرم فزيولوژيک سره په هغه صورت کې ، چې افراغي لاري نومال وي وروسته ديوي دقيقي په پزه يا ديلعوم کې رنگه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

مواد ظاهريږي.۲۵٪ اوښکې د پورتني کاناليکول څخه افرايږي که مشترکه کانال بند وي نو د syringing په واسطه مايع دوباره دعلوي punctum څخه خارجيږي.

دريم: که چېري بندوالي په lacrimal sac يا nasolacrimal duct يا meatus کې وي نو د syringing , fluroscin test او دکثيفه موادو زرق څخه وروسته راديوګرافي کېږي.

## Acute canalicultis

دکاناليکول دحاد التهاب څخه عبارت دي ، چې درد ، اوښکې او اجنبي جسم احساس په کاناليکول کې منځ ته راځي ، چې اکثراً علوي کاناليکو لاخته کوي سببي عامل ئي عموما actinomycosis او Streptococcus دي.

**تداوي يا درملنه**: analgesic, antifungal او ګرم تطبيقات اوهم مساژ کول دي.

## Acute dacryocystitis

د nasolacrimal قنات دحاد قيحي التهاب څخه عبارت دي ، چې اکثراً سبب ئي د مجاورو انساجو Cellultis دي ،چې د pericystitis په نوم يادېږي دا التهاب دسوروالي ، پړسوب او درد سره يوځاي وي کله ، چې دګوتي په واسطهٔ کېسه دپاسه فشار راوړل شي نو قيح د punctum کاناليکو ل له لاري خارجيږي.

## تداوي يا درملنه

عمومي او موضعي انتي بيوتيک ، انالجيزيک او ګرم تطبيقات ګټور تماميږي دجراحي عمليي په واسطه شق کول استطباب لري (Dacryocystorehinostomy)

## : Chronic dacryocystitis

د nasolacrimal duct دمزمن التهاب څخه عبارت دي ، چې دحادي صفحي په تعقيب يا دمزمن انتان په واسطه منځته راځي اکثراً په نوي زيږيدلو او کاهلانو کې ليدل کېږي عمده عرض ئي epiphora دي دکېسي دپاسه دګوتو پواسط دفشار واردولو وخت کې قيح دمنضمي کېسي ته راځي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Infantile chronic dacryocystitis

دانفي دمعي قنات التهاب څخه عبارت دي ، چې په نوي زیږیدلو کې لیدل کېږي، چې د انفي دمعي قنات دناقص خلاصیدل په سفلي MEATUS کې یا د meatus نسج بقایا په meatus کې منځ ته راځي ، چې وروسته دولادت څخه mesodermal نسج رشف کېږي اما کله کله په بعضي ماشومانو کې پاته کېږي ،چې عمده عرض ئې اوښکې بهیدل او وروسته دقیح راتلل د punctum څخه تشخیص تفریقي باید دولادي ګلوکوما سره وشي ، چې په دواړو کې اوښکې راځي اما ګلوکوما کې قرنیه مکدراو لوي وي.

## تداوي یا درملنه

دکېسي دپاسه مساژ ورکول ، انتي بیوتیک قطري په وقایوي ډول دمنضمي دالتهاباتو دمخنیوي په خاطر تر شپږ میاشتني پوري که چېري د تر شپږ میاشتني پوري خلاص نشي Cathetaraization عملیه اجرا کېږي پدي عملیه کې دعمومي انستیزي لاندي ماشوم کلک نیول کېږي او وروسته د punctum دتوسع ورکولو څخه سند داخلیږي او کله ،چې سند هډوکې سره په تماس شو نو ۹۰ درجه زاویه ورکول کېږي او inferior meatus ته داخلیږي او که خلاص نه شو د D.C.R عملیه په واسطه ، وروسته دڅلور کلني څخه کله ، چې هډوکې کلک شي اجرا کېږي.

## Adult chronic dacryocystitis

په کاهلانو کې دانفي دمعي کېسي بندیدل یا په بنفسهي شکل یا د جروحاتو او انتاناتو پـه تعقیـب منـځ تـه راځـي ناروغـان عمومـاً د epiphora او دقـیح راتللpunctum څخه شکایت کوي کله کله اوښکې په کېسه کې تولیږي او دتخـریش او metaplasia سـبب کېـږي ، چـې کېسـي جـدار نـازک کېـږي او mucocell جوړوي ، چې کله کله سوري کېږي او pus دباندي راوځي او fistul جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تداوي يا درملنه

دانتي بيوتيک قطري استعمال دوقائي په ډول وروسته دافراغي الري لواژ څخه ګټور دي اما اساسي تداوي ئي D.C.R دي

## دافراغي لاري تومورونه

ددمعي کېسي تومورونه نادر دي اما کله کله د neoplasm squamous cell adino carcinoma carcinoma منځ ته راځي عمده عرض ئي اوښکې ؤ دقيح منځ ته راتلل او کله کله دويني راتلل د punctum دلاري

## تشخيص ئي درادیوګرافي او تداوي ئي جراحي ده

# Glucoma

## Anatomy and physiology

Practical anatomy دګلوکوما پتو فزيولوژي دخلطيه مايع په شاوخوا کې څرخي دسترګي اساسي ساختمانوه ، چې دخلطيه مايع سره په ارتباط کې وي دحدبي جسم قدامي خوني زاويه او دخلطيه مايع دجريان څخه عبارت دي.

## حدبي جسم

دخلطيه مايع دتوليد ځاي څخه عبارت دي

## دقدامي خوني زاويه

دخلطيه مايع دتخليي په پروسه کې مهم رول لربوي د ايريس دقاعدي دحدبي جسم قدامي اکثراً برخي سکلرل سپور ، ترابيوکولر ميشورک او شوالبيس لاين څخه جوړ شويدي ، دزاوي پراخوالي په مختلفو کسانو کې مختلف وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
او دګلوکوما دمختلفو ټایپونو په پتومیکانیزم کې حیاتي رول لوبوي کلنیک له نظره دزاویې ساختمان دګونوسکوپ په واسطه لیدلي شو.

## دزاوي دپراخوالي ګونوسکوپیک درجه بندي

دقدامي خوني زاویې داندازه کولو لپاره مختلف سیستمونه پشنهاد شویدي، چې ترټولو مهم ئې شیفرز سیستم دي.

## دخلطیه مایع تخلیوي سیستم

دا سیستم دتربیکولر میشورک، شوابیس لاین، کولیکتر کانالونو، خطیه وریدونو او اپي سکلرل وریدونو څخه عبارت دي.

Trabicular meshwork

دغلبیل په څیر ساختمان دي، چې ددي لاري څخه خطیه مایع دسترګي څخه وځي او دري
برخي لري.

Uveal meshwork :A

دتربیکولر میشورک داخلي برخي څخه عبارت دي او ایریس دقاعدي دحدبي جسم څخه ترشوابیس لاین پوري وسعت لري دیوویل میشورک باندونه داسي واقع شویدي، چې د دوي ترمنځ د ۲۵-۷۵ مایکرخالیګاوي جوړوي.

B: کورنیو سکلرل میشورک دا دتربیکولر مشورک متوسط لویه برخه جوړوي، چې د سکلیرل سپور څخه دسکلیرل سلکوس تر وحشي دیواله پوري پراختیا لري دا دیو تعداد پردو څخه جوړه شویده، چې دبیضوي سوریو لرونکې دي، چې دغه سوري نسبتاً د uveal meshwork سوریو ته واړه دي ۵، ۵۰ مایکرو پوري وي

C: جوکستا کانالیکولر مشورک (اندوتلیل مشورک) دا دتربیوکولر میشورک خارجي زیاتره برخه جوړوي، چې دمنظم نسج دطبقي څخه، چې دواړه خواوته ئې اندوتلیل حجرات موجود وي ترکیب شویدي، د تربیکولر دغه نري برخه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کونیوسکلیرل مشورک شلم کانال سره وصلوي په حقیقت کې د جوکسا کانالیکولي میشورک خارجي اندوتلیل طبقه د شلم کانال داخلي دیوال جوړوي د تربیکولر مشورک دغه برخه د خطیه مایع په مقابل کې نارمل مقاومت لري.

## شلم کانال Schelum Canal

دا یو بیضوي کانال دي چې داندوتلیم پهواسطه پوښل شوي دي او د سکلیرل سلکوس په محیطي برخه کې قرار لري دداخلي دیوال اندوتلیل حجرات ئي غیر منظم دوک په څیر جوړښت لري، چې جیانټ واکیولونه لري، خارجي دیوال ئي دښوي هموارو حجراتو څخه جوړ شویدي چه د کولیټرل کانالونو فوحي پکې قرار لري.

## کولیکتو کانال

په داخل داسکلرا کې د خلطیه مایع داوعیو څخه عبارت دي، چې شمیر ئي ۲۵-۳۵ دانو ته رسیږي د شلم کانال څخه په مایل زاویه تیریږي او piscleral ورید کې په lamina fusion خاتمه مومي دغه خلطیه اوعیي، چې په داخل د سکلرا کې قرار لري په دوو سیستمونو باندي ویشل شوي دي یو ئي مستقیم سیستم دي، چې پدي کې لوي او عیي (خلطیه وریدونه) په داخل داسکلرا کې په کمه اندازه داخلیږي او مستقیماً په episcleral وریدونو کې داخلیږي او بل ئي غیر مستقیم سیستم څخه عبارت دي، چې پدي کې ډیر واړه collective کانالونه مخکې لیدي څخه. چې episcleral viens ته تخلیه شي د سکلیرا په داخل کې یوه ظفیره جوړوي.

## Practical physiology

فزیولوژیکي پروسي، چې د خلطیه مایع داینامیک پوري ارتباط لري د خلطیه مایع د تولید دریناژ او د سترګي دداخلي فشار د ساتلو څخه عبارت دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خلطیه مایع تولید

خلطیه مایع یو پاک شفاف اوبیز مایع ده ،چې د سترګي قدامي خونه کې ml ۰،۲۵ او خلفي خونه کې ml ۰،۰۶ ئي ډکه کړیده ، برعلاوه ادي څخه ، چې نوموړي مایع د سترګي فشار په نورمال ساتلو کې رول لوبوي قرنیه او عدسیه ته غذائي مواد تهیه کې او میتابولیتونو په لري کولو کې مهم رول لوبوي د نورمال خلطیه مایع اجزا داوبو ٪۹۹،۹ ، پروتین ٪۰،۰۴ او نور لکه سودیم mmol/kg ۱۴۴ ، پوتاشیم mmol/kg ۴،۴ ، کلورین mmol/kg ۱۱۰، ګلوکوز mmol/kg ۲،۰ ، لکتیک اسید mmol/kg ۷،۴ ، امینو اسید mmol/kg ۵ او انوسیتول mmol/kg ۰،۱ څخه جوړیږي ، د خلطیه مایع د تولید نورماله درجه د ml/min ۲،۳ څخه عبارت دي دغه میکانیزمونه یعني دیفیوژن الترافیلتریشن او سکریشن په مختلفو درجو ددي مایع په تولید کې رول لوبوي ، هغه پړاو ، چې د خلطیه مایع د تولید پروسه احتواکوي په لاندي ډول خلاصه کیږي.

ترټولو لمړني د الترافلتریشن په واسطه

د حدبي جسم استطالو کبیلري غشا ، چې د شنټ منظم نسج ا و صباغي اپتلیل څخه جوړ شویدي د پلازما اکثراً اجزاووته د تیرویدو اجازه ورکوي د پلازما څخه فلتر شوي مواد د حدبي استطالاتو د غیر صباغي اپیتیل شاته را جمع کیږي

غیر صباغي اپیتیل حجراتو ترمنځ کلکا رتباط

د blood aqueous barrier یوه برخه جوړوي یعني مواد لدي ځایه څخه د فعال ترانسپورت ( سکریشن ) په واسطه خلفي خوني ته انتقال مومي نوموړي ترانسپورت د سودیم پوتاشیم فعال شوي ATPase پمپ او کاربونیک انهایدرین انزایم سیستم په واسطه پرمخ ځي ، هغه مواد چه د فعال ترانسپورت په واسطه انتقالیږي د سودیم ، کلورید ، پوتاشیم ، اسکاربیک اسید ، امینو سید او باي کاربونات څخه عبارت دي.

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library
دحدبي جسم دغير صباغي اپتيل څخه دفعال ترانسپورت په واسطه دموادو انتقال د اوسموتيک تفاوت سبب گرځي چه دسترگي خلفي خوني ته دپلازما دنورو موادو د ترانسپورت سبب گرځي ، چې دغه عمليي ته الترافلتريشن يا ديفوژن وائي ، سوديم اساسا خلفي خوني ته داوبو په داخل کولو ته مسول دي.

## دخلطيه مايع دجوړيدو کنترول

دسترگي داخلي فشار د ورځي په مختلفو برخوکې مختلف وي ،چې دغه بدلون ددي ښکارندوي دي ، چې خلطيه مايع په جوړيدو کې داخلي فکتورونه سهيم دي vasoprosin او adenylate phosphate دسوديم په فعال ترانسپورت کې دبدلون له کبله دخلطيه مايع جوړيدنه متاثره کوي.

دخلطيه مايع منفعل جوړيدنه (diffusion and ultra filtration) دحدبي جسم کپيلري دويني فشار ، دپلازما ازموتيک فشار او دسترگي دداخلي فشار تابع ده.

## دخلطيه مايع دريناژ

خلطيه مايع دسترگي دخلفي خوني قدامي خوني ته ديو کم اندازه فزيولوژيک مقاومت د طي کولو څخه وروسته رسيږي. چې دقدامي خوني څخه بيا په دوه لارو تخليه کيږي.

٠ Trabicular autoflow (convensional دخلطيه مايع دتخليه لپاره اساسي مخرج گڼل کيږي تقريباً ٩٠٪ دټولي خطيي مايع دهمدي الري څخه دريناژ کيږي دخلطيه مايع ازاد جريان د trabicular meshwork څخه تر دشلم کانال تر داخلي ديواله پوري موجود وي او دشلم کانال دداخلي ديوال دازاد جريان په مقابل کې يو څه مقاومت جوړوي دشلم کانال خخه دخلطيه مايع دتيريدني ميکانيزم قسماً پيژندل شويدي.

Vaculation theory ډير دمنلو وړ ده ، دسلم کانال داخلي ديوال داندو تليل حجراتو په واسطه جوړ شوي دي. چې ددوي ترمنځ transcellular مسافي وجود

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري دا ديو واکېول سيستم په شکل خلاصيږي ، دفشار په مقابل کې سوري کېږي او جوکستا کانالونو منضم نسج څخه خلطيه مايع شلم کانال ته انتقاليږي دشلم کانال څخه مايع د ۲۵-۳۵ عددو خارجي جمع کوونکې کانالونو له لاري دمستقيم او غير مستقيم الري episcleral viens ته انتقال مومي ، دسترګي دداخلي فشار او intra scleral veins دفشار ترمنځ تفاوت ۱۰ mmhg دي ، چې همدغه تفاوت دخلطيه مايع ديو طرفه جريان مسئول کڼل کېږي.

## Uveal scleral out flow (unconventional)

دا دخلطيه مايع دمجوعي او تفلو ۱۰ فيصده تشکېلوي ، خلطيه مايع دحدبي جسم څخه suprachoroidal spase ته تيريږي او لدي ځاي څخه دحدبي جسم scleral and chorid veins دوران په واسطه تخليه کېږي.

## دسترګي دداخلي فشار ساتنه

دسترګي داخلي فشار دهغه فشار څخه عبارت دي ، چې دسترګي داخلي مايع دسترګي دکري په جدارونو واردوي دسترګي داخلي نارمل فشار ۱۰-۲۱ mmhg فرق لري.

(متوسط)

حدبي د ۲،۵ mmhg +۱۲ څخه عبارت دي دخلطيه مايع دجوړيدو او دهغه دتخليي ترمنځ يو ډايناميک تعادل وجود لري ، چې دهمدي تعادل په واسطه دسترګي داخلي فشار په نارمل حالت کې ساتي مختلف فکتورونه دسترګي داخلي فشار متاثره کوي ، چې په لاندي ډول ګروپ بندي شويدي.

## موضعي فکتورونه

خلطيه مايع دجوړيدو درجه دسترګي داخلي فشار سويه متاثره کوي ، چې دخلطيه مايع جوړيدنه بيا دمختلفو فکتورونو لکه د حدبي جسم دشعريه عروقو دنفوذيه قابليت او د ويني ازموتيک فشار تابع دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
دخلطیه مایع دریناژ په مقابل کې مقاومت دسترګي داخلي فشار متاثره کوي دا د کلنیک له نظره ډیرمهم دي دخلطیه مایع ددریناژ په مقابل کې مقاومت اکثراً په تربیکولر مشورک کې موجود وي.

Episcleral وریدونو دفشار زیاتوالي ممکن دسترګي داخلي فشار زیات کړي دوال سلوامانورا په موقتي ډول دسترګي داپیسکلیرل وریدون فشار زیاتوالي سبب ګرځي بلاخره دسترګي داخلي فشار زیاتوي.

دحدقي تویع په هغه کسانو کې، چې دسترګي قدامي دهلیز زاویه ئي تنګه وي د سترګي داخلي فشار زیاتو ي،چې دا حادثه دقزیحي په واسطه دخلطیه مایع ددیناژ په مقابل کې دقسمي مخنیوي له کبله منځ ته راځي.

## عمومي فکتورنه

۱- heriditry په مولتي فکتوریل موربانې ممکن دسترګي داخلي فشار متاثره کړي.

۲- عمر دسترګي متوسط داخلي فشار ممکن دخلطیه مایع تخلیه دمهمو اسانتیاوکموالي له کبله د۴۰ کلونو وروسته زیاتیږي.

۳- جنس ۴۰-۲۰ کلونو ترمنځ په نارینه او ښځینه جنسونو کې دسترګي داخلي فشار مساوي دي دڅلویښت کلونو څخه وروسته دسترګي متوسط داخلي فشار دعمر دزیاتیدو سره په ښځینه وو کې نسبتاً نارینه وو ته زیاتیږي.

۴- دورځي په مختلفو وختونو کې دسترګي داخلي فشار بدلونونه.

همیشه دسترګي داخلي فشار په سهارکې زیات وي او مانښام کې کمیږي دا د پلازما کوتیزول دورځیني بدلون سره ارتباط لري، نورماله سترګه نسبت ګلوکوماتوز سترګي ته کم نوسان mmhg ۰۵

دسترګي داخلي فشار بدلون دوضعیت سره کله،چې یوشخص دناست پوزیشن څخه د ملاستي پوزیشن ته تغیر وکړي نو دسترګي داخلي فشارئي زیاتیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
دويني فشار که څه هم دويني فشار دسترګي داخلي فشار باندي اوږوده موده اغيزه نلري خو دسترګو داخلي فشار وقعات په هغه کسانوکی ،چې لوړ فشار دويني ولري نسبت هغه کسانو ته ،چې نارمل فشار ولري زيات ليدل کېږي.
دويني ازموتيک فشار دپلازما ازمولاليتي زياتوالي دسترګي داخلي فشار کموي او برخلاف ئي زياتوي.
عمومي انستيزي او نوري ادوي دسترګي په داخلي فشار باندي تاثير لري لکه الکول د سترګي دننه فشار کموي او دتنباکو څکل ، کافين او ستيرويد ممکن دسترګي داخلي فشار زيات کړي برعلاوه دګلوکوما ضد ډيري دواګاني شته ، چې دسترګي داخلي فشار کم کړي ،

## دګلوکوما طبقه بندي اونوم ايښودنه

ګلوکوما يوازي يوه ناروغي نده بلکه دناروغيو يو ګروپ دي په کومو کې چه دسترګي دخلي فشار دنورمال حالت څخه لوړ ځي ، optic dise متضرر کوي او دديد دساحي د غير قابل برشت نقيصي سبب ګرځي.
**تعريف**:ئي داسي ، چې معلوميږي دومره ساده ندي ځکه ،چې دهر شخص دسترګي نورمال تحمل کېدونکې فشار باندي پوهيدنه نا ممکن دي ، برعلاوه يوه بله اصطلاح د ocular hypertension په نامه وجود لري ، چې پدي کې يوائي دسترګي داخلي فشار لوړ وي پرته دګلوکوما دوصفي تغيرات څخه ، پر خلاف نارمل يا لوتنشن ګلوکوما کې دسترګي په اپتيک ډسک
کې cupping او دديد ساحه کمه وي حال دا چه دسترګي فشار نارمل او يا دنارمل څخه کښته وي.

## طبقه بندي

A- ولادي يا انکشافي ګلوموما
١- ابتدائي ولادي ګلوکوما ( پرته دکوم انومالي څخه )
٢- انکشافي ګلوکوما( دانومالي سره )

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B- ابتدائي ګلوکوما

۱- ابتدائي زاویه خلاصه ګلوکوما

۲- ابتدائي زاویه بنده ګلوکوما

۳- ابتدائي مخلوط میکانیزم لرونکې ګلوکوما

## ثانوي ګلوکوما

## ولادي ګلوکوما

تعریف: دا دیوګروپ ناروغیو څخه عبارت دي ، چې د سترګي د قدامي خوني زاویه د انکشافي انومالي له کبله د خلطیه مایع د دریناژ په مقابل کې تړي او د سترګي داخلي فشار لوړوي ځیني وختونه ګلوکوما ممکن دولادت څخه وروسته تر څو کلونو پوري منځنه رانشي نو پدي اساس انکشافي ګلوکوما د دي ناروغیو لپاره ښه اصطلاح ده.

پدي اساس چې ګلوکوما په کوم عمر کې منځته راځي ګلوکوموما په لاندي ډولونو ویشل شویده.

**۱- حقیقي ګلوکوما** : دا هغه ډول د ګلوکوما ته ویل کېږي ، چې د سترګي فشار په داخل الرحمي ژوند کې پورته شي او ماشوم د غټو سترګو سره ولادت وکړي نوموړي حالت په ۴۰٪ حالاتو کې منځ ته راځي.

۲- انفنتیل ګلوکوما : داهغه ډول ګلوکوما څخه عبارت دي ، چې ناروغي د ماشوم د دري کلني څخه مخکې څرګنده شي او ۵۰٪ د ټولو حالاتو تشکېل کوي.

۳- جووینایل ګلوکوما : دا باقیمانده ۱۰ فیصده حالات تشکېلوي چې پدي حالت کې د سترګي داخلي فشار د ۱۳- ۱۲ عمر کې لوړیږي.

کله ،چې ناروغي مخکې له دري کلني څخه منځنه راشي د سترګي ګاټي غټیږي او Buphthalmus (bull like eye) ورته ویل کېږي لکه څرنګه ،چې د غه د سترګي غتوالي په سترګه کې د خلطیه مایع تراکم د کبله منځته راځي نو hydrophthalmus هم ورته ویلي کېږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ټيپونه

۱- ابتدائي انکشافي ولادي ګلوکوما

۲- انکشافي ګلوکوما د سترګي دانومالي سره

## ابتدائي انکشافي ولادي ګلوکوما

دا د سترګي په هغه اوچت غیر نارمل فشار باندي دلالت کوي ، چې د سترګي د قدامي خوني دزاويي دانکشافي انومالي له کبله منځته راغلي وي او د سترګو ناروغیو او سیستمیک ناروغیو سره اړیکې ونلري.

## وقوعات او جنیتک ئي

اکثراً واقعات ئي sporadic وي تقریباً ۱۰٪ دواقعاتو ئي تقریباً autosomal recessive inheritance with incomplete penetrance وي که څه هم د جمس اړیکې په inheritance کې غیر معمول وي خو بیا هم ۷۵٪ څخه زلات ناروغان هلکان دي او ۷۵٪ ناروغیو کې نوموړي ناروغي دوه طرفه وي مګر یو طرفه هم کېداي شي نوموړي ناروغي په لس زرو کې یو ماشوم اخته کوي.

## Pathogenesis

د tribeculome سو انکشاف ، چې Irido tribecular junction ددي برخي دخلطیه مایع دتخلیه دکمیدو مسوول کنل کېږي ،چې دا بیا د سترګي داخلي فشار پر لوړوالي منتج کېږي په ابتدائي ولادي ګلوکوما کې tribecular junction د سترګو دنورو انومالیو سره یو ځاي نه وي د سریري له نظره tribecular junction دزاويي د recess په نشتوالي ا دقزیحي ئي په مستقیم هموار یا مقعر ارتکاز باندي مشخص کېږي ،چې په النړي ډول دي دقریحي هوار ارتګاز نوموړي حالت نسبت دقریحي مقعر ارتکاز ته ډېر معمول دي پدي حالت کې قزیحه په هوار ډول او دفعتاً دضخیم تربیکولوم په سکلیرل سپور یا د سکلیرل سپور په قدام کې یا په خلف د سکلیرل سپور کې ارتکاز کوي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

،چې پدي حالت کې اکثراً د حدبي جسم او سکليرل ارتکاز کوي ، چې پدي حالت کې اکثراً د حدبي جسم او سکليرل سپور يوه برخه دليدلو وړ وي.

**د قزيحي مقعر ارتکاز**: نسبت هوار ارتکاز ته کم معمول دي پدي حالت کې د قزيحي سطحي انساج د اريدو ترابيکولر جنکشن او ترابيکولوم دپاسه ارتکاز کوي او سکليرل سپور او حدبي جسم پټوي.

## کلنيکي تصوير

۱- درڼا ځخه ويره ، بلفروسپزم ، لکريميشن او د سترګي رابينګ دا ټول اکثراً يو ځاي وي داسي فکر کيږي ،چې نوموړي اعراض د سترګي د داخلي فشار دلوړيدو د کبله د قرنيه دعصب د تخريش په نتيجه کې منځ ته راځي درڼا ځخه ويره که څه هم لمړني علامه ده خو بيا هم ځانته دومره کافي ندي ،چې د ګلوکوما په لور موږ وهڅوي.

## د قرنيي علايم

دا د قرنيه دازيما ، لويوالي او decemet غشا د شليدو ځخه عبارت دي

**د قرنيه ازيما**: اد لمړني علامه ،چې موږ ګلوکوما لورته رهنمائي کوي ، نوموړي ازيما لمړې د قرنيه له اپتيل کې وي ، چې وروسته ستروما هم اخته کوي او بلاخره د قرنيه دايمي کثافت منځته راوړي.

د قرنيي لويوالي دا د سترګي ګاټي دلووالي سره يو ځاي وي خصوصاً په هغه حالاتو کې ، چې ناروغي مخکې له دري کلني ځخه واقع شوي وي ديو infant د قرنيه قطر 5mm ،۱۰ ده که چېرته نوموړي قطر 13mm شي نو د قرنيه لويوالي تائيد کوي که چيرته په يو infant کې د قرنيه قطر 12mm ځخه زيات وي نو په خرابوازارو دلالت کوي.

**سکليرا**: سکليرا نري کيږي او د uvial tissue له کبله ابي معلوميږي قدامي خونه عميق يا ژوره کيږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Iris** ممکن iridiodonosis موجود وي او په ورستيو حالتو کې ايروس دپاسه سپين اتروفيک لکې ليدل کېږي.

**عدسيه:** دا دزونو اليافو دکسيدو له کبله هواريږي او ممکن به ځايه subluxation شي

**Optic disc:** په optic disc کې په مختلفو اندازو cuoping او اتروفي خصوصاً وروسته ددريم کال څخه ليدل شي.

**دسترګي داخلي فشار:** دسترګي داخلي فشار لوړيږي خو نه حادوي نه پرمختللي.

## معاينه

په ټولو مشکوکو حالاتو کې بايد دسترګي مکمل معاينات دعمومي انستيزيا لاندي اجرا شي ، چې نوموړي مشکل معاينات په لاندي ډول دي.

**دسترګي داخلي فشار اندازه کول:** دسترګي داخلي فشار دشايټس ټولو ميتر يا perks opplination tonometer په واسطه اندازه کېږي ځکه ،چې په ماشومانو کې سکليرل rigidity ډيره کمه وي.

دقرنيي دقطراندازه کول دخط کش په واسطه

د optic disc دمعاينه کولو لپاره افتلموسکوپي

## دسترګي دقدامي خوني دزاويي دمعاينه کولولپاره

## Cornioscopic examination

**ابرالوده قرنيه:** په يو طرفه حالاتومعمول سبب د تروما څخه عبارت دي ، چې د descement membrane په کې Rapture کړي وي په دوه طرفه حالاتو کې ممکنه سبب ئي تروما ، Interstial keratitis,mucopoly sacaridosis او دقرنيه داندوتليل ډياستروفي وي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لویه قرنیه:** چې Buphthalmus له کبله منځته راغلي وي باید د میګالو کورنیا سره تفریقي تشخیص شي.

Lacrimation په ماشومانو کې همیشه د NLD دلاري بندش ته فکر کېږي او ولادي ګلوکوما مقدم تشخیص دیاده وځي.

**درنا ځخه ویره:** ممکن په uvitis او Keratitis کې هم منځته راشي.

په infants کې دسترګي دکري دفشار زیاتوالي د retinopathy, Retinoblastoma , persistence primary permaturity Hyperplastic vitrous، تروماتیک ګلوکوما ، ثانوي ګلوکوما ، چې په Rubella کې لیدل کېږي ، aniridea، او sturg weber syndrome له کبله هم منځته راځي ، چې باید په فکر کې وي.

## درملنه

ابتدائي تداوي ئي جراحي تداوي تشکېلوي مخکې د جراحي عملیي څخه باید دسترګي فشار د hyperosmotic دواګانو acetazolamid او B-blaocker په واسطه ښکته شي ، میوتیک دواګاني پدي ډول کېسونو کې رول نلري.

## دولادي ګلوکوما لپاره جراحي عملیاتونه

**Goniotomy** : پدي عملیه کې بارکنس ګونوستومي چاړه دصدغي طرف څخه د limbus دلاري تیریږي دګونیوسکوپیک کنترول لاندي چاړه دزاوئي انفي طرف دقدامي دهلیز څخه تیریږي.

د iris ریښي او شوابس لاین په متوسط برخه کې تقریباً په ۷۵٪ کې یو شق جوړیږي او چاړه بیرته ایستل کېږي که څه هم نوموړي عملیه باید تکرار شي خو نهائي کامیابه درجه ئي ۸۵٪ ده

**Trabicolotomy**

دا هغه وخت ګټه لري ، چې دقرنیه دابر الوده منظري له کبله دسترګي دقدامي دهلیز منظره معلومه نشي اویا هم ګونیوټومي نتیجه ورنکړي ، پدي حالت دشلم

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کانال په ۱۲ بجو کې وروسته د conjunctival او قسمي سکليرل فلپ څخه ورتيکل سکليرل شق اجرا کېږي او د شلم کانال ښکاره کېږي ، د هارم تروبيکولوتوم ښکتني prongپه يو طرف شلم کانال کې سره پرمخ وړل کېږي ، او پورتني prong ئې ښکتني prong دلارښود په ډول استعماليږي وروسته تربيکولوتوم ته تدور ورکول کېږي او د کانال د ۱/۴ د پاسه داخلي پرده شليږي او وروسته دا په بل طرف تکراريږي اساسي شکل پدي کې د شلم کانال موضعي کول دي.

## Trabeculotomy او trabeculectomy

اوس دواړه عمليي يا procedure يو ځاي اجرا کېږي او ښه نتيجه ورکوي.

## انکشافي ګلوکوما د سترګي د نورو اناملیو سره

ډير مختلف سيستميک اناملي شته چې د سترګي فشار لوړوي ، چې البته دغه د سترګي د فشار لوړوالي د سترګي د قدامي خوني دزاويه دانکشافي اناملیو له کبله وي ، بعضي اناملي ګاني په لاندي ډول دي.

A- ګلوکوما د iridocorneal dysgensis سره يو ځاي وي.

دا post embyotoxen احتوا کوي ، چې په متبارز شوالبس حلقه ، Rieger anomaly riegersyndrome, peters anomaly او د rieger syndrom او peters syndrom په combination مشخص کېږي.

**B**- ګلوکوما په **۵۰**٪ واقعاتو کې د **aniridia** سره يو ځاي وي

**C**- ګلوکوما د **Ectopea lentis syndrom** سره په مارفن سندروم ، ويل مارچېسان سندروم او هوموسيتمين يوريا کې موجود وي.

**D**- ګلوکوما دفکومتوسز سره په **۵۰**٪ **sturge weber syndrome** او **Von reckling housens neurrfibromatosis** کې ليدل کېږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
متفرقه حالات د **naevus of ,( oculo cerbro renal syndrome) lowes syndrom congintal microcornea, non ophthalmus, conginetal ectropion, oto uvea** او **Rubella syndrome** څخه عبارت دي.

## ابتدايي زاويه خلاصه ګلوكوما

لكه څرنګه چې د دي د نوم څخه معلوميږي دا يو ابتدائي ګلوكوما ده ، چې د سترګي لوړ فشار د سترګي د نورو ناروغيو او سيستميک افاتو سره تړاو نلري دا په هغه سترګو کې پيدا كيږي ،چې د قدامي خوني زاويه ئي خلاصه وي ، دي حالت ته **simple chronic glocoma** هم ويل كيږي ، چې په دي كې ورو ورو د سترګي داخلي فشار لوړيږي ، اپتيک ډيسک تغير كوي او د ديد ساحه پکې كميږي

## Etiopathogenesis

كه څه هم په درست ډول ندي پيژندل خو ځيني حقيقتونه په لاندي ډول دي.

## مساعد كوونكې او خطرناک فكتورونه

**POAG Herdity**: پولي جينک انحير ناتهس لري په **offspring** كې د دوه فكتورنو په واسطه او **sibiling** كې د څلور فكتورو په واسطه چې په **POAG** پاندي اخته وي د ناروغي داخستو خطر زياتيږي.

عمر: د عمر زياتوالي سره خطر د ګلوكوما زياتيږي **POAG** معمولاً د ۵۰-۷۰ كلني عمر كې ليدل كيږي.

مايوپس مايو پيک كسان نسبت نورمال كسانو ته ډير مساعد وي.

په ديابتيک كسانو كې نسبت **non diabetic** كسانو ته د **prevelance POAG** زيات وي داسي فكر كيږي ، چې د سكرتو څكل د **POAG** خطر زياتوي په هغو كسانو كې ، چې لوړ شار لر نسبت هغو كسانو ته ،چې نومال فشار لري د **POAG** وقوعات زيات دي خو تر اوسه پوري لوړ فسار د **POAG** د سبب په حيث ندي پيژندل شوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
**Thyrotoxicosis**: دا هم دسترګي دلوړ فشار د سبب په حيث ندي پيژندل شوي خو بيا هم په هغه کسانو کې چې **Gravis Ophthalmic disease** موجود وي نسبت نو مال کسانو ته د **POAG** وقوعات زيات ليدل کېږي.

دسترګي دلوړ فشار **Pathogensis** په هغه حجراتو کې، چې شلم کانال پوښوي د **vacules** نشتوالي او د ترېبيکولا **sclerosis** اوضخيم کېدنه د خليطه مايع دجريان په مقابل کې مقاومت زياتوي او د خلطيه مايع تخليه کميږي ، چې دا په حقيقت کېدسترګي داخلي فشار لوړوي ، خو ددغه تغيراتو سبب باوري ندي.

دسترويد مسوليت هغه کسان ،چې پر **POAG** باندي اخته وي اود ودي **offspring** او **sibiling** ډير تمائل لري ،چې شپږ اووني موضعي سترويد په مقابل کې دسترګي فشار په قابل ملاحظه ډول پورته ځي.

## د POAG وقوعات

وقوعات ئي په مختلفو خلکو کې مختلف دي دټولو نفوسو په ۱۰۰ کې يو کس ، چې عمرئي د ۴۰ کلونو پورته وي پدي اخته کېږي چې دا د ګلوکوما دحالاتو ۱/۳ جوړوي.

## کلنيکي تصوير

### اعراض

ناروغي په **insidious** شکل منځته راځي او هميشه بي عرضه وي اوتر هغه پور ،چې د ديد ساحه ډيره کمه شوي نه وي اعراض نه ورکوي ، نو پدي لحاظ دمتوسط عمر ښځه وروسته وقفوي دسترګو معاينات بايد ترسره شي.

۲- ناروغ ممکن خفيفاً دسترګو او سردرد څخه شکايت وکړي

۳- ځيني وختونه خپله ناروغ دديد ساحي نقيصه مشاهده کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- دعصبي اروا او دحدبي جسم دعضلاتو ددوامداره فشار له کبله دتطابق عدم کفايه مطالعه او نژدي کارونه ډير مشکل کوي نو پدي خاطر ناروغان مکرراً دپير چشمي (Pressbiopia) عنيکې دبدولو غوښتنه کوي.

۵- په ناروغانو کې Dark adaptation په تخير انکشاف کوي او اخيرو پړاوونو کې ډير زورونکې وي.

## علايم

۱-دقدامي برخي علايم دسترګي معاينه د **slite lamp** په واسطه نارمل قدامي سګمنت ښي په اخيرو مراحلو کښي دحدقي **reflex** ضعيفه کېږي او قرنيه په کمه اندازه **hazy** کېږي.

۲- دسترګي داخلي فشار کې تغيرات په لمړيو مراحلو کې دسترګي لوړ فشار په دوامدار ډول موجود نه وي لاکن ورځني نومال بدلون تغير راځي نو پدي اساس د سترګي فشار په ۲۴ ساعتو کس ۳-۴ ځله مشاهده شي په اکثراً ناروغانو کې دسترګي فشار د **POAG (primary angle closer glaucoma )** پرخلاف مانښام ښکته کېږي او ورځي په مختلفو وختونو کې دسترګي فشار دبدلون په شکل کې ښودل شويدي د **schoytz** تونوميتر په واسطه دفشار تغير **۵ mmHg** په اندازه مشکوک حالت او د **۸ mmHg** څخه لوړ دګلوکوما تشخيص تائيد کوي په وروستيو پړاوونو کې دسترګس فشار دوامداره د **۲۱ mmHg** څخه لوړ او د **۳۰-۴۵ mmHg** پوري وي.

## په اپتيک ډسک کې تغيرات

داپتيک دسک کې تغيرات هميشه په معمول ډول دفندوس دمعاينه څخه وروسته ليدل کېږي چې دا يو مهمه علامه ده ، چې مونږ په POAG باندي مشکوک وي دا تغيرات يو طرفه ، پر مختلونکې او دمختلفو کلنيکې خواصو لرونکې وي ، چې داپتيک دسک با احتياطه معاينه slite lamp

(c) ketabton.com: The Digital Library

بايد چې bimicroscopy , direct ophthalmoscope +۹۰D لينس په کې استعمال شي او indirect ophthalmoscopy يا Gold man contact lens او hurby lens په واسطه اجرا کېږي دريکاډ کولو مستند کولو تخنيکونه د serial drawing ,photography او photogrammetry څخه عبارت دي cenfocal scanning (CSLT) laser photography د دي مقصد لپاره ډير حساس او دقيق ميتود دي.

د ګلوکوما تغيرات دابتدائي تغيراتو ، پرمختللي تغيراتو او اپتيک اتروفي په شکل باندي تعريفيږي.

کله چې يو يا څو دلاندني علايمو څخه وليدل شي نو د ګلوکوما د موجوديت شک بايد وشي.

⇐ کله ، چې داپتيک ډيسک په علوي او خلفي قطب کې د neural rime دانساجو انتخابي له منځ تګ له کبله عمودي بيضوي cuppings وليدل شي.

⇐ کله ، چې د دواړو سترګي داپتيک ديسک ترمنځ د ۲،۰ په اندزه فرق موجود وي دا قابل ملاحظه فرق دي.

⇐ دوسيع cup (۰،۶) يا زيات موجوديت

⇐ په اپتيک ډسک کې او يا څنډو ته ئي نژدي splint hemorrhgea موجوديت

⇐ په اپتيک دسک کې دخاسفي ساحو موجوديت

⇐ دشبکې د nerve fiber layer اتروفي

## په اپتيک ديسک کې پرمختللي تغيرات

⇐ پرمختللي cup موجود دي داپتيک ډيسک خراشيدګي ممکن دډيسک څنډو ته رسيدلي وي.

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

⟸ Neural rime نري کېږي ،چې د ډسک مجاورت کې د crecentic سوري په شکل معلومېږي.

⟸ د شبکې اوعیې د پزې په طرف بې ځایه شوې دي او نوموړي اوعیې د ډسک په څنډو کې متقطع معلومېږي (bayoneting syndrome) کله ،چې د سترګې داخلي فشار زیات شي د شبکیه د شعریه عروقو pulsation د ډسک په څنډو کې لیدل کېږي ، چې د ګلوکوما لپاره pathogonomic علامه ده.

⟸ په lamina crebrosa کې slite shaped سوري موجود وي او د ډسک تر څنډو پوري لیدل کېږي (lamellar dot sign)

Optic atrophy

کله ،چې نقیصه پراخه شي ( پرمختګ ) وکړي د ډسک عصبي نسج ټول تخریبېږي او د اپتیک ډسک راس سپین او عمیق شوي معلومېږي.

## د اپتیک ډسک د تغیراتو فزیولوژي

دواړه میخانیکي او وعایوي فکتورونه د cup په جوړیدو کې رول لري د سترګي داخلي لوړ فشار په میخانیکي ډول په lamina crebrosa باندي تاثیر کوي او په هغه باندي شاته فشار راوړي او عصبي فایبرونه press یا تر فشار لاندي راوړل کېږي او Axoplasmic جریان مغشوش کوي او دوعائي فکتورونو د عصبي فایبرونو د اسکمیک اتروفي سبب ګرځي.

## د دید د ساحي نقیصه

دا تر هغه وخته پوري پرمختګ کوي چې د سترګي داخلي فشار کنترول شي او دا تغیرات د اپتیک عصب د راس د تغیراتو سره موازي سیر کوي ،او د غه تغیرات د مقدمو او موخرو تغیراتو په شکل مطالعه کېږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دید د ساحي نقیصي پر مختګ

د ګلوکوما دوجي د دید د نقیصي پر مختګ لږ یا زیات دلاندنیو حالاتو سبب ګرځي.

⇐ **ایزو پټر کانترکشن**: د ګلوکوما په ناروغانو کې د دید د ساحي دا نوعه نقیصه په مقدم ډول منځته راځي په دي حالت کې مرکزي یا محیطي ساحه کس خفیف عمومي محدودیت منځته راځي ،د دید د ساحي دا نوعه نقیصه د ګلوکوما په ناروغانو کې محدود ارزښت لري ځکه چې د سترګي په یو شمیر نورو ناروغیو کې هم دا نوعه نقیصه منځته راځي.

⇐ Barring of blind spot: دا هم د ګلوموما په ناروغانو کې په مقدم ډول منځ ته راځي او محدود تشخیصي ارزښت لري د ړندي نقطي baring دا معني لري چې د ٣٠٪ مرکزي ساحي د خارجي سرحد د داخلي تنځنا څخه ړنده نقطه تفریق شي

⇐ Small wing shaped para central scotoma دا د دید د ساحي قابل ملاحظه نقیصه ده چې په مقدم ډول منځته راځي چې دا په Bjerrums ساحي د ړندي نقطي پورته یا ښکته ښکاره شي.

⇐ Seidels scotoma: دوخت په تیریدو سره د paracentral scotoma د ړندي نقطي سره یو ځای کېږي او دلور په شان شکل جوړوي چې همدي حالت ته seidels scotoma ویل کېږي.

⇐ Arcuat or Bjerrum scotoma داد Fixation point په دواړو لاندي او باندي ساحو کې seidels دوسعت له کبله چې ځان افقي لاین ته رسوي جوړیږي د مجاورو فایبرونو دمجروح کېدو له امله محیطي ماتیدني منځته راځي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

⇐ Roenns central nasal step: دا هغه وخت منځ ته راځي چې دواړه arcuat په مختلفو قوسونو حرکت وکړي او په افقي بعد کې ۹۰ درجې نقیصیه جوړه کړي.

⇐ Ring ordouble arcuate scotoma دا هغه وخت انکشاف کوي چې دواړه arcuate یو بل سره یو ځاي شي.

⇐ **ددید د ساحې محیطي نقیصیه:** بعضي وختونه دناروغي په لومړي سیر کې او بعضي وختونه دناروغي په اخرو مراحلو کې ښکاره کېږي د Rocnns انفي محیطي step دمحیطي ازوپتر دغیر مساویانه تقلص له کبله منځته راځي

⇐ ددید د ساحې پرمختللي ګلوکومائي نقیصیه ددید ساحه په تدریجي ډول یا دمرکز په لور او یا د محیط په لور د منځه ځي او بلاخره یو اځي یوه کمه اندازه مرکزي دید (tubular vision) چې دي سره یوه کمه اندزه صدغي دید ملګري وي پاتي ، دتخریباتو دوام په تدریجي ډول ددغه دید د سایز د کمیدو سبب ګرځي ترڅو د مرکزي دید ساحه ټوله له منځه لاړه شي ، د صدغي دید ساحه نسبتاً ډیره مقاومه ده او په اخر کې دا هم دمنځه ځي او ناروغ NLP کېږي.

## د POAG ارتباطات دسترګو له نورو ناروغیو سره

POAG ځینـــي وختونـــه د Retinitis, high myopia, Fuclis, pigmentos CRVO, endothelialdystrophy او primary retinal detachment سره یو ځاي وي.

## معاینات investigations

⇐ Tonometry: Applanation tontmeter نسبت Schowtz تونومیتر ته ښه دي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

⇐ دورځي مختلفو برخو کې دفشار دتغير تيست دکېسونو دمقدم تشخيص لپاره ډير مفيد دي.

⇐ Gonoscopy: ددي په واسطه دقدامي خوني زاويه ليدل کېږي ، چې خلاصه ده او ددي معايني اهميت په دي کې دي ،چې PoAG دګلوکوما دنورو انواعو څخه تفريق کوي.

⇐ داپنيک ډسک دتغيراتو ليدنه ډير داهميت وړ ده.

⇐ سلايت لمپ معاينه ددي لپاره اجرا کېږي ، چې ثانوي زاويه خلاصه ده او که نه تر څو دګلوکوما اسباب پيدا شي.

⇐ پريميتري ددید دساحي دنقيصي دمعلومولو لپاره ډيره ضروري ده.

⇐ Nerve fiber layer analysis(NFLA) دا يو نوي سامان دي ، چې ددي په واسطه دشبکېه د nerve fiber په طبقه کې ګلوکوما مايي تغيرات د رويت د ساحي دتغيراتو دپيدا کېدو څخه مخکې او داپتيک دسک تغيراتو څخه تشخيص کېږي.

⇐ Provocative test: دا په بارډر لاين حالاتو کې ضروري دي ، هغه تست چې ډير اجراکېږي داوبو دڅکلو له تست څخه عبارت دي ، نو تستونه لکه combine water drining test او bulber pressure test tonography او prescotrine test او کافين تيست معمولانه اجرا کېږي.

## Water drinking test

دا په دي تيوري باندي بنا دي ، چې ګلوکوما ئي سترګه داوبو څکلو په مقابل کې ډير ځواب وائي ، په دي تست کې د اته ساعته لوږي څخه وروسته دناروغ دسترګس فشار ټاکل کېږي او ناروغ ته ويل کېږي چې يو ليتر اوبه دي وڅکې ددي په تعقيب ديو ساعت لپاره دوهمو ۱۵ دقيقو کې دناروغ دسترګو فشار نوټ کېږي ، ۱۵-۳۰ دقيقو کې دسترګو فشار اعظمي حد ته پورته کېږي او وروسته د

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰ دقیقو څخه نورمال حالت ته په روغو او ګلوکوما ئي سترګو کې راګرځي که ۸ mmHg یا ددي څخه زیات دسترګي فشار لوړ شي نو دا د خلاصي زاویې ګلوکوما تشخیص کوي.

## تشخیص:

تشخیص ئي دسترګو دلوړ فشار ، اپتیک ډیسک cuping او دید ساحي دنقیصي تابع دي نوموړي ناروغان له لاندي نومونو په یوه باندي تشخیص کېږي .

⇐ تاسیس شکوي دخلاصي زاویې ګلوکوما او داسي ښودل کېږي ، چې دسترګو داخلي لوړ فشار ۲۱mmHg داپتیک ډیسک cuping او دسترګي دید ساحي د نقیصي سره یو ځاي وي که څه هم هغه کسان ،چې دسترګو لوړ فشار ئي دډیسک cuping یا ددید دساحي دنقیصي سره یو ځاي وي خو ګلو کوما ویل کېږي.

⇐ مشکوک ګلوکوما یا دسترګو لوړ فشار دواړه اصطلاحات دهغه چا ته استعمالیږي چې دسترګو ثابت لوړ فشار ئي ۲۱mmHg داپتیک ډیسک cupping یا ددید دساحي دنقیصي سره یو ځاي نه وي ، دا کسان باید دسترګو دداکترانو لخوا دنږدي څخه وڅارل شي او دلاندي حالاتو دموجودیت په صورت کې باید تداوي شي

⇐ دسترګي دفشار دورځیني قابل ملاحظه تغیرات کله ، چې دټیټ او جیګ فشار تر منځ ۸mmHg فرق موجود وي.

⇐ Provocation test ته د water drinking په شان قابل ملاحظه مثبت وایي

⇐ ددواړو سترګو د cup ترمنځ قابل ملاحظه فرق چې دا فرق ۰.۲ څخه زیات وي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

⇐ کله چې مربوطه سترګه کې splinter haemorrge په اپتیک ډیسک یا نژدي اپتیک دسک ته قرار لري.

⇐ دقوي ګلوکوما فامیلي تاریخچه

⇐ کله چې دسترګي داخلي فشار په ثابت ډول ۳۰mmHg څخه لوړ وي

⇐ کله چې د high myopia شکري ناروغي ، یا په قدامي خوني کې دصباغي تغیراتو سره ارتباط ولري

⇐ هغه ګلوکوما ،چې دسترګو داخلي فشار پکې نارمل وي یا هغه ګلوکوما ،چې د سترګو داخلي فشار پکې ښکته وي نوموړي دواړه اصطلاحات هغه چا ته استعمالیږي ،چې

⇐ وصفي داپتیک ډیسک cupping ددید ساحي قابل ملاحظه تنقیص وي خو دسترګو داخلي فشار پکې په دوامدار ډول له ۲۱mmHg څخه کم وي ، دا داسي فکر کېږي ، چې په اپتیک ډسک کې وعائي پرفیوژن دکموالي له کبله اپتیک ډسک دنارمل فشار په مقابلکې حساس کېږي ، دا کسان باید دخلاصي زاویي ګلوکوما په څیر تداوي شي ، چې دسترګو داخلي فشار پکې دنارمل اندازي څخه لږ ښکته کړي شي ( نارمل ۱۲mmHg ) اکثراً ددي ګلوکوما تداوي دقناعت وړ نه وي.

## تداوي:

Baseline evaluation: دګلوکوما دتداوي هدف دادي ،چې دسترګو فشار ښکته راوړل شي ترڅو نورو تغیراتو optic dise cupping او ددید دساحي دنقیصه د مخنیوي شي نو په دي اساس دګلوکوما تداوي دسترګو دداکتر په واسطه دناروغ وقفوي منظم او په احتیاط نظارت وشي نو لدي امله دا مهمه ده چې دسترګو ښه معاینه اجرا شي او دسترګو لومړني تغیرات او وروستي تغیرات مقایسه شي ،ابتدائي معلومات د دید دساحي چارت په واسطه لاس ته راځي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د درملنې ډولونه

دا ډله طبي درملنه argon or disd laser trabeculoplasty ، او فلتريشن جراحي څخه عبارت دي.

## د خلاصي زاويي ګلوکوما د طبي درملني اساسات

۱- د ناروغ د شخصي او طبي فکتورونو په نظر کې نيولو سره يو موضعي د خلاصي زاويي ګلوکوما ضد دوا انتخاب کېږي

۲- که چېرته لمړني درمل بنه تحمل نشي او يا نوثر تمام نشي نو ثانوي انتخاب ورته شروع کوو

۳- که چېرته يوه دوا د سترګو داخلي فشار د کنترولولو لپاره اکتفا ونکړي نو دوه يا زياتي دواګاني انتخاب کېږي.

د درملني رژيم: د خلاصي زاويي ګلوکوما لپاره د طبي درملني واضح رژيم وجود نلري په اوسنيو وختونو کې لاندي حالاتو ته فکر کېږي.

⇐ موضعي B-blocker د POAG لپاره لمړني دوا ده ، چې توصيه کېږي دا به د حدبي داستطالو په B اخذو باندي تاثير کوي ، او د Aqeous مايع توليد کموي ، چې بالاخره د سترګو داخلي فشار کميږي

⇐ Prepration د تاثيراتو له نقطه نظره مختلف بيتا بلاکر ترمنځ لږ فرق شته ( ۰،۲۵ ، ۰۵٪ ۱-۲ time/day ) Timolol maleate دابتدايي درملني لپاره ډير نوثر دي خو په هغه کسانو کې ،چې Heart block او Branchial asthma موجود وي نه استعماليږي.

⇐ Betaxolol خ ۲۵٪ ۲ time/day دا يو selective B۱blocker دي ، چې په هغه کسانو کې ،چې کارډيو پلمونري پرابلم ولري لومړني تداوي درملنه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

⇐ Lerobunolol ۲۵،۰-۰، ۵٪ ۱-۲Time/day ددي تاثير ډير دوام كوي نو دا نظر timolol ته ډير باوري دي ،چې په ورځ كې يوځل استعماليږي

⇐ Carteolol۱٪ ۱-۲Time/day دا triglycerides سويه په وينه كې زيات وي او high density lipo protiin سويه كم وي نو په دي اساس دا په هغه ناروغانو كې چې POAG د hyperlipidemia او atherosclerotic cardiovascular دا ډير موثره دوا ده او تراوسه پوري د POAG په طبي درملنه كې اساسي رول لري لكه څرنگه ،چې دا په ځوانانو كې د تطابق د سپزم او miosis سبب گرځي او يوه اندازه مشكلات پيدا كوي نو ځكه اوس لومړي يا دوهمه انتخابي دوا د POAGد درملني لپاره نه تشكېلوي ، ډير ناروغان pilocarpin ښه تخمل كوي خو كه چېرته محوري lenticular كثافت موجود وي بايد د pilocarpin د استعمال څخه مخنيوي وشي په او سنيو وختونو كې pilocarpin هغه كسانو ته نه وركول كېږي ،چې نو combine يا غبرگوني موثر واقع نشي.

د تاثير ميخانيكېت: نوموړي دوا د حد بي جسم طولاني عضلاتو ته تقلص وركوي او ترابيكولر مسافي خلاصوي په دي ترتيب په ميخانيكي ډول سره د خلطيه مايع تخليه زياتوي.

## :Dorzolamide

ددي مستحضرات ۲٪ پيد كېږي او دورځي دوه ځله په سترگو كې څڅول كېږي دا يو نو كاربونيك انهادراز inhabbitor دي چه خلطيه مايع دافراز دكمولو له كبله د سترگو داخلي فشار كموي دا د پيلوكارپين ځاي چې پخوا د POAG كې په دوهم لاين كې قرار درلود نيولي دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Lotanoprost

ددي مستحضرات ٪۰،۰۰۵ په مشکل پیدا کېږي او دورځي ۲-۳ ځلي په سترګو کې استعمالیږي ددي دوا طبیعت دپروستا ګلاندین په شان دي او دا د خلطیه مایع تخلیه د scleral uveo لاري زیاتوي په دي ترتیب دسترګو داخلي فشار هم کموي دا دوا Dorzolamide ,B-blacker او حتي پیلو کارپین سره په غبرګوني شکل استعمالږي Adreargic druge ددي رول په POAG کې په لاندي ډول دي

⇐ Epinephrine hydrochloride مستحضرات ٪۱، ٪۰،۵ او ٪۲ پیدا کېږي ، چې دورځي یو یا دوه ځله استعمالیږي دا د خلطیه مایع دتخلیه سیستم کې بیتا اخذي تنبه کو ي دخلطیه مایع تخلیه زیاتوي او د سترګو داخلي فشار کموي دا دواګاني دالرژیک عکس العمل په اوچته درجه باندي تشخیص کوي داوږدي مودي لپاره دنوموړي درمل استعمال دفلتریشن جراحي دناکامي لپاره یو Risk فکتور ګڼل شوي دي ، دپورتنو دلایلو په بنیاد دغه درمل دلومړي یا دوهم لاین درملني لپاره نه استعمالیږي خو بیاهم کله ،چې نوري دواګاني په یو ناروغ کې استطباب ونلري نو د بیتا بالکر سره په غبرګوني شکل توصیه کېږي Dipivefrine.

⇐ Apraclonidin مستحضرات ئي ٪۰،۵ په بازار کې پیدا کېږي او دورځي ۲-۵ ځله په سترګه کې څخول او Brimonidin دورځي دوه ځله په سترګو کې څخول کېږي دواړه درمل adrenergic ۲ selective دي او دسترګو داخلي فشار دخلطیه مایع دافراز دکمولو له کبله کموي ، نوموړي درمل دګلوکوما ضد درملني په اخر کتګوري کې راځي ځکه ،چې ددي په مقابل کې الرژیک عکس العمل او tachphylaxis درجه لوړه ده.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موضعي غبرګوني درملني

که چېري يوه دوا ونه شي کولاي ،چې د سترګو داخلي فشار کنترول کړي نو د timolol يا کوم بل بنتا بلاکر pilocarpin, Latonoprost,Dorzolomide يا dipivfrim سره په ګډ شکل توصيه کېږي.

فمي کاربونيک انهابيتور inhabitor دا دوا د acetazolamid او methogat amid څخه عبارت دي ، د جانبي عوارضو له کبله د زياتي مودي لپاره نه توصيه کېږي لاکن د لنډي مودي لپاره د سترګو فشار د ښکته کولو لپاره توصيه کېداي شي.

## Argon or Diode laser teabeculoplasty

دا هغه مريضانو ته توصيه کېږي ،چې سره د اعظمي تحمل کېدونکې ادويې د سترګو داخلي فشار کنترول نشي. او د طبي درملنه په مقابل کې no compliance کسانو کې په ابتدائي ډول هم توصيه کېداي شي.

## په POAG باندي د ALT تخنيک

دا په طبي تداوي باندي يو اضافي تاثير لري دا د tribecular meshwork په داخلي اړخ باندي تاثير کوي ، کولاجن الياف غونجوي او intertrabecular meshwork مسافي خلاصوي پدي ترتيب خلطيه مايع د تخليه سهوليت زياتوي او د سترګو فشار کموي ،چې هغه کسانو کې ،چې طبي درملنه اخستي وي د سترګو داخلي فشار ۱۲-۱۲ mmHg پوري ښکته راوړي.

رژيم ئي د ۵۰ spots څخه عبارت دي ،چې د مشورک په قدامي نيمائي باندي ۱۸۰ کې تطبيق کېږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختلاطآت د سترګو فشار ګذري زياتوالي کوم ، چې په ابتدائي ډول د pilocarpin يا Acetazolamid د تطبيق په واسطه ئي مخنيوي کېمي او د التهاب څخه عبارت دي ،چې د days ۴-۳ لپاره د موضعي ستروید د استعمال له واسطه بنه کېږي هيموراژ .reduced Acc Peripheral and synchia,uvitis. کم معمل دي.

## جراحي درملنه

### استطبابات

i - هغه POAG چې د طبي اعظمي درملنه او laser trabeculoplasty سره کنترول شي

ii – د طبي تداوي non compliance او د ALT نشتوالي

iii – د طبي درملني ناکامي او په هغه حالاتو کې ،چې ناروغ مرسته ونه کړي او تربيکولم ونه ليدل شي.

iv- هغه سترګي ،چې ناروغي ئي پرمختللي وي او ډير لوړ فشار ولري پرمختللي cupping او پرمختللي د ديد ساحي نقيصه ولري فلتريشن جراحي ورته په ابتدائي ډول اجرا کېږي.

v- پدي او سنيو وختونو کې ځيني کارکوونکې د POAG د درملني لپاره په ابتدائي مرحله کې جراحي عمليه توصيه کوي.

## د جراحي ډولونه

د POAG جراحي درملنه له فلتريشن څخه عبارت دي ،چې يوه نوی لاره د خلطيه مايع د تخليي لپاره جوړوي او په موفقانه توګه د سترګو داخلي فشار کموي ، په او سنيو وختونو کې trabeculoectomy ډيره موثره جراحي ده.

## Primary close angel glacuma

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
دا دابتدائي ګلوکوما یوه نوعه ده ( چې کوم واضح سیستمیک یا دسترګو کوم سبب نلري ) چې پدي کې دسترګو فشار دقدامي خوني دزاوئي دبندش له کبله ، چې خلطیه مایع په کې بلاک کېږي لوړیږي.

## اسباب

مساعد کوونکې فکتورونه دوي په دوو ګروپونو اناټومیک او عمومي فکتورونو باندي ویشل شوي دي.

اناټومیک فکتورونه هغه سترګو چې دساختمان له رویه دي ته مساعد دي ، چې ابتدائي زاویه بنده ګلوکوما په کې تاسیس وکړي لاندي ډول دي.

i – Hypermetropic سترګو ، چې قدامي خوني زاویه ئې ډیره سطحي وي.

ii- په هغو سترګو کې ، چې قذیحي عدسیې پرده یې قداما ځاي شوي وي.

iii- هغه سترګې ، چې دوړکې ګاټې درلودلو له کبله قدامي خونه ئې ډیره تنګه وي.

iv- قذیحي plateau بڼه

## عمومي فکتورونه

i- عمر : نوموړي ناروغي په مقایسوي ډول دعمر ره پنځه لسیزه کې نسبتاً ډیره واقع کېږي.

ii- جنس : ښځینه جنس نسبت نارینه جنس ته زیات تمائل لري ، چې په نوموړي ناروغي باندي اخته شي.چې دنارینه او ښځي ترمنځ نسبت ۱۴ دي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

iii- دا په هغه اشخاصو کې ،چې ډېر عصباني کېږي او نیوروموتور سیسنم ئي ثابت نه وي نسبتاً ډیره پیدا کېږي.

iv- موسم زیات وقوعات ئي په باراني موسم کې منځته راځي.

v- فامیلي تاریخچه داسي موجوده ده ،چې نوموړي ناروغي میراثي ده.

vi- نژاد په سپین پوستکي کې POAG دټول ګلو کوما ۶٪ جوړوي او یو په ۱۰۰۰ کسانو کې ، چې ۴۰۰ و ختنه کوي په جنوب شرق اسیا ، چینایانو او Eskimos کې زیات معمول دي لاکن په تور پوستکو کې غیر معمول دي

**تشدید کوونکي فکتورونه:** هغه سترګي چې د POAG لپاره مساعد وي لاندي فکتورونه ئي تشدیدوي.

i- Emotional stress روحي فشار

ii- کمه روښنائي

iii- د mydrotic دواګانو لکه cyclopentalol ، tropicamide atropine او phnylephrine استعالوي.

د سترګي فشار دلوړیدو میخانیکېت یوه سترګه ، چې په اناټومیک دول POAG ته مساعده وي د سترګو فشار په لاندي میخانیکېت لوړیږي.

دټولو څخه ړومبي دتشدیدونکېو فکتورونو دتاثیر له امله دحدقه خفیفه توسع منځته راځي ، چې دعدسيي او قذیحي دضدیت مقدار زیاتوي ، چې دا پام ورړ فشار سبب ګرځي او relative pupile block منځته راوړي په ترتیب سره خلیطه مایع په خلفي خونه کې جمع کېږي او محیطي نرمه (flaccid) برخه مختته تیله کېږي (Iris bomb) په نتیجه کې د قذیحي او قرنیي دتماس له کبله دسترګي قدامي خوني

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

زاویه بندیږي بلاخره دسترګو فشار پورته کېږي خو دغه دسترګي دفشار زیاتوالي موقتي او ګذري دي کله ،چې د دقذیحي او قرنیې تر منځ تماس ، چې دخلیطه مایع دفشار دکبله منځته راځي په synechia باندي بدل شي (synechial angle) منځته راشي نو استرګو دفشار زیاتوالي تهاجم داوږدي مودي لپاره دوام کوي.

په ځینو حالاتو کې دزاوئي میخانیکې بندیش منځته راځي ،چې دغه بندش د خلیطیه مایع تخلیه زیاتوي نو په دي دلیل په هغو سترګو کې ،چې Narrow angle کوي د atropine څځول خطر لري ځکه ،چې دسترګو داخلي فشار تهاجم تشدید وي.

د POAG کلنیکې کورس دا په پنځو مرحلو باندي ویشل شویدي خو نوموړي مراحل یو په بل باندي په ترتیب سره نه بدلیږي.

i- Latcnt Gucoma یا مخبره مرحله

ii- Intermittent تحت الحاد ګلوکوما constant instability مرحله

iii- دګلوکوما حاد احتقاني مرحله

iv- دبندي زاویې مزمنه ګلوکوما

v- Absolute ګلوکوما

## مخبره مرحله یا Latent glaucoma

په دي مرحله کې دسترګو داخلي فشار په ګذري ډول دڅو دقیقو لپاره جیګیږي ۲۰mmHg دا نوعه حملې وقفوي وي او دډیر کار ، اضطراب ، سترتیا ، او دحدقي د توسع په واسطه همیشه تشدیږي.

## علایم

دمعاینې په وخت کې سترګې سپیني او احتقاني نه وي قدامي خونه سطحي وي او دا د مایلي رڼا په واسطه لیدل کېږي Gonioscopy تنګه زاویه ښیي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Constant instability د Intermitent glaucoma مرحله

په دي مرحله کې د سترګو دلوړ فشار حملي مکرر او منظم کېږي او هره حمله دڅو دقيقو څخه تر يو دوه ساعتونو پوري دوام کوي په خپل سر دحملي ښه کېدنه دفزيولوژيک miosis په واسطه ، چې دخوب يا رڼا په واسطه تنبه کېږي منځته راځي.

## عراض

په دي کرحله ددید کموالي ، درڼا په شاوخوا کې halow دسترګو درد ، او دجبهي سر درد موجود وي.

## علايم

دحملي په وخت کې حدقه متوسع وي ، قرنيه کې حفيف ازيما موجود وي او د سترګو فشار لوړوي ، کله ګي درد حملو ترمنځ سترګه معاينه شي پرته د سطحي قدامي خوني د تنګي زاويي څخه بل هيڅ هم نه ليدل کېږي.

## حاد احتقاني ګلوکوما (حاد دبندي زاويي ګلوکوما )

دحاد احتقاني ګلوکوما حمله دقدامي خوني دزاويي داني مکمل بنديدو له کبله دسترګو دفشار دلوړيدو له کبله منځته راځي.

دا په خپل سر نه ښه کېږي او که چېرته په خپل سر پريښودل شي نو ډيري ورځي دوام کوي.

## اعراض

په وصفي حاده حمله کې په سترګو کې شديد درد په اني شکل منځته راځي ، چې نوموړي درد د پنځم عصب شعبو په امتداد انتشار کوي په زياتو حالاتو کې دزړه بدوالي او کانګي سره يو ځاي وي ، په ناروغ کې په چټکې سره دديد کموالي ، سوروالي درڼا څخه ويره او داوښکو بهيدنه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

انکشاف کوي ، چې د ناروغانو په سلو کې پنځه د پخواني متقطع حملاتو څخه شکايت کوي.

## علايم

⇐ اجفان ممکن ازيمايي وي

⇐ Conjunctive ازيماني او احتقاني وي ( دواړه منظمي او حدبي اوعيي احتقاني وي

⇐ قرنيه غير حساسه او ازيمايي وي

⇐ قدامي خونه ډيره سطحي وي aqueous flare يا cells ممکن په قدامي خونه کې وليدل شي.

⇐ زاويه بلکل بنده وي ،چې د ګونيو سکوپي په واسطه ليدل کېږي

⇐ د قرنيي رنګ تغير موندلي وي

⇐ حدقه په متوسط ډول منوسع شوي وي عمودا بيضوي وي او د رڼا او تطابق په مقابل کې عکس العمل نه ښکاره کوي

⇐ د سترګو داخلي فشار په پرمختللي ډول جيګ وي هميشه د سترګو داخلي فشار د mmHg ۷۰-۴۰ پوري لوړ وي

⇐ Optic dise ازيمايي او احمراري وي

## Chronic Angle closer Glaucoma:

دا مرحله د قدامي محيطي وسيع synechium په نتيجه کې منځته راځي دا ممکن د حاد احتقاني ګلوکوما د اختلاط په نتيجه کې ، متکرر تحت الحاد حملو په نتيجه کې يا تدريجي او انکشافي synechea د کبله د زاويي د بندش سبب ګرځي منځنه راشي.

کلينيکې منظره ئي په لاندي ډول ده

⇐ د سترګي داخلي فشار په ثابت ډول پورته وي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

⇐ سترګي په دواندار ډول احتقاني ، او مخر شي وي مګر يوائې په هغه حالاتو کې ،چې chronic angle closer glaucoma د تدريجي synechia د کبله منځته راغلي وي سترګه سپينه بي درده او د POAG پشان منځته راځي

⇐ Optic dise کې ممکن glucomatose cup وليدل شي

⇐ V A کميږي

⇐ Guniscopy په واسطه د محيطي synechae د کبله زاويه بنده معلوميږي

# Absolute Glaucoma

که چېرته مزمنه مرحله د درملني نشي د تحت الحاد د حملي پرته يا تحت الحاد متکررو حملو سره په تريجي ډول په اخيري مرحله د absulote glaucoma باندي بدليږي

## کلينيکي منظره

⇐ سترګه دردناکه ،مخرشه او مطلقه ړنده وي

⇐ قدامي حدبي اوعيي نتوسع وي او قرنيي شاوخوا ته حدبي سوروالي ليدل کېږي

⇐ داوږدي مودي واقعاتو کې څو متبارزي لوبي شوي او عيي ليدل کېږي ،چې د capute medusea په نامه ياديږي

⇐ قرنيه په لومړيو مراحلو کې غير حساسه او شفافه وي مګر وروسته خړه کېږي او ممکن په کې epithelial bulbe انکشاف وکړي bullous Keratopathy او يا filament انکشاف وکړي (filamentary Keratitis)

⇐ د سترګي قدامي خونه ډيره سطحي وي

⇐ قزيحه اتروفيک کېږي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

⇐ حدقه متوسع او تثبیت کېږي او شنه منظره بنیي
⇐ Optic dise کې ګلوکوما توز اتروفي لیدل کېږي
⇐ دسترګي فشار لوړ وي او سترګه دتیږي پشان کلک وي.

## اختلاطات

دسترګو دداخلي فشار ددوامدار زیاتوالي له کبله لاندي اختلاطات منځته راځي

## دقرنیې قرحه

دا داپتیل دوامدار ازیما او حساسیت دنشتوالي له کبله منځته راځي ، بعضي وختونه نوموړي قرحه سوري کېږي.

## د staphyloma جوړیدنه

دسترګو دوامداره لوړ فشار له کبله صلبیه نري او اتروفیک کېږي ، چې بلاخره دحدبي ناحیه کې (equatorial ماحیه کې ) دباندي خواته راوځي ، چې لومړني حالت ته ciliary staphyloma او دوهمي کالت ته equatorial staphyloma ویل کېږي

## Atrophic Bulbi

بلاخره حدبي جسم استحاله کوي دسترګو داخلي فشار را لویږي او سترګه غونجیږي

## تشخیص

## دمخبره مرحلي او instibilty constant مرحلي تشخیص

د POAG تشخیص په دي لومړي مراحلو کې مشکل دي ، دګلوکوما نوراعراض ، چې د coloured halowes سره یو ځاي وي دنوموړي ناروغي شک پیدا کوي ، چې د ګونیو سکوپي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
پواسطه دتنګي زاويي مشاهده او د provocative تستونه په واسطه دسترګز داخلي فشارلوړوالي دنوموړي ناروغي تائيد کوي

## رنګ haloes په POAG کې

دقرنيي په اپتيل کې دمايع دتجمع له کبله دقرنيه په انکساري حالت کې تغير رائي ناروغ داسي حکايه کوي ،چې سور رنګ په اطراف کې او قرمزي رنګ په منځ کې ښکاري کله ،چې ناروغ ګروپ يا سپوږمي ته وګوري.

دارنګه haloes بايد دهغه haloes څخه چې په حاد نقيحي conjunctivitis کې او د عدسيي په مقدم cataractus تغيراتو کې ليدل کېږي تفريق شي په conjunctivitis کې haloes د discharge په منځلو سره ورکيږي دګلوکوما او cataract haloes د finchams test په واسطه تفريق کېږي ددي نسبت په واسطه باندي دګلوکوما haloes په خپل ځاي پاتي کېږي حال دا چې د cataract haloes ددي تست په واسطه په سګمنتونو باندي ماتيږي

## په POAG کې دسترګو دقدامي خوني دزاويي دتنګوالي ليدنه

⇐ دPOAG په لمړيو مراحلو کې دګونيو سکوپي په واسطه دا يا دوهمي درجي تنګوالي ليدل کېږي

⇐ Van Herick slite lamp grading of the angle دا هغه وخت استعماليږي ، چې ګونيو سکوپي موجود وي په دي ميتود کې دقدامي خوني محيطي عمق دمجاوري قرنيي دضخامت سره مقايسه کېږي او په لاندي ډول درجه بندي کېږي

- Grade ۴ ( خلاصه زاويه ) PAC>۱CT

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ۳ Grade(خفيفه تنګه زاويه ) PAC= ۱/۴-۱/۲CT
- ۲ Grade(متوسطه تنګه زاويه )PAC=۱/۲CT
- ۱ Grade(ډيره تنګه زاويه )PAC<۱/۴ CT

## د PACG لپاره provocative تستونه

مشکوک کسان دډاتر په دفتر کې تنبه کېږي چې دګلوموما حمله پرې راشي چټکې سره بيرته تداوي شي.

Pronc dark room test: دا تست د POAG د مشکوکو کسانو لپاره ډير ښه مشهور او فزيولويک تست دي ، په دي شخص کې دسترګو فشار اندازه کېږي او شخص ته نه ويل کېږي.

چې ديو ساعت لپاره په تياره کوټه کې په prone وضعيت کې قرار نيسي ، نوموړي بايد ويښ وي چې حدقه متوسع پاتي شي وروسته ديو ساعت څخه دسترګو فشار دوباره اندازه شي.

که چېرته دسترګي فشار د mmHg ۸ څخه زيات وي نود POAG تشخيص تائيدوي

## Mydriatic Provocative test

دي تستونو ته اوس ترجيع نه ورکول کېږي پدي تستونو کې يا ضعيف توسع ورکوونکي دوالکه ۰،۵٪ tropicamide يا همزمان توسع ورکوونکې او منقبضوونکې درملني لکه ۱٪ phenylephrin او ۲٪ pilocarpin استعماليږي ترڅو حدقه خفيفا توسع وکړي کله چې فشار د ۸mmHg څخه زيات شي نوموړي تست مثبت ګڼل کېږي.

## دابتدايي حاد احتقاني ګلوکوما تشخيص

دحاد احتقاني حملي تشخيص دکلينيکې واضح علايمو له کبله اسانه وي خو تفريقي تشخيص ئي بايد په نظر کې وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- دسترګي دنورو اسبابو څخه بايد تفريق شي ځيني وختونه حاد احتقاني ګلوکوما د حاد التهابي سري سترګي لکه acute conjunctivitis او acute gridocyclitis څخه بايد تفريق شي.

۲- دثانوي حادي احتقاني ګلوکوما څخه لکه acute phokomorphic glaucoma, glucomatoscyclitis , neurovascular glaucoma

## دمزمني بندي زاويي ګلوکوما تشخيص

دوصفي کلينيکي لوحي دلرلو له کبله د نوموړي ناروغي تشخيص اسانه دي ګونيوسکوپي مشاهدات ددي ناروغي په تفرق تشخيص کس مهم رول لوبوي.

## دابتدايي بندي زاويي ګلوکوما منجمنت

د latent او intermetant ګلوکوما تداوي

کله ،چې ناروغي تشخيص شوه جراحي irridectomy يا لايزر irridotomy په دواړو سترګو بايد اجرا شي دتشخيص او irridectomy ترمنځ وقفه کې ۲٪pilocarpin دورځي دري څلور وخته بايد استعمال شي.

## دحادي احتقاني ګلوکوما درملنه

تداوي ئي اساسا جراحي عمليات تشکېلوي خو په عاجلو واقعاتو کې تر څو سترګه جراحي عمليي ته اماده شي طبي موقتي درملنه توصيه کېږي.

## طبي تداوي طبي درملنه په لاندي ډول ده

⇐ زرقي درد ارامـوونکې ددرد دارامولو لپاره بايد زرقي pethidin ورکړل شي تر څو درد ارامه کړي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

⇐ سیستمیک هایپرا سموتیک دسترګو دداخلي فشار دښکته کولو لپاره لومړي باید سیستمیک هایپرا سموتیک ورکړل شي مانیټول ۱mg/kg د رګ دلاري ، یوریا یا فمي ګلایسرول ۵ g/kg ، ۱ د خولي دلاري باید توصیه شي

⇐ اسیتازول اماید دا یو کاربونیک انهایدرایز تهیه کوونکې دي ، چې د خولي له لاري ۲۵۰ mg په ورځ کې دري ځلي توصیه کېږي.

⇐ Pilocarpin دسترګو قطري وروسته دسترګو په جیک فشار کې د قذیحي sphincter په اسکېمیا باندي معروض وي او د pilocarpin په مقابل کې ځواب نه وائي لومړي ٪۲ pilocarpin هر نیم ساعت بعد ددوو ساعتو لپاره او وروسته هر شپږ ساعته بعد توصیه کېږي .

⇐ بیتا بلاکر دسترګو قطري ٪۰،۵ timolol یا ٪۰،۵ Betaxolol هم دسترګو د فشار دښکته کېدو لپاره دورځي دوه ځله توصیه کېږي

⇐ کورتیکوسترويد : دسترګو قطري لکه dexamethason یا Bethametasone باید دسترګو دالتهاب دکمولو پخاطر د ورځي څلور ځله توصیه شي.

## جراحي درملنه

peripheral gridectomy: نوموړي عملیه دسترګو دقدامي خوني دزاویي په قدامي synechia کې ، چې د ٪۵۰ څخه کم وي او دبلي سترګو دمخنیوي لپاره استطباب لري محیطي irridectomy دخلفي او قدامي خوني ترمنح ارتباط قایموي او په دي ترتیب د PACG په کنترول کې رول لوبوي ، laser gridotomy یو غیر تهاجمي عملیه ده او د surgical gridotomy لپاره یوه متبادله عملیه ده

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Filtration surgery

دا هغه وخت باید وشي چې د سترګو لوړ فشار په ګلوکوما حاد احتقاني حمله کې د طبي درملني پواسطه کنترول نشي او یا هم قدامي synechia د ۵۰٪ څخه زیاته وي.

**میخانیکیت:** نوموړي عملیه د قدامي زاویي په واسطه د خلطیه مایع درېناژ لپاره یو ه منبادل لاره جوړوي ، چې نوموړي لاره د سترګو قدامي خونه د تحت منظمي مسافي سره وصلوي ( د تخنیک لپاره عکس ته مراجعه وکړي.

## د بلي نورمالي سترګي لپاره وقایوي تداوي

څو ورځي وروسته د لمړي عرضي سترګي د جراحي عملیي څخه د دوهمي غیر عرضي سترګي لپاره باید وقایوي درملنه اجرا شي ، چې نوموړي درملنه د laser اجراحي محیطي gridectomy څخه عبارت دي.

## د مزمني بندي زاویي ګلوکوما درملنه

څرنګه چې د سترګي په قدامي خوني کې وسیع قدامي synechia جوړ شوي نو Miotic او محیطي grridectomy په دي مرحله کې نه استعمالیږي نو لدي امله وروسته ادي څخه ،جي د hyperosmotic مستتحصراتو ۰،۵٪ beta blockers دورځي دوه ځله او acetazol amid په واسطه د سترګي داخلي فشار ښکته شي باید filtation surgery اجرا شي په وقایوي ډول بلي سترګو کې prephral gridectomy اجرا کیږي.

## د Obsolute ګلوکوما درملنه

Retrobulber alcohol injection: دا د درد دارامولو لپاره ورکول کیږي لومړي xylocain۲٪ ۱ml زرق کیږي او وروسته د ۵-۱۰ دقیقو

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثخـه ۸۰٪ الکهـول زرقیـږي ، نومـوړي الکـول ciliary ganglion تخریبیږي.

cyclo photo یـا Cyclodiathery , Cyclo cryotherapy congulation پـه واسـطه د حـدبي جسـم افـرازي اپتیـل تخریبیـږي او دسترګو داخلي فشار ښکته کېږي

Enuclcation of Eyeball: دا هغـه وخـت اجـرا کېـږي ،چې دمحافظوي تداوي په واسطه درد ارام نشي ، لکه څرنګه ،چې یوه ړنده دردناکـه سـترګه کـې ، چـې دلـوړ فشـار سـره یـو ځـاي د خبیثـي نمـو فریکونسي زیاته وي نو ایستلو ته ئي ترجیح ورکول کېږي

## ثانوي ګلوکوما :

ثانوي ګلوکومـا یـوه نـاروغي پـه ده بلکـه دنـاروغیو لـه یـو ګـروپ څخـه عبـارت دي.چـې پـدغو نـاروغیو کـې دسـترګو داخلـي فشـار دسـترګو دابتدایي ناروغي یا سیستمیک ناروغیو لـه کبلـه لوړ شوي وي نو پـه دي اساس کلنیکي منظره دابتدایي ناروغي منظره او هغـه منظره ،چې دسترګو دلوړ فشار له کبله منځته راځي ښیي.

## طبقه بندي

### دسترګو دلوړ فشار دمیکانیزم له مخي

۱- دخلاصـي زاویـي ثـانوي ګلومومـا پـه دي کـې د pretrobecular membrane ،tribecular clogging ، ازیمـا او نـدبي یـا Episcleral وریدونو کـې دفشـار دزیـاتوالي دکبلـه دخلطیـه مـایع تخلیـه بنـدیږي او دسترګو داخلي فشار لوړیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- دبندي زاويي ثانوي ګلوکوما نوموړي حالت په جداګانه شکل او یا هم د pupil block سره یو ځاي وي.

## دابتدائي سببي ناروغي له مخي

۱- lens indused glaucoma

۲- prgmentry glaucoma

۳- inflmitry glaucoma

۴- neurovascular glaucoma

۵- Glaucoma associated with irrido corneal endothelial syndrome

۶- pseudo expholiative glaucoma

۷- Glaucoma associated with IO heamorrhge

۸- Steriod induced glaucoma

۹- Traumatic glaucoma

۱۰- Glaucoma in Aphakia

۱۱- Glaucoma associated IO tumors

Lens indused ( phacogenic glaucoma) په دي ډول ګلوکوما کې دسترګو فشار په ثانوي ډول د lens دجنبي ناروغي له کبله منځ ته راځي ، لاندي ډولونه لري.

۱- phacomorphic glaucoma: دا ډول ګلوکوما دزاويي دبنديدو یا هم دحدقي د بلاک له کبله چې دعدسيي موفوژيک تغيراتو په نتيجه کې منځته راځي ، دا هميشه داحتقاني ګلوکوما په شکل پيدا کيږي intumesent عدسيه د عدسيي قدامي subluxation یا dislocation او spherophakia ( په ولادي ډول دوړوکې کروي عدسيي موجوديت د phacomorphic glaucoma اسباب ګڼل کيږي تداوي ئي دطبي درمنه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعدسيي دا يستلو څخ عبارت دي ، چې د طبي درملني په تعقيب اجرا کېږي.

۲- phacolytic glaucoma دعدسيي د پروتين ګلوکوما دا دثانوي ګلوکوما يوه نوعه ده ،چې په دي کې ترېبيکولر ميشورک دعدسيي دپروتينو او Macrophage په واسطه بنديږي او د OAG يوه نوعه ده. دعدسيي دپروتينو leakage په hypermature cataract کې دنورمال کپسول له کبله منځته راځي.

## کلينکي منظره

هغه سترګي ،چې hypermature cataract ولري په حاد ډول IOP زياتيږي قدامي خونه دسترګي عميق کېږي او په خلطيه مايع کې دپروتينو سپين ذرات دليدلو وړ وي.

**درملنه**: درملنه ئي دطبي ادويي په واسطه د IOP ښکته کول او په تعقيب ئي د hypermature عدسيي ايستل دي.

۳- Lens particle Glaucoma دا دثانوي خلاصي زاويي ګلوکوما ده ، چې ترېبيکولرمشورک دعدسيي دپرچو په واسطه ، چې دخلطيه مايع کې لامبو وهي بنديږي دا ممکن دتصادفي يا پلاني ECCE نه وروسته يا هم دعدسيي د تروماتيک ريچر نه وروسته منځته راشي

درملنه ئي دطبي درملني څخه عبارت ده تر څو IOP ښکته شي او تعقيب ئي دعدسيي دپارچو grrigation او aspiration څخه عبارت ده

۴- ګلوکوما چې د phacogennic uvitis سره يو ځاي وي په دي حالت کې دسترګو فشار دعدسيي دموادو په مقابل کې دالتهابي عکس العمل له کبله لوړيږي په اصل کې دا د خلاصي زاويي ګلوکوما يوه نوعه ده چې ترېبيکولر مشورک د عدسيي دموادو او التهابي حجراتو

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
پـه واسـطه بنـد يږي درملنـه ئـي د IOP د كنتـرول د سـتروئيدونو او cyclophagic پـه واسـطه د irridocyeltis درملنه څخه عبارت ده.
دقـدامي خـوني څخـه دمـوادو grrigation او aspiration وروسـتـه دالتهاب د ارامیدو څخه اجرا شي.
۵- ګلوکوما ،چې د phacoanaphylaxis سره يو ځاي وي په دي حالت كې دسترګو فشار په حاد ډول دانتي جن ( دعدسيي پـروتين ) او دانتي بـادي عكس العمـل پـه نتيجـه كې لـوړيږي دسترګو IOP لوړيـدلو او درملنه ئي د phacogenic uvitis په شان دي.

## د Uvitis د کبله Glaucoma

پـه دي حالـت كـې د IOP د uveal انسـاجو دالتهـاب د مختلفـو ميكانيزمونو پـوري اړه لـري حسـي دسـترګو دنـورو برخـو لكـه قرنيـه پـه التهـاب ، د سـكليرا پـه التهـاب كـې هـم IOP د Uveal انسـاجو ثـانوي التهاب له كبله لوړيږي هغه ګلوكوما چې د Uvitis سره يـو ځـاي وي پـه دريو ګروپونو ويشل شويدي.
۱- ګلوكوما دفعال uvitis سره
۲- وروسته دالتهاب څخه ګلوكوما
۳-specific Hypertensive Uvitis syndrome

## Glaucoma with active Uvitis

داسي حالت دي چې دقـذيحي طرف دقـدامي برخـي دالتهـاب دسـترګي دلـوړ فشـار سره يـو ځاي وي پرتـه دمشـخص څخـه (hypertensive uvitis syndrome)
دسترګو دداخلي فشار دلوړيدو ميكـانيزم دازيمـا او پروسـتا ګلانـدين دتنفسي تاثيراتو له كبله دخلاصي زاويي ثانوي ګلوكوما منځته راځي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درملنه

درملنه: درملنه د gridocyclitis د تداوي او IOP د ښکته کولو څخه عبارت دي ، چې د IOP د کمولو لپاره hyperosmotic مستحضرات acetazolamid او betablaocker استعمالیږي.

Post inflammatory glaucoma په دي حالت کې grridocyclitis دورستنیو تاثیراتو له کبله IOP لوړیږي ز

## د IOP لوړیدو میکانیزم په لاندي ډول دي

⇐دانولر synechia او occulosive pupilae له کبله د حدقي بندیدنه

⇐د Irris bom په تعقیب ثانیا دزاویي بندیدنه او د حدقي بندیدنه

⇐دزاویي ثانوي بندښت ، چې د التهابي حجراتو او debris په واسطه زاویه بنده شي پرته لدي څخه د حدقي بلاک موجود وي.

**درملنه:** دا دوقایوي او معالجوي درملني څخه عبارت دي

وقایوي درملنه: حاد gridocyclitis باید په سمه توګه دسترویدونو او اتروپین په واسطه تداوي شي تر څو د هر قسم synechia مخه ونیسي.

معالجوي درملنه: دسترګو دفشار دښکته کولو لپاره طبي درملنه miotic استطباب نلري جراحي یا laser gradictomy هغه وخت استطباب لري حدقه بلاک ویرته د angle closure څخه filtration جراحي هغه وخت اجرا کیږي ، چې angle closure موجود وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

fuchs uvitis دا Specific hypertensive Uvitis syndrome او glaucomatocyclitis syndrome احتوا کوي.

## صباغي ګلوکوما

دا د ثانوي خلاصي زاويي يوه نوعه ده ، چې په دي کې تربيکولر ميشورک د صباغاتو په واسطه بنديږي د prgmentory dispersion syndrome ۵۰٪ ناروغانو کې ګلوکوما انکشاف کوي

## اسباب

دصباغاتو دتوئيدو اساسي ميکانيزم معلوم نه دي خو داسي عقيده موجوده ده ، چې د قزيحي دخلفي صباغي بقي او zonol fibrers د ميخانيکې سوليدلو څخه منځته رائي

## کلنيکي تصوير

په ټپيک ډول نوموړي حالت په يو کاهل مايوپيک شخص کې منځته رائي ، خصوصي ګلوکوما ئي منظره ئي د POAG په شان دي ،چې ورسره په قدامي سکمنت ساختمانونو لکه قزيحي ، دقرنيي خلفي سطحه (krukenbergs spindle) تربيکولر ميشورک حدبي زونول او عدسيي دپاسه صباغات موجود وي دګونو يوسکوپي په واسطه دشوالب حد به امتعداد مخصوصا سفلي برخه کې دصباغاتو تراکم ليدل کيږي Iris trans illumimation ښيي ،چې په محيط کې شعاعي slit په شان transilumination نقيصه موحوده وي ( پتوګونومونيک منظره )

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درملنه

د POAG په شان تداوي کېږي

**Neorovascular glaucoma(NVG)**: دا نوعه ګلوکوما دنوي وعايي غشا په نتيجه کې ،چې دفدامي خوني زاويه يي احاطه کړي وي منځته راځي.

## اسباب

دا هميشه دقزيحي دوعايي سره يو ځاي وي

Rubeusis gridis په قزيحه کې نوي اوعيي دشبکې په اسکېما کې ،چې د سترګو داخلي تومورونو ، RD او RAO څخه عبارت دي

## کلينکي منظره

په دريو مرحلو کې منځنه راځي

⇐ مخکې دګلوموما څخه(د rebeosis gridis مرحله )

⇐ د OAG مرحله په دي مرحله کې د تربيکولر ميشورک مخي ته نو وعايوي غشا جوړيږي.

⇐ دبندي زاويي ثانوي ګلوکوما مرحله ګونيوساينجينا له کبله چې دنوي وعايوي غشا دنقلص له کبله منځته راځي (Zipper angle closure)

درملنه: د NVG درملنه هميشه بي نتيجي وي دبعدي neurovascularization د مخنيوي لپاره pan retinal photocoagulation اجرا کېږي ، طبي درملنه او conventional filtration surgery د IOP په کنترول کې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

همیشه بي تاثیره وي artificial (seton operation) filtration shunt ممکن IOP کنترول کړي.

هغه ګلوکوما ، چې د سترګو داخلي تومورونو سره یو ځاي وي.

ثانوي ګلوکوما ، چې د سترګو داخلي تومورونو لکه قزیحي ، کورويد او حدبي جسم خبیثه میلانوما Retinoblastoma له کبله منځته راځي دلاندي میکانیزمونو څخه په کې یو یا څو روله لوبوي

⇐ دنومورېو حجراتو په واسطهٔ د tribecular meshwork بندیدنه او یا هم د تومور د مستقیم تهاجم د کبله

⇐ د سترګو د قدامي خوني د زاویي بندیدنه د نویو اوعیو په واسطه

⇐ د vortex vein د بدش په تعقیب د اوعیو رکودت

⇐ د نوموري کتلي د زیاتوالي له کبله د قزیحي عدسیي پردي مخته ب ځایه کېدنه

## درملنه

ترڅو ، چې ممکن وي مقدم Enucleation دي باید اجرا شي

## Pseudo exflotiative glaucoma (Glaucoma capsulare)

Pseudoexflotiative syndrome دبي شکله خاکي رنګه dandruff په شان موادو په ځاي نیولو سره د حدقي سرحد ، د عدسیي قدامي سطحه د قزیحي خلفي سطحه ، زونول الیافو او حدبي استطالاتو کې مشخص کېږي ، دنومړو موادو منبع تر اوسه نده پیژندل شوي ، نومړي حالت ۵۰

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

٪ واقعاتو کې د POAG سره يو ځاي وي همدارنګه دسترګو د داخلي لوړ فشار سبب هم معلوم ندي ، د exflotiative موادو پواسطه د ترابيکولر ميشورک بنديدل ئي يو احتمال سبب ګڼل کېږي ، دکلينک له نظره د POAG په شان تظاهر کوي او د POAG په شان نداوي کېږي.

## Glaucoma in Aphakia

Aphakia glaucoma د نوموړي اصطلاح ځاي نيولي دي او په هغه ګلوکوما باندي دلالت کوي ،چې د Aphakia سره يو ځاي وي او لاندي حالات احتوا کوي

۱- دسترګو لوړ فشار دژوري قدامي خوني سره ، چې په مقدم ډول دعملياتو څخه وروسته منځته راځي دا ممکن د hyphaema د التهاب ، glaucoma enzyme ( Chymotrypsin او يا ذجاجيه مايع په واسطه دقدامي خوني دکېدني له کبله منځته راشي

۲- ثانوي ګلوکوما د flate قدامي خوني سره دا دشق اوږدي مودي leakage په تعقيب منځ ته راځي.

۳- دحدقي دبلاک له کبله دبندي زاويي ثانوي ګلوکوما دا د anular synechea جوړيدو او ذجاجي تفتق په تعقيب منځته راځي.

۴- نا تشخيص شوي pre existence POAG ممکن د Aphakia سره يو ځاي وي

۵- Steroid induced glaucoma دا د cataract دعملياتو څخه وروسته د steroid د درملني په تعقيب انکشاف کوي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶- Epithwelial in grouth د عملیاتو څخه وروسته په موخرو ول ګلوکوما ممکن د تربیکولم او د سترګي د قدامي سګمنت په ساختمانونو دا پتیل حجراتو د تهاجم د کبله منځته راځي.

۷- Aphakia malignant glaucoma

## Steroid induced glaucoma

دا دثانوي خلاصي زاویي دثانوي ګلوکوما یوه نوعه ده چې د موضعي استروئید او ځیني وختونه سیستمیک ستروئیدونو د استعمال په تعقیب منځ ته راځي.

Ethiopathogenisis د خلطیه مایع د تخلیه د بندش صحیح میکانیزم ندي معلوم ، خو په تربیکولر مشورک کې د Mucopoly sacharoid ځاي نیونه یو منل شوي خبره ده د ستروئید په مقابل کې د IOP زیاتوالي د جنتیک پوري اړه لري دعمومي نفوس **۵**٪ د ستروئیدونو په مقابل کې په وچته اندازه ځواب وائي ( پرمختللي د سترګي داخلي فشار زیاتوالي تقریباً د **۶** هفتو سترويد تداوي څخه وروسته **۲۵**٪ ئي په متوسطه اندازه د ستروئیدونو په مقابل کې ځواب وائي او ۶۰ ٪ئي د سترویدونو د تداوي په مقابل کې ځواب نه وائي

## کلینکي منظره:

د POAG په شان کلینکي منظره لري دا دقوي ستروئید د موضعي استعمال څخه څو خفتي وروسته او دضعیف استروئید د موضعي استعمال څخه څو میاشتي وروسته انکشاف کوي.

**درملنه**: کله ،چې ستروئیدونو استعمال حتمي وي نو د ستروئید دصحیح استعمال او د IOP دبا قاعده کنترول په واسطه وقایه کیږي د سترګو داخلي فشار د۱۰ ورځو او څلورو هفتو تر منځ باید په **۹۸**٪ واقعاتو کې نارمل حالت ته راوړل شي طبي درملنه لکه **۵**٪ ، ۰ timolol استعمال د نارملو مرحله کې موثر تماميږي. په مقاومو حالاتو کې filtration جراحي ته ضرورت پیدا کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ترو ماتيک ګلوکوما Traumatic glacuma

ثانوي ګلوکوما دسترګي دپخ ترضيض يا جراحي اختلاط په شکل منځته راځي. ميکانيزم ديو يا زياتو لاندي ميکانيزمونو په واسطهٔ دتروما يا جراحي په تعقيب ګلوکوما منځته راځي.

- ⇐ دالتهابي ګلوکوما د gridocyclitis له کبله
- ⇐ دسترګو داخلي خونريزي له کبله ګلوکوما
- ⇐ دعدسيي دريچر ، پړسوب او يا بي ځايه کېدو له کبله lens induced ګلوکوما
- ⇐ Adherent leukoma او محيطي قدامي synochia دکبله ګلوکوما
- ⇐ داپتيل يا فايبريد حجراتو دنمو له کبله ګلوکوما
- ⇐ دزاويي recession له کبله ګلوکوما : دفيبروسز په تعقيب دتريبکولر مشورک تخريب

درملنه تداوي ئي دطبي تداوي (Timolol ۰،۵٪ and acetazolamid) دمربوطه سببي ميکانيزم تداوي لکه اتروپين او ستروئيد دالتهاب دکنترول لپاره او دحالت مطابق د جراحي مداخلي څخه عبارت دي.

## Ciliary block glaucoma

دي ډول ګلوکوما ته خبيثه ګلوکوما هم ويل کېږي دا د يو نادر حالت دي ، چې کېداي شي د سترګو هري داخلي جراحي عمليي داختلاط په شکل منځته راشي ، دا په کلاسيک ډول په هغه کسانو کې پيدا کېږي ، چې Narrow angle glaucoma ولري او Prephral gridoctomy او يا trabecolectomy شوي وي دا نوعه ګلوما دسترګو دفشار په پرمختللي زياتوالي او دقدامي خوني په تنګوالي يا نشتوالي باندي جوتيږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسترګي دداخلي فشار دزياتوالي ميکانيزم

داسي عقيده موجوده ده ،چې دسترګو له داخلي عملياتو څخه وروسته په aphakic ناروغـانو کـې دحـدبي جسـم اسـتطالات مخـي تـه تـاويږي او دعدسيي په استوائي برخي باندي فشار راوړل (cilio lenticular block) يا په ahpakie کسانو کې حدبي استطالات دذجاجيه مايع په هيالويد مسافو باندي فشار راوړل په دي ترتيب دخلطيه مايع جريان مخ ته کميږي خلفا انحراف کوي او په ذجاجيه مايع کې د aqueous package په شکل جمع کېږي په نتيجه کې ئي دسترګو داخلي فشار زياتيږي او دسترګو قدامي خو هموارو ي.

# کلينکي منظره

دسترګي دقامي خوني هموارېدنه ،چې د هرو IO عملياتو په تعقيب منځته راشي ، د عملياتو څخه وروسته مرحله کې دسترګي داخلي فشار لوړوالي ، د seidels تست منفي والي او د miotic په مقابل کې ځواب نه ويل او حتي شـدت اختيـارول خبيثـه ګلوکومـا ممکـن Phakic, aphakic يـا pseudophakic وي.

# درملنه

طبي درملنه ئي د ۱٪ atropine قطري يا ملهم تطبيق چې Ciliolenticular يا Ciliovitreal اتصـال وصـلوي او حـدبي حلقـه متوسـع کـړي ، ۲۵۰ mg acetazolamid څلور ځله ، ۵٪ . ۰ timolol دخلطيه مايع دافراز دکموالي په خاطر ، او نيتهورک دلاري ، چې د ويتروس غونج کړي عبارت دي کچېرته د ۴-۵ ورځو پوري ئي دطبي درملني په مقابل کې ځواب ونه وائي نو جراحي عمليه اجرا کېږي جراحي عمليه ئي دخلفي sclerotomy څخه عبارت دي ،

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د ذجاجیه مایع څخه خلطیه مایع ایستل کېږي او قدامي خوني کې هوا زرقیږي.

## ګلوکوما چې د سترګو د داخلي خونریزي سره یو ځای وي.

د سترګي داخلي خونریزي د hyphaema ( قدامي خوني کې د ویني موجودیت او vitrous haemorrgea څخه عبارت دي ، چې د هر سببه وي ، دوي کېداي شي ، چې د ګلوکوما دلاندي اشکالو یره یو ځای وي.

### Red cell glaucoma

دا د تازه ترو ماتیک هایفیما سره یو ځای وي ، چې دا په ناروغ کې د کتلوي هایفیما په واسطه د تربیکولا د بندیدو له کبله منځته راځي ، چې دا کېداي شي چې د حدقي د بلاک سره د ویني د عقلي په واسطه یو ځای وي ، کچېري د څو ورځو په جریان کې د سترګي فشار ښکته نه کړل شي نو د قرنیه blood staining انکشاف کوي

### Haemolytic Glaucoma

دا یو حاد د خلاصي زاویي یوه حاده ګلوکوما ده ، چې د تربیکولر میشورک په کې د مکروفاژ
او لایز شوي RBC د debris په واسطه بندیږي.

### Ghost cell glaucoma

دا د ثانوي خلاصي زاویي ګلوکوما یوه نوعه ده ، چې په Aphkic سترګي کې د vitrous haemorghea سره یو ځای منځ ته راځي د خونریزي څخه دوه هفتي وروسته RBC استحاله کوي خپل رنګ د لاسه ورکوي او Khaki coloured حجرات ، چې د Ghost cell په نوم هم یادیږي بدلیږي کوم ، چې د ذجاجیه مایع څخه قدامي خوي ته ځي هلته trabeculum فوحي بندیږي او د سترګي د فشار لوړوالي سبب ګرځي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Haemosidrotic Glaucoma

دا دثانوي ګلوکوما یو نادر شکل دي ، چې دتربیکولوم داندوتیل حجراتو په واسطه دبلع شوي هیموګلوبین داوسپني له کبله تربیکولر میشورک کې سکلروتیک تغیراتو په اساس منځته راځي.

## ګلوکوما چې د iridocorneal endothelial syndrome سره یوځای وي

ددي سندروم معموله منظره دقرنیي دغیر نورمال اندوتلیل حجراتو دموجودیت څخه عبارت دي کوم ، چې ارتشا کوي او دسترګې دقدامي خوني په زاویه کې پردي جوړوي په نوموړي زاویي کې د synechia منځته راځي او د پردي دنقلص له کبله زاویه بندیږي چې ګلوکوما دزاویي دبندښت له کبله منځته راځي.

**کلینکې منظره:** نوموړي سندروم دمتوسط عمر لرونکې ښځي متاثره کوي دسترګي دفشار زیاتوالي دسببي حالت مشخص کلینکې منظره سره یو ځای وي.

## دګلوکوما لپاره ددجراحي پروسیجرونه

Indications Peripheral gridoectomy

⇐ د PACG مقدم کېسونو دتداوي لپاره

⇐ په بله سترګه کې دوقایي لپاره

۱-شق د razor blade په واسطه ۴mm limal یا قرنیي شق اجرا کېږي Gris prolapsed دزخم په خلفي څنډه باندي فشار ورکول کېږي تر څو چې gris پرولپس وکړي که قزیحي پرولپس ونه کړو نو په محیط کې د grid forceps په واسطه نیول کېږي.

۲- Gridectomy: د Weckers قیچي په واسطه د gris دټول ضخامت یوه برخه قطع کېږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- د gris بیرته په ځاي کونه gris بیرته د gris repository په واسطه په ځاي کېږي.

۴- Wound closure د ۱۰/۰ نیلون تار په واسطه شق دیو یا دوه سوچرونو په واسطه ترمیمیږي.

۵- د ۲۵ ml ، ۰ dexamthson او دجنټامایسن ۵ ml ، ۰ تحت منضمي زرق کېږي.

۶- دسترګي دمعقم ګاز په واسطه پانسمان کېږي.

## Goneotomy and Trabeculotomy

دا عملیات په ولادي یا انکشافي ګلوکوما کې استطباب لري

## Fistulazition filtering operation

دا عملیات دخلطیه مایع دتخلیه لپاره یوه نوي لاره پرانیزي او په کامیابي سره د سترګو داخلي فشار کنترولوي ،نوموړي عملیات په د وو ګروپونو باندي ویشل شویدي.

اول: free filtering operation (Full thickness fistula) دعملیاتو څخه وروسته داختلاطاتو دزیاتوالي له کبله په اوسني وخت کې نه اجرا کېږي دا عملیاتونه د Scheles, punch sclerectomy, elliots sclerocorneal trephining theromsclerostomy او gridencleisis څخه عبارت دي.

## دوهم: gradual filtering surgery

Trabecolectomy : دا دلمړي ځل لپاره د corain په واسطه ۱۹۸۰ کال کې تشریح شوي او س دا یو partial thickness filtering جراحي عملیه ده چې ډیره زیاته استعمالیږي.

## استطبابات

۱- PACG چې محیطي قدامي synechia دزاویې ۱/۲ برخو څخه زیات احتوا کړي وي

۲- PACG چې دطبي درملني په واسطه ځواب ونه وائي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- ولادي يا انكشافي ګلوكوما ، چې د trabecolectomy او gonectomy په واسطه منترول شي.

۴- ثانوي ګلوكوما

دفلتريشن ميكانيزم د سكليرال فليپ په شاوخوا څنډه كې يوه نوي لاره جوړيږي ، چې د نوموړي لاري څخه خلطيه مايع د قدامي خوني څخه تحت المنضمي مسافي ته جريان كوي. كه چېري د سيكليرل سپور خلفي نسج شق شي نو د سايكلوډ يالايزيز ممكن uvealscleral جريان زيات كړي.

كله ،چې trabecolectomy تعريف شو نو داسي فكر كېده چې خلطيه مايع د شلم كانال د قطع شوي نهايت دلاري جريان كوي خو اوس دا معلومه شويده چې نوموړي ميكانيزم neglictable رول لري.

## Trabecolectomy جراحي تخنيک

۱- لمړني پړاوونه لكه انستيزي ، پاكونه ، draping ، د ستر ګيد ګاټي لوڅونه او د علوي rectus عضلي نيونه عينا د cataract عملياتو پشان صورت نيسي.

۲-conjectival flap شكل وګوري د فورنكس يا limbal ناحي څخه منضمي فلپ اخستل كېږي او لاندېني سكليرا لوڅيږي ، د tookes knife په واسطه tenons كپسول پاكېږي او هموستازيز د كوتري په واسطهٔ تامينيږي.

۳- سكليرل فلپ ( شكل ) د سكليرا په ضخامت نيمابپ برخه د mm ۵×۵ په اندازه اخستل كېږي او لاندي خواته د قرنيه په لور تاويږي.

۴- د تربيكولر نسج قطع كول قرنيي ته نژدي دژور لوڅ شوي سكليرا دغه برخي څخه يو نري strip د mm۲×۴ په اندازه ، چې د شلم كانال او تربيكولر ميشورک ولري قطع كېږي

۵- prephral gridectomy: د De Weckers قيچي په واسطهٔ د ۱۲ بجو ځاي كې اجرا كېږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶- Closure: سکلیرل فلپ خپل ځاي کې تثبیت کېږي او د ۱۰/۰ نایلون تار په واسطه ګنډل کېږي وروسته منظمه په خپل ځاي کې د دوه بیل کوکونو په واسطه تثبیت کېږي په هغه حالت کې چې د فورنیکس څخه فلپ اخستل شوي وي او continous suture هغه وخت وهل کېږي، چې د فلپ د limbal ناحیې څخه اخستل شوي وي.

۷- د dexamethason او Gentamycin تحت المنضمي زرق اجرا کېږي.

۸- سترګي د معقم ګاز پو اسطه پانسمان او پلستر کېږي.

**اختلاطات**: د cataract , Hyphacma, post operative shallow A.C او endophthalmitis څخه عبارت دي. Iritis

انتي میتابولایتونو استعمال د trabeculectomy سره

کله چې د conventional trabecolectomy د عدم کفایه لپاره لاندي فکتورونه موجود وي نو د زخم د modulation لپاره اوس انتي میتابولیتونه توصیه کېږي.

⇐ پخواني فلتریشن حراحي عملیه ناکامه شوي وي

⇐ ګلوکوما په aphakia کې

⇐ بعضي ثانوي ګلوکوما ګاني لکه post inflamitory ، او post traumatic

⇐ ناروغ د ځلورو کالونو راپدي خوا د موضعي تداوي لاندي وي.

انتي میتابولیت مستحضرات د ۵ fluorouracil یا mitomycin څخه عبارت دي

## Artifecial drainage shunt operation

دي ته glaucoma valve implant هم وائي، چې پدي حالت کې یو پلاستیکي سامان استعمالیږي او د قدامي خوني او sub tenons space ترمنځ ارتباط جوړیږي ، دي ډول عملیات ته seton عملیاتو هم ویل کېږي.

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

استطبابات ئي د glaucoma with aniridea, neurovascular glaucoma ،
دابتدائي او ثانوي ګلوکوما مقاوم اشکال ، چې حتي پکې trabecolectomy
او انتي ميتابولايت تداوي هم ناکامه شوي وي.

## Cyclodistractive procedure

پدي حالت کې د حدبي جسم افرازي برخه تخريبيږي پدي ترتيب د خلطيه مايع افراز کميږي او IOP ښکته کېږي

استطبابات نوموړي پروسجر په اساسي ډول د absolute glaucoma لپاره استعماليږي

## په اوسني وخت کې cyclodistractive پروسيجر په لاندي ډول دي

۱- cyclocryotherapy

۲- Yag laster cyclodistraction

۳- diod laser cyclophoto coagulation

## د Cyclocryopexy تخنيک

۱- Anasthesia : topical او peri bulber انستيزيا ورکول کېږي

۲- د سترګي د speculam په واسطه اجفان يو دبل څخه جدا کېږي

۳- Cryoapplication : Cryo د شبکې د پروب سره د limbus ناحي څخه ۳mm ليري ايښودل کېږي په ۱۸۰ ناحيه کې ديو دقيقي لپاره ۸۰ – frezzing اجرا کېږي که چېرته نوموړي پورسيجر موثر نه وي دري اووني وروسته په همدي ځاي کې پروسيجر تکراريږي ، که چېرته بيا هم بي تاثيره وي نو پاتي شوي ۱۸۰ بايد نداوي شي.

**ميکانيزم**: د حدبي جسم د افرازي اپيتل د تخريب له امله IOP ښکته کېږئ حجرات د intra cellular frezzing د کبله تخريب کېږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# The Uveal tract

## اناتومي

دسترګي دغه طبقي ته وعائي طبقه هم وائي ، چې دایرس سیلري باډي او کورید څخه متشکله ده داناټومي له نظره دغه برخي یو دبل سره تړلي دي نو ځکه دیوي برخي ناروغي بلي برخي ته ممکن خپره شي.

## Iris

داو یو رنګه ، ازاد او حلقوي پرده ده ، چې په متوسطه برخه کې یو سوري pupil دي ، چې ۴mm قطر لري pupil دروښنائي اندازه کنترولوي کوم ،چې retina ته رسیږي د pupil څنډي د lens کپسول له پایه داخل او خارج خواته حرکت کوي کله ، چې حدقه Constricted وي نو د Iris خلفي زیاته برخه د lens سره په تماس کې وي او کله ،چې ښه dilated وي نو ممکن Iris د lens کپسول سره په تماس کې نه وي.

Iris قرنیه او lens ترمنځ فضا په دوو قدامي بیت او خلفي بیت باندي ویشل شوي ده د iris په محیط کې د Ciliary body دقدامي سطحي دمتوسط برخي سره وصل دي

د iris قدامي سطحه د zigzag لاین په واسطه په دوو برخو ویشل شوي ،چې دغه لاین ته Callorat هم وائي

Ciliary برخه پدغه برخه کې یو سلسله شعاعي خطونه او Crypt وجود لري (radial streaks) یا شعاعي خطونه دویني دشعاعي اوعیو له کبله ، چې لاندي برخه کې موقعیت لر یلیدل کیږئ او Crypt دهغه فرو رفتګي ګانو څخه عبارت دي ، چې داپتیلیل طبقي دنشتوالي له کبله منځ ته راځي.

Papillary zone: دا برخه دصباغي حدقي frill او Collateral ترمنځ واقع دي دا په نسبتي ډول ښویه او هواره ده.

Structure د دري طبقو څخه جوړشویدي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Endothelium: دا دنسجي مسافو او Crypt څخه جوړه شويده چه په ازادانه ډول قدامي بيت کې موقعيت لري.

Stroma: دا دسست منظم نسج او دويني درګونو ، اعصابو او عضلاتو څخه جوړ شويدي ، چې عضلات ئي په لاندي ډول دي.

- Sphincter pupila دا يو ملي تر اندازه لري حلقوي بانډونو څخه جوړشويدي ،چې د pupil په شاوخوا کې موقعيت لري دا ددريم زوج عصب دلاري د Cervical parasympathic اعصابو په واسطه تعصيبيږي او دحد قي دتقبض سبب ګرځي.
- Pigmented epithel دوه طبقي دصباغي epithel د iris په خلفي سطحه کې موقعيت لري

Ciliary body: ددي شکل د isosceles triangle په شان دي ، چې قاعده ئي مخ کې موقعيت لري Ciliary body د iris دقاعدي دمتوسطي برخي سره وصل دي دمثلث خارجي برخه د sclera لاندي واقع ده او ددي دواړو طبقو ترمنځ يو مسافه شته ، چې د Suprachoriodal space په نوم ياديږي.

Ciliary body دوه برخي لري.

Pars plicata: ۱/۳ قدامي برخه د ciliary body ، چې تقريبا ۲mm کيږي د pars plicata په نوم ياديږي.

Pars plana ۲/۳ خلفي برخه د ciliary body ، چې تقريبا ۴mm کيږي د pars plana په نوم ياديږي دغه برخه په نښتي ډول غير وعاوي ده او د سترګي دخلفي segment دمداخلي لپاره استعماليږي يعني ۳-۵ mm د limbus څخه شاته په pars plana باندي شق کيږي او دسترګي خلفي segment کې جراحي مداخله کيږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Structure : د ciliary body د څلور طبقو څخه جوړيدي.

- Ciliary musle د غير مخطط عضلي اليافو د هوارو د بندلونو څخه عبارت دي ، چې د lens په تطابق کې مرسته کوي.
- Stoma : دا برخه د collagen, fibroblast, nerv, pigments او دويني رګونو څخه جوړشويدي.
- Ciliary process : د ciliary body تقريباً ۷۰ استطالو څخه جوړ شويدي ، چې supensory ligament ورڅخه دګوتي په شکل دي ددوه طبقو اپتليل حجراتو په واسطه پوښل شويدي دا ciliary process دويني رګونه او سست منظم نسج لري او دا استطالي د aqeous د توليد مهمه منبع شميرل کيږي.
- Epithelium : دلته دا پيتل حجراتو دوه طبقي صباغي او غير صباغي موجود دي

## Function

Pars plecata دا برخه د ciliary body د aqeoius مايع افرازوي

Pars plana : د vitrectomy کې د جراحانو لخوا استعماليږي

Ciliary musle : دا د نژدي شيانو دليدلو لپاره د تطابق کې مرسته کوي

## Choriod

دا طبقه مکدر نصواري رنګ لري داوعيو څخه غني دي او د retina او sclera ترمنځ موقعيت لري دا د oraserata څخه تر optic nerve پوري وسعت لري د Retina خارج طبقه خپل غذائي مواد د choroids څخه اخلي د choroids التهاب هميشه retina التهاب اخته کوي دا د vascular layer, supra choroidal lamina او bruchs membrane څخه جوړ شويده.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Structure

۱- Supra choriodal lamina دا دکولاجن اليافو ، melanocyte او fibroblast يوه نري طبقه ده ، چې دنومړي غشا او sclera ترمنځ مسافې ته supra choriodal space وائي.

۲- Vascular layer or stoma دا طبقه دکولاجن سست نسج ، صباغي حجرات ، ماکروفاژ ، mast cell او Plasma حجراتو په خپل ترکيب کې لري ، ددې اساسي برخې دويني رګونو څخه جوړ شويدي ، چې دويني رګونه په درې طبقو کې موقعيت لري.

- دلويو اوعيو طبقه (hallers layer)
- د متوسطو اوعيو طبقه: دا طبقه (sattler layer)
- Corio capillary طبقه: دا طبقه د Retina خارجي طبقه تغذي کوي د choriod داخلي برخه ديو لاستيک غشا پواسطه يو بل شويدي ، چې lamina vitrea يا bruchs membrane په نوم يادېږي .

## Bruchs membrane

دا طبقه د retina دصباغي اپتيل سره په ارتباط کې واقع دي

## Blood supply

Diseases of the uveal tract

Inflammation of the uveal tract

## :Uveitis

د uveal tract التهاب ته uvitis وائي

Anterior uvitis د iris التهاب او د ciliary body التهاب ته anterior uvitis وائي

Endophthlamitis : دسترګي داخلي ساختمانونو التهاب ته وايي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Pan ophthalmous د سترګي د ټولو ساختمانونو قيحي التهاب ته وائي

## Etiology

په زياتو حالاتو کې uvitis د انتان د مستقيم تهاجم له کبله منځ ته راځي لاکن انتان په مقابل کې د allergy يا hypersensitivity عکې العملونو په شکل هم منځته راتلاى شي.

## Exogenous infection

دا د corneal ulcer او د سترګي د ثاقبه جروحاتو له کبله منځته راځي ، چې دا بيا د iridocyclitis purulent او pan ophthalmitis سبب ګرځي

## Secondary infection

پدي ډول التهاباتو کې التهابي حالت د قرنيه ، سکلرا او retina څخه uveal tract ته انتشار کوي.

## Endogenous infection

ارګانيزمونه د عضويت په نورو برخو کې موجود وي او دويني وجريان د لاري سترګي ته رسيږي.

۱- Bacteria

- چې د Septicemia Steptococcous, stapylococcous او Meningococous Pneumococous له کبله وي
- T.B, syphilis, gonorrhea او نور

۲- Viral: influenza, mesls, mumps او herpes او داسي نور

۳- protozoa toxoplasma, toxocara, cystic cozia او داسي نور

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- allergic inflammation: دسترګي حساس نسج، چې کله دمعقم انتي باندي يره تماس شي، چې دنورو اورګانيزمونو او يا پروتوزوا په مقابل کې جوړ شوي وي نو دا نوعه حالت منځ ته راځي.

۵- reaction : Hypersensitivity د antagonist نسج په مقابل کې د hypersensitivity عکس العمل له کبله منځ ته راځي نو پدي خاطر دا نوعه uvitis ديو تعداد سستميک امراضو لکه RA, SLE, sarcoidosis anklosing spondilytis, rietes disease او bcheets syndrome سره يو ځاي وي.

## دسترګي دالتهاب اساسي ميکانيزم او دهغه علايم نښې

- Vessels dilatation ….. Circum corneal ciliary inj
- Vascular permibility. Aqeuous humour flow
- Migration of cell Kerotic precipi, hypopyon, hyphemia

## Anterior Uvitis

د iris او Ciliary body التهاب ته anterior uvitis وائي

Classification

Anterior uvitis

Acute Chronic

Iris Cyelitis gridocyclitis(simple cyclintis) post cylitis (pars planitis)

## کلينکي شکلونه ئي

Anterior uvitis په دوو شکلونو پيدا کېږي، چې په لاندي ډول دي

۱- Infective (granolomatos) دا دارګانيزم دمستقيم تهاجم له کبله منځ ته راځي، دا ناروغي په insidious شکل باندي منځته راځي مزمن سير لري او ډير کم کلينکي اعراض ورکوي lymphocytes او plasma cell پواسطه باندي دنسج متکاثف نو ډولر ارتشا موجود وي

۲- Allergic (non granlomatous) دا دحاد شکل باندي منځته راځي او لنډ وخت لپاره دوام کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Difference between granolomatus and non granolomatos anterior Uvitis

**Acute Iridocyclitis** دا د **iris** او **Ciliary body** حاد التهاب ته وائي

**Symptoms**

- **Redness** دا د **Cercum corneal** احتقان له کبله وي
- **Pain**: درد د شپي لخوا شديد اختياروي دا دردونه شديد **neurologic** درد دي چه هميشه تندي ، سر ، مخ **malar** هډوکي ، پزي او غاښونو ته **refer** کېږي دا د ځکه چه **iris** په زياته اندازه د پنځم قحفي عصب **ophthalamic** شعبي په واسطه چې يو حسي عصب دي تعقيب کېږي.
- Lacrimation and photophobia: ممکن د Keratitis له کبله موجود وي ( پرته د Mucopurulent disorder **څخه** )
- Impaired vision دا عرض د hazy plasmoid aqeous او په نوموړي محيطو کې د کثافت له کبله وي.

## علايم يا نښي Sign

Circum ciliary congestion: د anterior ciliary vessels د توسع له کبله د lambus د ناحيي په شاوخوا کې سوروالي موجود وي چه د دي hyperemia رنګ بنفش سور وي.

Anterior chamber: په قدامي بيت کې plasmoid aqueus موجود وي ، چې د leckocyte علقه شوي پروتين ، او فيبريني شبکو څخه ترکيب شويدي ي د slight lamp د معايني په واسطه لاندي علايم او نښي ليدل کېږي.

Milky flare or aqueous flare: د دوړو پشان واړه زري. چې د Slite lamp د رڼا لاندي ليدل کېږي

## Aqueous flare grading

(c) ketabton.com: The Digital Library

صرف دلیدلو وړ وي faint ۱+

Iris واضحا معلوميږي moderate ۱+

Iris خیره معلوميږي Marked ۳+

په زیاته اندازه فیبرین exodate موجود وي intense ۴+

## Slite lamp examination in acute Iridocyclitis

Exudates : Keratic precipitation(Kp) ډیر تمایل لري ، چې دقرنیه په لاندي برخو کي دمجروحه انډوتلیل سره یو ځای شي البته په مثلثي شکلونو ، چې دي ته Kp وائي دري شکلونه د Kp موجود دي

۱-Fresh Kp : متعدد حلقوي او خاکي رنګه سپین exudates دي ، چې په زیاته اندازه د lymphocyte څخه جوړ شویدي ، او د په typic ډول anterior uvitis او cyclitis کې لیدل کیږي.

۲- Old Kp: دا صباغي واړه زرات دي ، چې زیړه نهایات لري په اساسي ډول د plasma cell څخه جوړ شویدي دا د post Uvitis شواهد دي

۳- Mutton fat Kp: پدي حالت کي یو څو لوي ژیړ واکس په څیر Kp موجود وي دا په granulomatos التهاب کي موجود وي ، چې په زیاته اندازه macrophage لري

Hypopyon: د iris په شدیدو حالاتو کي AC polymorph nuclear leukocyte ته داخليږي او د AC په ښکتني برخه کي قیح تراکم کوي او hypopyon جوړوي

Hypopyon: د Spontaneous hemorrhage له کبله وینه په قدامي چمبر کي راټولیږي ، چې Hyphaemia په نوم یاديږي.

Pupil: ددریم قحفي عصب دتخریش له کبله درڼا په مقابل کي دحدقه عکس العمل کم وي او د vasodilatation او دا داوبو د وتني دکبله iris تقبض کوي.

## Iris

ایرس خپل نورمال شکل دلاسه ورکوي

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- ایرس د exodat د کبله د ختې په شان معلومېږي.

۲- په وروستیو وختونو کې ممکن سپین رنګه تروفیک لکې پکې ولیدل شي.

۳- د iris نو ډولونه په granulmatos التهاب کې لیدل کېږي.

- Koeppe Noduls: کواړه نو ډولونه دي ،چې د حدقي په سرحدونو کې موقعیت لري.
- Busacca nuduls: لوي نو ډولونه دي ، چې د حدقي څخه لیري موقعیت لري.

۴- Synechia : د مجاورو ساختمانونو سره د iris التصاق ته وايي.

- Ant peripheral synechia په دي حالت کې iris د قرنیي د محیط سره ملتصق کېږي او کله ، چې د قدامي بیت زاویي ۳/۴ برخه مسدود کړي نو د سترګي داخلي فشار د زیاتیدو سبب کېږي.
- Post synechia : د هغه حالت څخه عبارت دي ، چې iris د lens سره التصاق وکړي.

کله کله د حدقي څنډي کاملاً د عدسیي سره التصاق کړي وي ، چې د Ring Synechia یا Seclusio حدقي په نوم یادېږي ، او که چېري fibrin د حدقي ساحه ټوله نیولي وي نو د occlusion حدقي په نوم یادېږي ، چې iris قدام ته تیله شوي وي ، چې Iris bumb حالت منځ ته راوړي چه امکان لري د سترګي فشار لوړ شي.

## Intermediate Uvitis

د دي ناروغي عمده عرض floater دي ، چې سبب ئي د macula ازیما کېداي شي د علایمو له نظره د vetrous په منځ کې د څو دانو حجراتو لیدل

## Chorioditis یا Posterior Uveitits

د دي ناروغي مهم عرش floater او دید تناقص د علایمو له نظره په vitrous کې حجرات ، flare کثافت او کله کله posterior vetrous detachment په معاینه کې مشاهده کېږي د شبکې په سطحه باندي سپین ژیړ رنګه خاپونه لیدل کېږي.

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د uveitis اختلاطات

۱- glaucoma د خلاصي په ډول د trabecule بنديدل د التهاب حجراتو په واسطه يا د بندي زاويي په شکل د قدامي او خلفي synechia له کبله
۲- Cataract: د synechia د تشکل له کبله او د lens ميتابوليکې تغيرات
۳- Iris atrophy
۴- cystoid macular odema
۵- vitreous detachment
۶- Retinal detachment
۷- hypotony
۸- Phthisis bulbi

**انزار**: د تداوي سره انزار ښه وي او که چېري تداوي نشي د ړند يدو سبب کېږي.

## تداوي يا درملنه

۱- mydriatic druge تطبيق کول لکه اتروپين ۱٪
۲- steroids تطبيق کول د قطري په شکل هر ساعت وروسته او ملهم د خوب په وخت کې
۳- د ستروید تحت المنضمي ، subtenon , retrobulber زرق کول
۴- د ستروید فمي استعمال کول
۵- NSAIDS د واګانو استعمال لکه کپسول indocid د ناروغي د ښه کېدو سبب کېږي

## Uveal tract tumors

په خبثيت او سليم شکل پيدا کېږي ، چې سليم شکل ئي د سيست څخه عبارت دي چې د ايريس body Ciliary او Choriod د پاسه پيدا کېږي چه مختلف اسباب لري لکه idiopathic, parasitic, exodative, degenerative, traumatic او نور

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تداوي جراحي عمليه ده

خبیث تومورونه د malignant melanoma څخه عبارت دي ،چې د melanophore حجراتو او د choriod د طبقاتو څخه منشا اخلي ، چې د سکليرا او bruchs membrane تر منځ وده کوي کله کله نشونما ئي دومره سريع وي چه کېداي شي bruchs membrane سوري کړي او د سمارق په شکل د باندي ووځي دا تومور ۸۵٪ په کوريد ۹٪ په ciliary body او ۲٪ په Iris کې منځ ته راځي.

اعراض او علايم په کلينک کې په تصادفي شکل کشف کېږي. د ديد کموالي د مکولا د ساحي د اشغال له کبله منح ته راځي.

Scotoma موجوديت چه د premetry په واسطه کشف کېږي درد په اخره صفحو کې موجود وي ، چې کېداي شي سبب ئي ګلوکوما وي.

د ناروغي تشخيص د Premetry, angiography, trans illumination په واسطه کېږي.

**تداوي:** کلاسيکه تداوي ئي enoculation ( د سترګي د کري ايستل دي ) لاکن په ابتدايي مرحلو کې Radiotherapy ګټه کوي.

## د بصري عصب اناټومي او ناروغي:

Anatomy and disess of the optic nerve

د بصري عصب اناتومي بصري عصب د lamina crebrosa څخه تر optic chaisma پوري غزيدلي دي بصري عصب په بشپړه توګه د سحاياوو پوښ (mening sheat) په واسطه پوښل شويدي يعني د dura, arachnoid او pia په واسطه ،چې د عصب سحايايي مسافي د دماغ په واسطه امتداد موندلي.

عصب په څلورو برخو ويشل کېږي.

۱- Intra ocular part ۱ mm د خل عيني برخه

۲- intra orbital part ۲۵ mm

۳- Intra osseus part ۴-۱۰ mm داخل عظمي برخه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- intracranial part ۱۰mm داخل قحفي برخه یا Duke Eider

## ۱: The intra ocular part

دا د optic dise په lamina cribrosa کې د بصري عصب یوه برخه ده ، چې تقريباً د سترګي د ګاټې د خلفي برخي په داخل کې موقعیت لري.

## Optic Dise

تقریباً ۳ ملي متره دي fovea cetralis, optic dise په داخلي برخه کې او د eyeball یا د سترګي د ګاټي په شاتني برخه کې موقعیت لري تقریباً سپین ګلابي رنګه ، بیضوي یا ژوره ساحه ده چه د optic nerve head یا د بصري عصب راس څخه استاځیتوب کوي.

Optic disc په نورماله توګه د شبکې په شان هواره اما کله کله په همدي نورمال حالت کې هم د مرکزي برخي کې یې یوه ننوتلي ساحه موجودوي چه physiological cup په نوم یادیږي.

## Stracture of the optic dise

دا dise د منظم نسج دافقي transverse شبکې څخه ترکیب موندلي ، چه په ډیره پیمانه لاستیک الیاف له ځانه سره لري البته د lamina cribrosa په برخه کې د retine د عصبي سیف طبقي الیاف د lamina cribrosa د meshel څخه تیریږي او د optic nerveسره ادامه مومي.

## The intra orbital part

دا برخه د lamina cribrosa څخه تر optic canal پوري غزيدلي ده د عصب دا برخه د S په څیر شکل ځانته غوره کړي ده چې دا کار د سترګي د ګاټي حرکاتو ته اجازه ورکوي د عصب دا برخه د extra ocular musce cone په منځ کې پرته ده د سترګي د ګاټي څخه لږ لري د شبکې د مرکزي شریان یا central retinal artry په optic nerve کې داخلیږي او د شبکې مرکزي ورید په همدي ساحه کې د بصري عصب څخه وځي.

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

## intra osseous part

دا برخه په optic canal کې پرته ده. دبصري عصب دا برخه د ophthalmus artry په واسطه سره يو ځاي شويده ، چې دعصب په اړخيزه يا جنبي برخه کې موقعيت لري.

## The intra cranial part

دعصب دا برخه لنډه او همواره ده دا برخه د optic canal دمخفي نهايت څخه ترد optic chasma دجنبي نهايته پورې امتداد لري بصري عصب دشبکې د Ganglion د حجراتو د Axones څخه ترکيب موندلي دا فقط يو عصب ندي بلکې د مرکزي عصب سيستم دعصبي اليافو يو قنات دي ، ددي عصبي اليافو دپاره myeline sheet شته ، neurlmmal sheet نشته لدي امله دجروحاتو او تخريبي ناروغيو نه وروسته دبصري عصب داليافو د دوباره دترميم چانس نشته

## دبصري عصب اروا

دبصري عصب intra cranil او intra canaliculler برخه د anterior cerebral او opthalmia artry دشعباتو په واسطه اروا کيږي intra orbital او intra oculal برخې ئې د ophthalmia شريان short posterior ciliary artry شريان او دشبکې دمرکزي شريان دشعباتو په واسطه اروا کيږي.

د optic dise ولادي انومالي ګاني

- Coloboma of the disc همدې حالت کې د dise size له نظره ډير غټ او ډير ټيټوالي ښکاره کوي.
- د chroid شبکې ولادي coloboma امکان لري dise هم اخته کړي.

## :Optic Neuritis

دا ناروغي په دوو ګروپونو ويشل کيږي

١- papilitis کله ،چې دبصري عصب راس التهابي شي.

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- terobulbar neuritis کله ، چې عصب د سترګو د کري په شاته برخه کې التهابي شي.

## Papilitis اسباب

سبب يي هر کله روښانه نه وي ، ځيني optic پيښيي لکه tonsillitis او sinusitis اويا عمومي fibrile تبه لرونکې ناروغي کولاي شي افت سخت کړي اکثرا يوه سترګه اغيزمنه کېږي ، او دا ناروغي په هر عمر او هر جنس کس پيښيدلاي شي.

## اعراض

په ډير بيړه او مترقي توګه د سترګو ديد کميږي کوم ، چې يواځي د روښنايي د وړانګو او ادراک په واسطه کميږي ، سترګي کې ديد نه لري.

## سريري نښې

۱- د حدقي عکس العمل د نور په وړاندي کميږي او عکس العمل څرګند نه وي.

۲- optic dise yhpermia موجود وي څنډي ي مخشوشي او په وروستو حالاتو کې د dise پړسوب موجود وي.

۳- د شبکې وريدونه په مترقي توګه احتقاني وي.

۴- دډسک په ګرد چاپير کې د شبکې نزف د flome shaped په ډول ښکاريږي.

۵- خارجي علامي موجود نه وي.

## انزار

که چېرته په مقدمه توګه تداوي شي نو التهاب ګرځي د dise تظاهرات نومال کېږي او ديد بيرته حاصليږي ، اما کله چې ناروغي څه موده وځنډيږي ، نو د optic nerve د اتروفي په لورپر مختګ کوي.

## درملنه يا treatment

۱- د septic محراق درملنه بايد ترسره شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
۲- د B۱۲ ,B۲ ,B۱, Vitamin دزرقیاتو لوړ دوز کم تر کمه تر ۲۰ ورځو پوري توصیه شي.

## Retrobulba neuritis

دا ناروغي کېداي شي حاده یا مزمن بڼه ولري.

## Acute Retriobulbar neuritis

## اسباب

Septic محراق ، حاد انتاني ناروغي دشکري ناروغي ، منتشر sclerosis او التهابي حالات لکه orbital cellulites دمعمولو اسبابو دجملې څخه دي اکثرا یوه سترګه مصابیږي او په هر جنس او هر عمر کې واقع کېداي شي

## اعراض

- په بیړه سره دمرکزي دید سقوط
- په داخل د orbit او شاوخوا کې یې خفیف درد
- کله ،چې سترګه پورته حرکت وکړي درد را منځته کېږي او علت یې دا دي ، چې په دي حالت کې دپورته rectus عضلاتو sheat نژدي optic foramin ته د optic nerve سره اتصال کوي.

## سریري نښې

- دخارج لخوا سترګه نورمال ده
- دنور په مقابل کې د pupil غبرګون ډیر لږ او تقبض یې څرګند نه دي
- د fundus تظاهر کې optic dise نورمال وي

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

## انزار

ښه والي اکثرا په بشپړه توګه لاسته راځي اما مرکزي scotoma پاتي کېږي بیا حملي په یي optic atrophy سبب شي.

## درملنه

د papilitis ډول درملنه سرته رسیږي.

## Chronic Reteobulber Neuritis ( toxic amblyopia):

دا ناروغي دواړه خواوي اغیزمني کوي ، exogenous د سیستم له امله منځ ته راځي په ابتدا کي د شبکي Ganglion حجرات نیسي څرنګه ، چې پدي حالت کي د optic nerve د moular الیافو داتروفي منځ ته راځي نو دا ناروغي مخکي په نوم یادیږي chronic retrobulbar neuritis اما څرنګه ، چې افت ابتدا په retina کي دي دغه toxin amblyopina به پدي ورځو کي toxin retina neuropathy په حیث کتل کېږي.

## اسباب

Toxin amblyopia دلاندنیو سمي فکتورنوله امله منځته راځي.

۱- Tobacco

۲- ethyl alcohol او یا توباکو او د ethyl alcohol یو ځاي استعمال

۳- میتایل الکولي

۴- Arsenic

۵- lead یا سرب

۶- quinine کونین

## Tobacco amblyopia

اکثراپه هغه مسنو وګړو کي لیدل کېږي ، چې tobacco مصرفوي او دغه راز عمومي روغتیا یي حالت کي ګډوډي وي او بلاخره Vitamin B۱۲ deficiency

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم اخته وي سببي عامل يي په غالب ګمان يکوتين ندي اما د نوموړي مادي يو بقايا Bipritmal لکه collidine يا lutidine کېداي شي مسول وي.

## اعراض: ددید تدریجي کمښت او د رنګونو دبيلولو کمزوري موجوده وي

## سريري نښي

په scotometry کې يو cetral يا cetrocoecal scotoma موجود وي اما يوائي د سپينو او رنګه اهدافو لپاره په opthalmoscopic معاينه کې پره لدي ، چې په optic dise کې يوائي يو خفيف خسافت ليدل کېږي کومه بله مهمه علامه نه په سترګو کېږي.

## درملنه

۱- د tobacco داستعمال څخه په بشپړه توګه پشا تګ

۲- دويټامين B۱ او B۱۲ تطبيق

۳- دعمومي روغتيا دحالت ښه والي

## Ethyl Alcohol Amblyopia

اعراض او علايم ئي عيناً tobacco amblyopia ته ورته دي يوائي توپير يي په شخص کې دي. چې دلته ناروغ د tobacco په ځاي الکول مصرفوي ، درملنه يي هم د tobacco amblyopia په شان ده.

## د شبکيې ناروغي Diseases of Retina

### اناتومي:

شبکه د سترګي دکري داخلي طبقي څخه عبارت ده دا يو نري لطيف شفاف غشا ده ، چې د optic dise څخه تر بصري عصب پوري وسعت لري.

Visual purple د سترګو دټولو انساجو څخه پر مختللي نسج دي ، چې دراډ Rod دحجراتو رنګ يي ګلابي سور معلوميږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- opticdise: دا یو ګلابي رنګه حلقوي ساحه ده ، چې ۱،۵ ملي متره قطر لري پدي ناحیه کې یوائې او یوائې عصبي الیاف موجود وي ،چې د Lamina Crebrosa دلاري په بصري عصب کې دوام پیدا کوي په اپتیک ډسک کې یوه فرورفتګي لیدل کیږي ، چې د physiological په نوم یادیږي چې د مرکزي شبکې شریان او مرکزي شبکې ورید دکپ مرکزي برخي څخه راوځي.

۲- Macula lutea دا په نسبي شکل باندي تیاره ناحیه ده ، چې په خلفي قطب کې د اپتیک ډسک په صدغي لورکې واقع دي تقریباً ۵،۵ ملي متره قطر لري دمکولا په مرکزي برخه کې یوه فرورفتګي وجود لري چې د Fovea centralis په نوم یادیږي ، چې ۱،۵ ملي متره قطر لري او د شبکې دټولوبرخو څخه حساسه برخه ده ددي په مرکزي برخه کې یوه ځلیدونکې نقطه لیدل کیږي چې Fovcola نومیږي ۳۵، ۰ ملي متره قطر لري او دسترګو د افقي بعد څخه یوملي متر لاندي موقعیت لري.

۳- Ora serata دمحیطي څنډي څخه عبارت دي چې شبکه په کې پاي ته رسیږي پدي ناحیه کې شبکه دمشیمه او ذجاجیه مایع سره کلک اتصال لري

مایکروسکوپیک ساختمان شبکه د دري ډوله حجراتو او دهغوي د ساینپسونو څخه جوړ شوي دي ، چې لاندي طبقات جوړوي.

۱- Pigment epithelium layer

۲- Layer of Rod and Cons

۳- External limiting membrane

۴- Outer nuclear layer

۵- Outer plexiform layer

۶- Inner nuclear layer

۷- Inner plexiform layer

۸- Ganglion cell layer

۹- Nerve fiber layer

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰- Inner limiting membrane

د Fovea centralis ساختمان: په دغه ناحیه کې یوازي د کان حجرات واقع دي راډ حجرات وجود نلري او د شبکه نور طبقات نري دي د Fovea Centralis مرکزي برخه (Foveola) په زیات شمیر کان حجرات لري ، چې د دوي هستي د نري Internal limiting membrane په واسطه پوښل شوي دي د شبکه نور ټول طبقات په دغه ناحیه کې وجود نلري

اروا:

د شبکې ځلور خارجي طبقات د کوروئید د اعیو څخه تغذیه کېږي داخلي شپږ طبقي د مرکزي شبکې شریان ، چې د افتلمیک شریان یوه شعبه ده غذائي مواد اخلي.

د شبکې وریدونه: دوي شبکې شراین تعقیبوي. مرکزي شبکې وریدونه مستقیماً یا د علوي افتلمیک ورید دلاري Cavernous sinus کې تخلیه کېږي یوائني برخه چې شبکې سیستم د حدبي سیستم سره انستوموز کوي د Lamina Crebrosa څخه عبارت دي.

د شبکې التهابي ناروغي: د شبکې التهابي ناروغي عبارت دي له

۱- Retinitis

۲- Chorioretinitis

۳- Neuroretinitis

۴- Retinal vasculitis

د شبکې پړسوب Retinitis:

۱- د شبکې غیر وصفي پړسوب: دا د پایو جینیک ارګانیزمونو له کبله په حادو او تحت الحاد شکلونو منځته راځي.

a. د شبکې حاد تقیحي پړسوب: انتان په میتا ستاتیک شکل شبکې ته رسیږي او د شبکه التهاب منځته راوړي همدارنګه د یادوني وړ دي

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

،چې دا انتانات ډیر ژر د سترګي نورو طبقاتو ته خپریږي او اندوفتلمایتس او حتي د پان افتلمایتس

b. Sub acute retinitis of Roth دا په تیپیک ډول په هغه کسانو کې لیدل رائي ، چې په Sub acute bacterial endocarditis باندي اخته وي دا د شبکې د متعدد سطحي دهیموراژ په واسطه مشخص کیږي چې د فنډس خلفي برخه احتوا کوي دا کثرو

انزفو مرکزي برخو کې سپین داغونه موجود وي ، چې Roth spot ورته ویل کیږي دید دحلیمي دالتهاب او د مکولا د ناحیه داخته کېدو له امله ممکن خیره وي.

۲- د شبکې وصفي التهاب دا ممکن بکتریاوي ، وایرسي ، فنګسي ، ریکتسایي یا پارازیتیک منشه ولري.

## د شبکې داوعیو التهاب یا Retinal Vasculitis

ممکن په ابتدایي ډول (Eales' disease) یا په ثانوي شکل د Uvitis په تعقیب منځته رائي.

Eales ' disease: دا د شبکې د محیطي وریدونو نا معلوم التهاب دي چې د ذجاجیه مایع د مکرر انزفي پو اسطه مشخص کیږي.

## اسباب:

په صحیح ډول پیژندل شوي ندي خو داسي فکر کیږي ، چې د توبرکلوز پورتین یا کوم بل انتاني محراق په مقابل کې د معافیتي عکس العمل له کبله پیدا کیږي.

## کلنیکي منظره:

دا دوه طرفه ناروغي ده ، چې ځوانان نارینه پري اخته کیږي ، چې معمول اعراض یې د Flouters یا د ذجاجیه مایع د هیموراژ له کبله د دید بې درده ضیاع څخه عبارت دي هیموراژ رشف کیږي خو دوباره واقع کېدنه یې ډیر معمول دي.

د Eales' disease کلینیکي کورس په څلورو مرحلو کې مطالعه کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

a. دالتهاب مرحله
b. داسکېميا مرحله
c. په شبکېه کې دنوي اوعيو د پيدا کېدني مرحله
d. داختلاطاتو مرحله

## تداوي يا درملنه

۱- طبي تداوي يا درملنه: په فعال التهاب کې داوږدي مودي لپاره کورتيکو ستروييد دخولي دلاري ورکول کېږي په انتخابي واقعاتو کې يو کورس دتوبرکلوز ضد دوا هم توصيه کېږي

۲- Laser photocoagulation: په شبکېه کې دنويو اوعيو د پيدا کېدو په مرحله کې استطباب لري.

## Vitro retinal surgery

دا هغه وخت ضرورت دي چې په ويترس هيموراژ رشف نه شي او يا Tractional Retinal Detachment موجود وي.

## دشبکې وعايي ناروغي

دشبکې معمول وعايي ناروغي عبارت دي له

۱- Central Retinal Artery Occlusion
۲- Central Retinal Vein Occlusion
۳- Diabetic Retinopothy
۴- Hypertensive Retinopathy
۵- Sickle Cell Retinopathy
۶- Retinopathy of Prematurity
۷- Retinal telangectasia

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شبکې د شریان بند ش:

اسباب: دا په هغه ناروغانو کې، چې د وینې لوړ فشار او نور قلبي وعايي ناروغي ولري زیات لیدل کېږي معمول اسباب یې د Thrombo embolism او Retinal arteritis څخه عبارت دي Angiospasm د شبکې شرياني بند ش نادر سبب تشکېلوي دا معمولاً د Amurosis سره ارتباط لري.

بعضې وختونه د سترګې داخلي فشار زياتوالي او د Retnal Detachment د تداوي لپاره کلک حلقه هم د شبکې شرياني بند ش سبب ګرځي.

## کلنیکې منظره:

د کلينيک د نظره شبکې شرياني بند ش ممکن د مرکزي شبکې شرياني بند ش يا د شعبوي شبکې د شرياني بند ش په شکل منځته راځي په نارينه وو کې نسبت ښځو ته زيات منځته راځي معمولاً يو طرفه وي لاکن کله کله دوه فيصده واقعات يې دوه طرفه هم کېداي شي.

۱- د مرکزي شبکې شرياني بند ش دا د Lamina Crebrosa په ناحيه کې د شريان دانسداد د کبله پيدا کېږي.

## اعراض:

ناروغ د بې درده اني ديد له ضياع څخه شکايت کوي.

## علايم:

Direct pupilary light reflex نکوي شبکې وريدونه نورمال وي لاکن شبکې شراين په پر مختللي ډول نري شوي وي دازيما له کبلهشبکېه د شيدو په شان سپين رنګ غوره کوي، د مکولا برخه کې Cherry red spot او دوعايي مشيمي د کبله ليدل کېږي وروسته د څو هفتو څخه التهاب خاموشه کېږي او اتروفيک تغيرات لکه د تار په شان شراين او اپتيک اتروفي منځته راځي.

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- Branch art occlusion دا همیشه د Bifurcation قسمت کې د امبولي د نښتیدو له کبله منځته راځي دانسدادي ناحیې څخه وروسته شبکیه ازیما او شراین یې نري کېږي وروسته ماوفه ناحیه اتروفي کوي او یوه برخه یې د دید ساحه کې دایمي دید نقیصه منځته راوړي.

**منجمنټ:** تداوي یې دقناعت وړ نده ځکه، چې د شبکیه انساج د څو ساعتونو څخه زیات اسکېمیا تحمل کولای نشي او د منځه ځي او بیړني تداوي عبارت دي له

۱- دفعتاً د سترګې داخلي فشار ښکته کول

۲- Vasodilators او د کاربن داي اکساید پنځه فیصده پنځه نوي فیصده اکسیجن انشقاق کول

۳- د تحثر ضد دواګاني ځیني وختونه مفیدي وي.

۴- د رګ دلاري استروئیدونه په Giant cell arteritis کې استطباب لري

## اختلاطات:

د مرکزي شبکې شریاني بندش موخر اختلاط په توګه ممکن په واقعاتو کې Neovascular پنځه فیصده ګلوکوما منځته راشي.

**شبکې وریدي بندش:** دا نسبت شریاني بندش ډیر معمول دي دا په زړو خلکو کې، چې د عمر په شپږمه یا اومه لسیزه کې قرار ولري واقع کېږي.

## اسباب:

۱- د Sclerotic retinal artery له کبله په شبکې ورید کې د فشار موجودیت

۲- د وینې غلط کېدنه لکه پولي سایتیمینا ، هایترلیپیډیمیا ، او مکروګلوبولینیمیا

۳- Prephelibitis retinae

۴- د سترګې داخلي فشار زیاتوالي


Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- موضعي اسباب يې د Facial erysipelas, Orbital cellulites او له کاورنس ساينس ترومبوس څخه عبارت دي.

## طبقه بندي:

۱- مرکزي شبکې وريدي بندش، چې د اسکېميا د کبله منځته راځي (Vienus stasis Retinopathy) يا پرته د اسکېميا څخه منځته راغلي وي (Hemorrhagic Retinopathy)

## Branch Retinal vein occlusion

د Non ischemic Retinal Vein occlusion ډېر معمول کلينيکي شکل دي، چې په خفيف يا متوسط ديد ضياع باندي مشخص کېږي. د ناروغي په لومړنيو مراحلو کې د فنډسکوپي په واسطه د وريدونو هيموراژ د شبکيه په محيطي برخه کې خفيفه اندازه د حليمي ازيما هم ليدل کېږي د ناروغي په اخرو مراحلو کې د داساسي وريدونو په شاوخوا کې پوښ او د اپتيک ډسک په شاوخوا کې کولترلونو ليدل کېږي د شبکې هيموراژ په قسمي ډول جذبيږي د Cilioretinal شاوخوا کې Cilioretinal په متوسطو واقعاتو کې Chranic Cystoid macular موجود وي.

## تداوي:

تداوي ته هميشه ضرورت نه وي نو موږي حالت په ۵۰ فيصده واقعاتو کې د نورمال ديد سره راګرځي په پاتي ۵۰ فيصده واقعاتو کې ديد د Chronic cystoid macular odema له کبله کميږي، چې د دي لپاره کومه مفيده تداوي وجود نلري که څه هم د ستروئيدو يو کورس د ۸-۱۲ هفتو پوري ورکول کېږي.

CRAO د Ischemic CRAO (Hemorrhagic Retinopathy) دا په حاد ډول د ديد د پرمختللي ضياع سره يو ځاي وي په مقدمو واقعاتو کې د فنډسکوپي معايني په واسطه د شبکې د وريدونو احتقان، معوج کېدنه او د شبکې کتلوي هيموراژ، متعدد نرم اګزوډيټ، او د حليمي ازيما ليدل کېږي

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکولا ناحیه د هیموراژ په واسطه ډکه وي او شدیداً ازیمایي وي په اخرو حالاتو کې دوریدونو پوښښ دډسک په شاوخوا کې کولټرلونه ، په ډسک کې. نوي اوعیوي جوړیدنه ، په مکولا کې پرمختللي صباغي تغیرات ، او Cystoid macular odema لیدل کېږي.

د Non ischemic CRVO څخه په لاندي منظرو تفریق تشخیص کېږي.

Relative APD, د دید د ساحي نقیصه او په ERG کې د b د موجي د دامني کموالي

## اختلاطات:

د دري میاشتو په موده کې د ۵۰ فیصدو څخه په زیاتو واقعاتو کې Rubeosis iridis او Neovascular glaucoma منځته راځي یو څو واقعات یي په Vitrous hemorrhage او Proliferative Retinopathy باندي منتج کېږي.

## تداوي:

Pan retinal coagulation یا Cryo application یي اساسي تداوي تشکېلوي او دا باید هغه وخت اجرا شي چې زیاتره د شبکې هیموراژ رشف شوي وي.

Branch retinal vein occlusion ډیر معمول دي.

C.R.V.O په لاندي ځایونو کې مخ ته راځي

۱- داپتیک ډسک په څنډو کې (Hemispheric occlusion)

۲- دورید لویه شعبه ، چې د ډسک څخه لیري واقع وي (Quadrantics occlusion) او د محیطي شعبي انسداد

په BRVO کې هیموراژ او ازیما دمتاثر ورید پوري محدود وي دید یوائې هغه وخت کمیداي شي ، چې مکولا ساحه اخته شي ثانوي ګلوکوما کله کله په دریمه حصه واقعاتو کې منځته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تداوي:

هغه کسان، چې د مکولا په مزمنه ازیما باندي اخته وي Grid photocoagulation ته ضرورت لیدل کېږي او هغه کسان، چې د نوي اوعیې په جوړېدني باندي اخته وي. Scotter Photocoagulation باندي اجرا شي.

## :Hypertensive retinopathy

د فنډس هغه تغیارتو ته ویل کېږي، چې د لوړ فشار د کبله منځته راځي لوړ فشار ډېره معموله وعایي ناروغي ده خو پدي ناورغي کې د شکري ناروغي په نسبت د دید ضیاع کمه ده.

مساعدوونکې فکتورونه: لاندي فکتورونه د ناروغي په منځته راتلو کې اغیزه لري

۱- د لوړ فشار شدت

۲- د لوړ فشار وخت

۳- عمر

a. په ځوانانو کې ابتدایي عکس العمل د سیستمیک لوړ فشار په مقابل کې د شبکېه شراینو د سپزم د کبله د شریاني تنګېدني څخه عبارت دي.

b. په زړو خلکو کې د سیستمیک لوړ فشار په مقابل کې عکس العمل د موجوده سیکلیروسز پوري اړه لري.

## د شبکې پتوجینیسس:

داوږدي مودي لپاره لوړ فشار لاندي حالات منځته راوړي

۱- د شریانونو د جدار پنډوالي

۲- داوعیو داندوتیلیوم او ملسا عضلاتو فایبرینو ئید نکروسز

۳- دویني او پلازما لیکاژ

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

i Vasoconstriction د شبکې د شعریه عروقو نري کېدنه دلوړ فشار د شدت پورې اړه لري چې په زړو خلکو کې موجوده سکلیروسز نوموړې حالت متاثره کوي لاکن په ځوانانو کې نوموړې حالت یوائې دلوړ فشار پورې تړلې دي.

ii- Arteriosclerotic Changes دوې د Arterialer reflex او AV crossing د تغیراتو په څیر تظاهر کوي دوي داوعیو دجدارونو دپنډیدو له کبله منځته راځي دوي دلوړ فشار دمودې انعکاس دي په زړو خلکو کې Arteriosclerotic تغیرات د Involutional sclerosis له کبله موجود وي.

iii- دوعایي نفوذیه قابلیت زیاتوالي نوموړي حالت د شبکې د اسکېمیا او هایپوکسیا د کبله منځته راځي ، چې دا بیا د هیموراژ ، Exodate او د شبکې د ازیما سبب ګرځي.

## طبقه بندي:

۱- Keithwagner and Barker (۱۹۳۹)

۱ Grad د شبکېه شعریه عروق خفیفه یا متوسطه انداز نري کېږي.

۲- Grad د شبکېه شعریه عروق په متوسط او پرمختللي انداز نري کېږي او محراقي اناملي منځته راځي.

۳- Grad د دوهمي درجي برعلاوه سطحي هیموراژ او نرم Exudates موجود وي

۴- Grad د دریمي درجي تغیراتو برعلاوه حلیمي ازیما موجوده وي.

تداوي: تداوي ئي د سبب پورې اړه لري دلوړفشار ضد دواګاني په قابل ملاحظه ډولد فنډس تغیرات اصلاح کوي.

## Toxemia of Pregnancy

دا همیشه د حاملګي په نهمه میاشت کې منځته راځي او د Hypertensive retinopathy سره ډیر شباهت لري.

## طبقه بندي

دري مرحلي لري

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- Stage of angiospasm دا دتوكسين دازاديدو دكبله منځته راځي دشبكې دشراينو انفي شعبه هميشه نري كېږي دشراينو سپزيمو ديک تقليصات ممكن وليدل شي

۲- داوعيو دا اسكليروسز مرحله دا دلوړ فشار دشدت پوري اړه لري

۳- دريتينوپتي مرحله

- متعدد سطحي او عميق هيموراژ موجود وي
- په ټول فنډس كې عميق Exodation موجود وي او ازيما په كې ليدل كېږي
- دكتلوي هيموراژ او ازيما دكبله Retinal detachment منځته راځي

## اختلاطات

دريتينوپتي په مرحله كې ممكن ديد په مكمل ډول دمنځه لاړشي دمور او دجنين مړينه ډير جدي اختلاط دي.

## تداوي:

- هغه ميندو ته ، چې اشتباه پري وي مناسب عمومي Antenatale care
- دا استراحت ، تسكين ، دمالگي كمول ، مدررات او دلوړ فشار ضد دواگانو په واسطه فشار بايد كنترول شي.
- حاملگي ته هغه وخت خاتمه وركوو ، چې شديد ريتسنوپتي د دوا په مقابل كې ځواب وايي.

## Diabetic retinopathy:

هغه تغيرات ته ويل كېږي ، چې ديو ديابتيک شخص په شبكيه كې منځته راځي د ديابتيک كسانو دعمر زياتيدو سره د Diabetic retinopathy وقوعات زياتيږي. په غربي نړي كې مهم علت دړنديدو څخه عبارت دي او هغه فكتورونه چې د دي وقوعات متاثره كوي په لاندي ډول دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- د شکري ناروغي موده ۵۰ فیصده خلکو کې د یابتیک ریتینوپتي دلسو کلونو ځخه وروسته په ۷۰ فسصده خلکو کې وروسته ۲۰ کلونو ځخه په ۹۰ فیصده خلکو کې وروسته ۳۰ کلونو ځخه منځته راځي

۲- جنس ښځي نسبت نارینه ورته زیاتي پري اخته کېږي

۳- دډیاپتیک ریتینوپتي شدت دویني دشکري سره ارتباط لري.

۴- Heredity

۵-حاملګي ممکن دیاپتیک ریتینوپتي تغیرات تهه شدت ورکوي

۶- لوړ فشار کله چې د شکري ناروغي سره یو ځای وي نو دیاپتیک ریتینوپتي ته شدت ورکوي.

## طبقه بندي:

ډیاپتیک ریتینوپتي په مختلفو شکلونو طبقه بندي شوي دي ، چې دلته په لاندي ډول طبقه بندي کېږي.

**۱-Non Prolifrative retinopathy**

- **Very mild non prolifrative retinopathy**
- **Mild non prolifrative retinopathy**
- **Moderate non prolifrative retinopathy**
- **Sever non prolifrative retinopathy**
- **Very sever non prolifrative retinopathy**

**۲- Diabetic maculopathy**

**۳- Prolefe rative diabetic retinopathy**

**۴- Aclvanced diabetic eye diseas**

## Investigation

دادرار معاینه ، دویني دشکري معاینه او **Fundus flourcien angiography** ځخه عبارت دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تداوي:

۱- طبي تداوي: دويني دگلوکوز کنترول دطبي تداوي په واسطه دډيابتيک ريتينوپتي شروع ځنډي او شدت يي کموي اسپرين د ريتينوپتي د پرمختگ په کنترول کې موثر ندي که چېرې دشکري ناروغي سره لوړ فشار موجود وي نو کنترول يي ضروري دي.

۲- دډيپتيک ريتينوپتي لپاره سکريننگ ددي لپاره ، چې ديا بتيک ريتينوپتي له کبله ددید دضياع څخه مخنيوي وشي او په خپل وخت جراحي ، طبي او يا شعاعي تداوي وشي نو پريوديک تعقيب ډير مهم دي.

- هر کال ترڅو ، چې ډيابتيک ريتينوپتي موجود نه وي يا خفيف **Non proliferative diabetic retinopathy** موجود وي.
- هر شپږ مياشتي وروسته کله ، چې متوسط **Non proliferative diabetic retinopathy** موجود وي.
- هر دري مياشتي وروسته شديد **Non proliferative diabetic retinopathy** اجرا کېږي .
- هر دوه مياشتي وروسته په **proliferative retinopathy** کې ، چې په زيات خطر کې نه وي.

۳- **Photocoagulation** دا دډيابتيک ريتينوپتي او مکولوپتي په تداوي اساسي خبره ده ارکون يا ډيوډ لايزر استعماليږي په هغه صورت کېک ، چې مکولوپتي کې ازيما موجود وي دلايزر استعمال اسطباب نلري.

۴- جراحي تداوي د **proliferative diabetic retinopathy** په پرمختللي شکل کې جراحي تداوي ته ضرورت پيدا کېږي په معند ذجاجي هيموراژ ، **Tractional detachment** او **Eperetinal membrane** کې **Pars plana vitrectomy** استطباب لري او **Retinal detchment** هم جراحي تداوي ضرورت پيدا کوي.


Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
د شبکې تغیرات ، چې د **Sickle cell haemoglubolenemia** څخه منځته راځي په ابتدا کې یې سبب هایپو کنسیاوي کوم ، چې دویني د سرو کرویاتو د غیر نورمال شیپ په واسطه دویني د وړو رګونو دبندش د کبله منځته راځي.

## کلینیکې تصویر:

۱- د محیطي شعریه عروقو دانسداد مرحله

۲- د محیطي **Arterio venus ansthomos** مرحله

۳- دنوي اوعیو د تشکېل مرحله

۴- دذجاجي هیموراژ مرحله

۵- د **Tractional retinal detachment** مرحله

## تداوي:

دنوي اوعیو د تشکل د مخنیوي لپاره **Pan retinal Photocoagulation** موثر تمامیږي **Vitro retinal tractional band** لپاره **pars plana vitrectomy** په ضرورت دي ، چې د دي په تعقیب که چیري **Retinal detachment** موجود وي نو باید ترمیم شي.

## Retinopathy of blood dyscerasia

دا په هغه کسانو کې لیدل کیږي ، چې په کم خوني ، لیوکیمیا او پولي سایتیمیا باندي اخته وي.

- دکم خوني ریتینوپتي د شبکې تغیرات په کم خونه خلکو کې هغه وخت منځته راځي ، چې **۵۰** فیصده هیموګلوبین یې ښکته شي او کله ، چې دهیموګلوبین مقدار له **۳۵** فیصدو څخه ښکته شي نو دغه تغیرات په واضح ډول موجود وي په دي نوعه ریتینوپتي کې د شبکې شعریه عروق او د شبکیه منظره خاسفه معلومیږي د شبکې وریدونه متوسع وي په خلفي نیمایي برخه کې دفندس کې د سطحي د شبکیې او **preretinal haemorrhage** موجود وي دیو څو انزفو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مرکزي برخي کې سپین داغونه (**Roth spot**) موجود وي کله کله
څو **Exodates (Cotton wool patch)** ممکن موجود وي.

- **Leukemic retinopathy** پدي نوعه ریتینوپتي کې دفنډس منظره خاسف او نارنجي وي وریدونه پراخه او معوج وي په موخرو حالاتو کې خاکي مانند سپین خطونه دفنډس دوریدونو په امتعداد لیدل کېږي.
- شعریه عروق خاسف او نري کېږي دشبکیه هیموراژ او د روت سپاټ موجودیت ډیر معمول دي بعضي وختونه په زیاته اندازه **Preretinal haemorrhage** موجود وي
- **Retinopathy of prematuity** دا اصطلاح په **Retrolental fibroplasias** باندي دلالت کوي نوموړي دوه طرفه **Proliferative retinopathy** ده، چې هغه **Premature** ماشومانو کې، چې وزن یې د ۱۳۰۰ گرامو څخه کم وي منځته راځي، چې دژوند په لومړیو لسو ورځو کې دلوړ غلظت لرونکې اکسجن سره مخامخ کېږي.

## پتوجنیسس:

دلوړ غلظت لرونکې اکسیجن سره دمخامخ کېدو وروسته دقبل المیعاد ماشوم د شبکې په وریدونو کې بنې **Obliteration** منځته راځي ددي په تعقیب دنوي اوعي تشکل او دانساجو فیبروزي **Proliferation** او بلاخره شبکې کتله جوړوي.

**کلینیکي تصویر:** نوموړي حالت دژوند په ۱۰-۵ هفته کې داکسیجن دتماس څخه منځته راځي دسریري نظره نوموړي ناروغي په پنځو مرحلو کې ویشل شویده.

۱- لمړي مرحله: په دي مرحله کې یو لاین درگونو په څنډو کې جوړیږي چې ددي لاین په واسطه وعایي شبکیه دغیر وعایي شبکیې څخه جدا کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library
۲- دوهمه مرحله: دلمړي مرحله دلاین په اوږدوالي او پنډوالي کې تغیر راځي یعني زیاتیږي.
۳- دریمه مرحله: پدي مرحله کې **Ridge** او په ویترس کې **Extra retinal fibrovascular Proliferation** منځته راځي.
۴- څلورمه مرحله

**Sub total retinal detachment**

الف: پدي مرحله کې مکولایي نه دي اخته کړي منځته راځي

ب: پدي مرحله کې کولایي اخته کړي دي منځته راځي

۵-پنځمه مرحله: پدي مرحله کې **Funel shape** مکملي شبکې **Detachment** منځته راځي.

تفریق تشخیصي: د **Retrolental fibroplasias** پیشرفته اشکال دلیوکو کوریا دنورو اسبابو څخه باید تفریق شي.

**تداوي:** کله، چې ناروغي تاسیس وکړي نو تداوي یي قناعت بحش نه وي نو ځکه وقایه ډیره مهمه ده ددي لپاره، چې دنوموړي ناروغي څخه مخنیوي وشي. نو قبلالمیعاد دماشومان باید په انکوبیتر کې هغه اکسیجن، چې د ۳۰ فیصده څخه یي ماشومان باید په مکرر ډول د ۴-۲ میاشتو پوري سکرین شي که چېري **Retrolental fibroplasias** تاسیس کړي وي. نو لاندي احتمامات باید په نظر کې ونیول شي.

په لوموړي او دوهمه مرحله کې څرنګه، چې په خپل سر بنه والي منځته راځي ۹۰-۸۰ فیصده واقعاتو کې نویوا ځي هفته وار معاینه توصیه کیږي.

په دریمه مرحله کې دانکشاف دمخنیوي لپاره کرایو یا لایزر باید استعمال شي.

په څلورمه الف مرحله کې دکرایو او لایزر برعلاوه **Scleral bukling** هم توصیه کیږي.

په څلورمه ب او پنځمه مرحله کې ویتریکتومي ته ضرورت دي، چې ددي مرحلي انزار خراب دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Exodative retinopathy of coats

دا د شبکېه د Telangictazia یو شکل دي د هلکانو یوه سترګه د ژوند په لمړي لسیزه کې ماوف کوي په لمړنیو مراحلو کې شبکېه او تحت الشبکېه کې Exodate او انزفه ، چې د شبکېه د متوسع او معوج اوعیو سره یو ځای وي موجود وي همدا رنګه په خلفي قطب او د اپتیک ډسک په شاوخوا کې واړه انیوریزم موجود وي. دا د دید د ضیاع ، سکوینټ او لیوکو کوریا سره یو ځای وي نو باید د Retinoblastoma سره تفریق شي نوموړي حالت په Exodative retinal detachment او Retro lentil mass باندي بدلیږي په وروستیو مرحلو کې اختلاجي کترکت ، Uvitis او ثانوي ګلوکوما منځته راځي ، چې بلاخره په Phthysis bulbi باندي منتج کېږي.

تداوي: که چېري په مقدم مرحله کې Photocoagulation او Cryotherapy اجرا شي. نو د ناروغي پرمختګ په ټپه دروي او که چېري Retinal detachment منځته راشي نو د تداوي اموفقیدو درجه ۳۳ فیصدو ته رابنکته کېږي.

## Dystrophy and Degeneration of Retina

د شبکېه متعدد استحاله او ډیاستروفي په مختلفو شکلونو طبقه بندي شویدي پدي چپتر کې د شبکې معمول ډیاستروفي او د شبکېه یو څو محیطي استحالوي حالات تشریح کېږي.

## Retinitis Pigmentosa

د شبکېه ابتدایي صباغي ډیاستروفي یو Heridatory ناروغي ده ، چې دراډ حجرات نسبت کان حجراتو ته زیات متاثره کوي.

وقوعات په ۱۰۰۰ کې پنځه کسه د ټولي نړي پدي ناروغي اخته کېږي ناروغي په ماشوموالي کې شروع کوي ، چې ورو پرمختګ کوي او د متوسط عمر په اواخرو کې د ړندیدو سبب ګرځي نژاد تمایلات نلري نارینه نسبت ښځو ته زیات

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخته کېږي ( دوه په نسبت د دري ناروغي دوه طظفه وي او دواړه سترګي په یوه اندازه متاثره کېږي.

## کلینیکي منظره

ددید اعراض

۱- شب کوري

۲- په تیاره کې تطابق دسترګي په مقدمو حالاتو کې خرابیږي

۳- په پیشرفته حالاتو کې **Tubular vision** منځته راځي

### دفنډس تغیرات:

۱- دشبکیه صباغي تغیرات دغه صباغات لمړي په امتوایي برخه کې پیدا کېږي او بیا وروسته قدامي او خلفي برخه کې موجود وي.

۲ – دشبکیه شعریه عروق نري کېږي او په اخرو مرحلو کې دتار پشان شکل غوره کوي.

۳- اپتیک ډسک په لمړیو مراحلو کې خاسف کېږي او په اخرومراحلو کې **Consecutive optic atrophy** منځته راځي.

۴- نور تغیرات دکولوئید باډي ، کورویډل سکلیروسز او **Cystoid macular oedema** څخه عبارت دي.

### ددید دساحي تغیرات

دشبکیه په استوایي برخه داستحالي له کبله **ring shape scotoma** لیدل کېږي چې نوموړي نښه ددي ناروغي ټیکبک منظره تشکېلوي دناروغي دپرمختګ سره سم سکوټوما قدام او خلف ته لویي او یوائې مرکزي دید پاتي کېږي ، چې بلاخره هغه هم د منځه ځي او ناروغ ړندیږي .

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

## الکتروفزیولوژیک تغیرات

دا تغیرات مخکې دفاعلي اعراضو او مفعولي علايمو دښکاره کېدو څخه ریکارډ کېږي

## Association of Retinitis Pigmentosa

۱- Ocular association دا د مايوپيسا ، ابتدايي دخلاصي زاوي ګلوکوما ، مايکروفتلموس ، کونيکل قرنيه او Post sub capsular cataract څخه عبارت دي

۲- Systemic association د Laurence moon biedle syndrome Ushers syndrome , Refsums syndrome او Hallgrens syndrome څخه عبارت دي.

## د Retinitis Pigmentosa غير وصفي اشکال

۱- Retinitis Pigmentosa sine pigmento دي نوعه نروغي کې صباغي تغيرات په فنډس کې نه ليدل کېږي نو ټول کلينيکې منظره يي د Retinintis Pigmentosa پشان دي.

۲- Sectorial retinitis Pigmentos پدي شکل کې يوائې يوه د شبکيه په ناروغي اخته کېږي.

۳- Peri centric retinitis Pigmentoa پدي ډول ناروغي کې ټول سريري منظره يي د ټيپيک Retinitis Pigmentosa پشان دي ځو صباغات مکولا شاوخوا ته قرار لري.

۴- Retinitis Punctat albescence پدي ډول ناروغي کې متعدد واړه سپين رنګه لکه په فنډس کې موجود وي شعريه عروق پکې نري شبکوري ، او ددید د ساحي محدوديت يي منظره تشکېلوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تداوي یا درملنه

تداوي یې قناعت بخش ندي یا ویلای شو ، چې تردي دمه کومه موثره تداوي وجود نلري

۱- هغه اقدامات.چې دناروغي پرمختګ په ټپه دروي عبارت دي له **Placental extraction, vasodilator**, د **Rectus** د عضلي پیوند په **Supera chorodal space** کې **Ultrasonic therapy , light exclusion Accopuncture therapy,** تراوسه پوري تجربه شویدي خو کوم تاثیر یې ندي کړي په دي او سنیو وختونو کې

ویتامین **A** او **E** ناورغي دپرمختګ د درولو لپاره ورکول کېږي.

۲- **Low vision aids**

۳- **Rehabilitation**

۴- **Prophylaxis** هغه جوړي ، چې وینه یې شریکه وي په خپلو کې واده باید ونکړي او که واده وکړي نو ماشومان باید رانه وړي.

## :Prephral retinal degeneration

۱- **Lattice degeneration:** د شبکیه ډیر مهم استحالوي حالت دي ، چې د **RD** سره یو ځای وي په ټولو نفوسو کې یې وقوعات د ۱۰-۲ فیصده دي لاکن په مایوپیک اشخاصو کې یې وقوعات ۲۰-۱۵ فیصده پوري لوړیږي پدي کې سپین منشعب لاینونه د **Latice** پشان باندي دنري شوي شبکیه په امتداد منځته راځي ، چې په نوموړي ځایونو کې غیر نورمال صباغات هم موجود وي واړه مدور سوري په شبکیه کې په نظر راځي دا افت صدغي طرف نسبت انفي طرف ته او علوي طرف نسبت سفلي طرف ته زیات مایل وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- **Snail tract degeneration** دا هم د **lattice** استحالي په شان دي خو سپین لاینونه یي په **Snow flake** باندي بدلیږي او شبکېه **White frost** منظره ورکوي

۳- **Aquired retino schisis** دا اصطلاح د شبکېه د **Outer Plexiform layer** یا هستوي طبقه په **Spliting** باندي دلالت کوي دا په ولادي او کسبي شکل باندي منځته راځي ،چې کسبي ته یي **Aquird ertinoschisis** هم ویل کېږي ، چې دا یو مساعدوي تکې فکتور دي د **RD** لپاره

پدي حالت کې د شبکې داخلي طبقه کې یوه برامدګي منځته راځي ، چې دغه برامدګي لطیف ، شفاف ، غیر متحرک او سطحي وي ، چې د دید ساحي نقیصه منځته راوړي نوموړي حالت همیشه دوه طرفه وي او صدغي طرف د استوا قدامي برخه اخته کوي.

۴- **White with presur and white without pressure** دا په معمول ډول سره د **RD** سره یو ځاي وي په **White with** افت کې په **Scleral indentation** ناحیه کې شبکېه خاکې او **Translucent** معلومیږي **White without pressure** د شبکېه په محیطي برخو کې منځته راځي او ممکن د **lattice degeneration** سره یو ځاي وي.

۵- **Focal pigmet clumps** دوي واړه موضعي غیر منظم ساحي دصباغاتو دي ، چې د شبکېه په استوایي برخه کې منځته راځي او ممکن **Post vitrous detachment** یا **Retinal tears** سره یو ځاي وي.

۶- **Diffuse chorio retinal degeneration** پدي حالت کې شبکېه نري کېږي او د شبکې کورویید غیر صباغي کېږي دغه افت په هاي مایوپیا سترګو په استوایي برخو کې منځته راځي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
۷-Prepheral cystoid retinal degeneration دا د زړښت ډير معمول استحالوي حالت دي په ډيرو زړو خلکو کې د RD لپاره مساهده زمينه برابروي.

## دمکولا ناروغي

لکه څرنګه ، چې مکولا د ديد سره ارتباط لري نو په همدي لحاظ د شبکيه دمتخصيصنو توجو ځانته ډيره جلب کړي ده دمکولا ډيري ناروغي تعريف شوي دي او طبقه بندي شويدي دمکولا افاتو سببي طبقه بندي په لاندي ډول دي.

۱-ولادي اناملي دوي دا پلازما ، هايپوپلازما او کولوبوما څخه عبارت دي.

۲- Hereditary dystrophy دوي د stergardts diseas, Bests diseas Bulls eye dystrophy, Butterfly shaped او Centeral couneal dystrophy څخه عبارت دي

۳- Aquird maculopathies

الف: ترو ماتيک افت دوي دمکولا دازيما ، ترو ماتيک دمکولا استحاله ، د مکولا هيموراژ او مکولر هول څخه عبارت دي.

ب: التهاب د Central chorioretinitis او photoretinitis څخه عبارت دي.

ج: استحاله مهم استحالوي تغيرات عبارت د Age related maculopathy او مايوپيک استحالي څخه عبارت دي.

د : تاکسيک مکولوپتي: دا دکلوروکوين او فينوتوين پواسطه دمکولوپتي څخه عبارت دي.

ر: متفرقه کسبي مکولوپتي: دا د Central serous retinopathy Cystoid macular oedema, macular hole او Macular Puker

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثخه عبارت دي ، چې دلته يو اځي مهم مكولوپتي ترمطالعي لاندي نيول كېږي.

**Photoretinitis (Retinitis from bright light):**

كله ، چې ستر ګي (Infra red) دانفرار د شعاع سره مخامخ شي يعني لمر ته د خسوف يا كسوف په وخت كې وګوري اويا د يو قوي جريان لنډ سركټ بريښنا ته وګوري نو دغه حالت منځته راوړي تقريباً ټول دليدو وړ شعاوي او انفرارډ شعاع دصباغي اپيتل په واسطه جذبيږي او د شبكيه د سوځيدو سبب ګرځي.

اعراض: مثبت سكوټومايي مهم عرض تشكيلوي.

## علايم:

۱- په **Fovea** كې خاسفه لكه ليدل كيږي، چې يو نصواري حلقه تري تاوه شوي وي

۲- وروسته صباغات پكې ځاي پرځاي كېږي او هول جوړوي.

## وقايه:

i- عينكې چې دالتراويليټ او انفرارډ شعاع ثخه مخنيوي كوي بايد استعمال شي ( خسوف او كسوف په وخت كې )

ii- درڼا منبع بايد په ښيښه كې وروسته انعكاس ثخه وليدل شي

## تداوي يا درملنه:

انزار يي ښه دي تداوي يي موثره نه ده كه څه هم د ستروييد په واسطه اكثراً اصلاح منځته راځي.

## Centeral serous retinopathy

دا د مكولر ازيما يو وصفي شكل دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسباب د پارافوویل یا کورویید د شعریه عروقو د
انجیوسیزم له کبله اګزوډیټ منځته راځي کوم ، چې
الژیک یا توکسیک وي او د ویزوموتور په بې ثباتي
باندي منتج کیږي.

## وقوعات:

دا دناروغي په صحت مندو ځوانو نارینه وو کې همیشه منځته راځي.

## عراض:

i– ګذري او اني د دید کموالي

ii-مثبت سکوټوما

iii– مکروپسیا یا منیتامورفوپسیا ممکن موجود وي

## علایم یا نښې

په مکولر ناحیه کې داپتیک ډسک په اندازه خاکي حلقوي پړسوب موجود وي او دا پړسوب د Sensoty macular retina د سطحي Detachment له کبله وي او دپړسوب شاوخوا ته Halo w لیدل کیږي.

## اختلاطات

دصباغي اپتیل جغرافیایي اتروفي ، فیبرووسکولر او دصباغي اپتیلیم دشلیدنې څخه عبارت دي.

## تشخیص:

فلوسین انجیو ګرافي په واسطه تائید یږي.

## تداوي یا درملنه:

داګزوډیټ دپروسي دکنترول لپاره فوتو کواګولیشن موثر تمامیږي انزار یې ښه دي.

# Cystoid macular oedema

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا په خارجي Plexiform طبقه او داخلي هستوي طبقه کې د مایع د تجمع له کبله منځته راځي.

## اسباب:

دیو تعداد ناروغیو سره یو ځای وي، چې یو څو یې عبارت دي له

i- د عملیاتو څخه وروسته داختلاط په توګه

ii- د شبکیه وعایي ناورغیو کې لکه ډیابتیک ریتینوپتو او مرکزي شبکې وریدي بندش کې

iii- التهاب لکه Pars planitis او Post uveitis

iv- دځینو دواګانو دجانبي عرض په توګه لکه د اریناالین دقطرو داستعمال څخه وروسته ، چې افکېک ګلوکوما لپاره استعمالیږي.

v- شبکې ډیاستروفي لکه Retinitis pigmentosa

پتوجنیسس: Inner blood retinal barier د خرابیدو له کبله مایعات راوځي او Cystoid macular odema ورکوي.

## کلینیکي منظره

۱- د دید له منځه تګ په ابتدا کې خفیف او یا متوسط اندازه د دید ضیاع پکې منځته راځي خو کله ، چې Cystoid macular odema دوام وکړي نو په دایمي ډول دید کمیږي

۲- دافتلموسکوب پواسطه په مکولا کې Honey comb appearance لیدل کېږي.

۳- فنډس فلورسین انجیو ګرافي ددي معاینې په واسطه درنګ لیکاژ او تراکم د مکولا په ناحیه کې لیدل کېږي.

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اختلاطات

په دوامداره Cystoid macular odema کې Lamelar macular hole منځته راځي.

## تداوي یا درملنه:

۱- موضعي ضد پروستا ګلاندین قطري لکه اندمیتاسین قطري او فلوریاپیروفین د عملیاتو څخه مخکې او وروسته استعمال نوموړي حالت څخه مخنیوي کوي.

۲- موضعي او سیستمیک ستروییدونه ممکن بعضي وختونه استعمال شي.

## Age related macular degeneration

دوه طرفه ناروغي ده په پرمختللي هیوادونو کې د ړوندوالي علت په هغه کسانو کې ، چې عمر یې د ۶۵ کلونو څخه زیات وي تشکیلوي او دوه شکلونه لري ، چې یو یې د اګزوډاتیف او بل یې د غیر اګزوډاتیف څخه عبارت دي.

## دفنډس معاینه

Drusen of bruches membrane یوه مقدمه علامه ده ،چې په مکولر ناحیه کې لیدل کېږي او ټول فنډس کې ښې عمومي صباغي ګرانولونه لیدل کېږي.

## درملنه تداوي

تداوي همیشه موثر نه وي

۱- اګزوداتیف مکولر استحاله دکورویید Neovascular membrane Photocoagulation ممکن کمک وکړي.

۲- غیر اګزوداتیف مکولر استحاله Low vision aid ممکن مفید تمام شي Retinal detachment دشبکیه د دووطبقو etina properia او pigmentry epithel جدا کیدني ته د Sub retinal fluid په واسطه RD ویل کېږي.

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

## طبقه بندي

۱- ابتدايي يا Simple RD

۲- Secondary RD يا ثانوي ريتينل ډيټچمنټ

## Simple(Rhematogenous) detachment

دا هميشه دهول يا Tear په شکل وي د شبکيه دماتيدني له کبله دا ويترس ته اجازه ورکوي ، چې د شبکيه په منځ کې ننوځي او شبکيه د خپل بستر څخه جدا کړي.

## ميکانيزم

الف: د شبکيه داستحالي يا تروما له کبله د شبکيه دهول يا Tear موجوديت

ب: داستحالوي مايع ويترس موجوديت

ت: د شبکيه دجدا کيدني لپاره ديو مناسب قوي ، چې مايع ته اجازه ورکړي

## Secondary( non Rhegmatogenous) detachment

دا هميشه په ثانوي ډول د سترګي دداخلي امراضو او پتالوژي له کبله منځته راځي

## ميکانيزم

۱- شبکيه د خپل بستر څخه ليري تيله شوي وي

a. د مايع پواسطه لکه وينه يا اګزوډيت

b. نيوپلازم لکه د کورييد تومورونه

۲- په ويترس کې د فيبروزي نسج د باندو نو تضممات لکه Plastic cyclitis

proleferative retinopathy يا RLF

## اعراض

۱- درڼا څخه ويره ، Musca voletantis او د شيانو خيره ليدل معمول دي

۲- سوري اويا وريځ د سترګي مخکې ليدل کيږي

۳- عميقاً د ديد خيره والي موجود وي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## علایم یا نښې

۱- red glow plan mirror examination یا متضرر وي او یا هم هیڅ موجود نه وي

۲- دفنډس معاینه په مستقیم او غیر مستقیم افتلموسکوپي په واسطه اجرا کېږي

- جدا شوې شبکیه خاکي سپین رنګه او د سطحي څخه پورته معلومېږي
- د شبکیه اوعي تیاره وي او entrallight reflex نه معلومېږي
- جدا شوې شبکیه د سترګې د حرکاتو سره په متعددو ګنځو باندې لیدل کېږي
- په پورتني صدغي ناحیه کې یو یا څو سوري یا شلیدلې ځایونه لیدل کېږي

په مکمل RD کې شبکیه Funnel shaped وي ، چې د ډسک او serrata سره وصل وي او خاکي رنګ لري

۳- د دید ساحې د شبکیه د شکېدلي برخې څخه سکوټوما لیدل کېږي

۴- ERG یا فیر نومال دي یا مجود نه وي

۵- التراسونوګرافي په هغه حالاتو کې ، چې شبکیه نه لیدل کېږي لکه د دزړښت کترکت ، د قرنیه کثافت ، دویترس کثافت کې د شبکې د تشخیص لپاره استعمالیږي

## تفریقي تشخیص

Senile retinoschisis پدې حالت کې شبکیه د داخلي هستوي طبقې او خارجي پلیګزي قورم طبقې په حذا کې په دوو برخو باندې ویشل کېږي دا په سفلی صدغي کوادرانت کې منځته راځي او ورو ورو پیشرفت کوي.

۱- په senile Retinoschisosis کې د دید د ساحې مطلقه نقیصه موجوده وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- د شبکیې داخلي طبقي غیر متحرک او شفاف وي ترهغه پوري تداوي ته ضرورت نه لیدل کیږي ترڅو ، چې د شبکیه شلیدلي نه وي.

## اختلاطات

۱- مکنل شلید نه ممکن Proliferative vetrioretinopathy په تعقیب منځته راشي

۲- اختلاطي کترکت

۳- مزمن Uvitis او Phathysis bulbi ممکن منځته راشي

## تداوي یا درملنه

د مقیم التهاب دله منځه وړلو په واسطه د شلیدلي شبکیه وصلول د خپل لومړي ځاي سره د تداوي اساس تشکیلوي.

۱- د شبکیې مات ځاي په نښه وي ، چې ویترس او شبکیه ښه وي او مقدم عملیات اجرا شي د شبکیې تومورونه د شبکیې د تومورونو موضوع د سترګي د داکترانو او پتالوجستانو د توجو وړ ګرځیدلي ده د شبکیه تومورونه په لاندي ډول ویشل کیږي او د معمول اقسانو څخه یي یو څو تشریح شویدي.

### ۱- ابتدایي تومورونه:

a. Neuroblastic tumor
b. Mesodermal angiomata
c. Phakomaosis

### ۲- ثانوي تومورونه:

a. Direct extension
b. Metastatic carcinoma
c. Metastatic sarcoma
d. Metastatic malignant melanoma

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

:Retinoblastoma

دا يو ولادي خبيث تومور دي ، چې ديوي يا دواړه سترګي دنيوروسنسري شبکې څخه منشا اخلي

## وقوعات

۱- دا دسترګي معمولي داخلي تومور دي ، چې په شل زره نوي زيږيدلو ماشومانو کې يو تن پري اخته کيږي.

۲ – عمر: که څه هم دا تومور ولادي وي خو بيا هم مخکې د ۱-۲ کلني څخه نه تشخصيږي.

۳- جنس: دواړه جنسونه په عيني اندازه اخته کيږي.

۴- نژاد: دا په تور پوستو کې نسبتسپين پوستو ته کم دي.

**۵**- دوه طرفه وقوعات په **۲۵-۳۰** فيصده وقوعاتو کې بنې دواړه سترګي اخته کيږي خو يوه سترګخ کې په افت نسبت بلي سترګي ته کمه وي.

## کلينيکي تصوير

دا يه څلورو مرحلو باندي ويشل شويدي.

۱- Qulescent stage دا مرحله دشپږو مياشتو څخه تر يو کاله پوري وخت نيسي په دغه مرحله کې ماشوم ممکن لاندي کلينيکې منظره ولري.

a. Leukocoria يا Yellow-white pupilary reflex

b. Convergent Squent وي په بعضي حالاتو کې منځته راځي.

c. Nystugmus نادر واقع کيږي په دوه طرفه حالاتو کې منځته راځي.

d. د ديد نقيصه ډير نادر عرض دي او کله ، چې نوموړي تومور ډير موخر ۳-۵ کلونو منځته راشي نو ناروغ د دي عرض څخه شکايت کوي.

افتلموسکوپيک منظره وروسته دمکمل توسع دحدقه څخه ممکن نمو وليدل شي د Retinoblastoma په دواړو ټايپونو کې افتلموسکوپيک علايم او نښې په لاندي ډول دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
Endophytic retinoblastoma –i : دا شبکیه څخه دویترس خالیگا ته نمو کوي تومور د یو Circumseriber poly poidal کتلي په شکل وي ،چې سپین یا گلابي رنګ لري دویني رګونه او بعضي وختونه هیموراژ ممکن دهغه دپاسه موجود وي په هغه حالت کې ښي ،چې کلسیفیکېشن منځته راغلي وي نو Cottage cheese منظره غوره کوي ممکن منعدد استطالي په ویترس کې ولیدل شي.

Exophytic retinoblastoma-ii: دا خارج خواته وده کوي او شبکیه دمشیمه څخه جدا کوي دفنډس معاینه د Exodative retinal detachment منظره راکوي .

۲- Glaucomatus stage کله ، چې تومورې مرحله تداوي نه شي نو په دي مرحلي باندي بدلیږي پدي مرحله کې شدید درد سوروالي او اوښکې موجودي وي. علایم دسترګي ګاټي لویږي او واضح Proptosis موجود وي ، منضمي احتقاني وي ، قرنیه ابرالوده وي ، دسترګي داخلي فشار پورته وي ،ځیني وختونه کلینیکې منظره یې دحاد Uvitis پشان ، چې د Pseudohypopyon یا Hyphema سره یو ځای وي منځته راځي.

۳- Stage of extra ocularextension: دسترګي دګاټي د دوامداره لویدو له امله سترګه د لیمبس په ناحیه کې ریچر کوي او دسترګي نه دباندي انساج اخته کوي او دپرمختللي Proptosis سبب ګرځي.

۴- Stage of distant metastasis: دلیري مسافو ساختمانونه په لاندي طریقو سره اخته کوي.

a. Periouricular Lymphatic spread او همسایه لمفاوي عقداتو ته خپریږي.
b. Direct extension بصري عصب او دماغ ته ډیر معمول دي.
c. دویني دجریان په واسطه میتا ستاسز: قحفي هډوکو او نوروهډوکو ته د ویني لاري میتاستاسز کوي نورو ارګانونو ته په نسبي ډول نادر دي.

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تفریقي تشخیصي:

۱- دلیکو کوریا تفریقي تشخیص پر ته د Retinoblastoma څخه ټول حالات ک
چې د لیکو کوریا سبب ګرځي د سوډو ګلیوما په نوم یادیږي او ددي څخه باید
تفریق تشخیص شي لکه ولادي کترکت ، وروسته د کوریو ریټینایټس یا Plastic
cyclitis څخه په ویترس کې د التهابي پاتي شوني سره ، Persistent Primary,
hyperplastic vitrous او RLF Endophthalmitis, Toxocaria, Exodative
retinopathy سره باید تفریق تشخیص شي.
۲- Endophytic retinoblastoma په Tuberous sclerosis کې د شبکیه د
تومورونو سره ، او Astrocytoma, Neurofibromatosis او Exodative
retinopathy دلکو سره باید تفریق تشخیصي شي.
۳- Exophytic Retinoblastoma کې د Lattice dehydrogenase سویه په
خلطیه مایع کې شي زیاتیږي.
۴- الکتراند او سي ټي سکن په تشخیص کې ښي ډیر مفید تمامیږي.

## تداوي یا درملنه:

کله ، چې تومور په دوهمه او یا لومړي مرحلي په اخرو کې ( کله چې تومور د ۱۰
ملي متروڅخه یي سایز لوي وي او یا بصري عصب احتوا کړي وي سترګه په
داسي ډول Enucleat شي ، چې د سترګي ګاټي ریچرونه کړي او د بصري عصب
اعظمي اوږدوالي باید دربر ونیسي که بصري عصب اخته شوي وي نو راډیو
تراپي باید توصیه شي.
Tumor distructive therapy: کله ، چې تومور په مقدم ډول تشخیص شي او په
لومړي مرحله کې وي (سایز د ۱۰ ملي مترو څخه کم وي ) او بصري عصب یي هم نه
وي احتوا کړي نو دلاندي Tumor distructive میتود په واسطه محافظوي
تداوي تر سره کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library

- رادوتراپي Radio therapy
- فوتوکواگولیشن Photo coagulation
- کراوتراپي Cryo thraphy

## Debulking of the orbit

په دریمه او څلورمه مرحله کې د حجاج د جوف Dedulking ، رادیوتراپي او کېموتراپي توصیه کېږي Orbital exentration ته ترجیح نه ورکول کېږي.

## انزار:

که تداوي نشي انزار یې خراب دي بالاخره ناروغ مړ کېږي بعضي وختونه تومور د کالسیفیکېشن په تعقیب د نکروسز له کبله وړوکي کېږئ ، چې تومورې حادثه د Immunological Phenamena رول پیشنهادوي.

۲- انزار هغه وخت ښه دي ،چې مخکې د دي څخه ، چې مجاورو ساختمانونو ته وسعت وکړي Enocleation کړل شي.

۳- دوخیم انزار فکتورونه عبارت دي له

a. دبصري عصب اخته کېدل
b. دتومور غیر تفریق شوي حجرات
c. دمشیمي اخته کېدل په کتلوي شکل باندي

## Phacomatosis

دا یو ګروپ فامیلي حالاتو باندي دلالت کوي ، چې په دوي کې ښي د سترګي ، جلد او مرکزي عصبي سیستم نیوپلازم منځته راځي او لاندي حالات دربر نیسي
.

۱- Angiomatus retina (Von hipple irndau's synd): دا یو نادر حالت دي ، چې نارینه نسبت ښځو ته زیات اخته کوي دغه حالت په دریمه او څلورمه لسیزه کې زیات تصادف کوي Angiomatus شبکیه ، دماغ ، نخاع شوکې ، ګردي او ادرینال اخته کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
کلینیکي کورس یي د اوعیو توسع ، معوج کېدنه ، او د انیوریزم جوړېدنه ، چې په تعقیب یي هیموراژ او اګذوډیټ منځته راځي ، چې دا کلینیکي لوحه د Exodative retinopathy of coat سره مشابهت پیدا کوي کتلوي اګذوډیټ د شبکې د شلیدني سبب ګرځي چې په مقدم ډول د کراوپیکسي یا فوتو کواګولیشن په واسطه د Angiomas د تخریب په واسطه یي مخنیوي کېږي.

۲- Tuberous sclerosis( Bourneville diseas): دا په Adenoma of Mental retardation, sebacium ،او Epelepsy باندي متصف کېږي چې د دوي سره د شبکېه ، دماغ ، او احشا هیماتوم هم موجود وي په شبکېه کې د Hamartomas دوه شکلونه منځته راځي.

a. په نسبتي ډول هموار ، نرم ، سپین خاکي افت چې د شبکېه په خلفي قطب کې همیشه لیدل کېږي.

b. لوي نودولر تومورونه کوم چې د اپتیک ډسک ناحیي ته تمایل لري.

۳- Neurofibromatosis( Von reckling hausen's diseas): په دي حالت کې په جلد ، عصبي سیستم او وروا عضاوو کې متعدد تومورونه موجود وي په سترګه کې د زیږمو ، اربیټ د Neurofibromatus په شکل د بصري عصب ګلیوما او ولادي ګلوکوما په خیر څرګندیږي.

۴- Encephalofacial angiomatosis(Sturg weber syndrome): پدي کې انجیوما د Port wine stain (Naevus flammeus) په شکل باندي د مخ یو طرف اخته کوي چې د مشیمي د هیمانجیوما ، Leptomeningeal angioma او په متاثره طرف کې ولادي ګلوکوما ورسره یو ځاي وي.

Downloaded from: www.ketabton.com 

(c) ketabton.com: The Digital Library



Figure 4.22 Severe staphylococcal keratitis



Figure 4.97 Longstanding band keratopathy



Figure 4.44 Large dendritic ulcer stained with fluoresescein



Figure 4.131 Munson sign in keratoconus



Figure 4.46 Stromal necrotic keratitis in herpes simplex



Figure 4.56 Scarring of the lid margin, trichiasis and severe corneal scarring in herpes zoster ophthamlicus

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| Book Name | Ophthalmology |
| Author | Dr. M. Khalid Yar |
| Publisher | Nangarhar Medical Faculty |
| Website | www.nu.edu.af |
| Number | 1000 |
| Published | 2011 |
| Download | www.ecampus-afghanistan.org |

This Publication was financed by German Aid for Afghan Children **(www.Kinderhilfe-Afghanistan.de)** a private initiative of the Eroes family in Germany. The administrative and technical affaires of this publication have been supported by Afghanic (www.afghanic.org).
The contents and textual structure of this book have been developed by concerning author and relevant faculty and being responsible for it. Funding and supporting agencies are not holding any responsibilities.

If you want to publish your text books please contact us:
Dr. Yahya Wardak, Ministry of Higher Education, Kabul
Office: 0756014640
Mobile: 0706320844
Email: wardak@afghanic.org

All rights are reserved with the author.

ISBN: 978 993 620 1347

Printed in Afghanistan. 2011

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Abstract

As according to our many problems, we did not a qualified medical services, and as well we do not have as much facilities which other countries are having, our most patients go abroad for treatment, I mean still we have no sufficient clinics and hospitals.

Beside the upper mentioned problems our medical students also have many problems, there are not facilities, with having begged problems even they do not have books for studying etc.

Therefore I am thankful of God to helped me wrote this book, eyes are the lamp of body and very important part of the human body .there for I thank to god I Wrote Ophthalmology book for ٥th year student in Pashto language, which is lined with curriculom of medical faculty?

I well wrote the new methods for operation with studying the mentioned book every medical person and student can catch many things and will have good benefit.

I invite you for studying this book, and it mentionable that I need you nice suggestions, objections and ideas for making it well sufficient book.

Thanks

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پوهنمل دکتور محمد خالد (یار ) لنډه پېژند

پوهنمل دکتور محمد خالد یار د پوهاند دوکتور محمد حسین یار ځوی د جلال آباد ښار د لومړۍ ناحیې کې په کال ۱۳۵۱ کی زیږیدلی دی ابتدایي او ثانوي زدکړې یې د ننګرهار په عالي لیسه او په کال ۱۳۶۸د ننګرهار د عالی لیسی څخه فارغ او په همدی کال ی د کانکور ازموینی د لاری په اعلی نمرو اخستلو د ننګرهار طب پوهنځی ته بریالی شوی دی

او په همدی کال ۱۳۷۵ کی د ننګرهار طب پوهنځی څخه فارغ او د اعلی نمراتو په درلودلو د سترګی څانګی ته د کادری استاد په توګه معرفی شوی دی

چه د لوړو زده کړو د لوایحو مطابق د علمی ترفیعاتو د شرایطو پوره کولو او مختلفو علمی اثارو او کتابونو د لیکلو په اساس پوهنمل علمی رتبی ته رسیدلی چه علمی آثار یی په لاندی ډول دی:

۱. د سترګی ناروغی کتاب ژباړه ۱۳۸۱
۲. د منضمی ناروغی علمی اثر ۱۳۸۵
۳. د Intraocular او Aphakia د اغیزو څیړنه ۱۳۸۹
۴. Multipale Choice Q.A Realated Eye ۱۳۸۹
۵. د سترګو اناتومی ژباړه ۱۳۹۰

سربیره پردی د خپلی علمی سویی د لوړتیا پخاطر د هندوستان ، چین، ترکیه هیوادونو ته علمی سفرونه کړی او د ۱۳۸۸ کال د طب پوهنځی د فارغانو لخوا د یو ښه مدرس استاد تقدیرنامه ترلاسه کړی

همدارنګه د خپلی دندی ترڅنګ د ختیځ زون دداکترانو د اتحادیی د معاون په حیث د طب پوهنځی علمی مرستیال په کال ۱۳۸۹تراوسه پوری چی د تحصیل دوران څخه تراوسه پوری د طب پوهنځی د استادانو او محصلینو په مینځ کی د یو ښه اخلاق او روبه نوم لری

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Nangarhar Medical Faculty

AFGHANIC

Dr. M. Khalid Yar

# Ophthalmology

Funded by:
**Kinderhilfe-Afghanistan**

ISBN 9789936201
9789936201347
Printed in Afghanistan

with CD

2011

Downloaded from: www.ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**